**د کتاب معرفي**

د کتاب نوم: پیغام اول (لومړی ټوک)

لیکوال: زبیر افغان

د نشر کال: ۲۰۲۲م

د کتاب ټول حقوق له **پېروز د دیني مطالعاتو او څېړنو بنسټ** سره خوندي دي.

**پېروز د دیني مطالعاتو او څېړنو بنسټ**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

سریزه ........................................................... 6

اسلامي سیاست ................................................ 8

اسلامي نظام ................................................... 23

اسلامي هیواد .................................................. 49

جګړه یو لندمهالی انتخاب .......................................... 59

جنګي فرهنګ (جهادي فرهنګ) ....................................... 66

د مسلمانانو جګړه‌ییز تاریخ ......................................... 77

د اسلامي تاریخ اصطلاح ............................................ 82

سوله؛ نبوي سنت او بشري اړتیا ....................................... 87

زموږ په ټولنه کې د خشونت برسېرن لاملونه ......................... 97

مذهبي زغم ...................................................... 104

نړۍ واله سوله .................................................. 108

نظافت ........................................................... 114

لومړیتوبونه پېژندل ............................................... 121

له دیني لیدلوري د هدف او وسیلې اړیکه ............................. 126

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ګرو شوي شي ګټه اخيستل ........................................ 132

عادتي عبادت ................................................ 136

شرعي تعبير ................................................. 145

په ټولنه کې د خپل شخصيت ځای ټاکنه ........................ 150

زندان؛ د اصلاح ځای که د عقدې؟ ................................ 155

زموږ نومونه زموږ په ژبه ........................................ 159

زموږ سنه ..................................................... 169

زموږ د ټولنې نامنظم خيراتونه ................................... 173

د مسجدونو ډېروالی؛ ګټې او زيانونه يې ........................... 178

د زغم اړتيا او ارزښت ........................................... 185

تنګ نظري .................................................... 187

د اسلام او سياست اړيکه ......................................... 192

په شرعي تعبير کې د حقانيت معيار ................................ 200

په شرعي تعبيرونو کې د شريعت عمومي روح ته د نه پام تشه..... 205

د مدرسو نصاب؛ نيمګړتياوې او اړتياوې ........................... 209

موسيقي په رواياتو کې ........................................... 231

د نوروز په اړه يو وضاحت ........................................ 251

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي مقدساتو ته د سپکاوي کوونکي سزا ...................... 258

بیعت که انتخابات؟ .................................................. 263

پر شرعي نصوصو د زمان، مکان او کلتور اغېز .................... 269

په اسلام کې د مرتد سزا............................................ 280

په شرعي نصوصو کې د جبر او اختیار مسله ...................... 292

د انبیاؤ د معصومیت مسله ........................................ 300

مراجع ........................................................... 305

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

دغه کتاب مې د هغو مقالو ټولګه ده چې له تېرو څو کلونو مې د اسلامي موضوعاتو په اړه کښلې دي. مقالې متنوعې دي، له سیاسته تـر معاملاتو پر ګڼو موضوعاتو بحث شوی او له خپل وس سره سـم مـې د موضوع په تړاو خپل اند په واضحو ټکو وړاندې کړی دی.

دا مقالې به وخت ناوخته بیا هم لیکم او د کتابونو په بڼه به یې خپروم، د همدې لړۍ لپاره مې د پیغام نوم غوره کړی دی، چې په دې لړ کې «پیغام اول» نشروم، په داسې حال کې چې د «پیغام دوم» مـواد هم پوره دي او تر سمونې او ډیزاین وروسته به یې خپور کړم.

د دې مقالو لیکلو مهال مې زیاتره وخت د مراجعو په برخه کې تکیـه د مکتبې شاملې پر کتابونو کړې ده چې یو لورتـه پکـې د هـر شي پیـدا کول اسانه وي او بل خوا یې حواله هم اسانه شوې ده، نو ځکه مـې پـه زیاتو حوالو کې د شاملې پر کتابونو تکیه کړې ده.

د کتاب ځینې مقالې په ویبسایټونو کې هم خپرې شوې دي او نـورې بیا تر اوسه نه دې خپرې شوې، له دې امله مې وغوښتل چې یـو نـوی نظر پر وکړم او د کتاب په شکل دا ټولې مقالې سره اوډم چې لـه نشره پاته مقالې هم پکې ځای شي او که یې څوک د لوستلو مینـه وال وي هغوی ته به یې پر یوه ځای لوستل اسانه شي.

د قران کریم د ایاتونو حوالې کله په مقاله کې دننه ور کول شـوې دي او کله بیا د مقالې په اخیر کې، لـه قرانـه ماسـیوا نـورې ټـولې حـوالې د مقالو اخیر کې ور کول شوې دي، د ځینو مشهورو احادیثو حوالې مـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله ایله کړې دي، ځکه هغه حدیث له حوالې سره په همدې کتاب کې
څو ځایه تکرار شوی وي.

د کتاب په اړه نور څه نه لرم، بس تر لوست وروسته د نظروالو نظر،
مشورې، وړاندیز او نقد ته به مو غوږ ونه څک وي، چې که یو چا زموږ
په اړه د ګټې خبره وکړه او زموږ فهم په ورسید، نو به یې ومنو او له
ناسمې به تېر شو، تر خبرو به تېر شم او د کتاب لوستلو مخه به مو
خالي کړم!

۱/۷/۲۰۲۰

کابل – افغانستان د شپې یوولس نیمې بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلامي سیاست

غالبا ۲۰۱۴ کال و؛ یوه نژدې ملګري د فیسبوک پر پاڼه لیکلي و چې اسلام کې د هرې مسلې حل شته، ځکه اسلام له بیت الخلا بیا تر مسجده د مسلمان لارښود دی نو حتمي خبره ده چې هره مسله باید پکې وي. زموږ یوه بل ملګري ویل چې ما ورته وویل، ته لا په ډېرو مسلو نه یې پوه؛ ځکه نو دا ډول ادعاوې در ښخه کېږي.

زموږ په ټولنه کې دا یادې ادعاوې خورا ګرم بازار لري او که د دې مخالفت وکړې، نو بیا د ملحد، بې دینه او که وړه ټاپه در کړي نو د سیکولر په نوم به دې یاد کړي. په داسې حال کې چې هیڅ اړتیا یوه او بل نوم کارولو ته نه شته بلکې هر کس دې د خپلې ادعا په اړه دلیل وړاندې کړي او که تر دې وروسته هم سره قانع نه شول نو هیڅ بده خبره نه ده د هر یوه خپل لیدلوری او خپل یې دلیل. مهم شی په ټولنه کې د اختلافي موضوګانو په اړه بحثونه دي چې یو بل ته قناعت ور کول پکې حتمي نه دي؛ خو لوستونکو او خپله د بحث مخته وړونکو ته هم ګټه رسوي. یوه لویه ګټه د زغم پیاوړتیا ده چې بحثونه ورته لار پرانیزي او بل مهم ټکی د معلوماتو تبادله چې بحثونه یې ډېره ښه ذریعه ده. د دې ترڅنګ نور لوستونکي هم ځنې ګټه اخلي او د اینده لپاره تیار مواد دي چې هر کس په اسانه استفاده ترې کولای شي.

د اسلامي سیاست په موضوع کې مې دا پورته خبرې ځکه وکړې چې زموږ د ټولنې زیاتره کسان پر دې موضوعاتو د بحث مهال بې زغمه کېږي او خپل مخاطب په ناسمو نومونو یادوي. په انساني ټولنه کې هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع د بحث وړ ده او وي به. له دې امله باید هر چا ته د خپل نظر وړاندې کولو وخت ور کړل شي او دا يې بشري حق هم دی.

د اسلامي سیاست په اړه يوازې اوس د نظر اختلاف نه دی را پیدا شوی، بلکې د مسلمانانو د دوو لويو فکري مکتبونو سني او شیعه ترمنځ له ډېره پخوا څخه د نظر زوور اختلاف موجود دی او تر ننه هم شته. د وخت په تېرېدو ډېری واړه اختلافونه هم د نوي اختلاف نوې زاوې پيدا کوي او خورا نور بعدونه د مکان او زمان له غوښتنو سره سم پکې رامنځته کېږي. د اسلامي سیاست موضوع هم اوس تر پخوا ډېره جنجالي شوې او د نظري اختلاف خلیج يې تر پخوا اوس ډېر پراخ شوی دی.

زه خپله له دې اصطلاح سره هم جوړ نه یم. ځکه اسلام کې د سیاست لپاره نه اصول شته او نه قواعد، نه يې پر اساساتو بحث کړی دی او نه يې پر جزیاتو، نو بیا اسلامي سیاست څه معنا؟!

زه دلته اړینه بولم چې د اسلام مقدس متنونه دوو برخو ته ووېشم: یوه برخه يې دین ده او بله يې شریعت.

دین پر خالق د باور، د هغه د احترام او میتافزیک موضوعاتو بحث کوي، د دین موضوع کلي وي، تغییر ته اړتیا نه لري، د وخت له غوښتنو سره ټکر نه راوړي او د ټولو رسولانو او زیاتره نبیانو ترمنځ مشترک ټکي دي.

دین په هیڅ وخت کې له سیاست سره تماس نه نیسي، ځکه سیاست مکان او زمان ته په کتو تغییر کوي او دین له دې شیانو سره کار نه لري. دین کې باید هر څوک هر وخت په هر ځای کې چې وي، خالق ته درناوی ولري او هم پرې باور. په دې توګه دین د هیڅ وخت، هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلتور او هیڅ مکان له غوښتنو سره په ټکر کې نه راځي، نو ښکاره خبره ده چې له سیاست سره په مقدس متن کې شریعت اړیکه لري. د شریعت په لمن کې هم ځینې بیخي کم داسې احکام شته چې ثابت دي، لکه د زنا حرمت، لکه د یتیم مال نه خوړل، خو لویه برخه مسایل د شرایعو متغیرات وي چې د وخت، ځای او غوښتنو له تغییر سره؛ تغییر کوي.

دا چې اړیکه یې څنګه ده؟ ډېره ژوره، هراړخیزه او پر کلیاتو و حزیاتو یې بحث شوی دی، که هسې- تصادفي ځینې ځایونو کې د سیاست یادونه شوې ده او ځینې نبیانو د اړتیا له مخې یو شمېر سیاسي چارې مخته وړې دي؟

زما د معلوماتو له مخې د هیڅ شریعت اساسي موخه سیاست نه و او نه هیڅ رسول یا نبي د سیاسي مشر په نوم نومول شوی دی؛ البته د نبي، رسول، بشیر او نذیر په القابو یاد شوي دي.

په شرعي نصوصو کې ځینې داسې احکام چې مخامخ له سیاست سره اړیکه لري او ځینې هغه ایاتونه چې په لوی لاس له سیاست سره اړیکه ور کول شوې ده، د دې سبب شوي چې واک غوښتونکي او د اسلامي سیاست په نوم د شخصي ګټو تضمینونکي دې ته لمن ووهلې چې په اسلامي شریعت کې د اسلامي سیاست په نوم ځانګړې اصطلاح رامنځته او پر امت په دې له ځانه جوړه شوې اصطلاح ډېری هغه څه وتپي چې شریعت کې یې اساس نه شته او په دې توګه یوه خاصه ډله، ځانګړی قوم تر لامحدوده وخته و نامحدودې جغرافیې پوري خلک لومړی استعمار، بیا استثمار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې فکر د عاملو لپاره داسې علماء هم را پیدا شول چې د واک غوښتونکو لپاره یې په ارادي او شعوري توگه دا ډول کتابونه ولیکل چې همدې فکر ته یې عمومیت ورکاوه او ځینو بیا په ناخبري د دې فکر لپاره ښه په پیخر کار وکړ. د دې پر ځای چې د مسلمانانو په تاریخ کې هغو حکومتونو ته نظر وکړو چې تر همدې نومونو لاندې یې واک چلولی؛ ښه به دا وي چې لومړی په قران او سنت کې هغه موارد را وسپړو چې د اسلامې سیاست اصطلاح ترې را پیدا شوې.

په قران کریم کې له څو مواردو ناسم تفسیر د دې سبب شوی چې د اسلامي سیاست اصطلاح وزیږوي:

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً .(١)

ژباړه: او کله چې ستا رب فرشتو ته وویل، زه په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوم.

له دې ایت څخه استدلال شوی چې دلته یاد شوی خلیفه هماغه خلیفه دی چې د اسلامي نظام په رأس کې قرار لري او هم خلافت ځني مراد دی. خو که ښه فکر وکړو، نو دلته له یاد شوي خلیفه څخه کومه ځانگړې اصطلاح هدف نه ده، بلکې خلیفه دلته د هر انسان لپاره کاریدلی لفظ دی او هدف ترې پر ځمکه انسان ته واک ورکول دي. ځکه دلته د انسان د پیدایښت بیان کوي او له هغه خلافت سره هیڅ اړه نه لري چې ځیني کسان یې له همدې ځایه د اخیستلو هڅه کوي.

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ .(٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له تاسو چې چا ایمان راوړی او نیک اعمال یې وکړو، الله ور سره ژمنه کړې چې ارو مرو به دوی په ځمکه کې واکمنوي لکه چې تر دوی مخکنیو ته یې واک ور کړی و.

له دې ایت څخه هم ګڼشمېر کسانو د خلافت، اسلامي نظام او اسلامي سیاست تعبیرونه را کښلي، په داسې حال کې چې دلته د نص د مراد ښکارولو له څلورګونو طریقو (عبارت النص، اشارة النص، دلالة النص او اقتضاء النص) څخه یوه یې هم دا شی نه ثابتوي، . قران همدغه د (لیستخلفنهم) هم توری د واک لپاره کارولی دی. شاهد یې په قران کې بل هم شته:

قَالُوا أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا قَالَ عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ.(۳)

ژباړه: بني اسرایلو (موسی ع) ته وویل، تر دې مخکې چې ته موږ ته راشې هم موږ ته اذیت رسول شوی او ستا تر راتلو وروسته هم. موسی ع وویل: نژدې ده چې ستاسو رب ستاسو دښمن هلاک کړي او تاسو ته په ځمکه کې واکمني در کړي چې بیا وګوري تاسو څنګه عمل کوئ.

ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ .(۴)

ژباړه: بیا موږ تاسو تر دوی وروسته په ځمکه کې واکمن کړئ چې وګورو تاسو څنګه عمل کوئ.

په دې دواړو ایاتونو کې د (یستخلفکم او خلائف) توري د واکمنۍ لپاره کارېدلي. دا ډول صیغې چې هر ځای کارېږي یوازې هماغه د ادم ع د پیدایښت مهال چې د کوم هدف لپاره د خلیفه توری استعمال شوی دلته په ټول قران کې هر ځای له دې مادې جوړ الفاظ د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخې لپاره کاریږي نه دا چې يـوه ځـانګړې اصـطلاح ده او د هغـې د ثابتولو لپاره دې يو ځانګړی نظام جوړ شي او په ځانګړې چوکاټ کـې دې سياست مخته يوشي.

يو بل ځای هم قران کريم وايي:

هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ.(٥)

ژباړه: الله هغه دی چې تاسو يې په ځمکه کې واکمن کړي ياست، نو که چا انکار وکړ د خپل انکار سزا به ګالي.

دلته وينو چې همدا د خلائف توری د هغه چا لپاره هم کاريدلی چې کافر کيږي. له دې جوتيږي چې له دې مادې جوړ ټول الفاظ د واکمن او واکمنۍ لپاره کاريږي او هـيڅ کومـه اسـلامي ايډيالوژيکـه اصـطلاح ترې هدف نه ده. د داؤد ع په اړه هم وايي:

يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ .(٦)

ژباړه: ای داووده! بېشکه موږ ته په ځمکه کې واکمن کړی يې.

قران کريم هيڅ ځای هم داؤد ع ته د اسـلامي خليفـه، اسـلامي اميـر، شرعي نظام، شرعي و اسلامي سياست اصطلاحات نه دي کـارولي، لـه دې ښکاري چې داؤد ته د لته د خليفه نوم ور کول داسې دی لکه د هر انسان په اړه چې قران کريم ويلي موږ هغه په ځمکـه کـې خليفـه کـړی دی.

د اسلامي سياست پـه اړه يـو خـورا مشـهور روايـت هـم شـته چـې د احاديثو په زياترو کتابونو کې نقل شوی دی:

«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّـهُ لاَ نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ» قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَـالَ: «فُـوا بِبَيْعَـةِ الأَوَّلِ فَالأَوَّلِ، أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ، فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ» .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: رسول الله ص ویل، د بني اسرائیلو سیاست انبیاؤ کاوه، هر کله چې به یو نبي وفات شو، بل به یې ځای ونیوی او بېشکه تر ما وروسته بل نبي نه شته او ژر به خورا ډېر خلیفه ګان شي، اصحابو ویل، نو ته څه امر کوې؟ ده ویل، د لومړي بیعت ور پوره کړئ، د هغوی حق ور کړئ، بېشکه الله له دوی څخه د خپل رعیت د حال پوښتونکی دی.(۷)

له دې روایت څخه ثابتېږي چې سیاست د انبیاؤ کار دی او هر نبي په خپل وخت کې سیاست کړی، کله چې یوه نبي خپل ژوند پای ته رسولی نو دا کار یې بل نبي پر غاړه اخیستی. له دې نو په ښکاره د اسلامي سیاست اصطلاح راوتلې. دلته د دې روایت په اړه څو مهمو نکتو ته تم کیږم:

په قران کریم الله تعالی څو ځایه د بني اسرایلو د نبیانو په اړه ویلي چې وژل شوي، نو که یې سیاسي واک په لاس کې وای، څنګه ممکنه وه چې خلک یې د اسلامي دعوت په خاطر ووژني؟ ځینې یې داسې هم دي چې په خپل وخت کې هیڅا ایمان نه دی پرې راوړی، له چا سره یوه، له بل سره دوو او له ځینو سره بیخي کمو کسانو ایمان راوړی، نو سیاست له یوه او دوو کسانو سره څنګه وکړي؟ دلته څو بېلګې ستاسو په وړاندې ږدم:

وكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ .(۸)

ژباړه: او له ډېرو نبیانو سره یو ځای یې نژدې ملګري هم وژل شوي.

دلته ویل شوي چې له نبیانو سره یو ځای یې ډېرې ملګري هم وژل شوي، نو که سیاسي واک ورسره وای، څنګه یې مخالفان په وژلو توانیدل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِنْ نَبِيٍّ إِلاَّ أَخَذْنَا أَهْلَهَا بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُونَ .(۹)

ژباړه: او موږ په هيڅ کلي کې نبي نه دی لیږلی، مگر د هغه کلي اهل مو تنگ کړي او زیانمن کړي مو دي چې ښايي عجزي وکړي.

دلته له نبیانو سره د خلکو د نه منلو او هغوی د عذاب خبره راغلې، نو چې څوك دې خبر نه مني سیاست پر چا وکړي؟ همداشان د بقرې په (٦١) او د ال عمران په (٢١) ايت کې هم د یهودو له لوري د خپلو نبیانو د قتل کیسې راغلې چې هغوی خپل نبیان وژل. که څوك نبي په شهادت رسوي، بیا سیاست څنگه وکړي؟ قران لا دا هم وايي چې تر موسی ع وروسته یوه نبي د سیاست لپاره خپل امت ته بل عادي کس مشر ور ټاکلی چې دې روایت د هغه پرخلاف خبره کړې ده.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا .(١٠)

ژباړه: او دوی ته يې نبي وویل، بېشکه الله تاسو ته طالوت پاچا ټاکلی دی.

له دې ښکاري چې نه ټولو نبیانو سیاست کړی او نه يې قران له داؤد، سلیمان او یوسف علیهم السلام پرته د نورو یادونه کړې ده.

یو بل ټکی دا هم دی چې ولې دا دومره مهم روایت په اصحابو کې یوازي یوه صحابي (ابوهریره) نقل کړی دی؟ په داسې حال کې چې د روایت په متن کې د جمعې صیغه(قالوا) ذکر شوې او له هغې ښکاري چې هلته گڼشمېر اصحاب موجود دي، نو ولې یوه صحابي دا روایت نقل کړ چې نور یې په اړه پټه خوله دي؟

په روایت کې دا هم دي چې تر ما وروسته نبي نه شته البته زيات خلفاء به وي. دا الفاظ يې د بخاري له هغو روایاتو سره سر نه خوري چې وايي؛ خلفاء یا امراء به (١٢) وي. اوس دلته کوم روایت د منلو وړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی؛ د بخاري دا روایت چې د خلفاؤ شمېر زیات بولي، که هغه روایت چې یوازي (۱۲) یې بولي؟ که هغه روایت ددې روایت داسې تفسیر وګڼو چې دوولس هم ډېر دي او ترمنځ یې هیڅ ډول ټکر نه شته، بیا د هغو کسانو ادعا له ګواښ سره مخېږي چې د اسلامي سیاست اصطلاح نن هم د کار وړ بولي. که خلفاء او اسلامي امیران یوازي دوولس وي، نو بیا نن د څه لپاره ناري وهي چې اسلامي نظام راولي او اسلامي سیاست کوي؟!

له دې نکتو څخه معلومه شوه چې د روایت په متن کې څومره لویې ستونزې دي؟ نه له قران سره اړخ لګوي، نه روایاتو سره او نه عقل دا مني چې د دومره مشهورې قضیې په اړه دي د دومره زیاتو موجودو اصحابو له جملې یوازي یو صحابي روایت نقل کړي؟ دا هم په داسې حال کې چې د اسلامي سیاست د پلویانو له قوله چې له سیاست پرته د دین او شریعت اقامه مشکله ده او دا یې اساس دی، له دومره اهمیت سره بیا د شارع له لوري ولې داسې د ضمني مسلو چلند ورسره شوی دی؟ دا هغه بنیاد دی چې د اسلامي سیاست معبرینو د خپل سیاست ستره ماڼۍ پرې درولې وه. د خلافت او امارت په اړه نور روایات هم شته چې ما په خپل بل کتاب (جهاد او خلافت) کې پرې تحقیق کړی او دلته یې بیا راوړلو ته اړتیا نه وینم.

یو شی چې زما هم اوس ور پام شوو هغه دا دی چې دا اصطلاح او دې ته ورته نوري اصطلاګانې که د اسلامي شریعت جز وبولو، نو زما په ګومان دا یو ستر بدعت دی. ځکه رسول الله ص په خپل وخت کې نظام در لود، رسول الله ص یې خپله مشر و، نه یې نظام اسلامي ګڼلی، نه یې د اسلامي سیاست اصطلاح رامنځته کړې، نه یې ځان اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر یا اسلامي خلیفه بللی، ښه که رسول الله ص د خپل ځان او خپل نظام په اړه داسې څه نه وایي او نه یې د شریعت برخه بولي، له ده پرته بیا څوک حق لري چې د خپل ځان تعبیر د شریعت برخه وبولي؟

یوه بله خبره چې دوی له پامه اچولې ده هغه د رسول الله ص د ځانګړو واکونو نه ځانګړي کول دي چې د دوی له تعبیر سره سم هغه عمومي دي او زموږ لپاره د هغه هر شی الګو دي، اما دا تعبیر بیا په ګڼشمېرو ځایونو کې له واقعیت سره ټکر کوي او ډېری ځایونه دوی هم مجبور شوي دي چې د ځان په ګټه نصوصو کې لاس ووهي. هغه د دې ترڅنګ چې یو رسول و، په ټولنه کې سیاسي او نظامي مشر هم وو. له دې امله یې په هره برخه کې ځینې ځانګړي واکونه ځان ته لرل. رسول الله ص د اختر او جمعې په بیانونو کې هم ځینې سیاسي بیانونه کړي دي. لامل یې همدا وو چې هغه د اسلامي لاربښود تر څنګ سیاسي رهبر وو، خلکو ته یې باید د حالاتو په اړه خبرې کړې وای او همدا لویه اجتماع یې تر ټولو ښه ځای و. هغه نظامي قومندان و، له دې امله به یې د جمعې او اختر لمانځه ته له لرې ځایونو خلک راتلل چې تر لمانځه وروسته یې ډېری اصحابو ته د نظامي چارو په اړه هدایات ور کول. ځینې وختونه یې مختلفو لوریو ته سریې استولې. یعنې د جمعې او اختر بیان او بیا وروسته لمونځ د هغه هم دیني مسوولیت و او ترڅنګ یې سیاسي بیانونه او نظامي چارې د خپل سیاسي او نظامي رهبرۍ له امله ور له غاړې وې. تر ده وروسته چې څوک په یوه وخت کې دا ټولې چارې د هغه په شان مخته وړي او بیا یې د شریعت برخه هم بولي، زما په اند دا تعبیر نه یوازې مشکلات ایجادوي، بلکې د رسول او هغه ته د الهي وحې په وسیله ور کول کېدونکي هدایات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکي موږ داسې اخلو چې موږ هم د هغه په شان يو او هغه امتيازات چې ده لرل موږ يې هم د لرلو صلاحيت لرو، دا نه يوازې په ژوند کې د تعميل وړ نه دي بلکې دين او شريعت ته داسې افکارو لار پيدا کړه چې اصلا له دې چينې سرچينه نه اخلي خو دين و شريعت ور سره بدنام شول.

په اصحابو کې لومړی د خليفه اصطلاح د ابوبکر صديق رض لپاره له دې امله کارېده چې هغه د رسول الله ص ځای ناستی و، اصحابو هغه ته ويل چې يا خليفة رسول الله، عمر فاروق رض ته بيا ويل کېدل چې يا خليفة خليفة رسول الله او د همده په زمانه کې بيا د امير المومنين لقب هغه ته ور کول شو او د خليفه نوم په عمومې توګه نه کارېدی. تر دې وروسته د امويانو په زمانه کې د خلافت د شرعي جنبې لپاره ډېر کار وشو او ګڼشمېر روايات هم ورته جوړ شول چې تر خپل منځ يې ژور توپير هم سره در لود.

امويانو نه يوازې دا چې د خپل واک لپاره روايات جوړ کړل او ځانونه يې په شرعي پوښښ کې پټ کړو، بلکې ښکاره يې ځينې داسې چارې هم مخته وړې چې د شريعت له عمومي لارښونو سره يې مخالفت در لود او په ټولنه کې د بديو او فساد سبب شوې. واک له پلاره زوی ته په ميراثي توګه پرېښودل او بيا همداسې دا لړی پسې غزول د همدې امويانو ابتکار و او دا کار د سترو فسادونو سبب هم شو. له همدې واک ښخه په ګټې اخيستنې يې ظلمونه وکړو او د خلکو شخصي- ملکيتونه يې ترې غصب کړو، د واک لپاره يې يو بل سره ووژل او د هيواد پراخونې شوق تر روسيې، چين او فرانسې ورسول. د همدې واک پر سر د علويانو، عباسيانو او امويانو ترمنځ کشماکش روان و او پر امويانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عباسيانو د عجمو په وسيله بريالي شول، هغوی يې داسې وکوټل چې نيول شوي کسان يې ورته مړل کړل او د هغوی پر جسدونو برسيره يې خوراک وکړ. علويانو هم د واک لپاره هلې ځلې کولې او په مصر کې يې بېل خپل واک تر لاسه هم کړ چې د سلطان صلاح الدين ايوبي په مټ عباسيانو له واکه گوښه کړو.

له نظام سره تړلي زياتره اصطلاحات د امويان په وخت کې را پيدا او بيا د عباسيانو په زمانه کې ښه پسې ترويج شول. د اسلامي نظام، اسلامي امير، خليفه ظل الله، حل و عقد شورا، اسلامي سياست، يو ستر داسې اسلامي هيواد چې تر منځ يې سرحدونه نه وي، دار الحرب و دار الاسلام او... ټول هغه څه دي چې د رسول الله ص په زمانه کې چا پېژندل هم نه، اما وروسته خلکو رواج کړو او تر دې اندازې غلو پکې وشوه چې بيخي د شريعت لاينفک جز وگڼل شول. زه په خپل ذات کې له دې اصطلاحاتو سره د هغه وخت په شرايطو کې مخالف نه يم، خو له دې سره يې مخالف يم چې يا د شريعت اجزاء وبلل شي او يا يې ځينې نن هم د ترويج او پلي کېدا لپاره متې راونغاړي. نن بېل وخت، بېل ځای او بېلې غوښتنې دي، لازمې نه ده چې د هغه وخت د خلکو او پوهانو له شريعت څخه شوي تعبيرونه دې نن موږ حتمن وپالو او د نوي تعبير په وړاندې دراوزې بندې کړو.

څومره چې په ژوند کې رنگيني او تنوع ده همدومره د شريعت نوي تعبير ته هم اړتيا ده. هر وخت که له شريعته پر تعبير بنديز ولگېد، نو د ژوند رنگيني، تنوع، جاريوالی او پر مختگ به هم ور سره ودرېږي او انساني ژوند به له سترو خنډونو سره مخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په لومړي سر کې له دې سره جوړ نه يم چې سياست د شريعت برخه وبولم، بيا که فرض کړو چې سياست هم د شريعت يوه برخه ده او په اړه يې هدايات لري، نو بيا د هغې زمانې د خلکو لپاره ممکنه ده چې برخه يې وبولي؛ خو نن ورځ دا سې هيڅ امکان نه لري. نن ژوند په چټکۍ بدلېږي او که سياست د شريعت برخه وبولو، نو يو خو يې مسلو ته ځواب نه شي ويلای، بل د اسلامي هيوادونو سياستونه نن داسې جوړ شوي چې يو له بل سره لاس و ګرېوان دي، که هر يو خپل سياست اسلامي وبولي نو لکه پخوانو خلفاؤ چې د دې نوم تر پوښ لاندې په خپلو کړنو شريعت ته ستره صدمه ورسوله موږ به هم په لوی لاس شريعت هم د نامسلمانو ترمنځ بندنام کړی وي او هم به د مسلمانانو زړه ترې تور شي. د وخت غوښتنه دا ده چې شريعت فردي کړای شي او له سياسي ميدانه يې را وباسو. په دې سره به مو د شريعت د بدنامۍ مخه هم نيولې وي، اسلام ته د منسوبو اورپکو ډلو توره به مو هم ترې اخيستې وي او د مسلمانانو ترمنځ د تکفير، ارتداد او شريعت ته منسوبو وژنو مخه به مو هم ډب کړې وي.

د پام وړ ټکی دا هم دی چې که شريعت کوم خاص چوکاټ د سياست او حکومتولۍ لپاره ايښی وای، نو لومړی به د څلورو خلفاؤ د ټاکنې طريقې سره مخالفې نه وې او بيا به نن موږ له ستر چيلنج سره مخ وای. ځکه موږ ته معلومېږي چې سياست هر وخت خپل روخ بدلوي، نوي چوکاټونه يې رامنځته کېږي، شکل يې بدلون مومې، جوړښت يې تغيير کوي، واکونه يې مختلفو ادارو ته وېشل کېږي او هر وخت نوي ضوابطو ته اړتيا لري چې هم يې نن مثالونه زموږ په وړاندې دي او هم په تاريخ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شریعت په متن کې مکان زمان او د کلتور مسایل دومره په پام کې نیول شوي چې په ښکاره نصوصو یې نن عمل نه کېږي. لکه: حج و عمرې ته د میقاتونو ټاکنه، نن هیڅوک هم هغه خاص ځای ته په رسېدو احرام نه تړي، ځکه هغه نه شي تعین کېدای، په الوتکه کې تګ دا ټول روایات د عمل له ساحې وایستل، بلکې احرام په میدان هوایي کې تړل کېږي. بل مثال یې د اس فضایل دي چې د جهاد لپاره یې پر ساتنه څومره ټینګار شوی او فضایل یې ذکر شوي. موږ نن وینو هیڅوک هم پر اس جهاد نه کوي او نه په دې نیت اسونه اوس پالل کېږي. د تورې، نېزې، غشي، لیندې او ډال په اړه هم روایات شته چې نن یې څوک په کار نه لري. د اس یادونه په قران کریم کې هم شوې ده، خو له دې سره نن څوک په دې یوه شي هم جهاد ته نه وړاندې کېږي.د غلام ازادولو یادونه هم په قران کریم کې شته او هم روایاتو کې، مګر نن د غلام په نه شتون کې هغه نصوص هم د عمل له میدانه وزي. تر درو ورځو اضافه د غوښو له ساتنې منعه هم په روایاتو کې راغلې، خو وروسته یې جواز ور کړی او د زمانې و مکان غوښتنې پکې له ورایه معلومېږي. هدیرې ته له تلو منعه او بیا یې جواز هم له دې برخې دی. د کعبې جوړښت له ابراهیمې جوړښت پرته د مکېانو پر ناقص جوړښت ایله کول هم، د زمان و مکان د غوښتنو اهمیت را ښیي.

له سیاست سره تړلي شرعي مسایلو ته نوې کتنه زموږ نن یوه اړتیا ده چې د زمانې جبر ورته مجبور کړي یو. که څوک دا اړتیا نه شي درک کولای، نو نه یوازې دا چې له خنډونو سره به مخ وي، بلکې د زمانې بې رحمه توره به یې داسې وکوټي چې تر ډېره وخته به د پاڅېدا توان هم ونه مومي. زموږ په وړاندې هیڅ شرعي مانع نه شته؛ بلکې مجوِز یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا لرو، که فرض کړو چې منعه هم تـرې شـوې، نـو ضرورتونـه مـو دا غوښتنه کوي چې دا بنـدیز مـات کـړو او انسـاني اړتیـاو تـه لاس رسـی وکړو. ځکه شریعت کې د ضرورت په خاطر ځینې ممنوعه شیانو ته هم اجازه ور کول شوې. له دې امله نن اړتیا ده چې د سیاست له کټګـوری شریعت بېل کړو او ټولنې ته د مخاطِب پر ځـای یـې فـرد تـه مخاطـب وګڼو.

۵ /۴ /۲۰۱۸

**سرچینې:**

(۱)(البقره: ۳۰)

(۲)(النور: ۵۵)

(۳)(الاعراف: ۱۲۹)

(۴)(یونس: ۱۴)

(۵)(فاطر: ۳۹)

(٦)(ص: ۲٦)

(۷)(بخاري: ۳۴۵۵)

(۸)(ال عمران: ۱۴٦)

(۹)(الاعراف: ۹۴)

(۱۰)(البقره: ۲۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي نظام

په ګڼ شمېر مسلمانو هېوادونو کې نن خورا زیاتي ستونزې دي. کله چې ددې ستونزو پر عواملو او حللارو خبرې کېږي، نو ډېری کسان لا په دې نظر دي چې د اسلامي نظام نه شتون د دې ټولو بدمرغیو سبب دی او که اسلامي نظام راشي نو دا هر ډول ستونزې اتومات حلېږي. هغه کسان چې د اسلامي نظام لپاره په مبارزه اخته دي، د هغوی لوی هدف همدا دی او دا د هر ډول ستونزو حل هم ګڼي.

راځو دې ته چې اسلامي نظام چیش دی؟ د ادیانو(شریعتونو) لوی هدف هم اسلامي نظام وي، که هسي د واک غوښتونکو له لوري دین ته منسوب یو تعبیر دی؟ د دې نظام په اړه شرعي نصوصو کې څه راغلي؟ د دې نظام په اړه د خدای د رسول او د هغه د اصحابو تګلاره څه وه؟ او ...

که د اسلامي نظام له غوښتونکو پوښتنه وشي چې اسلامي نظام یعنې څه؟ دوی وایي، اسلامي نظام دا معنا چې حدود نافذ وي، اسلامي امیر موجود وي، د اساسي قانون پر ځای د خدای قانون د عمل وړ وي، له کفارو سره اړیکې غوڅې وي، د کفارو خلاف جهاد روان وي، خلک په دولتي کچه له بدو منعه او ښو ته را بلل کېږي.

که لومړۍ خبره باندې فکر وکړو، نو دوی د یوه ناوړه کار د اسبابو د درک پر ځای د هغه کار سزا ته خوشاله وي. د دوی په اند لاس غوڅول د شریعت هدف دی، خو دې ته فکر نه کوي چې لاس پرېکول د جرم د مخنیوي په خاطر و، نه د یوې شرعي موخې په توګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی باید د جرم عوامل له منځه یووړل شي، اسباب یې درک شي او که د دې ټولو سربیره چا جرم وکړ نو د سزا وړ دی.

دا نه یوازې د عقل غوښتنه ده، بلکې نقل یې په صراحت تایید هم کوي. له دې امله رسول الله ص خلکو ته داسې توصیه کوي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَعَافُّوا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ، فَمَا بَلَغَنِي مِنْ حَدٍّ فَقَدْ وَجَبَ».(۱)

ژباړه:عبد الله بن عمرو بن العاص روایت کړی چې رسو الله ص وویل: تر خپل منځ مو حدود سره معافوئ، که په یوه حد زه خبر شم، نو حد واجبیږي.

له دې حدیث څخه ښکاري چې پر خلکو د حدودو له جاري کولو باید تر خپله وسه ډډه وشي. که خلکو تر خپل منځ ستونزې سره حل کولې، د حدودو اړتیا نه شته. حد له خپلو ټولو شرایطو سره که امیر(د اوس وخت قضا) ته خبره ورسېده، نو د نفاذ وړ دی. دا هم ترې ښکاري چې اساسي هدف سزا نه ده، د سزا لپاره خوشالي بې ځایه ده، اصلي موخه د جرایمو مخنیوی دی، له دې امله نو عمر فاروق رض ویلي:

قَالَ عُمَرُ: «لَا يُقْطَعُ فِي عِذْقٍ وَلَا عَامِ السَّنَةِ».(۲)

ژباړه: عمر رض ویلي: د خورما پر ښاخ د پاته خورما له امله او وچکالۍ کې دې لاس نه پرې کېږي.

عمر فاروق د خپل خلافت مهال په وچکالي کې د غلا حد ځنډولی وو. پاس جمله هم د دې ادعا پوره تایید کوي. ما د دې مقالې لیکلو پر وخت د هغو عالمانو لیکنې هم ولوستې چې د عمر فاروق د دې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع يې کړې وه. د همدې ځنډېدنې له امله پر عمر فاروق خورا ډېرې نيوکې هم شوې چې ګڼو ديني عالمانو يې ځوابونه ويلي دي.

په همدې اړه ابن قيم د امام احمد قول نقلوي:

قَالَ السَّعْدِيُّ: سَأَلْت أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَقَالَ: الْعِذْقُ النَّخْلَةُ، وَعَامُ سَنَةٍ: الْمَجَاعَةُ، فَقُلْت لِأَحْمَدَ: تَقُول بِهِ؟ فَقَالَ: إي لَعَمْرِي، قُلْت: إنْ سَرَقَ فِي مَجَاعَةٍ لاَ تَقْطَعُهُ؟ فَقَالَ: لاَ، إذَا حَمَلَتْهُ الْحَاجَةُ عَلَى ذَلِكَ وَالنَّاسُ فِي مَجَاعَةٍ وَشِدَّةٍ.(٣)

ژباړه: سعدي ويل، له احمد بن حنبله مې د دې حديث په اړه پوښتنه وکړه، ده ويل: عذق مانا خورما او عام سنة د لوږې مانا لري. دی وايي، احمد ته مې وويل، ته يې هم منې؟ ده ويل: هو، په خپل عمر مې قسم. ما وويل: که چا په لوږه کې غلا وکړه ته يې لاس نه پرېکوې؟ ده ويل: نه، که خلک په لوږه او سختي کې وي او يو کس د اړتيا له مخې غلا وکړي، نو دا کار نه کوم.

په اعلام الموقعين کې ابن قيم رح پسې وايي:

وَعَامُ الْمَجَاعَةِ يَكْثُرُ فِيهِ الْمَحَاوِيجُ وَالْمُضْطَرُّونَ، وَلاَ يَتَمَيَّزُ الْمُسْتَغْنِي مِنْهُمْ وَالسَّارِقُ لِغَيْرِ حَاجَةٍ مِنْ غَيْرِهِ، فَاشْتَبَهَ مَنْ يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَدُّ بِمَنْ لاَ يَجِبُ عَلَيْهِ، فَدُرِئَ.

يعنې په وچکالي کې اړتيا وي او مجبور کسان زيات وي، نو په خلکو کې د شتمن او هغه چې له اړتيا پرته يې غلا کړې وي له بله توپير نه کېږي. له دې امله د هغه چا چې حد پر واجبېږي له هغه سره فرق نه کېږي چې حد پرې نه شته، ځکه نو حد ترې ايسته شوی.

له دې قولونو معلومه شوه چې حد د جرايمو د مخنيوي لپاره دی. تر دې مخکې چې د جرم علتونه درک او بيا يې د له منځه وړلو کار پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، د اسلامي نظام اوسني غوښتونکي دې ته خوشاله وي چې د يو چا لاس غوڅ کړي، بل په ډبرو ويشتلو مړ کړي، يو بل خوار بيا قصاص ته ودروي او نور بيا په دروو ووهي. په داسې حال کې چې ټول فقهاء په يوه خوله وايي، د حدودو جاري کول د امير يا نايب کار دی. هغه څوک چې نه د جرم علتونه پېژندلای شي، نه يې د له منځه وړلو وس لري او نه پوهه، نه يوه لوېښت ځمکه تر واک لاندې لري، نه يې محکمه او څارنوالي مالومه وي، شل واره يې اعتراف کړی چې بېگناکسان يې په محکمه کې تورن شوي او بيا سزا ورکول شوې. دغسې ډلې ټپلې په هيڅ مذهب او اسلامي فقه کې د حدودو د جاري کولو واک نه لري.

د بدايع ليکوال د حدودو په بحث کې کاږي: وَأَمَّا شَرَائِطُ جَوَازِ إقَامَتِهَا فَمِنْهَا مَا يَعُمُّ الْحُدُودَ كُلَّهَا، وَمِنْهَا مَا يَخُصُّ الْبَعْضَ دُونَ الْبَعْضِ ،أَمَّا الَّذِي يَعُمُّ الْحُدُودَ كُلَّهَا فَهُوَ الْإِمَامَةُ: وَهُوَ أَنْ يَكُونَ الْمُقِيمُ لِلْحَدِّ هُوَ الْإِمَامُ أَوْ مَنْ وَلَّاهُ الْإِمَامُ.(۴)

ژباړه: د حدودو د جاري کولو شرايط ځينې يې ټولو حدودو ته عام دي او ځينې په نورو پسې خاص دي، هغه شرايط چې ټولو حدودو ته عاميږي، يو يې امامت دی: امامت دادی چې د حد جاري کوونکی به امام او يا هغه څوک وي چې امام استازی ټاکلی وي.

وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ: أَرْبَعٌ إِلَى السُّلْطَانِ الْحُدُودُ، وَالْجُمُعَةُ، وَالزَّكَاةُ، وَنَسِيَ رَّاوِيُّ الْحَدِيثِ الرَّابِعَ.(۵)

ژباړه: حسن بصري ويل: څلور شيان د سلطان دي، حدود، د جمعې لمونځ، زکاة او څلورم شی راوي هير کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جمعې لمونځ هم د امیر له لوري ور کول کېده، یا به هم امیر خلک ورته ټاکل، اما وروسته له امامت پرته هم جواز ور کړل شوی دی. لکن زکاة د رسول الله ص په دور کې یوازې د رسول الله ص استازو جمعه کاوه، همدا شان حدود هم د هغه صلی الله علیه وسلم کار وو. له دې امله نو زکات اخیستل هم د یوه برحاله نظام کار دی او هم حدود له نظام سره ربط لري.

دغه کسان په هغو وروسته پاته ټولنو کې د اسلامي نظام چیغې وهي چې خلک یې له لوږې مړه کېږي. د بېکارۍ له امله په میاشت کې زرگونه ځوانان نورو هېوادونو ته تېښته کوي. د مېرمنو مهرونه له اسمان سره خبرې کوي، وچکالي یې کښتونه، باغونه، رمې او نور د کار و کسب شته داسې ورختم کړل چې که نن له چا سره یو څه شته هم، نو پر هیڅ حساب دي. د زدکړو په برخه کې دومره پاته دي چې ان ابتدایي تعلیم هم د گوتو په شمار کسان لري. د لسگونو کالو جنگونو یې د هېواد بنسټونه وران کړي، عامه تاسیسات خراب شوي، د امن ساتلو اورگان له بیخه ویستل شوی، د خلکو د هېواد پالنې، ملت پالنې او خپلو ارزښتونو پالنې روحیه سخته کوټل شوې او په خلکو کې اوس د خدمت جذبه نه ده پاته. په دغسې ټولنو کې عقل او شریعت دواړه دا وايي چې لومړی د هر جرم لامل په گوته شي، حللار یې وښودله شي، خلک له ستونزو را وکښل شي او بیا د اسلامي نظام شعار پورته شي، خو زموږ افراطیان د دې ټولو ستونزو حل په اسلامي نظام کېویني. حقیقت دا دی چې ستونزې خپل عوامل او حللاري لري. که هر څوک یې له هماغو لارو د حل هڅه ونه کړي، نو د هیڅ نظام مفاهیم یې هم نه شي حل کولای. دا نظامونه تجربه شوي دي. له نن څخه سوونه کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې چې خلافت موجود و هم اسلامی نړۍ یو عالم ستونزو په مخه کړې وه او نن بیا دوه چنده مشکلات ورته رامات دي. که موږ ځمکني حقایق ونه منو او هسې په خیالي نړۍ کې د خوشالی هڅه وکړو، نو تل به مو همدا حال وي لکه اوس چې ور سره مخ یو.

د اسلامي نظام او اسلامي امیر اصطلاحات هم د دین او شریعت په نصوصو کې نه شته. قران کریم هیڅ پیغمبر ته د شرعي سلطان، شرعي امیر، شرعي خلیفه او شرعي نظام د ورکړې یادونه نه ده کړې. خو هر ځای یې دا ورته ویلي چې نبي یې، رسول مواستولی یې، د خلکو په دیني چارو کې لار ښود یې. رسول الله ص چې په خپل ژوند کې د دیني رهبر تر څنګ سیاسي او نظامي مشر هم و، د خپل ځان په اړه هیڅ ځای نه دي ویلي چې زما نظام شرعي نظام دی او زه یې شرعي امیر یم. خپل حکومت یې د خلافت په نوم نه دی نومولی او د ټولو چارو په اړه یې د اصحابو له مشورو سره سم کار کاوه. قران کریم امر کړی دی چې د مسلمانانو خپل منځي چارې د هغوی په مشوره تر سره کیږي او کار باید اهل کار ته وسپارل شي. همدې دوو اصولو ته په پام رسول الله ص د جنګ لپاره خالد غوره کاوه او د دیني پوهاوی په پار به یې معاذ یا مصعب استول. د جنګونو، سولې، له مخالفو کسانو سره د تړون کولو، بندیانو، امیر ټاکلو او دې ته ورته نوري ستري دندې به یې د اصحابو په مشوره مخته وړې او هر ځای یې د اکثریت په مشوره عمل کړی دی. له دې خپله ښکاري چې حکومت یوه دنیوي چاره ده او د کارونو په اړه یې انبیاء علیهم الصلاة و السلام ته هم وحې نه کیده. حتا د نبیانو او رسولانو لویه برخه هغه څوک دي چې هیڅ ډول نظام یې نه در لود او قران کریم د هغو یادونه هم کړې ده چې د بل تر مشرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې يې خپل کار ته ادامه ور کوله.(البقره: ۲۴۷) ځينې نبيان په زندانونو کې په همدې اعزاز نازول شوي او بنديانو ته يې خپل دعوت رساوه. (يوسف: ۴۰)که له دين او شريعت څخه هدف نظام وي، نو ايا په بنديخانه کې نظام جوړېدای شي؟ ولې د نبيانو غوڅ اکثريت هيڅ نظام نه لري؟ د ټولو نبيانو په لړ کې يوازې درې يا څلور کسان يې داسې دي چې د نظام په راس کې قرار لري؟ ولې رسول الله ص د عربو پر ځای چې هيڅ نظام يې نه در لود د فارس يا روم لور ته نه لېږل کېده چې برحاله نظامونه يې لرل او د عربو په پرتله يې د ژوند سطحه لوړه وه او په ښه توگه د اسلامي نظام نفاذ يې کولای شوای؟

اصلن د نظام لپاره يو موډل جوړېدای نه شي. هغه څه چې هره ورځ يې د تغييرېدا او بدلېدا احتمال وي، هغه ته يو فارمول رامنځته کول، انسانان له کړاو سره مخ کول دي. خدای پاک د همدې لپاره حکومت له ديني وشرعي چارو بېل ساتلی او د نظام په اړه يې يوازې دوه ځايه لارښوونې کړې دي. د شورا اصل او اهل کار ته کار سپارل د قران هغه لارښوونې دي چې د نظام په اړه يې کړې، نور قران له نظام سره کار نه لري. د يو چا کور ته د ورتلو پر مسله ږغېدلی خو د نظام مشر ـ د ټاکلو مسله يې خلکو ته ايله کړې. رسول الله ص کور ته د ورتلو اجازه بيان کړې، خو د مرگ مهال يې د مشر ټاکلو، نظام فارمول بيانولو، وزيرانو، اميرانو، رييسانو، واليانو، جنگي قومندانانو، سفيرانو او نورو چارواکو په اړه يوه لارښوونه هم نه ده کړې. د مرگ مهال يې د لمانځه يادونه کوله، له مرييانو سره د سلوک خبره ورته مهم وه، بهرني سفيرانو ورته ارزښت درلود، خو د خپل نظام د مشر ټاکلو مسله يې همداسې خلکو ته ايله کړه؟! د قران کريم او رسول الله صلی الله عليه وسلم په همدې تگلاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یو لوی سبق او درس پروت و. د انسانیت خالق نـه غوښـتل چـې د یوه چوکاټ په ټاکلو راتلونکي خلـك لـه سـتونزو سره مـخ کـړي. کـه داسې شوي وای، نو نن به د اسلامي حکومت جوړونکي هم له مشکل سره مخ وای، دوی چې نن په نظام کې کوم پوزیشنونه رامنځتـه کـوي، هغه د خلافت راشده او تر هغه وروسته زمانه کې نه وو موجود، بیا ولـې دوی د نن له غوښتنو سره سم نظـام جـوړوي ولـې د خلافـت د وخـت جوړښت نه خپلوي؟له دې امله شریعت د نظام په برخه کې لـه مسـایلو څخـه صرف نظر کـړی. دا کـار شـارع ارادي کـړی او د دې حکمـت رسول الله ص په یوه حدیث کې داسې بیان کړی:

مَا أَحَلَّ اللَّهُ فِي كِتَابِهِ فَهُوَ حَلالٌ وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ فَاقْبَلُوا مِنَ اللَّهِ عَافِيَتَهُ فَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُنْ لِيَنْسَى شَيْئًا، ثُمَّ تَلا هَذِهِ الآيَةَ: {وَمَا كان ربك نسيا}.(٦)

ژباړه: الله چې څه په کتاب کې حلال کړي هغه حلال دي او څه چې یې حرام کړي هغه حرام دي. له څه چې یې سکوت کړی هغـه معـاف دي، نو د الله معاف شوي ومنئ. ځکه الله هیڅ شی هم نـه هیـروي بیـا یې پاس ایت ولوست.

د دې حدیث د اصل له مخې د حکومت چارې په درېیم اپشـن کـې راځي. قران کریم او نبوي سنتو یې په اړه سکوت کړی، نو دا د خـدای معاف شوې چارې دي چې مسلمانان یې باید ومني او پر ځـان سـختي ونه کړي، که نه بخاري کې د رسـول اللـه ص زیـری دی چـې کـه چـا سختي وکړه دین به اخیر ورته سخت شي.

ایا مسلمانان اساسي قانون ته اړتیا لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت د مسلمانانو او په تېره بیا زموږ د افغانانو حالت داسې و چې د هر بل قانون نوم یادول د قران ضد بلل کېده. له دې امله نو چا دا جرات نه در لود چې یو بل قانون د دنیوي مسلو د حل په موخه جوړ کړي. دا فکر لا اوس هم شته چې مسلمانان د قران په مقابل کې بل قانون ته اړتیا نه لري. ایا دا خبره سمه ده که ناسمه؟

مخکې مې هم وویل چې قران کریم د دین او شریعت د یوه متفقه متن په توګه او د رسول الله ص سنت یې د شرحې په ډول کله هم د نظام لپاره یو چوکاټ، فارمول او موډل نه دي ټاکلي. قران ته د اساسي قانون نوم ورکول د قران کریم له حیثیت څخه ناخبري ده. دا یو واضح حقیقت دی چې د قران کریم او نبوي سنتو لار ښوونې د اساسي قوانینو له هدایاتو سره توپیر لري. قران کریم او نبوي سنت د دین او شریعت تر چوکاټه را محدود دي. له دې امله رسول الله اصحابو ته په دنیوي چارو کې پراخه اجازه ور کړې وه.

د قران کریم او اساسي قانون دې جلا حیثت ته په کتو ویلای شو چې هر هېواد نن یوه داسې قانون ته اړتیا لري چې دنیوي چارې په حل وفصل کړي. رسول الله ص له مکیانو سره د تړون مهال د وحې انتظار ونه کړ، د خندق په غزا کې یې د متحدو لښکرو له ځینو مشرانو سره د مفاهمې خبره د اصحابو مشورې ته وړاندي کړه، خو د وحې انتظار یې ونه کړ. د مدینې له یهودو سره یې د میثاق مدینه په نوم تړون وکړ، یهودو ته یې د دین پوره ازادي هم ور کړه، په اړه یې د هیڅ ډول وحې انتظار نه دی کړی. د حبشې پاچا له دې سره چې مسلمان وو، په لسګونو مهاجرو مسلمانو ور سره پنا هم اخیستې وه، رسول الله ص هیڅکله ترې ونه غوښتل چې یا په خپله ملک کې اسلامي نظام پلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه یا ته او ټول مهاجر اصحاب مدینې ته هجرت را وکړئ. د همدې نجاشي تر مرګ وروسته رسول الله ص د هغه ځای ناستي نجاشي ته هم د اسلام بلنه ور کړه، خو د اسلامي نظام د نفاذ هیڅ یادونه نه شته.(۷)

د قران کریم مقام ته که موږ د دې ایت په رڼا کې وګورو، نو بیا داسې غلطي نه کوو:

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا.
(الحج: ۷۸)

ژباړه: او د الله لپاره پوره کوښښ وکړئ، همده تاسې غوره کړي یاست او په دین کې یې پر تاسې هیڅ تکلیف نه دی راوستی. ستاسې د پلار ابراهیم ملت دی، ده مخکې هم مسلمان نومولي وئ او په دې (کتاب) کې هم.

دلته وینو چې قران کریم یو دیني کتاب دی. د ابراهیم علیه السلام ملت دی. ابرهیم علیه السلام او د ده اولادونو هیڅ ډول نظام نه در لود. قران کریم رسول الله ص ته امر کوي چې د ابراهیم علیه السلام تابعداري وکړي، د هغه نور اولادونه هم د هغه په تابعداري مکلف وو، مګر په تګلاره کې یې هیڅ اسلامي نظام نه‌شته او نه دې ته ورته مفاهیم پکې تر سترګو کیږي. له دې امله نو باید د اساسي قانون او قران کریم ترمنځ پرتله ونه شي. قران د دین او شریعت قانون دی او اساسي قانون د دنیوي چارو په اړه هدایات لري. د دې دوو ترمنځ پرتله هیڅ ممکنه نه ده. پرتله د هغو قوانینو ترمنځ کیږي چې د یوې کټګورۍ وي، اما دلته د هر قانون مقام او زاویه بیله ده. له د ې امله نو باید په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناخبري د قران کریم مقام را ټیټ نه کړو او د هر قانون لاربښوونې پر خپل ځای عملي کړو.

له نامسلمانو سره اړیکو ته اسلام په کوم نظر ګوري؟ ایا د اسلامي نظام یوه ځانګړنه دا ده چې له نامسلمانو سره په دولتي کچه اړیکې پرېکړي؟ زموږ افراطیان خو نن په همدې پلمه د اسلامي نړۍ ټول حکومتونه د کفر په ټاپه وهي او پر ضد یې قیام لازمي د شریعت امر بولي. زموږ هېواد کې دا څلویښت کلونه په همدې بانه خلک وژل کېږي، عامه تاسیسات نړل ول کېږي، د علم مرکزونه تخریبیږي، معابد انفجارېږي، پل و پلچک الوزول کېږي، لویې لارې کنډوکپر کېږي، د بریښنا مزي غوڅیږي، ستنې یې نړېږي، د اوبو بند ماتیږي او د بریښنا د تولید توربین پر نورو پلورل کیږي.

تر نورو هر څه راتیرېږو او مستقیما دې پوښتنې ته ځواب وایو. که په لنډه ووایو؛ نو اسلام نه مسلمان او نه له نامسلمان سره پر اړیکو بندیز لګولی. د بندیز ځایونه مشخص موارد دي چې باید مشخص کړای شي نه داسې لکه د اسلامي نظام اوسني غوښتونکي چې وایي.

لومړی دلته د قران کریم هغه درې ایاتونه راوړم چې دا موضوع یې مشخصه کړې او له دې موضوع سره تړلي ایاتونه ټول باید په همدې ایاتونو تفسیر شي. ځکه د اصولو قاعده همدا ده چې مطلق په مقید تفسیرېږي. مثال یې د مطلق (دم) دی چې بل ځای قران کریم د (مسفوح) قید ور سره اضافه کړی. نو ځکه مطلق وینه حرامه نه ده بلکې، دم مسفوح حرامه ده.(۸)

قران کریم د اړیکو په اړه مشخصه تګلاره ټاکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَسَى اللَّهُ أَنْ يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُمْ مِنْهُمْ مَوَدَّةً وَاللَّهُ قَدِيرٌ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ () لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ () إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ.

(الممتحنه: ۷، ۸، ۹)

ژباړه: نژدېده چې الله به ستاسې او هغو ترمنځ دوستي راولي چې له دوی څخه يې له تاسې سره دښمني کړې وه. الله يې وس لري. الله بخښونکی او مهربانه دی. الله تاسې له هغو سره له نيکي او انصافه نه منعه کوي چې ستاسو سره يې پر دين جنګ نه وي کړی او نه يې تاسو له سيمو ايستلي ياست. بېشکه الله انصاف کونکي خوښوي. يقينن د هغه چا له دوستي مو منعه کوي چې پر دين يې له تاسو سره جنګونه کړي او تاسو يې له ديارونو ايستلي يئ يا يې ستاسو پر ايستلو مرسته کړې وي. له دوی سره که چا دوستي وکړه نو همدوی ظالمان دي.

دا ياتونه دومره واضح، روښانه او له هر ډول ابهام څخه دومره خوندي دي چې که په دې موضوع کې يو څوک واقعن د ځان پوهونې هڅه کوي، نو د دې اياتونو په لوستلو به يې هيڅ شک هم پاته نه شي او په ذهن کې ور سره ټول سوالونه به يې حل شي.

لومړي ايت کې خدای پاک مسلمانانو ته د احسان په توګه وايي چې له ځينو هغو سره به مو دوستي پيدا کړي چې مخکې يې دښمني در سره کړې. د (مودة) لفظ د مسلمانۍ په مانا نه دی، بلکې هغوی به له دې سره چې نامسلمان وي، له مسلمانانو سره به دوستي ته زړه ښه کړي. قران دا ټکی د خدای يو احسان بللی دی او په واضحو الفاظو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې مسلمانانو ته یادونه کړې ده. دا وروسته ایت یې علت هم بیانوي. دا کار الله ځکه کوي چې خدای له هغه چا سره ستاسې دوستي، نیکي انصاف او عدالت بندونکی نه دی چې له تاسې سره د دین له امله شخړې نه کوي، نو ګواکې له هغه چا سره چې مسلمان نه وي، خو د دین له امله د مسلمان وژنه او تخریب هم نه غواړي د مسلمان دوستي، اړیکې، نیکي، انصاف او عدالت شرعن ناروا نه بلکې ښه کار دی او الله له دې کسانو سره مینه کوي. هغه څوک له کفارو سره د اړیکو منعه شوي چې هغوی د دین له امله شخړې کوي او مسلمان د اسلام له امله بد ګڼي. وژني یې او له خپلو سیمو یې شړلو ته اړی کوي. قران کریم وایي له دوی سره اړیکې مه پالئ او که چا د دې لارښوونو سربېره اړیکې او دوستي ور سره وپالل، نو ظالمان دي.

همدې ته په کتو رسول الله ص خپل اصحاب د روم، یمن، بحرین او یهودو له بازارونو منعه نه کړل چې له هغوی سره یې اقتصادي و سوداګریزي اړیکې در لودلې. ثمامه بن اثال رض ته یې امر وکړ چې د مکیانو د قافلو لار خوشي کړي.(۹)

عمر فاروق رض یې له دې منعه نه کړ چې خپل مشرک ورور ته یوه ورښمینه چپنه ور ولېږي او دا مهال هغه په مکه کې اوسېده.(۱۰)

د خیبر ځمکې یې هغو یهودو ته بیرته ور کړې چې له ده سره یې جنګ کړی و. اکیدر بن مالك یې تر نیولو وروسته بیرته خپلې سیمې ته ولېږه او پر نامسلمانو یې همداسې حاکم پرېښود. د حدیبیې په سوله کې یې بنوخزاعه د مسلمانانو لوري ته کړل په داسې حال کې چې هغه قبیله مسلمانه نه وه. تړون کې ویل شوي و چې پر بنو خزاعه برید پر مسلمانانو برید دی.(۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران کریم خو لا دا خبره هم په ښکاره الفاظو کړې ده:

وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلاَّ عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (الانفال: ۷۲)

ژباړه: او د دین په اړه که درڅخه مرسته وغوښتل شوه نو مرسته ورسره کړئ مگر هغه قوم چې ستاسو و د هغوی ترمنځ تړون وي. الله ستاسو د اعمالو لیدونکی دی.

دلته ویل شوي چې که نامسلمان له ځینو مسلمانو سره د دین پر سر شخړه کوي. همدا مسلمانان له نورو مسلمانانو څخه مرسته وغواړي نو قران وايي، مرسته يې وکړئ، که نور مسلمانان له همدې محاربو کافرانو سره تړون ولري، نو په جنگ کې مداخله نه شي کولای. له دې مالومېږي چې مسلمانان کولای شي دوه یا څو بېل حکومتونه ولري. ځکه که تر یوه دولتي چتر لاندې وای نو بیا څنگه امکان لري چې هم دې له نامسلمانو سره تړون ولري او هم دې جنگ ور سره وکړي؟ دې ایت چې کوم حالت ته اشاره کړې، دا یوازې په هغه صورت کې ممکن دی چې د مسلمانانو څو حکومتونه موجود وي. یو حکومت د خپلو گټو په خاطر له نامسلمانو سره اړیکې جوړوي او مختلف تړونونه ور سره کوي او د مسلمانانو بل حکومت بیا خپلو حالاتو ته په کتو جنگ ور سره کوي. دا ایت د خلافت د هغو مدعیانو پر ادعا هم چلیپا راکاږي چې وايي، د مسلمانو هېوادونو ترمنځ سرحدونه نه‌شته او دا د اسلام غوښتنه ده.

نن چې په اړیکو کې اقتصاد مهم رول لري، نو هیڅ هېواد له بل مسلمان یا نامسلمان سره د دین او مذهب په خاطر اړیکې نه پالي. که د مذهب خبره مطرح وای، نو زموږ افغانان، د عراق مهاجر او له سوریې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تښتېدونکي کسان به د اروپا پر ځای سعودي، قطر، اماراتو، پاکستان او د مسلمانانو نورو هېوادونو ته تلای؛ هیڅ مسلمان هېواد نن خپلو مسلمانو ورونو ته ځای نه ور کوي. اسلام د اړیکو لپاره هیڅ اصولو نه دي ټاکلي. یوازې له هغه چا سره دوستي منعه شوې چې پر دین مسلمان زوروي او هغه هم یوازې د هغه مسلمان لپاره چې له همدې نامسلمانو څخه ازار ویني، دا اصل هم د ټولو مسلمانو لپاره نه دی. که یو هېواد له هغه محارب کافر سره اړیکه وساتي چې یو بل ځای له مسلمان هېواد سره په جنګ اخته وي، نو اسلام د اړیکې غوڅولو امر نه دی ور ته کړی. لوړ ایت د دې ښکاره ثبوت دی. نو د اړیکو په برخه کې اسلام یوازې همدا اصل بیان کړی، نور کوم فارمول نه لري.

د خلافت یا اسلامي نظام غوښتونکي هر وخت د جهاد یادونه هم کوي چې پخوا مسلمانو پاچانو جهاد کاوه او نن اسلامي نظام نه‌شته له دې امله جهاد هم موقوف شوی دی. همدا لامل دی چې ګڼشمېر اسلام ته منسوبو ډلو په یوه او بل نوم د جهاد بیرغ پورته کړی او ادعا کوي چې خالص جهاد کوي او یوازې د دې شرعي فریضې احیاء یې هدف ده.

راځئ دلته د جهاد پر مشروعیت، طریقه، د پخوانو حکومتونو پر تیرو جګړو او د نن ډلو پر روانو جنګونو بحث کوو او دا چې اولنو و وروستنو له دې نوم څخه په استفادې څه وکړل؟

د جهاد لغوي مفهوم ډېر کوښښ دی او اصطلاحي معنا یې یوازې قتال نه ده. بلکې د دین او شریعت لپاره ټولې هڅې جهاد بللای شو. قران کریم په مکي سورتونو کې هم د جهاد یادونه کړېده. یو ځای وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ.
(العنكبوت: ٦٩)

ژباړه: او هغه چې زموږ لپاره هڅې کوي، ارو مرو به زموږ لارې ور وښیو او بېشکه الله خامخا له نیکانو سره دی.

یوه حدیث د مور و پلار خدمت جهاد بلل شوی:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَسْتَأْذِنُهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ: «أَحَيٌّ وَالِدَاكَ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ».(١٢)

ژباړه: عبد الله بن عمرو رض ویل چې رسول الله ص ته یو کس راغی او جهاد ته د تلو اجازه یې غوښته. ده ورته وویل: مور و پلار دې ژوندي دي؟ هغه ویل: هو. رسول الله ص ورته وویل: د هغوی په خدمت کې کوښښ وکړه.

له دې نصوصو ښکاره شوه چې جهاد یوازې جنګ نه دی. د دین او شریعت لپاره تېولې هڅې تر دې مفهوم لاندې راځي. د کوم شي لپاره چې نن خلک د جهاد توری کاروي هغه ته قران کریم د قتال نوم و رکړی. احادیثو کې هم د دین لپاره جنګ ته د قتال نوم کارول شوی. البته مقاتله هم د جهاد یو جز کېدای شي. ځکه که د دین لپاره څوک جنګ کوي نو دا هم یو دیني خدمت دی چې د جهاد په پراخ مفهوم کې ځاییږي.

مقاتله څه وخت مشروع ده؟ قران کریم یې په اړه وایي:

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ () الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيراً (الحج: ۳۹، ۴۰)

ژباړه: مقاتلینو ته له دې امله اجازه ور کول شوې چې ظلم پر شوی او یقنین الله یې پر مرسته قادر دی. هغه چې له څه حق پرته له خپلو سیمو وشړل شول مگر دا چې ویل یې الله زموږ رب دی او که الله ځینې انسانان په نورو نه دفعه کولای، نو د راهبانو خونې، د یهودو عبادتځایونه، د عیسویانو معابد او هغه مساجد به خراب شوي وای چې د خدای نوم ډېر کې ذکر کیږي.

یو بل ځای وایي:

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (البقره: ۱۹۰)

ژباړه: او د الله په لار کې له هغو سره وجنگېږئ چې له تاسې سره جنگ کوي او تېری مه کوئ، یقینن الله تېریگر نه خوښوي.

په یو بل ځای کې دې موضوع ته داسې اشاره کوي:

وَإِنْ نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لاَ أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ () أَلاَ تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُمْ بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (التوبه: ۱۲، ۱۳)

ژباړه: او که دوی تر خپلو ژمنو وروسته وعدې ماتې کړې او ستاسو په دین کې یې بد ویل پیل کړل نو د کفارو مشرانو ووژنئ، یقینن دوی هیڅ ژمنې ته پابند نه دي، په دې سره ښایي را وگرځي. ولې له هغه قوم سره جنگ نه کوئ چې خپلې ژمنې یې ماتې کړې، د رسول د ایستلو تکل یې کړی او همدوی لومړی ځل (جنگ) پیل کړی. ایا له دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډارېږئ؟ الله د دې وړ دی چې ترې خشیت وکړئ که رښتیا مومنان یاست.

په دې درو ایاتونو کې که فکر وکړو نو پوهېږو چې مقاتله په شریعت کې څه حکم لري. د اسلام تر ټولو معتبر کتاب قران کریم په واضحو الفاظو وايي چې مقاتله یوازې د ځان د دفاع وسیله ده، نه د نورو د غلام کولو، ځمکو نیولو، واک غصبولو، دولت و ثروت ګټلو او نوم لوړولو خدایي اجازه لیک چې هر وخت به مسلمانان د نور خدایي مخلوق ژوند د خدای او رسول په نوم ور تنګوي او د ژوند کړۍ به ور باندې را سختوي.

لومړي ایت کې راغلي چې د مقاتلې اجازه له دې امله ور کول شوې چې د دین له امله ظلم ور سره کېږي. مقاتله د دې لپاره ده چې د هر عابد د عبادتځای خوندي شي. نه داسې لکه نن چې پر معابدو حملې د اسلامي نظام په نوم تر سره کېږي. دویم ایت کې ویل شوي چې یوازې له هغه چا سره جنګ وکړئ چې له تاسې سره جنګېږي او پر نورو به تېری نه کوئ. درېیم ایت کې راغلي چې له مقاتلې مخ مه اړوئ، ځکه جنګ تاسې نه دی پیل کړی، لومړی ستاسې دښمن جنګ ته مخه کړې، هغوی رسول له سیمې پسې اخیستی، خپلې وعدې یې ماتې کړې او دا هر څه له دې امله کوي چې ستاسې دین له هغوی بېل دی، د دې ټولو تر څنګ په دین کې بدرد هم وايي. نو د دوئ په اړه ویل شوي چې مشران یې ور قتل کړئ.

د دې موضوع په اړه راغلي ټول ایاتونه او احادیث به په همدې ایاتونو تفسیرېږي، د مقاتلې په اړه د دې ایاتونو حکم واضح، پرېکنده، قاطع او له هر ډول شک و شبهې وتلی دی. د مقاتلې په اړه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصوص که پر دې تله وتلو نو د نن ورځې ډلې ټپلې او د پرون ورځې ځان و واک غوښتونکي امیرانو، پاچاهانو او خلفاؤ یوازې د ځمکې نیولو، قدرت ساتلو، ثروت زیاتولو او پر خلکو د راج چلولو لپاره د مقاتلې تر نوم لاندې عام مسلمانان جنګول چې ګټه یې یوازې دوی ته رسېده.

د دې ادعا ستر ثبوته د مسلمانانو په تاریخ کې خوندي دي. د همدې مجاهد خلیفه، امیر او پاچا یا هم د نن ورځې جهادي ډلو د شخصي-واک، ځواک او ګټو په وړاندې که مسلمان خنډ پیدا کړی او که کافر دوی ورسره جنګېدلي او نن هم جنګېږي. موږ وینو چې د امارت جنګیالي د داعش له کسانو سره په جنګ دي او د داعش دا له القاعده سره جنګېږي. په افغانستان کې د روس خلاف جنګېدلي د مقاومت ډلې لومړی یو له بل سره په جګړه سولې او وروسته یې له طالبانو سره جنګونه وکړل. په تېر تاریخ کې د فاطمیانو خلافت د عباسیانو خلافت مقاومت کاوه او عباسیانو بیا د امویانو تخته چپه کړه. پر عثمانیانو محمد بن عبد الوهاب د جهاد اعلان وکړ او د هغوی خلاف بیا شیعه ته منسوبې ډلې ودرېدې چې تر ننه یو بل سره وژني. که د شریعت له لوري د نظام په برخه کې باوري او واحد فورمول موجود وای، نو ولې به د داعش نظام له امارتیانو له نظام سره توپیر در لود؟ ولې به د سني نظام د شیعه د نظام چپه کولو کوښښ کاوه؟ ولې امویان عباسیانو را نسکور کړل؟ ولې وهابیانو د حنفي عثمانیانو پر خلافت د جهاد اعلان وکړ او د هغوی د خلافت پر ځای یې خپل شاهي نظام رامنځته کړ؟ او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وژني، غصبوني، لوټني، پسي اخيستني او تر ټني ټولي د جهاد او مقاتلې تر عنوان لاندې کېدلې او نن هم کېږي. نه پخوا چا د دين له امله له نورو سره جګړې کولې او نه نن جنګونه د دين پر سر کېږي. د مسلمانانو تر هېوادونو په نامسلمانو هېوادونو کې مساجد، مسلمانان، مدرسې او د تبليغانو جوفې زياتي دي. ټول جهادي تحريکونه نن هم تر کافر مخکې مسلمان وژني او پرون يې هم وژل. د دريېمه خليفه عثمان غني رض له شهادته را په دې خوا چې مسلمانانو په خپلو تورو شهيد کړ، بيا تر ننه د يوه مسلمان د حرب و ضرب اله د بل پر خلاف پورته کېږي او د مسلمان وينه د مسلمان په لاس تويېږي. دې فتنو او فسادونو ته د جهاد نوم ور کول له ديني مفاهيمو سره ستره جفا ده. د مسلمانانو همدې کارونو د هغوی د سولې دين د جنګي دين په توګه معرفي کړ. مسلمان د سولې نماينده يې د ترهګر په څېره کې را ښکاره کړ او هغه جوفې- جوفې خلك چې د خدای دين ته په اخلاص او صداقت راتلل د دوی د وحشي او دين ضد کړنو له امله زړه بدي او بيرته شاته وترهېدل. دا له دين او شريعت، خدای او رسول، قران او سنت سره د مسلمانانو خپله لويه جفا وه چې د حق و عدالت دين يې د نورو په وړاندې له ارزښتمن مقامه را کوز کړ. د مسلمان هغه توره چې د خپل مسلمان ورور سر يې د جهاد په بانه پرېکړ، اسلام د نورو په سترګو کې بې اهميته کړ. د خلافت هغه خيالي خوبونو چې نه يې قران امر کړی او نه رسول عملي کړی وو، نامسلمان د مسلمانانو په وړاندې درولو ته اړ کړل.

تېروتنه زموږ ده. قران دا دين ټول انسانيت ته رحمت بللی دی. عالمين يوازې مسلمانان نه دي بلکې نور ملتونه هم کې شامل دي. کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین چې یوځل د رحمت جامه واغوندې هغه بیا وحشت نه شي کېدای، خدای چې کوم دین ته د رحمت نوم ور کړی هغه بیا د نورو د ژوند واک نه ترې اخلي. دا موږ یو چې رحمت مو په وحشت خلکو ته معرفي کړ، نه یوازې نامسلمان را څخه کړېږي بلکې پر مسلمانانو مو بده ورځ راوستلې ده.

بدبختي دا ده چې د نن ورځې په نوم مجاهد تر اوسه په دې پوه نه شو چې د ده د جنګ ګټه د مسلمان پر ځای نامسلمان ته رسي. جنګ د اقتصادي ګټو لپاره پیل شوی دی او جهادیانو په دې اور کې د خاشاکو په توګه کارېږي. زموږ بدمرغي دا ده چې هم مو دین بدنامېږي او هم مو هېواد ورانېږي. هم مو ملت ارامه ورځ نه ده لیدلې او هم مو د هېواد ټول عامه تاسیسات له منځه یوړل. بشري قوه مو یا په جنګ کې وژل کېږي، یا لوږې را څخه واخیستل او یا بدې ورځې مهاجرت ته اړ کړل چې په دې لار کې څوک د سمندري ماهیانو خوراک شول، څوک د زندان په تورو شپو کې همداسې د تل لپاره غایب شول او څوک په وچ زور له افغانیته منکر شول او نن د بل هېواد نشنلیټي په ډېر افتخار په خپل جیب کې ګرزوي. دا هر څه د هغه جنګ نتیجه ده چې د جهاد په نوم د اسلامي نظام د احیاء لپاره پر موږ تپل شوی دی.

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مسله خورا مهمه ده. مګر له خپل اهمیت سره- سره د دې په مفهوم کې ډېری کسان تېروتلي هم دي. قران کریم د معروف او منکر نوره تشریح نه ده کړې چې معروف کوم شیان دي او منکر کوم؟

معروف یوازې د منکر په مقابل کې نه دی ذکر شوی، بلکې نور ځایونه هم قران کریم د ځینو مسلو په ضمن کې معروف یاد کړی. قران

(c) ketabton.com: The Digital Library



کريم کې تقريبا (۱۹) ځايه معروف ذکر شوی. قران همداراز (۱۰) واره د منکر يادونه کړېده. له دې (۱۹) ځايونو يې (۸) ځله معروف د منکر په مقابل کې راغلی. خو له دې پرته معروف د مينځې د مهر ادا کولو په مورد کې هم راغلی چې مهر دې په معروفه توګه ادا شي.(النساء: ۲۵) د همدې سورت په (۱۹) ايت کې راغلي چې له ښځو سره په معروفه طريقه ژوند کوئ. د نساء په (٦) ايت کې بيا راغلي چې که څوك فقير وي نو د يتيم مال دې په معروفه توګه خوري. د بقرې په (۲۴۱) ايت کې ويل شوي چې د طلاقو شوو مېرمنو متاع په معروف ډول ور کړئ. د بقرې په (۲۳۴) ايت کې د کونډې په اړه وايي چې تر عدې وروسته د ځان په اړه د هر ډول فعل واك لري البته په معروفه توګه. په بقره کې (۲۳۳) ايت بيا دوه ځايه د معروف ذکر کړی دی. يوځل د هغې مور د روزي او جامې په اړه چې له مېړه جلا شي خو د هغه اولاد ته تی ور کوي، نو له معروف سره سم به مېړه جامه او رزق ور کوي او بل ځل د اولاد د دايې په اړه ويل شوي چې ورته تاکل شوې مزدوري به په معروف ډول ور کوئ. د بقرې په (۲۳۲) کې بيا هم د جلا شوي مېړه او ماينې د رضايت لپاره معروف توری کار شوی چې که د معروف له مخې مېړه او ښځه بيا د ګډ ژوند لپاره سره راضي شول نو بدي پکې نه شته. د مور و پلار او قريبانو د وصيت په اړه هم د معروف الفاظ کارېدلي. (البقره: ۱۸۰) له قاتل څخه د قصاص پر ځای د ديت اخيستلو لپاره هم د معروف کلمه استعمال شوې ده. (البقره: ۱۷۸)

د دې په مقابل کې منکر لس ځايه راغلی چې د الحج په دوه اويايم ايت کې د هغه احساس لپاره کار شوی چې د يو شي په اړه يې انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري او د مخ په بد نیولو یې اظهار وکړي. قران کریم وایي چې د قـراني ایاتونو په تلاوت کافران په خپلو مخونو کې د همدې منکر اظهار کوي. نور ځایونه منکر د معروف په مقابل کې راغلی.

د معروف کلمې د استعمال له مواردو را معلومه شوه چې معـروف پـه قران کریم کې توضیح شوی نه دی. بلکې معروف د انسانانو ټولنـو تـه ایله کړل شوی. د ښځو د طلاق په مسله کې د ټولنـو لـه رواج سره سـم متاع ور کول کیږي او قران د معروف د لفظ په کارلو دا جواز ور کـړی. دا رنګه دا نور ځایونه هم. حتا د عنکبوت په (۲۹) ایت کې لوط علیـه السلام قوم ته وایي چې تاسې په خپلو مجالسو کې منکـرات کـوئ. لـه دې معلومیږي چې په هره ټولنه کې ځینې داسې کارونه شته چې د دین او شریعت له لارښوونو پرته یې انساني عقل هم منکر بولي. له دې امله نو لوط خپل قوم ته د هغه منکر یادونه کوي چې هغوی هم د منکر پـه توګه ورته قایل دي.

له دې تفصیل څخه معلومه شوه چې معروف او منکـر هغـه نیکـۍ او بدۍ دي چې هره ټولنه د خپلې ټولنې په محدوده او ذهنیت کـې ورتـه تعریف ټاکي. زیاتره منکرات او جرمونه داسې وي چې انساني عقل یې هم بد ګڼي. د ګنا په اړه یوه حدیث کې دي:

یَا رَسُولَ اللهِ، فَمَا الإِثْمُ؟ قَالَ: "إِذَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ شَيْءٌ فَدَعْهُ ".(۱۳)

ژباړه: ای د الله رسوله! نو ګنا څه ده؟ ده وویل: کله چې دې لـه ځان سره د یوه شي په اړه تشویش پیدا کړ نو ایله یې کړه.

دا عامه اجازه موږ ته په ګوته کوي چې د یوه شي په اړه تشویش پیـدا کول هم د ټولنې تر اثر لاندې کیږي. زموږ په ټولنه کې ترافیکي اشارې ته نه درېدل خلك یا جرم نه بولي یا که یې جرم ګڼي خو پـروا یـې نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، اما دا په نورو ټولنو کې جرم دی او لازمن جریمه پر راځي. زموږ د پښتنو په ټولنه کې که څوک د چا له ښځې یا لور یا هم خور څخه مچه واخلي نو خلك وژنو ته سره پر رسېږي، اما همدا قضیه د رسول الله ص په زمانه کې دا رنګه حل شوېده:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ رَجُلاً أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ، قَالَ فَنَزَلَتْ: {أَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ، إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ} [هود: 114] قَالَ: فَقَالَ الرَّجُلُ: أَلِيَ هَذِهِ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِي».(۱۴)

ژباړه: عبد الله بن مسعود رض روایت کړی چې یو کس له یوې ښځې مچه واخیسته، بیا رسول الله ص ته راغی او دا پېښه یې ورته بیان کړه، نو دا پاس ایت (د ورځې په دوو طرفونو او د شپې په یوه برخه کې لمونځ کوه، بېشکه نیکي سیئاتي ختموي. دا د پند اخیستونکو لپاره پند دی.) نازل شو. ده ویل هغه سړي وویل: ای د الله رسوله! دا حکم یوازې زما لپاره دی؟ رسول الله ص وویل: زما له امته د هغه چا لپاره دی چې عمل په وکړي.

جرایم، ګناهونه او منکرات تر ټولنو پوري توپیر کوي. له دې امله نو قران یوازې د منکر یادونه کړې. نیکي او معروف همداسې واخله. دا چې منکر او معروف ټولنو او زمانو ته په کتو تبدیلېږي، ځکه نو د واحد فورمول لاندې نه شي راتلای او شریعت یې هم مشخص چوکاټ نه دی ټاکلی. ځینې بدۍ او منکرات یې په نوم یاد کړي او ګنشمېر نیکۍ یې هم یادې کړې دي. خو د ټولو نوملړ هم سخت دی او هم د زمانې او ټولنې په بدلېدا سره بدلېږي له دې امله یې یوازې معروف او

(c) ketabton.com: The Digital Library



منکر یاد کړي او پر همدې یې سکوت کړی؛ اما داسې هم نه ده چې ټول منکرات یو مخیز بدلېږي یا هم ټول معروف، بلکې له دې جملې بعضي یې دایمي معروف و منکر دي. یو مهم ټکی دا هم دی چې د ثوابتو منکرانو او معروفو شیانو په مخنیوي او ترویج کې یوازې مسلمانان نه دي مسوول او نه دا نورې ټولنې د دې لپاره کار نه کوي ،بلکې دواړه کار کوي، او د نامسلمانو ټولنو د کار ثبوت په شرعي متونو کې هم شته.

که فکر وکړو نو د انسانانو هره ټولنه کوښښ کوي چې د منکراتو مخنیوی وکړي او ښه کارونه عام کړي. قتل بد کار دی او ټول انسانان یې د مخنیوي کوښښ کوي. غلا ناسم عمل دی او هره ټولنه او حکومت یې د ورکولو لپاره لاس په کار دي. درواغ منکر دي، ځکه نو هره معاشره بد ځني وړي. له دې امله نو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کار یوازې د اسلامي نظام کار نه دی. د انسانانو هره ټولنه تر خپله وسه کوښښ کوي چې دوی ته معروف ترویج کړي او څه چې دوی منکر بولي د هغه مخنیوی وکړي. دا نه یوازې د مسلمانانو د حکومتونو دنده ده بلکې د هر حکومت دنده ده چې د منکر مخه ډب کړي او معروف نور هم عام کړي.

۲۰۱۷/ نومبر/۹

**سرچینې:**

(۱)(سنن ابي داؤد, کتاب الحدود، باب العفو عن الحدود ما لم تبلغ السلطان ح: ۴۳۷۶)

(۲)(مصنف ابن ابي شیبه، کتاب الحدود، باب في الرجل یسرق التمر والطعام ح: ۲۸۵۹۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)(اعلام الموقعين, تغيير الفتوى و اختلافها، فصل سقوط الحد عام المجاعة, مخ: ۱۷،ج: ۳)

(۴)(البدائع الصنائع كتاب الحدود فصل في شرائط جواز اقامة الحدود: 7/ ۵۷)

(۵)(الاوسط في السنن والاجماع والاختلاف، كتاب صفة الصلاة، ذكر اهل القرية يا يحضرهم او غاب الامير... مخ: ۴/ ۱۱۳)

(۶)(مسند البزار، حديث ابي الدرداء عن النبي صلى الله عليه وسلم: ج:۱۰، مخ: ۴۰۸۷)

(۷)(مسلم، كتاب الجهاد والسير، باب كتب النبي ص الي ملوك الكفار يدعوهم الى الله عزوجل ح:۱۷۷۴)

(۸)(د امام زركشي-(متوفى: ۷۹۴) البرهان في علوم القران، تنبيه في حمل المطلق على المقيد، ج: ۲، مخ: ۱۵)

(۹)(فتح الباري، الجزء: ۸، باب وفد بني حنيفه وحديث ثمامه بن اثال، ج: ۸، مخ :۸۸)

(۱۰)(مسلم، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم استعمال اناء الذهب والفضة...ح: ۲۰۶۸)

(۱۱)(الرحيق المختوم، الدور المدني، المرحلة الاولى، وقعة الحديبية في ذي القعدة سنة ۶، ابرام الصلح و بنوده: ج: مخ: ۳۱۲)

(۱۲)(مسلم، كتاب البر والصلة والادب، باب بر الوالدين وايهما احق به ح: ۲۵۴۹)

(۱۳)(مسند احمد، حديث ابي امامه الباهلي ح: ۲۲۱۶۶، د موسس الرساله چاپ، ۲۰۰۱م)

(۱۴)(مسلم، كتاب التوبة، باب قوله تعالى: ان الحسان يذهبن السيئات ح: ۲۷۶۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلامي هېواد

له ډېرى هغو ډلو، گوندونو او اشخاصو چې د اسلامي نظام د احياء لپاره مبارزه کوي اورم چې د اسلامي نظام په شتون کې به د اسلامي هېواد سرحدونه يوازې له کافرانو سره وي، د مسلمانانو ترمنځ سرحد د اسلام له مخې نه شته. دوى وايي، سرحد جلاوالى راولي او مسلمه امت بېل نه بلکې يو امت دى او د دوى په اند هر څه يا ډېر څه يې سره مشترك دي، نو بېلوالي ته اړتيا نهشته او د اسلامي لارښوونو خلاف هم دى.

دا څو ورځې مخکې مې پر طلوع ټلويزون د حزب اسلامي افغانستان د مشر گلبدين حکمتيار مرکه اورېده. جناب حکمتيار صاحب هم په خپله مرکه کې دا لوړه خبره تکرار کړه. د ده په ټکو «چې زه اصولن او اعتقادا د ټولو اسلامي ممالکو ترمنځ مرزونو قايل نه يم.»

حکمتيار صاحب دوه ټکي ياد کړي: لومړى اصول او دويم اعتقاد. اصولو باندې نه پوهېږم چې د جناب حکمتيار صاحب به څه ترې هدف وي. د اسلام اساسات يې موخه وه؟ د خلافت يا اسلامي نظام لپاره جوړ شوي اصول يې هدف وو، که به جناب حکمتيار صاحب خپل اصول لري لکه د حديثو په اړه چې يې نوي اصول او تگلاره ټاکلې ده!

خو د اعتقاد له ټکي موږ پوهېږو چې خبره ديني او شريعي لور ته بيايي. معنا هم اصول دا نه ايجابوي او هم يې شريعت اجازه نه راکوي چې د مسلمانو هېوادونو ترمنځ دي سرحدونه ومنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د اعتقاد او ایمان له مخې ګورو چې ایا ربنتیا هم شریعت یوازې داسې اسلامي هېواد غواړي چې سرحدونه یې صرف له نامسلمانو سره وي او نور ټول مسلمان اقوام پکې را ټول وي؟!

راځئ لږ را سره تم شئ او دا لیکنه تر پایه ولولئ چې ایا اعتقادن شریعت کې داسې څه شته؟ ایا دا رسول الله ص کړي؟ قران کریم یې امر کړی؟ او بالاخره په واقعي ژوند کې داسې ممکنه هم ده؟ دلته به له شریعته بیا تر تاریخه ځغلنده نظر وکړو چې د دې یادو خبرو په اړه ځانونه پوه کړو.

لومړی د اسلامي شریعت تر ټولو له باوري متن قران کریم څخه پیل کوو. قران کریم په دې اړه وایي:

وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلاَّ عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (الانفال: ۷۲)

ژباړه: او که له تاسې د دین په اړه مرسته وغوښتل شوه، نو مرسته یې وکړئ مګر هغه قوم چې ستاسې او د هغوی ترمنځ تړون وي او الله ستاسې د اعمالو لیدونکی دی.

د (کم) درې واړه ضمایر مسلمانانو ته راجع دي. له (الدین) څخه اسلامي دین مراد ځکه نو الله د هغه په خاطر مسلمانانو باندې د خپلو دیني وروڼو مرسته فرض کړې هم ده. په (استنصروکم) کې سین او تاء د طلب لپاره دي. مانا که له تاسې دیني وروڼو د مرستې غوښتنه د همدې دین په اړه وکړه، نو پر تاسې یې کومک لازمي دی اما یو هغه قوم استثنا دی چې تاسې تړون ور سره لرئ.

له یوه قوم سره د ځینو مسلمانانو تړون او د نورو دښمني په هغه صورت کې امکان لري چې د دې دوو یا زیاتو ډلو رهبري د مختلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو په لاس کې وي د واک ساحې يې هم سره بېلې وي. ځکه يوه رهبري داسې نه شي کولای چې هم دې ټرون ور سره لري او هم دې په عيني ډول په جنګ کې ور سره مخته وړي. په يوه جغرافيه کې مختلفې رهبرۍ اسلام غندلې دي. رسول الله ص ويلي دي چې که مسلمانان پر يوه امير راغونډ وي او بل کس د امارت دعوه وکړي د مسلمانانو اجماع څېرل غواړي نو سر يې قلم کړئ.(۱)

له دې معلومېږي چې دوه مختلف سياستونه د يوه قوم په اړه نه د يوې رهبرۍ کېدای شي او نه له يوې جغرافيې دا کار امکان لري. له دې ثابته شوه چې مسلمانان له دې سره چې يو دين لري، يو امت دي او ديني ورونه قران بللي دي، اما له دې سره کولای شي چې يوه ډله مسلمانان دې له يوه نامسلمان قوم سره ټرون ولري او په عيني حال کې دې بله ډله مسلمانان له همدې نامسلمان قوم سره د دين له امله په جنګ اخته وي. يعنې موږ له دې سره چې مختلفو ملتونو باندې وويشل شو، کولای شو يو امت شو؛ دا تر خپل منځ سره ټکر نه دي.

دلته له قران کريم څخه ثابته شوه چې د يوه دين در لودونکی امت هم د سياست، جغرافيې، اړيکو، ګټو، اقتصاد او... له مخې له يو بل څخه بېلېدای شي.

نبوي سنتو کې هم عينن دا تګلاره واضحه شوې ده. د قران کريم همدې هدايت ته په کتو رسول الله ص کله هم څوک مجبور نه کړل چې د ده د واک په ساحه کې ژوند وکړي يا د خپل واک ساحه د ده د واک له سيمې جلا نه کړي. يو مثال يې د هغه وخت د حبشې نجاشي (اصمحه) دی. پر مسلمانانو چې په مکه کې د ژوند کړی تنګه شوه نو د رسول الله ص په اجازه يې له مکې د وتلو پرېکړه وکړه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو دا لومړني مهاجرينو د اصمحه تر واك لاندې حبشې ته ولاړل.

اصمحه همالته په حبشه کې مسلمان شو او د رسول الله ص د يوې مېرمنې ولور يې هم ادا کړی دی. له ده سره مسلمان مهاجرين تر هغو پاته شول چې په مدينه کې رسول الله ص د خيبر غزا ته راوتلی و. د خيبر د غزا مهال له حبشې مهاجرين راغلو چې د رسول الله ص تره جعفر رض هم پکې و. رسول الله ص ويل، زه نه پوهېږم د خيبر په فتحه خوشاله يم که د جعفر رض په راتلو؟(۲)

زموږ په تېر تاريخ کې له يو څو کلو پرته چې مسلمانان ډېر کم وو، د مسلمانانو د واك ساحه زياتره پر عربي ټاپووزمه وه، موږ داسې هېواد در لود چې پولې يې يوازې له نامسلمانو سره معلومې وې. خو د څلورم خليفه له وخته چې مسلمانان سره ووېشل شول بيا تر ننه همداسې وېشلي پاته دي او ورځ تر بلې يې تر خپل منځ د سرحدونو ډېروالی مخ پر زياتېدو دی.د دې يو لامل دا هم دی چې پخوا انسانانو ديني هويت خوښاوه. مختلف قومونه، د جلا فرهنګونو لرونکي اقوام، په بېلو بېلو سيمو کې پرتې قبيلې په د همدې يوه دين له امله سره متفق ول، مسلمان، يهودي، عيسوي، هندو، مجوسي او... به يې هويت او دا په په ټوله شاوخوا سيمه کې عمومي کلتور و چې تر ملي او قومي هويتونو خلکو ته همدا ديني هويت ښه برېښېده. له همدې امله هغه مهال دا د يوه هېواد، يوه نظام او يوه امير خبره سمه معلومېده. نو شرعي متن هغوی له خپلو حالاتو سره سم تعبيری کړی و، نن بيا اړتيا ده چې انساني اړتياوو ته په پام بايد ننني فرهنګ په نظر کې ونيول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم خلیفه په حجاز کې خلافت در لود او امیر معاویه په شام کې، تر علي رض وروسته حسن همدا واک په لاس کې واخیست او وورسته یې له امیر معاویه سره سوله وکړه. بیا د معاویه رض تر مرګ وروسته بیا خلافت دوه ځایه شو، یو لور ته یزید او بل ته حسین بن علي رض.

د یزید تر مرګ وروسته یې زوی معاویه له امارته انکار وکړ او بیا عبد الله بن زبیرپه حجاز کې خلافت اعلان کړ او مختار په عراق کې د خلافت لپاره هڅې شروع کړې. خو ور سره جوخت مروان هم شام ته ولاړ او د هغوی مخالفت ته یې ملا وتړله. اخیر د شام امارت د ابن زبیر رض او مختار پر خلافتونو غالب شو او د څو کلونو لپاره بیا مسلمانان تر یوه امارت لاندې ژوند کاوه، ډېر ژر بیا د بېلوالي نښې را ښکاره شوې. سلیمان بن عبد الملک د خپل ورور ولید د وخت زیاتره مشران مړه کړل او ډېر نور یې بندیان یا له واکه ګوښه کړل په دې توګه یوځل بیا د اموي امارت خلاف د مخالفت څپه تېزه شوه او د خراسان سیمې یې ترې لاندې کړې چې د مروان الحمار په وخت کې یې د اموي خلافت وروستۍ نښه هم له منځه یووړه او عباسیان واک ته ورسېدل.

د عباسیانو په دوره کې عبد الرحمان نومی اموي ځوان له شامه اندلس ته ولاړ او هلته یې د یوه داسې خلافت بنسټ کېښود چې تر ده وروسته زیاتو کسانو هلته واک وچلاوه. د عباسیانو په دوره کې وورسته بیا فاطیمان هم را پیدا شول او د بېل خلافت بنیاد یې کېښود. دا مهال چې د مسلمانانو د واک ساحه زیاته پراخه وه نو د لرو سیمو امیرانو زیاتره چارې په خپله خوښه مخته وړې او خلیفه یا امیر هسې- سمبولیک حیثیت در لود. یوه ښه بېلګه یې د غزني پر سیمه د محمود غزنوي خپل سری حکومت وو چې د خلافت امر ته یې غاړه نه ښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتا کله چې به یې اړیکې ورسره خرابې شوې نـو د پیلانـو پـه وسـیله د خلافت نړولو ګوابنونه یې هم کول.

کله چې پـر مسـلمانانو د صـلیبیانو او بیـا چنګیزیـانو لـه لـوري لـوی یرغلونه کېـدل نـو خلافـت یـوازې پـه نـوم پاتـه و او هـر ځـای د واک محدودې جغرافیې معلومې وې. د هسپانیې پر ګدۍ ځـو نااهـل ناسـت وو او په ډېرو کمو وسایلو او کسانو یې پر نوره نړۍ د خلافت خوبونـه لیدل. په بغداد کـې ناسـت بـې وسـه خلیفـه چـې خپلـه مسـلمانانو یـې خلافت نه مانه، ده هم پر ټوله نـړۍ د اسـلام خپرولـو او اسـلامي نظـام نافذولو تشې خبرې کولې او د چنګیز لور ته خپلسری پاچا خوارزم هم په خپله شنه بې‌عقلي نه یوازې ځان د اسـلامي دنیـا د خلافـت مسـتحق باله، بلکې د نامسلمانو د ځمکو د لاندې کولو شوق یې هم کاوه.

کله چې هسپانیه صلیبیانو تر ستوني تېرولـه نـو زمـوږ اسـلامي خلیفـه همداسې رډبه ورته کتل. خلافت او د ټول مسلمان شموله هېواد تشو له حقیقته لرې ادعاو د هغـوی هـیڅ دوا نـه کـړل او د هغـه وخـت خـوني ښامار همداسې ژوندي تر ستوني تېـر کـړل. تـر هسـپانیې وروسـته دې اژدها شام او فلسطین ته سرا را ښـکاره کـړ. دلتـه یـې ځـایي امیـران پـه وړاندې جنګېدل او د اسلام خادم په بغداد کـې خپلـې عیاشـۍ کـولې. هېره دې نه وي چې هر خلیفه تـه قریشـیت لازمـي وي او (الائمـة مـن القریش حدیث به په هر مجلس کې ویل کېده، ځکه دوی پـه همـدې شریعت، چارې او واک غصب کړی و) همدې دینکارو موږ تـر اوسـه غولولي یو چې یو امت او یو لوی هېـواد مسـلمانانو سـتونزې حلـولای شي. نه ځمکني حقایق په نظر کې نیسي او نه تېر تاریخ ته ګوري. ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بده لادا چې د خپلو شخصي ګټو په خاطر دين او شريعت، خدای او رسول، قران او سنت لا هم بدناموي.

له خوارزم سره د چنګيز اخته کېدا او بيا د هغه د پاچاهي تر نيولو وورسته بغداد ته د هلاکو خان راتګ، د بغداد ورانوني او د مسلمانانو قتل عام بيا هم مسلمانان را ويښ نه کړل او همداسې يې تشې خيالي ادعاوي کولې. هر مسلمان چې په په غم کې راګير شو نو بل ته به يې د هغه د مرستې توصيه کوله چې له ده سره کومک وکړي مسلمانان ټول سره يو جسد دي او ټوله ځمکه د هر مسلمان ده. مګر دا خبره به د يوه چارواکي او امير د خپلو عياشيو په وخت کې په ياد نه وه. مصر د مسلمانانو په واک کې و، خو همدا مهال د بغداد مسلمانانو د هلاکو خان له لاسه په وينو کې رغړېدل.

هلاکو نه يوازې بغداد ختم کړ، بلکې د مصر لور ته هم ور وړاندې شو چې د سلطان قطز له لوري يې سخته ماته وخوړه او وروسته سلطان بېبرس نور هم خپل سرحدونه مضبوط کړل او صليبيان او چنګيزيان يې دواړه وزغلول.

عينن لوړ ټول کارونه عثمانيانو د خپل عروج پر مهال وکړل او د زوال مهال ټولو مسلمانو هېوادونو هم هغه څه ور سره وکړل چې له تېرو خلافتونو او عياشو اميرانو سره يې کړي ول. همداسې يې يوازې د نړۍ مقابلې ته ايله کړ. خلافت په ډيموکراټه ترکيه بدل شو او دادی ترننه يې موږ وينو چې خلک يې ارام ژوند لري او په اسلامي هېوادونو کې يو قوي هېواد بلل کېږي. نن چې په ترکيه کې بيا د خلافت خيالونه زيات شوي دي، موږ يې وينو چې له ګاونډيو مسلمانو هېوادونو او قومونو سره په لانجه اخته دي او يوه امنه ترکيه په بې امنه خلافت اړول غواړي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې څغلنده کتنه وه. کنه د زیاتو حقایقو لپاره د ابن خلدون تاریخ ته سر ور ښکاره کړئ چې د مسلمانانو په تاریخ کې د لکونو مسلمانانو وینې څنګه خپله مسلمانانو توی کړې دي؟ د بغاوتونو په لاملونو کې یو ستر لامل همدا و چې د هر ځای خلکو پر خپله سیمه خپل واک غوښتی، د اسلامي نظام او خلافت په نوم یې د نورو واک په داسې حال کې نه شوای زغملای چې واک به ټول د شرعي متونو په مرسته یوې خاصې کړۍ انحصار کړی و.

نن باید مسلمانان څمکنې حقایق له پامه ونه غورزوي. تېر تاریخ ته به یوازې د یوه لارښود په سترګه ګورو. څوک چې حقیقتونه نه درک کوي، د خلکو د اړتیاو په پام کې نیولو پر ځای خیالي خلافتونه جوړوي، نو د مسلمانانو تېر تاریخ به ور سره تکرارېږي. د هر قوم او یوه خاصه جغرافیه کې د اوسېدونکو له نورو بېل لومړیتوبونه او ضرورتونه وي. هره زمانه خپلې غوښتنې لري. د عروج او زوال هم خپلې تقاضاوې وي. امکانات، وسایل او هدف ته رسېدا هم انسان باید حتمن په پام کې وساتي.

نننی شرایط د خلافتوالو له غوښتنو سره جوړ نه دي. دوی خو مخکې لا د خلافت لپاره ځینې شرایط تراشلي دي. نن د امیر یا خلیفه لپاره قریشیت لازمي نه دی. عربوالی هم اړین نه دی. د عربو پر ځمکه هم ضرور نه دی. نن د مسلمانانو څه د پاسه څو پنځوس هېوادونه دي. د هر یوه رهبري، سیاست، لومړیتونه، غوښتنې او ... سره جلا دي. حتا ځینې اسلامي هېوادونو له خپلو مسلمانو هېوادونو سره لاس و ګریوان دي. په داسې شرایطو کې څنګه ممکنه ده چې د مسلمانانو ترمنځ دا شته سرحدونه دې ټول له منځه یووړل شي او ټول امت دې تر یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبري لاندې را غونډ کړل شي؟ په مسلمانانو کې دومره تفرقې او ډلې پيدا شوې دي چې تر يوه چتر لاندې يې را ټولول هيڅ امکان نه لري. يوه ډله بله کافره بولي. پر ضد يې جهاد واجب ګڼي. دا يوازې د سنيانو ترمنځ نه دي، نه يوازې د شعيه ترمنځ دي، بلکې يوازې د سلفيانو ترمنځ دومره اختلاف دی چې حتا د يوه وژل او مرګ ورته روا ښکاري.

په دغسي يوه صورت کې چې نه ګټې، نه سياست، نه د زمانې غوښتنې، نه جغرافيې موقعيتونه، نه اقتصاد، نه بې انډوله نظامي ځواک او نه هغه اسلامي تعبير چې خلافتوال يې له امله د ټولې اسلامي نړۍ يووالی غواړي؛ دا تقاضا کوي چې دا نن شته پولې دې ختمې شي او ټوله اسلامي دنيا دې يو لوی اسلامي هېواد وګرزي. له اسلامه نن نه لس تعبيره دي او نه سل، هره يوه مسلمانه ډله د بلې له لوري کافره ده. نو په يوه رهبري او يوه خاصه جغرافيه کې يې را يوځای کول امکان نه لري. خلافتيان دې هسې زموږ د هېواد پولې د نورو د ګټو لپاره نه ورانوي او نه دې د بل پولې په موږ خرابوي. موږ خپل لوی افغانستان غواړو، نور مو نه د بل له ملک سره کار شته او نه دې بل د اسلام او دين په نوم پر موږ تېری کوي.

نه د پنجاب د ګټو لپاره د خپلې خاورې د استعمال اجازه چا ته ور کوو او نه د عربو د خيالي خلافتونو لپاره زموږ ځمکه او وګړي دومره ارزانه دي چې لا به هم وژل کېږو. عرب دې خپل عربي خلافت په خپله خاوره کې حاکم کړي او پنجاب دې نور د پاکستان د ژغورنې لپاره موږ د اسلامي نظام، اسلامي امير او شرعي تعبير په نوم نه خطاباسي. که يې همدا هدف وي لومړی دې په خپل هېواد کې دا هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه تر سره کړي، هیرامنډۍ رنډۍ خانې دې بندې کړي او له هغو څخه په اخیستونکي ټیکس دې د مسجد جوړول، د قراني زدکړو لپاره مدرسې وادنول او په افغانستان و کشمیر کې جګړه مارو ته پرېمانه د پیسو بنډلونه ور کول؛ بس کړي.

زموږ په خپل هېواد کې د اسلامي نظام ټولو غوښتونکو نور خپل امتحان ور کړی. ملا، طالب، جهادي، توپکي، دیني روشنفکره، سني، شیعه، سلفي، پنجپیري او بل هر خلافتوال و امارتوال. نور دا تشې خیالي ادعاوې باید بس کړي. که څوک د خپل هېواد د جوړولو اراده لري نو تر نورو نومونو لاندې هم دا کار کولای شي. نه دې دین کاروي او نه دې سیاست دین ته ور ګډوي. افغان ملت په خپل تاریخ کې دومره بدې خاطرې له هیچا نه لري لکه دې خلافتوالو چې یې لري. دلته نه یوازې دا چې وطن وارن شو، ملت سختې ستونزې ولیدې، افغانان ټولې نړۍ ته بدنام شول، د سیمې او نړۍ استخباراتي لاسونه مو خپل هېواد ته را اوږده کړل، له دې ټولو بدیو سره مو دین او شریعت هم بدنام کړل. دا هر څه مو د دین د خدمت په خاطر شروع کړي وو خو اخیر دین ته تر ټولو ډېر زیان هم دې خلافتوالو ورساوه. د نورو هېوادو خلافتوال دومره احمق هم نه دي چې د خپل هېواد سرحدونه د بل د ګټو لپاره وران کړي. نه پوهېږم زموږ په خلافتوالو څه ټکه را لوېدلې چې هر وخت یې ملي ګټې د بل تر ګټې قربان کړې او بیا یې دې هر څه ته د شریعت د غوښتنې نوم ور کړی؟!

۵/ ۲/ ۲۰۱۸

**سرچینې:**

(۱)(مسلم، کتاب الاماره، باب اذا بویع لخلیفتین: ۱۸۵۳)

(۲)(بخاري، کتاب المغازي، باب غزوه خیبر: ۴۲۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جګړه یو لنډمهالی انتخاب

څو ورځې مخکې مې له بي بي سي راډیو سره د افراطیت په اړه بحث در لـود. ځینـو اوریـدونکو پـه دې اړه موافـق نظـر در لـود او نـورو بیـا مخالف.

مخالفوالو کې ځینو ویل چې اسلام تر تـوره لانـدې راغلـی دی. یـوه اوریدونکي دا روایت(ان الجنة تحت ظلال السیوف) هم ووایه. یوه بل ویل چې دومره خلك په زور دې کار ته نه تیارېږي، دا نن چې طالـب یا داعش کوم څه کوې، همدا د اسلام غوښتنه. دلته جهـاد دی او دا بـه روان وي.

دا چې د بحث مهال وخت ډېر کم وي، نو د ټولو خبرو کولـو وخـت چا ته نه ور کول کیږي. همدلته غـواړم چـې دا ځینـې خـبرې پـه پـوره تفصیل روښانه کړم. تر مخامخ خبرو دلته سپیناوی ځکه ښه دی چـې د هر څومره تفصیل وخت لرو، دلایل په ښه ډول راوړلای شـو، د وخـت د تنګي خاطر له چا سره نه وي، مخامخ ممکنه ده چې ځینو ته خـبرې خوند ور نه کړي او له دې امله نازیبا خبرې وکړي. له دې ویرې هم په بحث کې هر اړخ له ډېر تفصیل څخه ډډه کوي.

دا چې روان حالت د اسلام غوښتنه ده که نه؟ زما په کتـاب (جهـاد او خلافت )کې دا موضوع روښانه شوې ده. دلته یوازې د اسلام لـه مخـې دا روښانه کول غواړم چې مقاتله یا تـوره و توپـک د دعـوت د سـاتنې وسیلې دي، د اسلام عمومي روح له دعوت او نرمي سره جوړ دی. خو که څوك پر دعوت او بلنه د یو چا حق لاندې کوي، نو اجازه لري چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپله حقه دفاع وکړي؛ خو شریعت دا دفاع په ګڼو شرایطو مشروطه کړې ده چې له هغو پرته دغه دفاعي جنګ هم خپله شرعي جنبه له لاسه ور کوي. د قراني ایاتونو په مټ به دلته دا سپیناوی وړاندي کړو او پر لوړ ذکر شوي روایت به هم رڼا واچوو.قران کریم کې د دعوت په اړه راغلي:

وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (١)

ژباړه: ارو مرو دې له تاسې یوه ټولی وي چې خیر ته بلنه کوي، پر ښو امر کوي او له بدو منعه او همدوی بریالي دي.

د قران په دې لوړ ایت کې دا لوړ بیان شوی اصل؛ د هر حالت لپاره یو عمومي اصل دی.یو بل ځای هم وایي:

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ.(٢)

ژباړه: تاسې غوره امت یئ، خلکو ته پر ښو د امر او له بدو د منعې لپاره راغلي یئ او تاسې به پر الله ایمان راوړئ.

د تېرو امتونو په اړه یوځای وایي:

لَيْسُوا سَوَاءً مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ () يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُولَئِكَ مِنَ الصَّالِحِينَ. (٣)

ژباړه: اهل کتاب ټول سره برابر نه دي، د دوی یوه ډله پر حق ولاړه د شپې په یوه برخه کې د الله ایاتونه وایي او سجده کوي. پر الله او د اخرت پر ورځ باور کوي، په نیکو امر او له بدو منعه کوي، نیکو ته تلوار کوي او همدوی د نیکانو له ډلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلاَمَ اللَّهِ ثُـمَّ أَبْلِغْـهُ مَأْمَنَهُ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لاَ يَعْلَمُونَ.(۴)

ژباړه: او كه يوه مشرك له تا امن وغوښت، نو امن ور كړه چې د الله كلام واوري بيا يې امن ځای ته ورسوه له دې امله چې دوی ناپوه وګړي دي.

دلته د اهل كتابو هغه ډله صالحه بلل شوې چې دعوت يې خپل مسووليت بللی او په خپله هم د الله له كتاب سره عباداتو ته پوره پاملرنه كوي. د اهل كتابو په قران كريم كې زيات بدوالی هم له دې امله راغلی چې دا ياد كارونه يې ايله كول. نه له دې امله چې د فرعون تر ډوبېدا وروسته هغوی مصر ته د جهاد لپاره نه دي تللي او يا يې هلته اسلامي نظام نه دی جوړ كړی. يوه مشرك ته هم له دې امله امن ور كول كېږي چې دعوت ورته وشي او بيا امن ځای ته ددې لپاره رسول كېږي چې پر دې خبرو فكر وكړي. كه توره يا وژل اصل وای، نو يوه نامسلمان ته به يې د دعوت په خاطر دومره وخت نه ور كولای.قران تر قتال او اسلامي نظام د فرد پر جوړولو زياتر ټينګار كوي. قران كريم دعوت د يوه عمومي او مهم اصل په توګه منلی او قتال يې يوازې دفاعي وسيله بللې ده. لكه چې وايي:

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (۵)

ژباړه: او د الله په لار كې له هغو سره وجنګېږئ چې در سره جنګ كوي، تېری مه كوئ بېشكه الله تېريګر نه خوښوي.

د قاتل په اړه دا د قران اصل دی. دلته هغه څوك تېريګر بلل شوی چې له دعوته په مخ اړولو قتال ته مخه كړي او الله دا خبر هم ور كړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له دې کسانو سره مینه نه لري. قران قتال ته د یوې وسیلې په توګه ګوري. که څوک د الهي دین د دعوت مخه نیسي، په څمکه کې فساد ته لمن وهي، د خدای مخلوق غلامان کوي، د الهي معابدو امن خرابوي، لارې او بازارونه ناامنه کوي، نو قران دا مهال امر کوي چې له یو لړ شرطونو سره د دې مفسدو پر خلاف قتال وکړئ او خپل حقوق څنې تر لاسه کړئ. قران کریم وایي:

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ () الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيراً وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ () الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ (٦)

ژباړه: هغوی ته چې جګړه ور سره کېږي، اجازه ور کول شوې، له دې امله چې ظلم پر شوی او بېشکه الله د دوی پر مرسته برلاسی دی. هغه چې له خپلو سیمو په ناحقه شړل سوي مګر دا چې وایي الله مو پالونکی دی؛ که الله د ځینو انسانانو دفاع په نورو نه کولای، نو د راهبانو، نصاراو، یهودو او مسلمانانو عبادتخانې به ورانې شوې وې چې د الله نوم پکې زیات یادېږي او الله د هغه چا ارو مرو مرسته کوي چې هغه د ده مرسته وکړي؛ بېشکه الله قوي غالب دی. هغه که موږ په ځمکه کې ځای ور کړو، لمونځ به کوي، زکات ور کوي، په ښو امر او له بدو منعه کوي او د ټولو چارو پایلې الله ته ور ګرځي.

دلته ویل شوي چې له چا سره ظلم شوی، له خپلو سیمو د ایمان له امله شړل سوي، نور یې جنګ ته اړ کوي هغو ته له دې امله اجازه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول شوې چې که دا الهي سنت نه وای، نو په ځمکه کې له هر ډول فساد سره به د امن او مينې ځايونه (معابد) هم تباه شوي وای. د ټولو معابدو د ساتنې له جملې مالومېږي چې د خدای په شريعت کې ټولو شرايعو ته اجازه ور کول شوې او د خدای د عبادت ترڅنګ؛ خدای هغو ته هم په دې دنيا کې اجازه ور کړې چې له الله سره يوځای، د بل چا عبادت کوي. د دوی په وړاندې موږ يوازې د دعوت تګلاره خپلولای شو او د تېري اجازه هيڅکله هم الله چا ته نه ده ور کړې او نه يې په هيڅ اسماني شريعت کې څوک ثبوت وړاندې کولای شي. ځکه دين د مينې وسيله ده، له خپل خالق سره د اړيکې واسطه، پر مخلوق يې د مهربانۍ پيغام دی، په دنيا کې د ښه ژوند تېرولو اسماني نسخه او په اخرت کې د بريا ضمانت دی.

د قران په لوړو اياتونو کې دي چې که د خدای دا بندګان پر ځمکه ځای پيدا کړي نو خپله لمونځ کوي او زکات ور کوي. له دې ښکاري چې بل ته تر امر کولو مخکې بايد خپله لومړی ځان پر هغه هداياتو برابر کړي چې د الهي شريعت په نسخه کې ځای ور کول شوی. بيا وايي چې د ځان تر اصلاح وروسته د ښو ښودنه او د بدو په ګوتکونه ستاسې شرعي او وجداني مسووليت دی چې تر سره کوئ به يې او د هر شي په اړه اخيرنۍ پرېکړه د الله په لاس کې ده چې هيڅوک يې هم واک نه لري. له دې معلومېږي چې د مسلمان کار دعوت دی، چا ته د جهنم او جنت فيصلې کول د هغه واک نه دی. د چا کافر ثابتول او سپينه کوتره ترې جوړول د مسلمان له دندې سره ټکر عمل دی چې د دې کار واک الله له ځان سره ساتلی دی. هر څوک که په دنيا کې له رسول او نبي پرته دا چاره تر سره کوي، نو د خدای واک په لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیسي چې د الله له لوري لوموړی د هغوی خلاف د جنګ اعلان دی. الله په خپل کتاب کې له هغه چا سره د مرستې ژمنه کړې چې هغه د خدای په هدایاتو عمل کوي؛ نه هغه څوک چې خپل ژوند یې له سره تر پایه د الهي هدایاتو له مخالفته ډك وي او بل ته امر کوي چې د خدای راغلي شریعت ولې نه عملي کوي؟

راځم دې ته چې د مقالې په سر کې راغلی روایت څومره ارزښت لري؟

إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: " لاَ تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ، وَسَلُوا اللهَ عَزَّ وَجَلَّ الْعَافِيَةَ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا، وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلاَلِ السُّيُوفِ " (٧)

ژباړه: بېشکه رسو الله ص ویل: له دښمن سره د ملاقات تمه مه کوئ، له الله څخه (په چارو کې) موفقیت غواړئ، کله چې له دښمن سره مخ شئ نو صبر کوئ او په دې پوه شئ چې جنت د تورو تر سیوري لاندې دی.

دا روایت خپله د هغو کسانو ځواب کوي چې په شریعت کې تر دعوت قتال اساسي بولي. د وړې دورې مهال چې مې مشکات وایه، له خپله استاده مې پوښتنه وکړه چې د اسلام په پنځو بناؤ کې جهاد ولې نه دی راغلی؟ د هغه ځواب ګنګوړه و. زه اوس په دې خبره ښه پوهېږم چې هغه پنځه شیان په شریعت کې بذاته عبادات دي او مقاتله له همدې عباداتو او خپلو حقونو د دفاع په خاطر د عبادت مقام ته لوړه شوې؛ که نه د خپل ذات له مخې وژنې او تخریب ده چې هیڅ ژوندی ژوی یې نه خوښوي. یو بل روایت کې هم دي:

" لاَ تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ، فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْرُونَ مَا يَكُونُ فِي ذَلِكَ " (٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له دښمن سره د مخامخېدا تمه مه کوئ، ځکه تاسې نه پوهېږئ چې په دې کې به څه کېږي؟

دا روایت موږ ته د هغه بل روایت په اړه هم مهم ټکي راښيي. نه جنګ اصل دی او نه په جنګي حالاتو کې له دښمن سره د ملاقات غوښتنه د الهي شریعت غوښتنه ده. بلکې شریعت خپل پیروان له دې منعه کړي چې د دښمن مخامختیا وغواړي. کوم شریعت چې جنګي حالاتو کې هم د دښمن مخامختیا نه غواړي، هغه به څنګه د یوه اصل په توګه د دې امر ور کړي چې جنت د تورو تر سیوري لاندې دی او خپل پیروان د امن پر ځای له نورو انسانانو سره شخړو ته وهڅوي؟! د قران عمومي روح، د نبیانو تګلارو او د لوړ روایت متن ته په کتو ویلای شو چې دا خبره یوازې په جنګي حالاتو کې د مجاهدینو د زړورتیا په خاطر شوې؛ نه د شریعت عمومي غوښتنه ده، نه پر هر وخت او هر ډول حالاتو کې د تطبیق وړ ده او نه رسول الله ص د قران کریم د عمومي اصولو او اسلوبو خلاف خبره کوي.

۲۰۱۸/ ۲/ ۱۹

**سرچینې:**

(۱)(ال عمران: ۱۰۴)

(۲)(ال عمران: ۱۱۰)

(۳)(ال عمران: ۱۱۳، ۱۱۴)

(۴)(التوبه: ٦)

(۵)(البقره: ۱۹۰)

(٦)(الحج: ۳۹، ۴۰، ۴۱)

(۷)(مسند احمد: ۱۹۱۱۴)

(۸)(مسند احمد: ۹۱۹٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنګي فرهنګ (جهادي فرهنګ)

**نوټ:** دلته له جهاد څخه مو هدف اوسني جنګونه دي چې د جهاد تر نوم لاندې د مشروعیت صبغه ور کول کېږي، نه د انبیاء علیهم السلام هغه وظیفه چې د خدای لخوا پرې ګومارل شوي وو.

جنګ هیڅ شریعت، ایډیالوژۍ او قانون د خپل ذات له مخې ښه نه دی ګڼلی. جنګ که مقدس وي یا نامقدس، له ځان سره تخریب او انساني مرګ ژوبله لري. دا چې په دنیا کې هر ارزښت د انسان لپاره دی او هیڅ ارزښت هم بې انسانه نه مفهوم لري او نه یې بل مخلوق د ارزښت مرتبې ته رسوي. له دې امله، نو وایم چې تر انسان مقدس او ارزښتمن شی نه شته. جنګ چې لومړی وار یې د انسان پر روغتیا او ژوند وي، ځکه نو د خپل ذات له مخې هر جنګ کرغېړن دی؛ خو د انساني قانون په شمول شرعي قانون هم ځینې وخت جنګ ته جواز ور کړی دی. دلته یو بل لامل شته چې د ذات له مخې نامشروع شي (جنګ) ته جواز ور کوي.

د اسلامي شریعت له مخې دوه شیان داسې دي چې له امله یې شریعت جنګ روا ګڼلی دی. یو تر اتمام حجت وروسته د یوه رسول په مقابل کې د خپلو مخاطبینو ناحقه دربدا او دویم له خپله حقه د دفاع په خاطر که انسان جنګ ته اړ شو، دا جنګ یې روا دی او شریعت یې د مقدستوب انګیزه هم ور کړې ده.

اسلامي شریعت چې د ډېر واړه کار ګټې او زیان ته په پام یا هغه روا کړی او یا یې ناروا، نو جهاد چې له نورو ټولو زیانونو او تخریبونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان مرگ او ژوبله هم پکې رامنځته کیږي، په دې اړه یې پر یکړه ډېره له احتیاطه ډکه او یو لړ شرایط یې هم ورته وضع کړي دي. قران کریم او نبوي سنتو دا شرایط په واضحو الفاظو بیان کړي چې د هغو شرایطو په نه شتون کې د جنګ رواوالی هم ختمیږي. دلته په دې اړه خبره نه کوم، البته هغه ایاتونه را اخلم چې د مقاتل په مقابل کې د جنګ اجازه ور کوي:

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ .(۱)

ژباړه: او د الله په لار کې له هغو سره وجنګېږئ چې له تاسې سره جنګیږي او تېرى مه کوئ، بېشکه الله تېریګر نه خوښوي.

یو بل ځای هم وایي:

وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ (۲)

ژباړه: او مشرکان ټول داسې وژنئ لکه دوی چې تاسې له یوې مخې وژني او په دې پوه شئ چې بېشکه الله د متقیانو مل دی.

قران د ضرورت له مخې جنګ ته جواز ور کړی. کافر وي که مسلمان چې د یو چا وژلو ته یې ملې بډوهلې وي، د خدای قانون هم انسان ته د خپلې دفاع جواز ور کړی. د قران او سنت له مخې دلته پر نورو شرایطو نه ږغیږو، یوازې په دې یادو ایاتونو کې شته مفاهیم را سپړو.

د اسلام له مخې جنګ او قتال هغه اېشن دی چې د اړتیا له مخې جواز ور کړل شوی. د لوړو ایاتونو مطلب دا دی چې جنګ باید مسلمانان د خپل دین ،شریعت او کلتور برخه ونه ګڼي. دا یوازې د ظلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاف یو ډال دی، د حق تلفي مخنیوی دی، له خپله ځانه، ماله او ارزښتونو دفاع ده. د قران او پیغمبر په سنتو کې هیڅ ځای هم د نورو انسانانو د عقیدې، کلتور، قانون او ارزښتونو خلاف د جنګ اعلان نه شته. نه کفر او ارتداد د جنګ اسباب دي، نه شرک او منافقت هغه لاملونه دي چې له امله یې شریعت د جنګ جواز ور کړی. د قران له مخې نننی جنګ د شرایطو په پوره کېدا کې یوازې یو مجوز لري چې هغه صرف دفاعي قتال دی.

موږ دلته د مقدسو جنګونو په اړه خبره کوو. که نه د مسلمانانو په تاریخ کې د اصحابو له زمانې بیا تر ننه بیخي ډېر جنګونه شوي دي چې اسباب یې کله اقتصادي ګټې وې، کله د واک غوښتونکو د خپل واک دایره پراخول وو، کله دفاع وه او کله هم نور لاملونه. لاکن زموږ د تاریخ یوه نیمګړتیا دا ده چې له مسلمانانو سره شویو زیاتره جنګونو ته یې د تقدس جامه ور اغوستې. مسلمانانو نه یوازې دا چې له نامسلمانو سره د شریعت پر سر جنګونه نه دي کړي او ګڼ دنیوي لاملونه یې در لودل، بلکې په خپله د مسلمانانو ترمنځ هم شوي دي چې هیڅکله یوازې شریعي اختلاف د جنګي عامل رول نه دی ادا کړی.

د تاریخ همدې اختلاط په مسلمانانو کې د جنګي کلتور پدېده رامنځته کړه. د مسلمانانو حکومتونو له پیله د نورو هېوادونو د لاندې کولو تګلاره خپله کړه چې په لنډ وخت کې یې شرعي جنبه هم خپله کړه او د مسلمانانو د کلتور جز هم شو. د امویانو او عباسیانو په وخت کې د دې لپاره نور هم کار وشو او د روایاتو په سلسله کې داسې روایاتو ځای وموند چې د جنګ له لارې راغلی مال یې تر ټولو مالونو زیات حلال وګاڼه، مینځې او غلامان یې د بشري ګټې په توګه ورته روا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل، پر مسلمانانو يې د تل لپاره جنګ د کفايه او فرض عين په توګه لازمي کړ او مسلمان واکمن يې په دې مکلف کړ چې د ارام ژوند سا اخيستل پر هغه حرام دي، تل به يا د کافرانو پر هېوادونو يرغل کوي يا به د هغوی د حملو دفاع ته ولاړ وي. په دې ضمن کې خلکو د قراني اياتونو تعبير داسې وکړ چې د کفر تر ورکولو پر مسلمانانو جهاد فرض دی او تر څو چې کفر پر ځمکه موجود وي جهاد به ادامه لري. دا مفهوم هم ښه په پيخر د کتابونو متونو ته ځان ور ساوه چې جهاد(قتال) به تر قيامته وي، دا هر څه په داسې حال کې چې د الله په کتاب کې راغلی د قتال مفهوم لا هم تر هغه وخته مسلمانانو په سم ډول تعبير کړی نه و. د همدې ځان، واک او اقتصاد غوښتنې په اوج کې مسلمانو مفسرينو، محدثينو او فقهاؤ داسې څه په خپلو کتابونو کې وليکل چې يوازې د هغه وخت له افکارو سره يې سمون در لود. دا ليکل شوي کتابونه او قوانين نه د ابد لپاره وو، نه له هر کلتور، مکان او زمان سره برابرېدای شي او نه د مسلمانانو لپاره ګټور واقع کېږي. يو مهم ټکی د دنن او پرون دا هم دی چې نن د علومو ساحه ډېره پراخه شوې ده، هغه فقه چې ډېری وخت يې يو بشپړ کتاب او فتاوا يوازې يوه کس ليکلې؛ نو څنګه به هغه کتاب د نن لپاره بسنه وکړي چې پرون يوازې يوه ديني عالم ليکلی دی او له دينه تر سياسته، اقتصاده، نړۍ والو اړيکو، سولې او جنګونو، معاملاتو او ... ټول موضوعات يې را نغاړلي؟ نن که يو کس عالم وي او په دې ټولو موضوعاتو کې کتابونه ليکي، نو خلک يې نه کتاب ته ارزښت ور کوي او نه ده ته. ځکه نن تخصص مهم دی نه پر عمومي معلوماتو برلاسي؛ زموږ پخوانی فقه نه يوازې دا چې د نن له نويو مسلو سره برابره نه ده، بلکې تر ډېره حده له

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بل کتاب څخه نقل شوی دی او داسې مسایل هم کم نه دي چې د مذهبي عالمانو ترمنځ پکې دومره اختلاف دی چې د حرام او حلال تر کچې رسېږي. د هغه وخت د فقهې یوه مسله همدا د جهاد، خلافت، تر ژونده د یوه مسلمان امیر پـه واک کـې پاتېـدل،مینځو، غنـایمو، بـې پولې یوه اسلامي هېواد در لودل، تر ملت امت تـه تـرجیح ور کـول، د سود بې تعریفه او تل پاتې اختلافي مسله په مختلفو بڼـو داسـې بیـانول چې نن یې له امله د مسلمانانو زیاتره بانکي کارونه ملایانو حرام کړي او ځیني د مجبوریـت لـه مخـې اوس بیرتـه لګیـا دي سـخت مسـایل یـې سکنې چې خلکو ته د کاروبار لار خلاصه کـړي. داسـې ډېـرې نـورې مسلې هم.

هغه لیکل شوي کتابونه د خدای له قانون څخه د هغـوی یـو تعبیـر و چې د خپلو غوښتنو موافق یې کړی و. مـوږ هـم حـق لـرو چـې خپلـو حالاتو، مکان او زمان ته په کتو له شریعت څخه خپـل ځـانګړی تعبیـر ولرو. داسې نه شي کېدای چې د نـړی هـر څـه دې بـدل شي، خـو لـه شریعت څخه د نوي تعبیر اړتیا دې پیدا نه شي. نن موږ تر هر څه ډېـره اړتیا همدې ته لرو چې د شریعت داسې تعبیر رامخته کړو چې همدا نن د مسلمان امت اړتیاوې رفعه کولای شي.

زموږ د پخواني تعبیر له مخې شریعت یوازې د مکلفیتونو قانون و. په دې قانون کې یوازې مسوولیتونه وو. هغه دور چې په ټولو انساني ټولنو کې همدا فرهنګ عام و، ځکه نو له اسلامي شریعت څخـه هـم داسـې تعبیر حتمي و. نن چې تر مسوولیتونو مخکې هر انسان د خپلـو انسـاني حقونو غوښتونکی دی، له دې امله حتمي ده چې له دې نوي کلتـور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهنیت سره سم داسې شرعي تعبیر وکړو چې تر مکلفیتونو مخکې د حق غوښتنې لوری پکې جوت وي.

دا ځکه وایم چې د شرعي متونو یو خاصیت خپله شارع هم دا بیان کړی چې مجدد یې خپلو حالاتو، غوښتنو او اړتیاو ته په پام نوی کولای شي. همدا اړتیا د فقهي اصولینو هم درک کړې وه:

لا يُنكر تغيرُّ الأحكام بتغير الأزمان (۳)

له دې انکار نه شي کېدای چې د زمانې بدلون احکامو ته بدلون ور کوي. تر همدې لوړ عنوان لاندې د مشهور حنفي عالم ابن عابدین شامي دا قول نقل شوی:

قال ابن عابدين: كثير من الأحكام تختلف باختلاف الزمان لتغير عرف أهله لحدوث ضرورة أو لفساد أهل الزمان، بحيث لو بقي الحكم على ما كان أولاً، للزم المشقة والضرر بالناس، ولخالف قواعد الشريعة المبنية على التخفيف والتيسير ودفع الضرر والفساد، ولهذا نرى مشايخ المذهب (الحنفي) خالفوا ما نص عليه المجتهد في مواضع كثيرة بناها على ما كان في زمنه، لعلمهم بأنه لو كان في زمانهم لقال بما قالوا به، أخذاً من قواعد مذهبه. (تېره حواله)

ژباړه: ابن عابدین ویلي: د خلکو د رواج بدلېدا، د اړتیاو پیښېدا او په فساد د خلکو د ککړېدا له امله ډېری احکام بدلیږي. ځکه که پر هغه لومړي حالت پاته شي، نو سختي به جوړه، خلکو ته به ضرر پیښ او د هغو شرعي اصولو مخالفت به وشي چې د تخفیف، اساني، ضرر او فساد د مخنیوي لپاره جوړ شوي. له دې امله زموږ د مذهب مشایخ وینو چې له ډېری هغه څه یې مخالفت کړی چې مجتهدینو په خپله زمانه کې اجتهاد او صراحت کړی. ځکه دوی پوهېدل چې که هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په زمانه کې وای، نو هغه څه به يې ويل چې دوی ويلي او دا خبره يې هم د مذهب له قواعدو اخيستې.

همدې قواعدو ته په کتو نن زموږ اړتيا ده چې ځينې پخواني تعبيرونه نوي کړو. يوه بله قاعده هم ډېره مشهوره ده:

درء المفاسد مقدم على جلب المصالح.

د مصالحو تر جلب د فسادونو مخنيوی مخکې دی.

نن د حالاتو تقاضا ده چې ځينې مفاهيم بايد يا بدل شي او يا يې تعبير نوی شي. د ملي هويت او ديني هويت موضوع هم له دې جملې څخه ده. د ملي هويت موضوع پخوا ډېره مطرح نه وه. اما نن تر بل قومي، ديني او بل هر هويت همدا د ملي هويت موضوع گرمه ده. دا موضوع د ډېرو نورو وړو خبرو مور گڼله کېږي. د دې ديني هويت له امله نن افراطيان د اسلامي خلافت نارې وهي، د يوه بې سرحده امت ږغ کوي، هر ځای له نامسلمانو سره سياسي او اقتصادي جنگونو تر همدې نوم لاندې توجيه کېږي. که موږ نن له شريعت څخه د پخوانو پر دې تعبير ډېر ټينگار ونه کړو او د فساد د مخنيوي په خاطر نوي تعبيرونه او جديد احکام رامنځته کړو، تر ډېره به هم د هغه تور مخنيوی کړی وي چې دين د جنگونو لامل بلل کېږي او نن جنگ بيخي د اسلام لاينفک جز بلل شوی او د مسلمانانو د کلتور او تاريخ يوه نه بېلدونکې برخه جوړه شوې ده.

زموږ په هېواد کې دا ۴۰ کاله تر همدې نوم لاندې انسانان وژل کېږي. له دې پرته چې جگړه مار وگوري په دې کار سره موږ د مفاسدو مخنيوی کوو او که مصالح جلبوو؟ دا هم له پامه غورزول شوی چې هره زمانه کې د شريعت احکام پر يوه حال نه پاتېږي. د جهاد قراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعریف او شرایط هم له پامه اچول شوي. موږ ته دې ناسمو جهادي رهبریو دا تاوان وکړ چې د نورې اسلامي نړۍ په نسبت اوس د جهادي فرهنګ تر ډېره حده یوازې موږ ته را پاته دی. نه یوازې دا چې په خپل هېواد کې د هر نظام پر خلاف یوې ډلې د جهاد او شرعي نظام تر نوم لاندې وسلې ته لاس کړی بلکې د هېواد زیات شمېر وګړي په نورو هېوادونو کې هم ایډیالوژیکو جنګونو ته لېږل کېږي. د خدای په حضور کې د دې شاهدي ور کوم چې د طالبانو په لیکو کې داسې سړي خواره ما په خپلو سترګو لیدلي چې د ښار په هره چاودنه به یې الحمد لله ویله او د کابل چاوندې ورته د اصحابو جهاد معلومېده. دا نن (۲۰۱۸/ ۱/ ۲۷) چې په کابل کې کومه چاونده شوې، زه په سل فیصده باور وایم چې ډېری طالبانو په دې جهاد خدای ته شکرونه کښلي وي او هغه ځانمرګي ته به یې د فردوس جنت او حورو غوښتنه کړې وي چې دا جنایت یې وکړ. دا حالت ښیي چې موږ نور د اسلام، مذهب او انسانیت له لارې وزو او بلکې وتلي یو. که په یوه انسان کې د اسلام یوازې یوه حکم ته درناوی پاته وي داسې جنایت د خدای په ذات قسم که تر سره کړي. که مذهب ته احترام ولري، نو داسې جرم ته به زړه ښه نه کړي او که انسانیت پکې یوه ذره هم پاته وي، نو د بل انسان وژل او زخمي کول خو پر لویه لار ایله کړه، د هغه د خپګان سبب هم خپل ځان یا ځان ته منسوب عمل والله که جوړ کړي. نو دې وروستیو جنایتونو په ډاګه کړه چې دلته له یادو دریو واړو زموږ په افراطیانو کې نور هیڅ هم نه دي پاته.

جنګ له نورو تاوانونو سره دا ستر زیان هم لري چې انسان له انسانیته باسي او وحشي کوي یې. دا تجربې ثابته کړې او موږ یې ژوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثالونه په خپلو سترګو وينو.دا نن زموږ په هېواد کې جګـړه مـارو هـيڅ ډول انساني اخلاق نه لري. ټول شرعي، کلتوري او ملي ارزښتونه جګړه مارو تر پښو لاندې کړل. نور دلته داسې کوم ارزښت نـه دی پاتـه چـې جګړه مار ورته درناوی ولـري او د هغـه د نـوم پـه ور کولـو هغـوی لـه جنګ، فساد او بغاوت څخه را وګرزول شي.

جګړه که د اقتصادي، سياسي او يـا نـورو موخـو لپـاره کلتـوري بڼـه واخلي دومره خطرناکه نه ده، مګر که دا کار د مقدسـې ايـډيالوژۍ تـر نوم لاندې وشي بيا ډېر زيان لـري. ځکـه د لـومړۍ خـلاف ږغ کـول د خدای او رسول د مخالفت په نوم نه دپ کېږي، اما دويمـه تـر همـدې نوم لاندې اول د مخالفت وړ بيخي نه ده او که يې بيا تر شرعي پوښښ لاندې د ريفورم غوښـتنه وشي، هـم يـې ايـډيالوژيک جګـړه مـاران د خدای او رسول مخالفت بولي او د هر هغه انسان وژل د ځان مسووليت بولي چې د ريفورم غوښتونکی وي.

زموږ په هېواد کې همدا نن دا هر څه موږ په خپلو سـترګو وينـو او تـر مخ مو دا ټول حالات تېرېږي. دلته شرعي ارزښتونه سپک کـړل شـول. مسجد، قران، مدرسه، مکتب ديني علماء او ديني غونډې پـه لسـګونو واره د افراطيانو له لوري په نښه شوې او نه يـوازې دا چـې بمونـه پکـې چودلي، بلکې ځانمرګي بريدګر يې ور لېږلي او پړه يې هـم پـه هسـکه غاړه منلې ده.

کلتوري ارزښتونه هم وشرمېدل. د مېرمنو افغـاني حجـاب او جـامې د ناوړه کارونو لپاره وکارېدل. د نارينه لنګوټه د بم لپاره استعمال شوه. پـر کلتوري ميلو د حرمت ټاپې ولګېدې او تـر دې وروسـته انفجـارات پـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشـول. ورغـلي خلـك د مـرگ مسـتحق وگڼـل شـول او لسـگونه پـلا افراطیانو ښه په لوی زړه دا کارونه تر سره کړل.

ملي ارزښتونه افراطیانو ته بیخي د ریشخند وړ ښکاري. ملي بیـرغ تـه له دې امله مختلف الفکره افراطیان درناوی نه لري چې د هغوی په انـد د اسلام سپین، یا تور یا برگ یا هم شین بیرغ له دې وجې ښه دی چې هم شرعي جنبه لري، د خدای او رسول یې خـوښ دی او هـم کـولای شو چې د دې ترڅنگ یې ملي هـم کـړو. مـلي سرود یـې د بـدعت او غربي پدیدې په نوم وختي لا د حرمت په ټاپه نازولی. د هیواد اسـاسي قانون یې اتومات د خدای او رسول د قانون په مقابل کـې بللـی او هـره فیصله یې د خدای او رسول له پریکړې سره ټکر گڼلې؛ ځکه یې نو تر هغو پر ځانو جنگ واجب بللی چې تر کله همدا قانون نافذ وي.

نه یوازې دا؛ بلکې د نن زمانې ډېر ارزښتونه یې د شریعت تر پخـواني او زاړه تعبیر قربان کړي دي. د هماغه تعبیر په رڼـا کـې دا نـن د بشرـ د حقوقو پر مدافع سازمانو حملې ورته روا ښکاري. د ماشومانو د سـاتنې موسسـاتي پـه نښـه کـوي. د هېـواد عامـه تاسیسـات ورتـه د نړولـو وړ معلومېږي. په بازار کې ورته جنگ او چاودنه د ثواب کار دی. شخصي ودانیو ته د جنگ او کمین لپاره ختل او بیاد مورچل په توگه کـار تـرې اخیستل خو د زاړه تعبیر په هر زړ ورقي کتاب کې ورته روا شوي دي.

له دې امله نو وایم چې د جنـگ او جهـاد پـه اړه زمـوږ زاړه تعبیرونـه لازمن باید نوي کړل شي. که نه تر دې به هم سختې ورځې راته انتظـار وي. څومره چې دا زوړ تعبیر په دې نوې نړۍ کې د خپـل عمـر شـیبې اوږدوي، ور سره جوخت به زموږ له ژونده موسکاوې اخلي، سختۍ به راته ایجادوي او د ژوند په ډېرو بروخو کې به مـو سـتونزې یـو پـه لسـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. موږ دا جرم کړی دی چې په نوې نړۍ کې لا زوړ تعبیر بس بولو، ځکه نو اړ یو چې د خپل جرم د جبیرې په توګه هره ورځ د ټولو ارزښتونو تر څنګ بشري قرباني هم ورکړو. موږ جرم کړی دی. مجرم ته هر څوك او هر قانون یوه سزا ټاکلې وي. زموږ د جرم په دې نوې نړۍ کې همدا جزا ده چې د ټولو ارزښتونو له سپکاوي سره جوخت به مو وژني هم. موږ چې په خپل چاپیریال کې هر څه تقریبن نوي وینو، له هغو وسایلو چې فرد یې شخصي کاروي بیا تر هغو چې دولت یې کاروي؛ ټول نوي دي. خو په دې زمانه کې هم زموږ په فکر همدا زوړ سلګونه کاله مخې شرعي تعبیر بسنه کوي. تر هره وخته چې موږ په همدې بسنه کوو نو سزا مو همدا ده چې د مقدسې ایډیالوژۍ تر نوم لاندې به وژل کیږو، مرګ به مو روا وي، بلکې روا څه کړې؛ واجب به وي.

د هغې ورځې په تمه چې زموږ پوهانو په دې هیله له شریعته د نوي تعبیر اړتیا احساس کړې وي، چې په دې سره هم د دین د بدنامۍ مخه ونیسي، هم هېوادوالو ته سوکالي راولي او هم یې ټول ارزښتونو پکې خوندي کړي وي.

۲۰۱۸/ ۱/ ۲۷

**سرچینې:**

(۱)(البقره: ۱۹۰)

(۲)(التوبه: ۳۶)

(۳)(القواعد الفقهیه وتطبیقاتها فی المذاهب الاربعه، ۵۲ قاعده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مسلمانانو جگړه‌ییز تاریخ

مسلمانو مورخینو د مسلمانانو په تاریخ لیکلو کې یوه بله تېروتنه دا هم کړې چې زیاتره مورخینو د جنګ جګړو لورته ډېره توجو کړې. د جنګ په اړه ښه په شد او مد ږغېدلي، مگر د مسلمانانو په تاریخ کې له دې پرته ډېر نور څه هم شوي دي چې ځینو بیخي کم یاد کړي، یو شمېر کسانو د خاصو پیرونو یادونه کړې او نور پرمختیایي کارونه یې نه دې ذکر کړي، خو په مجموع کې هغه ډول پاملرنه چې باید ورته شوې وای، زما په گومان نه ده شوې.

داسې تاریخونه خورا ډېر لوستونکي لري چې پلانی واک ته ورسېد، پر ضد یې بغاوتونه وشول، ده په مېړانه مقابله وکړه او د بغاوتونو تر چوپولو وروسته یې پر هغه او دغه شیمه د اسلام خپرولو لپاره بریدونه وکړل او دومره سیمې یې فتح کړې. دلته نو موږ خوشاله یو او اوس لا دعاوې ورته کوو چې پلاني خلیفه، هغه پاچا او دغه امیر د اسلام په خپرولو کې ډېري قرباني ور کړې او دومره وخت له کافرانو سره په جنګ اخته و.

زموږ د مورخینو دغه ډول اشتباهاتو د مخکینو مسلمانانو په اړه له موږ سره دا تصور پیدا کړی او اوسنیو حالاتو نور هم تقویه کړی چې جنګ د مسلمانانو د کلتور یوه برخه وه او نوی ذهنیت بیا دا دی چې جنګ د اسلام د ساتنې، خپرونې او کافرانو د ماتونې او تذلیل یوه ښه وسیله ده چې اسلام اجازه ور کړې او تل به دا لار خلاصه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موږ خپلې ټولنې او زموږ همسایه معاشرې تر نظر تېرې کړو، نو راته جوتېږي چې زموږ د مورخینو دې تېروتنو نن موږ کوم حالت ته رسولي یو. له روم او فارس سره د اصحابو د جنګ په اړه ما ډېره پلټنه وکړه چې که پخواني مورخین یې د عواملو په اړه ږغېدلي وي، مګر تر ننه هم بریالی نه شوم چې د اصلي عواملو په اړه یې د کتاب حواله پیدا کړم. دا ځکه چې هلته یوازې د جنګ حالات لیکل، تفصیل یې بیانول، فاتح او مفتوح یې ښکاره کول هدف و چې دا کار د مسلمانانو په تاریخ کې په ښه توګه، ان تر خپل حد هم زیات شوی.

تر هر څه مخکې مورخ باید دا وګوري چې داخلي یا خارجي جنګ ولې پیښ شو؟ د لاملونو تر په ګوته کېدو وروسته دا هم باید وسپړل شي چې دې جنګ ته اړتیا وه که د سرزوری پر بنسټ شوی؟ مورخین باید موږ ته پړ و ناپړ را معلوم کړي. ځکه دا بیا له موږ سره د ډېرو ستونزو په اوارولو کې مرسته کوي. د ډېرو پوښتنو ځواب ویلای شي او د کړو لارو د لارویانو دلایل له منځه وړي.

فرضن د اصحابو په اړه په ښه روښانتیا دا خبره شوې وای چې له روم او ایران سره د هغوئ جنګ د ځان د فاع لپاره و او هغه ټول دلایل چې په نورو کیسو کې ضمني ذکر شوي دي، ښه واضح د دې جنګونو د لاملونو په توګه معرفي شوي وای نو نن به افراطیانو د جنګ او اورپکۍ لپاره د اصحابو مثال نه وړاندي کولای. دارنګه نور هم.

د جنګونو تاریخ او ستاینو موږ ته جنګ د ښه شي په توګه را معرفي کړ. د فاتحینو د زیاتو ستاینو، نوم ور کونکو، په اړه یې ځانګړي کتابونو لیکلو او تر نورو د ډېر ارزښت ور کولو نتیجه دا شوه چې زموږ د هر ځوان په دماغ کې فاتحین، جګړه ماران، د هغوئ ستاینې، وژنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځان وژني ناستې دي. موږ تر امام ابن حبان چې یو ستر محدث او لیکوال و، نن او پرون دواړه ورځې حجاج بن یوسف، قتیبه بن مسلم، محمد بن قاسم او دې ته ورته نورو جنګي قومندانانو ته ترجیح ور کوو، شېګڼې یې بیانوو او په اړه یې زموږ د مکتب د پنځم صنف زده کوونکی هم خبر وي. مګر ابن حبان له خاصو کسانو پرته څوک نه پېژني.

د مورخینو دې ستري تېروتنې نن هم موږ له چېلنجونو سره مخ کړي یو او لا مو هم علمي مرکزونه، اکیډمیک ځایونه او د علم و پوهې مراکز د جنګي کسانو په نومونو یادېږي چې د زدکوونکو ذهنیتونه په اتومات ډول ور سره د جنګ د ښه والي، جګړه مارو د ستاینې او د همدې غیر انساني پدیدې د ژوندۍ ساتلو لپاره جوړېږي.

زه دا نه وایم چې مورخ دې د جنګ په اړه څه نه لیکي. بلکې هدف مې دا دی چې یوازې پر دې اړخ دې زیات فوکس نه کوي. د مسلمانانو په تاریخ کې له جنګ پرته نور هم ډېر څه شته. د هغه وخت د زدکړو بهیرته کتنه، اقتصاد په اړه یې بحث کول، له نوري دنیا سره اړیکو ته یې نظر کول، د چاروا کو او ولس ترمنځ پر اړیکو رڼا اچول، زراعت او کښت تر بحث لاندې نیول او داسې د ژوند نور مهم او اړین اړخونه.

مګر زموږ په تاریخ کې ډېر غیر واړه شیان ثبت شوي دي لکه په پلاني ښار کې د پلاني امیر، یا خلیفه یا پاچا په نوم خطبه وویل شول او د پلاني انځور یې په اصطلاح پر سکه وکښل شو. خو تر دې د ډېرو ضروري شیانو په اړه مو تاریخ ګونګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ بیخي کم مورخین د نقد د لارې لارویان دي. د دوئ لـه املـه موږ ته هم پخواني خلك د تقدس نمونې ښكاري. كه د یزیـد د ناسـم دریځ، د معاویه رض د غلطي پریکـړي، د عـلي او عائشـې رض د بـې ځایه جنګ، د علي رض او معاویه رض د ناسم جنګ او داسـې نـورو بېلګو په اړه نن یو څوك مازې خوله چوله كړي، نو خلك دا پر دیـن، دیني ارزښتونو او مقدساتو رد بولي.

دا له دې امله چې دوئ د نقد تلګلاره کمه کاروله، پر واکمنـو نیـوکې کمي شویدي. د هغوئ هر ډول جرمنو ته د سمونې پوښ ګنډل شـوی. د هغوئ له دنیاوالو سره د خپلو ګټو لپاره جنګونو ته د اسلام د خپرولـو نوم ور کول شوی. د واك غوښتنه او د مینځو راوسـتل یـې تـر همـدې مقدس نوم لاندې تر سره کـول چـې زمـوږ مورخینـو پـه خپلـو لیکنـو، دلایلو او تاریخي لاسوندونو د دوئ دې اعمالو او کړنو ته پلمې لټـولې او د نوي نسل په سترګو کـې یـې خـاوري وپاشـلې چـې تـر نـن زمـوږ سترګې په دې رنځ اخته دي.

موږ د هر ډول حقیقت تر لیدلو وروسته هم د ړانده په شـان قضـاوت کوو. د پخوانو له دین او انسانیت سره کړي جنایتونـه مـوږ تـه نـن سـم ښكاري. د سفاح هغه جنایت نن له خلکـو هېـر دی چـې د خلکـو پـر جسدونو ناست و او خوراك یې پر کاوه. دا په داسې حـال کـې چـې د یوه یهودوي جنازې ته رسول الله ص د انسـاني احـترام لـه مخـې ولاړ شوی دی، مګر سفاح د سلګونو مسلمانو له جسدونو سره داسې سلوك وکړ.

د حجاج نوم د اسلام د خپرونکو او ښو مسلمانو په کتـار کـې راځـي، مګر د همدغه حجاج په بندیخانه کې تر یو لـك زیـات مسـلمان وژل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي او د وخت وتلي، علماء، پوهان، مورخین، محدثین او فقهاء د ده له لاسه کړېدلي دي. سلیمان بن عبد الملك د مسلمانانو خلیفه ګڼل کېږي، مګر په خپل وخت کې یې د سلګونو مسلمانانو تر وژلو وروسته ناصالح کسان واک ته ورسول او یوازې په دې وجه ښه سړی ګڼل شوی چې پر قسطنطنیه یې په خپله قوامنده برید وکړ.

د مسلمانانو تېر تاریخ کې ډېرې نیمګړتیاوې شته چې باید راتلونکي لیکوالان ورته پام وکړي. د هر تېر کس بې ځایه ستاینه زموږ د لیکوالانو خاصیت جوړ شوی و. لکه نن چې ښه او بد دواړه شته، پرون هم داسې وو. نن چې نقد کېږي پرون هم تر نقد لوړو کسانو ژوند نه کاوه.

له دې امله نو وایم چې د جنګونو لور ته باید نه پرون ډېره توجو شوې وای او نه نن ورته په کار ده. په هر دور کې له جنګ او جګړو سره د ژوند په نورو برخو کې هم پرمختګونه او شاتګونه وي. نو که د ژوند نورو برخو ته هم پام شوی وای او په اړه یې تفصیلات را نقل شوي وای، نن به دا حال نه وای. زموږ د هر ځوان پر دماغ به جنګ او خشونت سپور نه وای. که نن هم موږ دې ټکي ته پام وکړو، نو لرې نه ده چې دا نیمګړتیا ایسته کړو او له امله یې د را پېښو ننګونو څخه خلاصون ومومو.

۲۰۱۷/ ۲/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلامي تاريخ اصطلاح

د مسلمانانو په تاريخ چې زه څومره معلومات لرم، نو تقريبن ټولو مسلمانو مورخينو د پيغمبر عليه السلام له دورې رانيولې بيا تر ننه د مسلمانانو ټول تاريخ ته د اسلامي تاريخ اصطلاح کاروي، چې زما په اند دا اصطلاح ناسمه، بې ځايه او د يو لړ جدي پوښتنو زېږوونکې ده.

له هغې زاوې چې زه دلته بحث پر کوم، د مسلمانانو په تاريخ کې د دوو تاريخو دورو توپير ته بايد جدي پاملرنه وشي. يوه هغه زمانه ده چې د اسلام پيغمبر ژوندی و او بله هغه دوره ده چې د ده له وفات څخه وروسته پيلېږي. د لومړۍ دورې په اړه که د اسلامي تاريخ اصطلاح کار شي او هغه هم هغو پېښو او واقعاتو ته چې يا رسول الله ص پکې ښکيل وي يا هم معلومات په لري، نو باك نه کوي، مګر تر دې د وروسته دور لپاره د اسلامي تاريخ اصطلاح کارول له ناسموالي سره يو لړ ستونزې هم پيښوي.

اوله خبر دا ده چې تر رسول الله ص وروسته نه وحې کېږي او نه د دين هغه ډول متون را تلای شي چې رسول الله ص د خپل ژوند پرمهال مور ته په ميراث ايله کړي. نو هغه زمانه د اسلام د تاريخ بللای شو چې اسلام پکې راغلی، متون يې نازل شوي، احکام يې پيغمبر په خپل عمل او وينا واضح کړي. خو تر دې وروسته چې دين بشپړ شو، د احکامو نازېلېدل يې بند شول، متون ثابت شول، د بل نبي، کتاب او بلې وحې اړتيا ختمه شوه، نو دې پير ته په هيڅ صورت د اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ پیر نه شو ویلای، البته د مسلمانانو تاریخ یې بلـلای شـو او دا اصطلاح ور سره لګېږي هم.

د مسلمانانو ټول تاریخ ته د اسلامي اصطلاح کارول، دا غلط فهمي را منځته کوي چې د مسلمانانو څو رنګه والی ګواکي د اسلام غوښتنه ده، د مسلمانانو ناسم اعمال لکـه چې د اسـلام نتیجـه ده، د مسـلمانانو پـه تاریخ کې چې هر څومره تودې او ترخـې شـوې، ټـولې بـه خلـك پـه اسلام پسې تړي او دلیل به یې همدا وي چی مسلمانانو خپله د اسلام په تاریخ کې لیکلې دي.

یو بل مهم ټکی دا هم دی چې د هغو واك غوښتونکو، مال لوټونکو او د مینځو په طلب د لیونو څېرې به هم بربنډې شي چې د اسـلام تـر نوم لاندې یې د یادو اهدافو لپاره هڅـې کـړې. مورخینـو همـدا اشـتباه کړې چې د پاچاهانو، امیرانو او د وخت د خلیفه ګانو تاریخ یـې هـم د اسلام په نوم لیکلی چې همدې مقدس ټکي هغوئ بد عمله کسـانو تـه هم له نیوکو، اعتراضونو او تورونو څخه نجات ور کړی.

د اسلامي تاریخ دې اصطلاح همدا اوس هم موږ له ننګونـو سره مـخ کړي یو. که د تېر تاریخ پر کوم پاچا، امیر یا خلیفه نیوکه وشي، خلـك یې د همدې اسلام له امله دفاع ته را دانګي. ځکـه د همـدې اصـطلاح کارونې په خلکو کې دا فکر پیدا کړی چې پر همدې کسـانو نیوکـه پـر اسلام نیوکه ده. په داسې حال کې چې اسلام د دیـن پـه برخـه کـې یـو قانون دی، د خلکو د اعمالو نمایندګي قانون نه کـوي، بلکـې د قـانون نمایندګي د هغه متن، لارښوونې او راوړونکی کس کوي. له دې امله نو چې د تېر تاریخ له پاچاهانو، امیرانو او خلیفه ګانو څخـه د خونـدیتوب دا ډال ایسته شي، تر نامسلمانو وړاندي به مسلمانان د دوئ پـر اعمالـو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکونو، جنگونو او کړنو نیوکې وکړي او له دې سره به مسلمانانو تـه لـه اسلامه دفاع هم اسانه شي. ځکه هر مسلمان پر دوئ د کېدونکو پوښتنو په اړه ویلای شي چې د هغوئ اعمال د اسلام استازیتوب نه کوي، هـر سړی پوه شو او د خپل عمل په اړه یې را پیدا کېدونکې پوښتنې.

نو د مسلمانانو په تاریخ کې د نورو مهمو نکتو تر څنګ یـوه نکتـه دا هم ده چې د رسول الله ص له زمانې را وروسته ټولې دورې د مسلمانانو په تاریخ ونومول شي. یو به د اسلام اساسي متون خلکو ته معلـوم شي، د کېدونکو نیوکو مخه به ډب شي، د اسلام په نوم شوي هغه جرمونه او عاملین به یې مسلمانانو او نړۍ ته ښکاره شي چې د خپلو اعمالـو لپـاره یې یوازې د اسلام توری د ډال په توګه کارولی.

دا اصطلاح زما په اند له فني اړخـه هـم سـمه نـه ده. ځکـه د یـو شي تاریخ هغه دی چې هغه پکې را پیـدا شي، ورو-ورو ترقـي وکـړي او د کمال پړاو ته ورسېږي. د اسلام پیل او کمال ته رسېدا په (۲۳) کلونو کې شوې چې دې ته د اسلام تاریخ ویلای شو، د رسول الله ص سېرت هم ورته ویل شوي دي. دا زمانه په رښتیا هم د اسلام پیر دی او په دې نـوم یې یادول کومه ستونزه نه لري، مګر څه وخت چې اسلام مکمـل شـو، نازلېدل ختم شول، استازی یې له نړۍ وکوچېد او دا متون یـوازې د یـو دیني قانون په توګه پاته شول، نو دا زمانه یې ولې د اسـلام تـاریخ شي؟ ځکه د اسلام پیل، ترقي او خپل کمال ته رسېدا خـو لـه دې مخکـې لا شوي، نو دا دورونه یا زمانې بیا د اسلام تاریخ ولې وبولو؟

د اسلام په تر ټولـو اسـاسي مـتن کـې ویـل شـوي چـې (لا اکـراه في الدین) دا یوازې یو ځای نه، بلکې په مکي او مدني سورتونو کـې څـو واري دا مفهوم په مختلفو الفاظو ادا شوی، مګر لـه دې سره تـر رسـول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله را وروسته امیرانو، خلفاؤ او پاچاهانو د اسلام په نوم د نورو ملکونه لاندې کړل. فتوحات يې وکړل. د هغو مالونه، ښځې او هېوادونه يې څنې ونيول، بانه يې همدا کړې وه چې اسلام خپروي. اسلام ته د خدمت په بانه يې لکونه انسانان ووژل، هيوادونه يې وران کړل، ښځې يې له حقوقو بې برخې کړې او تر ټولو بده لا دا چې دوئ هم په خپل وخت کې او هم وروسته ځانونه خوندي کړل، چا چې نيوکې کولې هغوئ پر اسلام او د اسلام پر پيغمبر مخ را واړاوه. هغوئ هيڅ ملامت نه وو، ځکه موږ د همدې کسانو اعمالو ته د اسلامي تاريخ جامه ور اغوستې وه، له دې امله نو هغوئ هم اميران، خلفا او پاچاهان دومره نه غندل لکه اسلام چې يې وغانده، ځکه دوئ فکر کاوه چې اسلام همدا امر کوي، نو تر فرعي شيانو د اساسي شي غندل گټور ورته ښکارېدل.

د مورخينو همدې تېروتنې په مسلمانانو کې دا فکر پيدا کړ چې لکه تېر خلفا، اميران او پاچاهان، د اسلام امير بايد تر خپل ټول ژونده امير وي. د ستونزې اصلي ريښه دا هم ده چې اميرانو خپل ځانونه له رسول الله ص سره سيال گڼلي دي، دوئ فکر کاوه چې هغه په خپل ژوند کې امير و، نو موږ هم بايد شو. دې توپير ته فکر نه دى شوى چې رسول الله ص نبي و، د نبوت ترڅنگ رسول الله ص ځان ته د يو امير په توگه هغه اختيارات نه دي ور کړي، لکه دوئ چې ور کړل.

د واک ميراثي کول يو بل ناسم گام و چې د مسلمانانو اميرانوواخيست. بنسټ يې امير معاويه کېښود او دا لړۍ وروسته د اسلام د ساتنې، استازيتوب، جهاد او نورو مقدسو نومونو لاندې وغزول شوه. که مورخينو له پيله د دوئ اعمال له اسلامه بېل کړي واى، د اسلام د تاريخ او مسلمانانو د تاريخ توپير ته متوجې شوي واى، نو نه به دوى

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په ښه خوندیتوب هغه جنایتونه کول او نه بـه نامسـلمانو پـر اسـلام د دوی د اعمالو له امله نیوکې کولې.

که موږ له اسلامه د دفاع جذبه لـه ځـان سره لـرو، نـو بایـد د اسـلامي تاریخ پر ځای د مسلمانانو تاریخ وکاروو. د رسول الله ص لـه دورې را په دې خـوا د هـر چـا اعمالـو تـه د ښـه او بـد پـه نظـر کتـل د انسـانانو مسوولیت دی. هـر مـورخ د ټولـو هغـو جنگونـو، واقعـاتو او پېښـو پـه تاریخي عواملو پسې دې وگرځي چې د مسلمانانو په تېر تاریخ یـې لـه نورو قومونو سره د دوی لاس او گرېوان کېدو سبب شوي دي.

دا ډول تاریخ به موږ تـه ډېـر څـه را زدکـړي. د اسـلام پـه اړه بـه ډېـر شکونه له منځه یو سي. خلك به داسلام او مسلمانانو دتاریخ مهم فرق ته متوجې شي. د مسلمانانو په تـاریخ کـې د پټـو خـاینینو څېـرې بـه را بربنډې شي. هغه نیوکه به خپله ځواب شي چې وایي اسلام د تورې پـه زور خپور شوی، نه د دعـوت، منطـق او اسـتدلال پـه زور. کـه مـوږ د مسلمانانو اعمال خپله دوی ته منسوب کړو او د ښه و بد پړه یـې هـم د دوی پر غاړه ور واچوو، نو له تاریخي ابتکار سره به مو د ډېرو سـتونزو حل کولو ته اسانه لار موندلې وي.

۱۰/۲/۲۰۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوله؛ نبوي سنت او بشري اړتیا

عربي کې سولې ته (صلح) وايي. صلحه له مصالحې اخيستل شوی دی او د طرفينو ترمنځ روغې جوړې ته وايي. څکه مصالحه د (مفاعلې) له بابه اسم مصدر دی. د مجمع الانهر ليکوال شيخي زاده ليکي:

هُوَ - لُغَةً - اسْمٌ بِمَعْنَى الْمُصَالَحَةِ وَهِيَ الْمُسَالَمَةُ، خِلَافُ الْمُخَاصَمَةِ، وَأَصْلُهُ مِنْ الصَّلَاحِ ضِدِّ الْفَسَادِ.وَفِي الشَّرْعِ (هُوَ) أَيْ الصُّلْحُ (عَقْدٌ يَرْفَعُ النِّزَاعَ مِنْ الطَّرَفَيْنِ) (۱)

ژباړه: صلح اسم دی او لغتن د مصالحې يعنې روغې جوړې معنا ورکوي چې د مخاصمې(يو له بل سره د دښمنۍ) خلاف دی. اصلن له صلاح څخه اخيستل شوی چې د فساد ضد دی. شريعت کې صلح(سوله) د دوو لوريو ترمنځ د شخړې ختمولو تړون دی.

د سولې تر تعريف وروسته په فقهي کتابونو کې د سولې لپاره يو لړ شرطونه ذکر شوي دي چې زما په اند د هر زمان او مکان لپاره اړين نه دي. څکه په شرعي متونو کې يې ذکر نه دی شوی او له متن څخه د وخت علماؤ خپل اجتهاد کړی چې هر وخت ګټور نه تماميږي. په مدينه کې له اهل کتابو سره د رسول الله ص تړون د حديبيې له تړون سره توپير لري. له دې ښکاري چې د سولې لپاره يو رنګه شرايط په شرعي متن کې نه دي ياد شوي.

جنګ او جګړې غير نارمل او ناطبيعي حالت دی. انسان په فطري لحاظ د جنګ او خشونت غوښتونکی نه دی؛ بلکې د هغه په چاپيريال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ځینې داسې پېښې کېږي چې انسان له خپل فطرت او طبیعت څخه د مخالف شي خوښولو ته اړ کړي.

هر ماشوم چې کله له موره پیدا شي، نو مور یې وینو چې لـه کینـې، غوسې، عقدې او جنګه خلاص وي. جنګ خو اصلن د کرکې، نفرت، غوسې او عقدې زیږنده وي. زموږ په ټولنه کې ډېری ماشومان د ورځې له خوا مور، پلار یا د کور بل غړی وهي، (که څه هم د ماشوم وهـل بـد کار دی، اما زموږ په ټولنه کې له بده مرغه دا کار کېږي) اما لږ وروسته د ماشوم په ذهن کې هغه وهل، له ده سره شـوی زورزیـاتی، کنځـل او جنګ هېر وي او په ذهن او دماغ کې یې نه کرکـه وي او نـه کـوم ډول غوسه، بلکې په پاک زړه او ذهن له هغه کس سره ناسته پاسته کـوي او په خوشالي ور سره مخېږي.

د کرکې، شخړې، جنګ، خپګان او... ناروغۍ د انسان ذهـن تـه لـه ټولنې او چاپېریال څخه د یوه بسته پروګرام په بڼـه انسـټالېږي. یـوه بلـه تجرِبه مې هم څو پلا کړې ده. د یوې داسې کورنۍ ماشوم چې مـور و پلار یې تر ډېره حده له کینې، نفرت، غوسـې او جنګونـو څخـه بېـزاره وي، هغه تر پلار او مور هم په لوی والي کې ډېر نارمل حالت ته نـږدې وي او له دې یادو شیانو یې بد کېږي. اما بل لور ته هغه کسان چـې لـه کینکښ او جګړه مار پلار و مور څخه پیدا شوي وي، هغـوی تـر پـلار هم ډېر کاره، کینه کوونکي او پر مازي خبره جنګ تـه امـاده ولاړ وي. زه نه پوهېږم چې په دې کې یوازې د کورني چاپېریـال او روزنـې اغیـز وي او که یاد شیان میراثي ریښه هم لـري چـې لـه پـلار، مـور او لـوړو خپلوانو څخه کشرانو ته انتقالېږي؟ که څه هم کریمونولوژي وراثت یـو له هغو اسبابو یاد کړی دی چې فرد جرم ته هڅوي، اما په ټولـه کـې بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم داسې نه وي چې هر بد خلقه انسان دې په میراثي ډول دا هر څه تر لاسه کړي وي، ممکن نیمايي يې میراثي وي یا هم تر دې هم کمه برخه يې له وراثت سره اړه ولري، خو د ټولنې اغېز هم دومره جوت دی چې هیڅوک هم سترګې نه شي ترې پټولای.

له دې ښکاري چې انسان په فطري ډول له دې ناروغیو تر یوه حده خلاص وي او دا ویرسونه يې د ټولنې ډالۍ ده چې خپل نوي راتلونکي غړي په نازوي. د مینه ناک، سوله پاله او له زور زیاتي د بېزاره انسان پیدا کونکي لپاره اړینه ده چې د خپلو ماشومانو تربیه او روزنه په سم ډول وکړو چې له دې بیماریو يې ټول ژوند خلاص کړو.

د انسانانو په ټولنیز ژوند کې داسې وختونه هم پېښېږي چې طبیعي حالت ختمېږي او په ټولنه کې د بېلابېلو لاملونو له امله جنګ جګړې رامنځته کېږي. جنګ یوه ټولنیزه پدیده ده چې ټولنیزې بدۍ او خرابۍ هم پېښوي. له مالي زیانه رانیولې بیا د انسان تر ژوبلې او مرګه هر څه هر وخت پکې شونې دي. له جنګه فقر پیدا کېږي، له جنګه بې عدالتي رامنځته کېږي، جنګ کاروبار ته زیان رسوي، عامه لارې، کلي او ښارونه ناامنه کوي، تاوان يې نه یوازې هغو دوو طرفونو ته رسېږي چې مخامخ یو د بل په وړاندې جنګېږي، بلکې هغه څوک يې هم زیانویني چې مستقیما پکې دخیل نه وي خو د جنګ په جغرافیه کې اوسي؛ حتا جنګي سیمې ته نژدې پراته ولسونه او ملتونه يې هم له زیانه خوندي نه پاتېږي. بلکې حیوان، نبات او ونې هم په ډېر بد ډول ترې اغېزمنېږي.

له دې امله عقل او انساني تاریخ و تجربه ټول وایي چې جنګ غیر نارمل حالت دی او هوښیاره ټولنه او ملت هغه دی چې ژر تر ژره له

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګي حالت څخه خپل طبیعي او فطري حالت ته ستانه شي. د جنګي اسبابو په له منځه وړلو ټولو جنګي ډلو ته د جنګ بانه ور ختمه کړي او له جنګي حالته د سولې، له کرکې د مینې، له ناامنه د امن لورته سوله ییز یون پیل کړي.

همدا عامل دی چې قران کریم په جنګي حالاتو کې هغه مهال د سولې غوښتنې ته د مثبت ځواب ور کولو امر کړی چې یو لور یې هیله وکړي:

وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا .(۲)

ژباړه: او که دوی سولې ته میلان وکړ؛ نو ته هم ورته میل وښیه.

د قران کریم د دې ایت امر لومړی د الله هغه پیغمبر ته راجع و چې پر ضد یې مکیانو، یهودو، کوچي عربو او نصرانیانو وسله اخیستې وه او یوازې د دین له امله یې ور سره شخړه در لوده. دلته هم الله تعالی امر کړی دی چې که ستا دښمن سولې ته میلان وکړ، نو ته به هم حتمن سولې ته چمتوالی ښیې او په هیڅ صورت یې د جنګ د تمدید جواز نه دی ور کړی. قران کریم سوله غوره بولي:

وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزاً أَوْ إِعْرَاضًا فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيرٌ.(۳)

ژباړه: او که یوه مېرمن له خپل مېړه پر سرکښۍ او مخ اړولو ډارېده؛ نو پر دوی هیڅ ګنا نه‌شته چې تر خپل منځ سوله سره وکړي او سوله ډېره غوره ده.

د سورت النساء دغه ایت د مېړه او مېرمنې ترمنځ پر ستونزو رڼا اچوي او هدایت یې کړی چې که یوه مېرمن له مېړه ډارېده چې دې ته پاملرنه نه کوي، نو بهتره ده چې پر ځینو ټکو توافق سره وکړي او تر بیلتون یې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوله ورته غوره ده. له یوه لوري به یې شخړه پای ومومي او له بله لوري به یوه کورني له ړنګېدا ژغورل شوې وي.

نو چې د یوې کورنۍ په اړه د الله هدایت دا دی چې سوله ورته غوره ده ایا د یوه درست ملت او هېواد په اړه به قران کریم خنګه د سولې امر نه کوي او ولې به یې غوره نه ګڼي؟! له دې امله موږ په قران کې له نامسلمانو سره هم د سولې په اړه ایاتونه وینو.

الَّذِينَ عَاهَدْتَ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِي كُلِّ مَرَّةٍ وَهُمْ لاَ يَتَّقُونَ (۴).

ژباړه: هغه چې ته ور سره تړون کوې، بیا دوی هر وارخپله ژمنه(تړون) ماتوي او دوی ځان ساتنه نه کوي.

وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ وكَانَ اللَّهُ عَلِيماً حَكِيماً .(۵)

ژباړه: او که (په تېروتنه قتل شوی مومن) له هغه قومه وي چې ستاسې او د دوی ترمنځ تړون وي؛ دیت به یې اهل ته سپارل کېږي او یو مومن(غلام یا مینځه) به ازادېږي، که یې دا پیدا نه کړ، پرلپسې دوې میاشتې به روژه نیسي، د الله له لوري رجوع ده او الله یوه د حکمت خاوند دی.

وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلاَّ عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ.(٦)

ژباړه: او که له تاسې د دین په اړه مرسته وغوښتل شوه، نو کومک درباندې لازم دی، مګر هغه قوم چې ستاسې او د هغوی ترمنځ تړون وي، الله تعالی ستاسې د اعمالو لیدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ټولو اياتونو کې له نامسلمان قوم سره د مسلمانانو د سولې او تړون يادونه شوې ده چې نه يوازې جواز يې ترې ثابتيږي، بلکې د لومړي ايت د امر له مخې که يې د مسلمانانو څخه غوښتنه وشي فرض ده، همدا مطلب په دې ايت کې هم په صريحو الفاظو ياد شوی:

إِلاَّ الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَنْ يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلاً .(۷)

ژباړه: مگر هغه کسان (مه وژنئ) چې داسې قوم ته پنا يوسي چې ستاسو او د هغوی ترمنځ تړون وي، يا تاسو ته په داسې حال کې راشي چې سينې يې ستاسې سره له جنگه تنگې شوې وي او يا چې له خپل قوم سره په ملتيا جنگ وکړي؛ خو که د الله خوښه وای، پر تاسو به يې مسلط کړي وای بيا به يې جنگ در سره کړی وای، نو که يې له تاسو ځانونه گوښه کړل، جنگ يې در سره ونه کړ او د سولې وړانديز يې در ته وکړ؛ نو الله تاسې ته پر هغوی (د جنگ) هيڅ لار نه ده در کړې.

دلته ويل شوي چې که جگړه مار هغه قوم ته پنا يوورړه چې تاسو ور سره تړون لرئ، نو غرض به نه ور لرئ او پنا يې پيدا کړه. د هغه چا له جنگه بندېدا او سولې ته تمايل خدای د يوه نعمت په توگه مسلمانانو ته ياد کړی چې مخکې يې جنگ ته مخه کړې وه. الله امر کړی چې که د سولې وړانديز درته وکړي؛ نو نور د جنگ لپاره هيڅ شرعي بانه نه لرئ او يوازې سوله د خدای خوښ کار او په همدې حالت کې امر دی.

له دې امله رسول الله ص په خپل ژوند کې تر خپله وسه له جنگه مخ اړاوه، لکه چې يوه حديث کې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاَ تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ، وَسَلُوا اللهَ عَزَّ وَجَلَّ الْعَافِيَةَ .(٨)

ژباړه: له دښمن سره د مخامخېدا هيله مه کوئ، الله تعالی (په چارو کې) بريالتوب غواړئ.

په يوه حديث کې دي چې الله تعالی په نرمي خپل بنده ته هغه څه ور کوي چې په سختي يې نه شي تر لاسه کولای:

أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَا عَائِشَةُ» إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لاَ يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ، وَمَا لاَ يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ " .(٩)

ژباړه: رسول الله ويل: ای عائشې! بېشکه الله نرمي کونکی دی او نرمي يې خوښه ده، په نرمي هغه څه ور کوي چې په سختي يې نه ور کوي او هم هغه څه چې له نرمي پرته يې په بل هيڅ شي نه ور کوي.

همدا لامل دی چې رسول الله ص په مدينه کې له يهودو سره دميثاق المدينه په نوم د سولې او اتحاد تړون وکړ. د هجرت په شپږم کال يې له مکيانو سره د حديبيې پر سيمه يو داسې تړون وکړ چې اصحاب يې منلو ته چمتو نه وو، خو رسول الله ص هغه مادې ور سره ومنلې او لاسليک يې ور کړ. خدای په قران کريم کې همدې کار ته ښکاره بريا وويله او د رسول الله ص په مشري (٢٧) غزاګانو ته يې فتح مبين نه دي ويلي. راځئ دلته لږ د حديبيې پر سوله نور هم تم شو. هغه شرايط را واخلو چې رسول الله ص له مکيانو سره سوله ور باندې وکړه:

ابن کثير رح (مړينه: ٧٧٤) په خپل کتاب الفصول في السيرة کې هغه شرطونه ياد کړي چې رسول الله ص له مکيانو سره سوله پر وکړه. هغه دا دي: ١ـــ عمره به دا کال نه کوي، راتلونکی کال به عمرې ته راځي، توري به يې په پوښو کې وي او په مکه کې به يوازې درې ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېروي. ۲ــ د دوی ترمنځ به دا تړون لس کاله وي. ۳ــ قبایل اجازه لري چې خوښه یې وي هغه لوری دی ونیسي، د هر فریق لوري ته که یوه قبیله ودرېده نو پر هغې برید عینن پر هغه فریق برید دی. ۴ــ او څلورم شرط دا و چې که د مکیانو له لورې څوک مسلمان شو، مسلمانانو ته یې پنا یووړه بېرته به دوی ته ور کول کېږي، خو له مسلمانانو څوک اسلام پرېږدي، مکیانو ته پنا یوسي، هغوی یې مسلمانانو ته نه ور سپاري. (۱۰)

(یوه یادونه چې غواړم دلته یې زمور. د مسلمانو مورخینو په اړه وکړم هغه داده چې دوی په خپلو کتابونو کې دومره ډېر جنګي فرهنګ ته متمایل دي چې د سولې کاروان یې هم د غزا په نوم یاد کړی. دلته یې باید د ټولو غزاګانو برخلاف د سولې سرلیک ایښی وای، مګر له بده مرغه چې زیاتره مورخینو او محدثینو دا کار نه دی کړی بلکې د غزا سرلیک یې ور کړی چې له سولې سره سمون نه لري.)

رسول الله ص په همدې شرایطو سوله ور سره وکړه، مګر د عمر فاروق رض په شمول زیاتره اصحاب حیران وو او تر خپلو منځو یې احتجاج هم وکړ. عمر فاروق ابوبکر صدیق رض ته احتجاج وکړ، هغه ورته وویل، هغه د الله رسول دی، د هغه له لوري مامور دی هغه یې مرسته کوي او ضایع کوي یې نه. بیا رسول الله ص ته ورغی او هغه خبرې یې ورته وکړې چې ابوبکر رض ته یې کړې وې، رسول الله ص هماغه ځواب ور کړ چې ابوبکر رض ور کړی و. تر دې وروسته په قران کریم کې د سورت الفتح بسته سورت نازل شو او د رسول الله ص دا سوله یې د ټولو سوو جګړو برخلاف څرګنده بریا وګڼله او تر دې وروسته یې نتایج په یوه کال کې را ښکاره هم شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په هېواد کې چې ۴۰ کاله جګړه روانه ده، ولس يې تر بل هر ملت د سولې لپاره لېواله دي. سوله نه يوازې زموږ غوښتنه ده بلکې د هر انسان بشري اړتيا او فطري غوښتنه هم ده. سوله ژوند دی او ژوند هر ژوي ته د خدای ور کړې ډالۍ ده چې له هغه جل جلاله پرته يې بل څوك ترې د اخيستلو حق نه لري. سوله مينه ده، مينه د انسان لپاره د خدای ځانګړې تحفه ده چې که يې هر څوك ترې د اخيستلو هڅه کوي نو د خدای ور کړې تحفه له انسانه وړي. په سوله کې کاري فرصتونه ډېرېږي، خلك له فقره خلاصېږي، رغونه زياتېږي، د هېواد عامه تاسيسات جوړېږي، عدالت او انصاف ته خلك لاس رسی مومي او په ټوله کې هر انسان له خپلو انساني، قانوني او اسلامي حقوقو څخه برخمنېږي. سوله نن نه يوازې زموږ اړتيا ده، بلکې د شريعت او عقل تقاضا هم ده. د شريعت ښکاره نصوص مې وړاندې ذکر کړو او د هغو هداياتو د عملي نمونو لپاره مې د رسول الله ص د سولې يادونه هم وکړه. سوله ټولو نړۍ والو قوانينو، اخلاقي اصولو او شرعي ضوابطو ته په کتو زموږ مسلم حق دی او ترې غاړه غړونکي له ټولو بشري، الهي او اخلاقي قوانينو څخه مخالفت کوي.

په هېواد کې د يوې رښتنې سولې او سلامتيا په هيله!

۲۰۱۸/ ۳/ ۲۸

**سرچينې:**

(۱)مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر، کتاب الصلح:۲/ ۳۰۷)

(۲)(الانفال: ۶۱)

(۳)(النساء: ۱۲۸)

(۴)(الانفال: ۵۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵)(النساء: ۹۲)

(۶)(الانفال: ۷۲)

(۷)(النساء: ۹۰)

(۸)مسند احمد بقية حديث عبد الله بن ابي اوفى: ۱۹۱۱۴)

(۹)صحيح مسلم كتاب البر والصلة والاداب باب فضل الرفق: ۲۵۹۳)

(۱۰)(الفصول في السيرة، غزوه حديبيه: ۱۸۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ په ټولنه کې د خشونت برسېرن لاملونه

زموږ په ټولنه کې خشونت ځوان نه دی، پـه دې معنـا چـې اوس لنـډ وخت کې خشونت نه دی را پیدا شوی، بلکې عمر یې خورا دراز دی. په دې اړه یوه ښه خوندور تحقیق تـه اړتیـا ده چـې علتونـه، ډولونـه او حللارې یې پیدا کړي؛ مگر زما په اند دا ځینې لاملونـه یـې عمـده هـم دي او واضح هم.

- د مذهب ناسم تعبیر

هېواد ته مو اسلام د جنگیالیو له لورې راوړل شـوی دی، د افغانسـتان اوسنیو پولو ته جنگ د عمر فاروق رض په زمانه کې راغلی دی او ان د امیر معاویه رض تر زمانې یې دوام وکړ. په دې وخت کې له عربو څخه پرلپسې لښکرې راتلې او دلته یې جنگونه کول چې تـر زیـاتو جنگونـو وروسته افغانان ستړي شول او د مسلمانانو د دریو اپشنونو(اسلام، جزیه او جنگ) کې یې لومړی غور کړ. افغانان له وختـه د غیـرت لپـاره بېـل تعریف لري، دوی هیچا ته کمه نه وایي او هر سرزوری چېویني دوی تر هغه څو چنده سرزوري کوي. کله چې له قووته ولوېدل نو جزیه یې ځان ته اهانت باله له دې امله یې اسلام په نوم ومانه او نور یې خپل ټول پخواني عادات، رسوم، باورونه او کلتور ورسره وساتل. موږ ته اسـلام د تورې په زور راوښودل شو له دې امله دلته هغه تعبیـر وده وکـړه؛ ځکـه لومړیو راوړونکو عملن همداسې کړه وړه کړي وو همدا وجه وه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خشونت، جنګ او شخړو تعبير زموږ خلکو ته تر اوسه هم خوند ور کوي او د اسلام اصلي بڼه همدا ورته ښکاري.

- زموږ تېر تاريخ

افغانان تر اسلام مخکې هم جګړه پاله وو، له مقدوني سکندر سره هم نښتي وو او د اسلام د راتلو مهال له عربي لښکرو سره هم ښه ډېر وخت وجنګېدل. له دې وراهاخوا قبېلوي ژوند هغوی ته د تر خپل منځ د جنګو چانس هم ور کاوه او دا دود تر اوسه هم په پښتنو کې پاته دی، د اطرافو ځيني قبايل اوس هم د يوه منظم دولت تر کنټرول دا ښه بولي چې قبيلوي ژوند ولري، قبيلوي اصول وپالي او له شاوخوا قبيلو سره شخړې وکړي. دا اوس هم د ځمکې پر سر، د ځنګلونو پر سر، د څړځايونو پر سر او... قبيلې او قومونه سره په جنګ وي او تر منځ يې لسګونه کلونه دا بدۍ پاتېږي.

تر اسلام را وروسته هم موږ د جنګ په ميدان کې وړې وه، موږ علم ته دومره کار نه دی کړی لکه جنګ ته چې مو کاوه. د امويانو خلاف لښکر له همدې ځايه روان شو، له دې امله د مهدي اخير زمان په اړه رواياتو کې هم ددې سيمې يادونه شوې ده ځکه له دې رواياتو د عباسيانو داعيانو ډېر کار اخيسته. پر هند له دې سيمې بريدونه شوي دي او منځنۍ اسيا هم د تورې په زور د دې سيمې واکمنو تابع کړې وه؛ د هند مسلمانانو هم د دې سيمې له واکمنه د مرستې تمه وکړه او تر هغه وورسته له انګريزانو سره درې جنګونه، بيا خپل منځي شخړې، له شوري اتحاد سره خونړی جنګ تر هغه را وروسته بيا تر خپل منځ وژنې او بيا اتلس کاله له نړۍ والې ټولنې سره جنګ چې په سر کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا ده؛ زموږ د تاریخ لویه برخه پر جنګونو او وژنو ولاړه، له دې امله زموږ کوڅې، واټونه، سړکونه، چوکونه، مکتبونه او پوهنتونونه تر اوسه هم د جنګي کسانو په نوم دي چې له تېر تاریخ سره زموږ ژورې اړیکې راښيي او دا هم په ګوته کیږي چې موږ د خپل تېر تاریخ تر څومره اثر لاندې یو؟

- کورنی تاوتریخوالی

د انسان پر ذهن د هغه چاپېریال ښه پوره اثر کوي، که په ارام ماحول کې لوی شي ارام مزاجه انسان به وي او که شخړو، جنجالونو و د جنګ په ناارامه چاپېریال کې ستر شي، بیا به عصباني، غوسه ناك، په تعامل کې کمزوری او غیر نارمل وي. یو ماشوم که په دې ډول خشن چاپیریال کې لوی شي نه یوازې هغه ماشوم ته ایینده زیان لري، بلکې کورنۍ او ټولنه هم ځنې زیانمنه کیږي. حتا ما لیدلي دي چې داسې کسان که غوسه شي د مور او پلار خیال هم بیا نه ساتي. زموږ د ټولنې ډېره برخه کسانو کورنی تاوتریخوالی لیدلی دی له دې امله نو هغه په لویوالي کې کور او ټولنه دواړه کې خشونت کوي او کله فردي خشونت په ډله ییز بدلیږي لکه زموږ ټولنه چې یې همدا اوس شاهده ده.

- د مکتب، مدرسې او پوهنتون نمیګړی نصاب

د یوه ماشومه ور ځنې څو ساعتونه حتمن په مدرسه او مکتب کې تېرېږي، دا وخت د هغه د ایینده ژوند لوری ور ټاکي. که نصاب سم وي، استاد یې ښه وي، چاپیریال یې ارام وي، ماشوم به هم سالم ترې راوزي او که حالت برعکس وي، د ماشوم ایینده به هم پر سختو کړلیچو او پیچومو ور سمه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د مدرسې، مکتب او پوهنتون نصابونه لیدلي دي، د وطني مینې، انسان دوستۍ او سوله ییزتوب له مخې نیمګړي دي. د مدرسې او مکتب تر منځ حتا واټن ایجادوي، د سیرت په برخه کې یې تر دعوت زیات تمرکز پر غزاوو کړی دی په داسې حال کې چې غزاوې یوازې دفاعي وي او صرف لس کاله وې، مګر دعوت ۲۳ کاله و او تر اخیره وخته یې دوام درلود، غزاوې یوه استثنا وه او دعوت د نبوت عمومي تګلاره ده. د مسلمانانو په تاریخ کې هم د هرې دورې په تاریخ کې تر نورو بحثونو زیات تمرکز پر جنګونو شوی دی، د افغانستان عمومي تاریخ یا که معاصر تاریخ را واخلو نو هم د جنګ برخه زیاته ده، جنګیالي ستایل شوي دي او د مورخینو له لوري یا د وخت د حاکمانو نمیګړتیاوې نه دي را اخیستل شوې یا هم بیخي پر نشت حساب دي، ځکه نو موږ یوازې نن ستاینې کوو او جنګ و جنګیالی راته ښه ښکاري. د نصاب په برخه کې دا خلا باید ډکه شي او د وخت له غوښتنو سره سم مواد ورته تهیه شي چې اینده زموږ، وطن او ماشوم ژوند تضمین کړي نه دا چې له خشونته یې ور ډک کړي.

- زوړ او خشن کلتور

انسانان چې هر وخت یوځای اوسي نو د اجتماعي ژوند لپاره یې حتمن ځینې اصول، رسوم او دودونه ایجاد کړي وي چې د هغو په رڼا کې د ټولنې هر وګړی ژوند مخ ته وړي. دا یاد رسوم او دودونه د کلتور برخه دي که څه هم له عاداتو، تر افکارو ا اعمالو پوري غزېدلي وي. ټولنه د اړتیا مهال اصول جوړوي او هوښیارې ټولنې که یې زیان درک کړي، پر بدیل یې فکر کوي او سوکه سوکه یې ځای بل ته ایله کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر داسې جامدې ټولنې هم شته چې پر خپلو کلتورونو ټینګې ولاړې وي او په هیڅ صورت کې یې ایله کولو ته نه چمتو کیږي. هغوی فکر کوي چې مخکې خلك تر موږ په هر شي کې هوښیار دي، له دې امله نو د هغوی متلونه او ور پاته کلتوري ارزښتونه ورته سم بریښي او په نورو بدلولو ته یې زړه نه ښه کوي. زموږ د ټولنې کلتور ځینې برخې هم زوړې دي او هم خشینې. له بده مرغه چې زموږ ټولنه هم له جامدو ټولنو څخه شمارل کیږي او خپل پخواني افکار، رواجونه او باورونه نه ایله کوي حتا که هغه یې په عیني ژوند کې ستونزې ورته پیښوي او له تجربې سره یې په ټکر کې هم وي، خو دوی ته مشاهده دومره د باور وړ نه وي لکه هغه څه چې له ماشومتوبه ورته مسلم او ثابت ور پېژندل شوي وي او اخیر هغه ځای ته ورسیږي چې تر واقعي شیانو دا خیالي شیان ډېر باوري ورته ښکاري.

خلك باید په دې پوه کړل شي چې د کلتورنو ځینې برخې نوې کیږي، له وخت محیط او انساني غوښتنو سره سمې رامنځته کیږي، کلتور که انسان ته په ګټه وي پاته دې وي او که یې د ژوند ساحه پر تنګوله د ختمولو وړ دی، تر هغو چې د کلتوري ارزښتونو په اړه خلکو ته سم پوهاوی نه وي ور کول شوی زموږ د ټولنې به دا تر وخت تېر ارزښتونه برخلیك ټاکي او پر خلکو به د ژوند چارې سختوي.

- ناپوهي

بې‌علمي د ډېری ستونزو ریښه ده، زما د مشاهدې له مخې د خشونت پاله ډلو تر منځ له اتیا (۸۰) تر نوي(۹۰) سلنه کسان یا بېخي علم نه لري یا ابتدایي علم لري، له دې امله نو د کارونو پر پایلو هم فکر نه کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ډول تاوتریخوالی په خورا لوی زړه کوي. اودس یې نه وي زده مګر مرګ به کوي، لمونځ به نه کوي خو جهاد ته به راغلی وي، اخلاق به پېژني هم نه اما د جهاد فضیلت به بیانوي، د اسلامي نظام د دې لفظ په معنا به هم نه پوهېږي البته عملن به یې وسله اخیستې وي او د اسلامي نظام لپاره به انسانان وژني. دا ټول کارونه له جهالته کېږي؛ چا یو عالم انسان لیدلی دی چې د خپل فکر د منلو لپاره یې مخالف انسان مړ کاوه یا یې مرګ ور روا کاوه؟ یوازې جهال دا کار کوي، ځکه له هغه سره د استدال قووت نه وي، د خپلې ادعا پر بطلان ډاربېږي له دې امله یې په هر چا د توپک په شپیلی مني.

- فقر او غربت

په هره ټولنه کې فقر د زورزیاتي یو لامل بلل کېږي او طبعن زموږ ټولنه هم ترې مستثنا نه ده. اوږده جنګ زموږ د ولس تر نیمایي زیاته برخه د فقر تر کرښې لاندې ژوند ته ټیل وهله. د غربت له امله زموږ په ټولنه کې خورا زیاتې ستونزې را ایجاد شوې دي. په کاروبار کې دوکې، ناغېړۍ او بې وعدګۍ، له غریبو سره نه مرسته، د ولورونو بې حده زیات جګېدل، فردي غلاوې او وسره تړلي جرمونه، په دولتي ادارو کې رشوتونه او نور ګنشمېر غلاوې، په ښارونو کې کرایوي غله چې ان د دوه سوه ډالرو لپاره یې انسانان قتل کړي او تر دې لا خطرناکه حالت بیا هغه دی چې بې روزګاره ځوانان د ترهګرو ډلو ته مخه کوي او هلته بیا په ډله ییزو خرابیو لاس پوري کوي چې غلاوې، لوټنې، رشوتونه او فساد یې په سر کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فقر له امله زه د داسې پېښو شاهد یم چې په فردي او ډله ییزه توګه زموږ د ټولنې کسانو جرمونه کړي دي، د فقر لـه املـه د یـوې کـورنۍ کسان په جنجال سره اخته شـوي دي، د قبیلـو تـرمنځ شـخړې راولاړې شوې دي او قومونه پـه بـدمرغیو سره اختـه شـوي. زمـوږ ټولنـه کـې د زورزیاتي یو لوی عامل غربت دی، که په دې اړه څېړنې وشي نو بیخي جالبې پایلې به را برسېره شي چې تر اوسه به په دې اړه زموږ ټـولنې تـه داسې مفصل معلومات نه وي وړاندې شوي. د خشـونت پـه اړه بیخـي لازمه ده چې دلته یې پر عواملو څېړنه وشي، کله چې علتونـه پیـدا شي نو حللارې اسانه ورته ټاکل کېږي، تر ټولو سخت کار د یـوې سـتونزې رېښه او علت معلومول دي چې د ګرانوالي له امله دلته تـر اوسـه کومـه هر اړخیزه څېړنه پر شوې هم نه ده له دې امله یې حللارې هم نه دي په ګوته شوې، یوازې ځینې برسېرن وړاندیزونه شوې دي چې تر ډېره حده ګټور نه دي ثابت شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مذهبي زغم

زموږ هېواد ته د اسلام په اوايلو کې د جنګياليو په مټ د اسلام راتګ، په تاريخ کې د قدرت پر سر خپل منځي جنګونه چې ځينو يې د نورو خلاف د جهاد سورنا هم ږغوله او په دې وروستيو کې د طالب او داعش په نوم د وسله والو ډلو را پيدا کېدل او له اسلامه هغه تعبير کول چې د دوی له موخو سره مناسب و او دی، هم په مسلمانانو کې مذهبي زغم کم کړ او هم نامسلمانو دا تورنه لګول پيل کړل چې اسلام کې مذهبي زغم نه‌شته.

نامسلمان به حتمن زياتره د اسلام متن ته تر کتو د مسلمانانو پر اعمالو پرېکړه کوي، مګر دا هم يو روښانه حقيقت دی چې د خلکو کړنې حتمن د متن استازولې نه شي کولای، په متن کې الهي لارښوونې خوندي دي او پيغمبر په خپلو سنتو تشريح وکړه، مګر له دې سره د مسلمانانو په تاريخ کې له واکمنو واخله، دين ته تر منسوبو عالمانو، اسلام ته منسوبو ډلو، فکري مکتبونو، د اجتماعي سمون په پار مذهبي بنسټونو او د اسلامي نظام د برقراره کولو لپاره د مسلمانانو وسله والو ګروپونو او سياسي ګوندونو د اسلام له ابتدا تر اوسه داسې کړنې کړې دي چې د اسلام استازولې خو پر لويه لاره ايله کړه بلکې اړخ ته يې هم نه تېرېږي.

د يوه مسلمان هره کړنه را خيستل او د اسلام د بدنامي لپاره کار ترې اخيستل، نه انصاف دی او نه سالم عقل دا اجازه ور کولای شي، خو له بده مرغه چې دا لړۍ اوس ښه په زور روانه ده. د مذهبي زغم بنسټ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربو په جامده او سرېمبه ټولنه کې اصلن اسلام ایښی دی. د قران کریم ځینو ایاتونو ته مو پام غواړم:

لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ.

(البقره: ۲۵۶)

ژباړه: په دین کې هیڅ زور زیاتی نه‌شته، یقینن هدایت له بې لارۍ بېل کړل شوی دی؛ نو که څوک له طاغوته انکار وکړي او پر الله یې باور وکړي، بېشکه په داسې رسۍ یې منګولې ولګولې چې هیڅ نه شکېږي او الله اورېدونکی پوه دی.

د دې ایت په اړه لږ تفصیلي بحث ته ځکه اړتیا ده چې ځینو کسانو د منسوخ حکم پر کړی دی، د جهادي ایاتونو په راتلو یې د قران کریم تقریبا ۵۰۰ ایاتونه منسوخ بللي دي چې یو دا هم پکې شامل دی. اما د نسخې د اصولو له مخې دا خبره ناسمه ده. ځکه نسخه یوازې په انشائي جملو کې راتلای شي، نه په خبریه جملو کې. که د قران کریم په اخبار کې نسخ راشي بیا په قران کرېم د دروغ احتمال هم پیدا کېږي، قران یوځل مثلا د پیغمبر تایید کوي، انسانانو ته خبر ور کوي چې هو محمد ص د خدای رسول دی، مګر که نسخ په اخبار کې ومنو نو ممکن یو مهال دا خبره نسخه کړي، نو دا خو یو ډول دروغ شول. العیاذ بالله!

همدې ټکي ته د اضواء البیان تفسیر لیکوال شیخ محمد امین شنقیطي د نسخې او تخصص په توپیرونو کې ګوته نیولې ده، دی وایي: الخامس ان النسخ لا یدخل الاخبار و انما هو في الانشاء فقط بخلاف التخصیص فانه یکون في الانشاء و في الخبر.(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: پنځم فرق د نسخې او تخصیص دادی چې په اخبار کې نسخه نه راځي نسخه یوازې په انشاء کې راځي، مګر تخصیص د دې خلاف دی په انشاء او خبر دواړو کې راتلای شي.

وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ (الکهف: ۲۹)

او ووایه چې حق ستاسې د رب له لوري دی، که د چا خوښه وي باور دې وکړي او که یې خوښه وي انکار دې وکړي.

اصلن قران کریم رسول الله ص او مسلمانان په دې مکلف کړي دي چې څوك مذهبي زغم او ازادي نه شي زغملای د هغوی پر ضد جنګ اعلان کړي څو د مذهب له امله د خلکو له زورولو لاس واخلي، د قران کریم لاندې هدایت وګورئ:

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلاَ عُدْوَانَ إِلاَّ عَلَى الظَّالِمِينَ (البقره: ۱۹۳)

ژباړه: او له دوی سره تر هغو وجنګیږئ چې فتنه پاته نه شي او دین یوازې الله ته شي، که دوی منعه شول نو یوازې پر تېریګرو به تېری کیږي.

بل ځای هم وایي:

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّه فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ () وَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَوْلاَكُمْ نِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ(الانفال: ۳۹، ۴۰)

او له دوی سره تر هغو وجنګیږئ چې فتنه پاته نه شي او دین ټول د الله لپاره وي، که دوی(له فتنې) منعه شول، بېشکه الله یې د اعمالو لیدونکی دی او که یې بیا هم خپله فتنه جاري وساتله نو تاسې پوه شئ چې الله ستاسې مددګار دی، ښه مددګار او غوره کومک کوونکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دوه ایاتونه که له شا او مخ دواړو سره یوځای وکتل شي دا موضوع ښه ترې روښانه کېږي چې دلته فتنه پر دین زورونې ته ویل کېږي، قران کریم امر کړی دی چې تر قتل هم فتنه بد کار دی، ځکه فتنه خپله د جنګ سبب کېږي، که یوڅوک بل ته اجازه نه ور کوي چې له نورو بیله عقیده وساتي، نو دا خپله د خلکو ترمنځ د جنګ سبب کېږي او له دې امله قران کریم ویلي دي چې تر جنګ فتنه بده ده له دې وجې خو جنګ را منځته شوی دی، نو د مکې مشرکان خپله نور کسان مذهبي ازادي ته نه ایله کوي او پر بل تور لګوي چې حرامو میاشتو کې یې جنګ ولې وکړ؟

اسلام له یوه کس څخه پیل شوی دی او میلیونه پیروان یې پیدا کړل، د یوه کس به په لکونو عربو څه زور رسېدلی وای چې په خپل دین یې کړي وای؟ طبیعي خبره ده چې هغه یوازې مذهبي ازادي او زغم غوښتی او نه یې پر چا زور راوستی چې د ده دینومني او نه یې بل چا ته اجازه ور کوله چې د ده پیروان له اسلام څخه په زور واړوي. مګر له بده مرغه چې د مسلمانانو د بدو کړنو له امله نن مسلمانانو کې هم مذهبي زغم ختم شوی دی او نامسلمان هم دا فکر کوي چې اسلام کې اصلن له لویه سره د مذهبي زغم په اړه هدایات نه‌شته او متن یې هم هغه څه فرمایي چې پیروان یې کوي.

**سرچینه:**

۱) مذکرة في اصول الفقه، الفرق بین النسخ والتخصیص: ۸۲، د شیخ محمد امین شنقیطي، التحبیر شرح التحریر: ٦/ ۲۹۹٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نړۍ واله سوله

نه د ماشوم مخ ګوري او نه د شالیلا سینه
پورته شه درویشه دا بې دینه توره ماته کړه

یو وخت په انسانانو کې دې نظریې هم ډېر پلویانو درلودل چې انسانان باید ځنګلي قانون عملي کړي. یو پر بل تېری پخوانی کلتور وو. یوه قبیله له بلې قبیلې (تپې) سره اخته وه. د یوه ښار پاچا به هم پر نورو ځنګلورو یرغلونه کول. یونان چې ستر تمدن یې درلود او خورا لرغونې علمي نظریې ترې را ټوکېدلې، خو پر مختلفو پاچاهیو وېشل شوی و.

ډېر وخت به یوه کورنۍ له بلې سره په شخړه وه. ځینو بیا لږ فکري پرمختګ کړی و، یوه کورنۍ له بلې سره نه اخته کېده خو یوه قبیله له بلې سره ورانه وه. که به یې د نورو په نسبت متمدن ژوند و، د ژوند سطحه به یې تر نورو لوړه وه، هغوی به بیا وړوکی هېواد درلود او ګاونډي ملکونه به یې تر برید لاندې نیول.

عرب یې نژدې مثال دی. هلته کورنې جنګونه هم وو او قبیلوي هم؛ کله چې د یوه نظام تر چتر لاندې را ټول شول نو پر نورو هېوادونو یې یرغلونه وکړل. لوی سکندر هم د یونان مختلفې قبیلې سره متحدې کړې او بیا یې پر نوره نړۍ حملې پیل کړې. چنګیز خان د کورنیو جګړو تر چوپولو وروسته قبیلوي جنګونه وکړل اوبیا یې د وطنونو لاندې کولو ته ملاوتړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د تکامل لور ته هر ژوی مختلف پړاونه وهي. انسانانو هم په فکري لحاظ په تېرو څو پېړويو کې خورا چټک پر مختګ وکړ. په فکري لحاظ له ډېر تیاره دور څخه د رڼا پړاو ته را ووتل.

له ډېر پخوا څخه یوه وړه ډله انسانان وو چې د ټولو انسانانو ترمنځ یې عدالت غوښتی. هغوی له جنګه کرکه کوله. انساني قتل او وژنې یې نه خوښولې. د سولې او مینې پیغام یې له ځان سره وړی. که هر څو زورورو، ثروتمنو او اکثرو دوی ته وویل چې په یوه ګل نه پسرلی کېږي، خو دوی خپل عمل ونه دراوه. خپلې هڅې او کوښښونه یې جاري وساتل چې ورو- ورو د دې نظر پلویان زیاتېدل.

د دې نظر پیل ممکن لومړی د یوې کورنۍ له اتحاده را شروع شوی وي، بیا د یوې قبیلې اتفاق ته رسېدلی وي او وروسته د یوه هېواد په بڼه اوښتی وي. خو تر دې پړاونو وروسته به هغه ستر شخصیتونه را پیدا شوي وي چې د نړۍ والې سولې فکر ور سره و. هر شی له پیله ډېر بسیط وي. انساني فکر چې وخت پر وخت د پرمختګ نوي فکري پړاونه وهي، ممکنه ده چې له پیله یې د نړۍ والې سولې سوچ نه وي کړی.

دا فکر هم کرار کرا پراخ شوی او عام شوی دی. د انسانانو دا ځانګړنه چې د مخکنیو تجربې او مشاهدې بل نسل ته لېږدوي، د انسانانو په فزیکي او فکري تکامل کې ستر رول لري. انسان له پخوانو د را پاته تجربو په مرسته د پرمختګ نور ګامونه اخیستي او نن یې هم اخلي.

د همدې فکر برکت وو چې انسانانو لومړی کورني، بیا قبیلوي، بیا د هېوادونو په سطحه جنګونه ایله کړل. یو وخت خلکو قبیلوي ژوند ته ازادي ویله. تر هر قانون او نظام لاندې ژوند ورته د غلامۍ حیثیت در

(c) ketabton.com: The Digital Library



لود. کله چې ځينو ملتونو د قانون او نظام تجربه وکړه، نو له ګټو يې ګاونډيان او راتلونکي نسلونه هم خبر شول. له دې امله قبيلوي او بدوي ژوند سوکه ـ سوکه ختمېده او مختلف قومونه او قبيلې تر يوه قانون او نظام لاندې سره را غونډېدل.

خو لا هم د ګټو په خاطر جنګونه ښه په پيخر سره کېدل. ان چې دوه نړۍ وال جنګونه پېښ شول. په دې جنګونو کې ميليونه انسانان د نورو انسانانو په لاسونو ووژل شول. تر دې وروسته د نړۍ والې سولې اړتيا نوره هم زياته شوه. د همدې نړۍ وال امن لپاره ځينې سازمانونه رامنځته شول. دا سازمانونه نن هم د دې لپاره کار کوي چې انسانانو د خشونت په تاوان خبر او د نړۍ وال امن ګټې ور وښيي.

په اروپا، امريکا او ځينو نورو وچو کې ګڼشمېر هېوادونه دې پايلې ته ورسېدل چې ګډې ګټې له جنګ پرته هم يو بل ته رسولای شي او هم يې يوه قبيله له بلې قبيلې، يو هېواد له بل هېواده او يوه وچه له بلې وچې تر لاسه کولای شي. پخوا به دومره ګټې نه وې، لکه د جنګ زيان چې به يې ځان او نورو ته اړاوه.

هيوادونه به وران شول، تمدنونه به ورک شول، شوی پر مختګ به په شاتګ بدل شو، د انکشافاتو سلسله به ودرېده، نوښتونو به تقليد ته ځای پرېښود، حکومتونه به ړنګ شول او تر ټولو بده لا دا چې د ټولو ارزښتونو مستحق انسان به پکې ووژل شو.

د دې لپاره چې هم انسان خوندي شي او هم د هر ډول زيان مخنيوی وشي، ډېری هيوادونو د هر ډول ګټو لپاره يو له بل سره د همکارۍ، امن، وروروليۍ او ګټو تړونونه وکړل. نن په هغو هيوادونو کې د انسانانو ژوند ډېر ښه دی. انسانان د امن احساس کوي. ټول ارزښتونه يې په امن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. ګټې يې خوندي دي. د ژوند په خوند پوه دي. نه ځان وژني او نه نور. د پخوا په پرتله اوس د جنګ لپاره د نورو ملکونو ته نه ورځي، بلکې د مرستې، کومک، انساني همدردۍ، له بې وزلو سره د همکارۍ، د ناروغانو د تداوۍ او ... لپاره انسانان له يوې وچې بلې ته ځي. دغه افراد، ډلې او سازمانونه د نړۍ والې سولې سمبولونه دي.

زموږ وطن هم له نوري نړۍ بيخي جلا نه دی. دلته هم نړۍ وال بدلونه خپل اغېز پرېږدي. زموږ په سيمه کې د کليو او قبيلو ترمنځ جنګونه اوس نه شته. لاکن مخکي وو. زموږ پلار يې کله ناکله کيسې راته کوي. پخوا به قبيلوي ژوند ښه ګڼل کېده، مګر اوس خلک د نظام غوښتونکي دي. پخوا به د ګټو د جلب لپاره جنګونه په اساني پيښېدل، اما نن خلک وايي چې ژبه وي، نو د سر ماتېدا ته څه اړتيا ده. مخکې به فيصلې ملک و ملا کولې خو اوس د دولت ادارو ته وړلې کېږي. دا يوازې څو بېلګي دي، که نه زموږ ټولنې هم ښه پوره تغيير کړی دی او ورو ـ ورو د نړۍ والې سولې پيغام ته پر چمتو کېدو ده.

يو وخت به لازمن راځي چې زموږ په شمول به ټول انسانان دې فکر ته رسېږي چې د جنګ ټغر ور ټول کړي او ټول انسانان يو له بل سره په سوله، عدالت او مساوات کې ژوند وکړي. دوی به په دې پوه شي چې کومې ګټې په سوله کې تر لاسه کېږي هغه په جنګ نه تر لاسه کېږي. په يوه حديث کې دې ټکي ته داسې اشاره شوې ده: (إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لاَ يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ، وَمَا لاَ يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ ". مسلم کتاب البر والصلة والاداب باب فضل الرفق ح: ۲۵۹۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېشکه الله نرم دی نرمي خوښوي، په نرمي هغه څه ور کوي چې په سختي او له نرمي پرته په نورو يې نه ور کوي.

انسان به په دې پوه شي چې د سولې او امن خوند په جنګ او بد امنۍ کې نه شته. بشر دا اخير درک کوي چې انسان ته په تکليف رسولو کې مزه نه شته، بلکې هر انسان ته اذيت رسول خپله د بل انسان لپاره هم يو غم دی، اما که خوند، سکون او ډاډ غواړئ نو له نورو انسانانو سره په مرسته او همکارۍ کې يې موندلای شئ.

هغه وخت به انسانان د هيوادونو، قومونو، قبيلو، مذهبونو، سمتونو، ژبو، رنګونو او... پر بنسټ نه سره وېشل کېږي او نه به له دې يادو شيانو يو څوک د واک، ثروت، ستاينې، بقا او بل کوم امتياز مستحق بلل کېږي. بلکې د دې پر ځای به وړتياو او استعدادونو، اخلاقو او نورو ته د ګټو رسولو معيار په پام کې نيول کېږي. تور به تر سپين کم نه بلل کېږي او انګرېز به تر پښتون لوړ نه ګڼل کېږي. له عرب سره به عجم د قوم له امله دښمني نه کوي او عرب به له يهودي څخه يوازې د مذهب پر بنياد کرکه نه کوي. ټول به انسانان وي او هر چا که بل ته د زيان رسولو هڅه کوله په مجموعي توګه به يې انسانان مخنيوی کوي او چا ته به اجازه نه وي چې بل ته زيان ورسوي. دا به د نړۍ والي سولې وخت او انسانان به په دې قانع شوي وي چې تر هر څه د انسان وجود او ژوند مهم دی. له دې امله نو هر څه د انسان لپاره دي او د هغو ارزښتونو لپاره انسان قتل نه کړي چې هغه ټول خپله د انسان لپاره دي.
دا به هغه وخت وي چې نه يوازې د انسان وژل به بد ګڼل کېږي، بلکې د حيواناتو پر وژلو به هم بنديز وي. د انساني ژوند د ښه والي لپاره به ټول هڅې کوي خو داسې ادارې به هم وي چې د انسان ترڅنګ به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حيواني ژوند د سوکالۍ او خوندورتوب لپاره هم کوښښونه کوي. دلته به بيا انسانان د نن پر قاتلانو خاندي. نننې افراطيان به د هغه وخت تر ټولو بدمخي انسانان بلل کيږي. دوی به د تاريخ پر پاڼه تور داغ وي. بشر به د خپل وحشت له تاريخه د انسانيت لور ته تېښتي. تعمير به له تخريبه ځای نيولی وي. خشونت به خپل ډگر امن ته ايله کړی وي. د کرکې کلا به وختي لا مينې فتحه کړې وي. مرگ چې نن په واز کومي انساني ککرۍ تر ستونۍ په غړچ-غړچ تيروي، هغه مهال به يې انسانان نه يادوي او يوازې د ژوند کيسې به کوي.

نور راځئ د نړۍ والې سولې لپاره کار وکړو. بشر له هر ډول تبعيض پرته وژغورو. د ځان گټې د نورو له گټو سره يو ځای خوندي کړو. د نورو فايده هم د ځان وبولو او د تر لاسه کولو لپاره جمعي هڅې وکړو. په دې لار کې که چا نن گامونه واخيستل، نو سبا به د درناوي وړ وي. که څوک نن کار ورته وکړي، نو سبا به د نورو رهبر وي. که څوک يې نن په خشين چاپيريال کې ورته کوي، نو لرې نه ده چې د ده په هڅو دا خشونت ختم او ځای يې امن ونيسي او هغه مهال د ده نوم د همدې هڅو له برکته تازه و ژوندی وي.

د همداسې ورځې په تمه!

۲۰۱۷/ ۱۱/ ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظافت

نبوي وینا ده:

عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ.(۱)

ژباړه: ابو مالک اشعري رض ویل، چې رسول الله ص وویل: نظافت د ایمان برخه ده.

د مسند احمد او ترمذي په یوه روایت کې چې ځینو محدثینو یې پر کره والي خبرې کړې دي، د (شطر) پر ځای د (نصف) لفظ استعمال شوی چې بیخي د مبالغې تر اندازې ګواکې د نظافت پر مراعات ټینګار شوی دی. یوه بل روایت کې هم دي:

إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ يُحِبُّ الطَّيِّبَ، نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ، كَرِيمٌ يُحِبُّ الكَرَمَ، جَوَادٌ يُحِبُّ الجُودَ.(۲)

ژباړه: بېشکه الله پاک دی پاکي خوښوي، نظیف دی نظافت خوښوي، مهربانه دی مهرباني خوښوي او سخي دی سخا خوښوي.

د دې روایت په اړه هم محدثینو بېلابېل دریځونه څرګند کړي دي. الباني د مشکاة په څېړنه کې حسن بللی دی خو وروسته یې په الصحیحه کې د ضعف حکم پر کړی دی. که روایت کمزوری هم وي؛ خو د مخکني کره روایت یوازې تایید کوي، کوم بېل حکم نه ثابتوي چې راوړل یې د اصولو له مخې بد وګڼو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوړو روایاتو په رڼا کې ښکاره شوه چې نظافت څومره اړین دی؟ شریعت د نظافت اهمیت ته په کومه سترګه کتلي؟ رسول الله ص يې په اړه څومره ټینګار کړی؟

اما د احادیثو په ټولو کتابونو کې د نظافت په اړه تر بېلابېلو روایاتو وروسته هم زموږ مسلمانانو هغه نظافت ته پام ونه کړ چې په ژوند کې اړین دی او شریعت یې له موږ څخه غوښتنه کړې ده.

موږ د ورځې دوه، درې یا تر دې هم زیات واري د لمانځه لپاره اودس، غسل یا تیمم کوو، خو پر دې غور نه کوو چې د دې بیا- بیا ځان پاکونکې پیغام زموږ په ژوند کې څه شی دی؟

اودس وکړي، خو د خولې یې بوی ځي. تر اودس وروسته په خیرنو بویناکو جامو پر لمانځه ولاړ وي. نسوار یا سګریټ وڅکوي؛ بیا د سلګونو کسانو ترمنځ په جومات کې لمونځ کوي چې له دوزو یې ټول لمونځوال په عذاب وي. دلته فکر نه کېږي چې که اودس کوم، نو پاکې او بې بویه جامې به هم واغوندم چې خلك را څخه تنګ نه شي. تر نسوارو او نشو وروسته باید خوله پاکه کړي؛ که نه د خلکو د اذیت به تر هغه لمانځه ډېر عذاب او وبال وي چې یو کس یې د ادائینې په خاطر جومات ته د تلو تکلیف پر ځان منلی دی.

له همدې اذیته د ځان ساتنې په خاطر رسول الله ص هغه کسان چې وږه یا بل بویناك شی وخوري؛ تر هغو جومات ته له ورتلو بند کړي چې د خولې بوی یې ورك کړی نه وي. حدیث کې دي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسَاجِدَنَا، حَتَّى يَذْهَبَ رِيحُهَا».(۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ابن عمر رض روایت کړی چې رسول الله ص ویل: که چا له دې واښه خوراک وکړ؛ نو تر هغو دې زموږ جوماتونو ته نه راځي چې بوی یې ورک شوی نه وي.

دې ورایت موږ ته په یو ډول د اودس یا غسل حکمت هم بیان کړی دی. زموږ په اودس کې یو پیغام هم پروت دی که لمونځ کونکی هغه ته پام وکړي، نو نور انسانان به یې له هغو اذیتونو خوندي شي چې په بېلابېلو بڼو یې د لمانځه او عبادت یا هم نور وختونه ورته رسول.

نظافت یوازې تر لمانځه هم ځانګړی نه دی. د یوه انسان ټول ژوند رانغاړي. هم عقل غوښتنه کوي او هم نقل د هغه د مرعات امر کوي. خدای پاک دی، نو پاک انسان یې خوښ دی. همدا شان د مسلم په یوه حدیث کې دي چې خدای پاک دی، نو پاک مال قبلوي. یعنې په زکات، خیرات او صدقه کې حرام مال مه لګوئ. خدای چې کوم صفت ځان ته خوښ کړی دی، له دې امله یې بندګانو ته هم خوښ دی او هم یې رسول فضایل ذکر کړي دي.

له بده مرغه چې موږ په اجتماعي ژوند کې نظافت ته پام نه کوو. زما په اند د نړۍ په کچه ګنده ښارونه به د مسلمانانو وي؛ په داسې حال کې چې شریعت یې نظافت د ایمان برخه بللې او په ورځ کې یې څو پلا د نظافت په تر لاسه کولو او مرعاتولو امر هم ورته کړی دی. زموږ بدبختي دا ده چې په شکل پسې ځو؛ خو ماهیت راته هیڅ مهم نه وي. د اودس، غسل و تیمم او نظافت په مسله کې په موږ همدغه چل شوی دی. اودس یا غسل کوو؛ خو نظافت نه مرعاتو ځکه چې موږ شکل پرست یو، پیغام یا حکمت یې راته ارزښت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ښاري خلك تر اوسه نه په ښاري فرهنګ پوهېږي يا كه پرې پوهېږي مراعات يې بيا نه كوي. مېوه خوري او خځلې يې همالته ايله كوي، يا په موټر كې خوراك كوي او خځلې يې سړك ته را خورځوي، انرژي څښي او بوتل يې سړك ته ورخورځوي. له كوره د هندوانې، خټكي، مالټې، مڼو او... خځلې را وباسي د كور مخته په نالۍ كې يې توى كړي يا يې هم د سړك ژۍ ته وپاشي.

كله چې باران شي اوبه ډېرې راشي؛ نو همدا خځلې اوبه سره را ټولې كړي او د كور مخته يې ورته كوټه كړي. په بازار كې نالۍ بنده شي او ټول روډ يا بازار په خاورو و خځلو ولړل شي. له يوه چا سره هم دا فكر پيدا نه شو چې اخير بازار يا د كلي مېنځ ته دا خځلې باران له كومه راوړي؟ كه موږ ښاري فرهنګ پاللاى نو لومړى مو بايد نظافت ته توجو كړې واى. كه موږ د ايمان او اسلام غم اخيستي واى؛ تر هر څه لومړى به مو خپل بدن، جامې، كور كهول، د كور شاوخوا، كلى، بازار، جومات، مدرسه، مكتب، لېسه، پوهنتون، دفتر، دوكان او بالاخره ټول محيط او چاپيريال پاك واى.

موږ تر دې اندازې نه د فطرت غوښتنې په نظر كې نيسو او نه د شريعت و ښاري فرهنګ خيال ساتو چې د خداى په راكړې ښايسته او پاكه نظيفه خوله كې د پان، نسوار او... په شان بوين شيان اچوي او يا سګريټ، چرس، روين او نور بدبويه شيان په څكوي.

كه څوك پوښتنه وكړي چې دا د يوه شخص خپل كارونه دي بل د مداخلې حق پكې نه لري؟ نو زه وايم چې سمه ده بل به مداخله نه كوي، اما كله چې تاوان بل ته سرايت كوي هغه د مداخلې حق هم شرعن پيدا كوي او هم اخلاقن. د يوه كس د نسوارو زيان نن تر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محدود نه پاتېږي. حداقل ضرر يې بل ته دا دی چې له بويه يې څوک خوندي نه وي. سګريټ نه يوازې دا چې بوی لري؛ بلکې دود يې هم په خونه، موټر او يوه بند ځای کې نورو ناستو کسانو ته ضرر رسوي چې هم د شريعت له مخې يو جرم دی او هم د قانون و اخلاقو له رويه. د هوا ککړتيا او په پاته خځلو يې د چاپيريال ګنده کېدا يو بل غم دی چې تر ننه يې موږ حلالرې ته متوجې شوي نه يو.

کله چې له ښاره کلي ته ځو؛ نو نوره هم خبره ورانېږي او سل ځله نه زره ځله انسان ته افسوز درېږي. جالبه دا ده چې په کليو کې هغه کس په ډول – ډول نومونو يادېږي چې پاک ګرزي، هر وخت د پاکي خيال ساتي او نورو ته يې هم د خيال کولو فکر ور پيدا کوي. ډېره د حيرانتيا وړ ده چې پر يوه ښه کار زموږ کليوال يو کس د ستايلو پر ځای مسخره کوي. هغه الفاظ چې په کلي د همدې کس لپاره کارېږي زه يې دلته د ليکلو جرات نه شم کولای او دا راته د بې نزاکتی ترخنګ د قلم او ادب سپکاوی هم معلومېږي.

يو بل د افسوز ځای دا هم دی چې زموږ علماء، ملايان، خطيبان او طالبان نه په خپل شخصي ژوند کې تر ډېره حده پوره نظافت ته پام کوي(غوښتنه استثنا حتمن پکې شته) او نه په هغه پيمانه چې ورته اړتيا وه ټولنه د نظافت اهميت او ارزښت ته ور بولي.(که څه هم د دوی شخصي عمل او وينا پر ټولنه ډېره اغېزناکه تمامېږي) ما تر ننه هم يوه خطبه د نظافت پر اهميت د جمعې يا اختر په ورځ نه ده اورېدلې. په داسې حال کې چې يوه امام بايد په يوه کال کې لږ تر لږه درې خطبې په جلا-جلا وختونو کې د همدې نظافت د اهميت، اړتيا، ګټو اونه مرعات کې يې زيانونو ته ځانګړې کړې وای چې هم يې شرعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصوص پکې بیان کړي وای او هم یې د پوهانو خبرو او خپل ضروري تحلیل ته پکې ځای ور کړی وای.

زموږ د یوه استاد مفتي صاحب رحمت الله له خولې مې په یاد دي چې یوه روژه یې د تفسیر مهال ویل: ههههه(تر خبرې مخکې نرمه خندا د هغه عادت و) یوه ملا زوی مړي راته ویل: مفتي صاحب! په روژه کې پاک کالي مه اغونده؛ بیا خلک د ماړه گومان در بانـدې کوي او زکات نه د رکوي.

زموږ حالت د ډېر افسوز وړ دی. یو عالم د خپل ځان نظافت په دې وجه نه ساتي چې خلک یې شتمن ونه گڼي او بیا د خدای فرض زکات نه ور کوي. د ټولنې پر دې برداشت او د ملایانو پر رول دواړو بانـدې انسان ته ژړا ورشي.

یو بل ټکی چې هر کس ته ډېر مهم دی هغه د لاس او پښو د نوکانو کوشني ساتل دي. د بي بي سي د نوي کور او نوي ژوند په ډرامه کې مې په یاد دي چې یوه ورځ کومه نجلۍ د گیډې له درده کړېده. کورنۍ یې ډاکټر ته بوتله؛ کله چې یې ډاکټر معاینه کوي، نو ورته وایي چې په خوراک کې دي له نوکانو میکروب تېر شوي او له هماغه درد درته پیدا دی. زموږ په ټولنه کې د نوکانو ژر اخیستو ته هم لازمه پاملرنه نه کېږي چې د جدي ناروغیو سبب کېدای شي. په تېره همدا د گیډې ناروغي؛ ډرامه که څه هم حقیقي نه وي، اما څه چې وایي، هغه سم وي.

د چاپیریال د پاکو ساتلو لپاره نه یوازې دا اړینه ده چې خاورې خځلې هر ځای ونه غورځول شي؛ بلکې د ونو او بوټو زیاتوب هم اړین دی چې هوا پاکه کړي. د نظافت په راوستلو کې ونې او زرغونه بوټي مهم رول لري؛ له دې امله باید د دې ښودلو او کرلو ته هم ډېر پام

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي. زموږ په هېواد کې نن د ګنده هوا له تنفس څخه هم په لسګونو ډوله ناروغۍ پيدا کېږي چې که د ونو او بوټو زياتوب ته لازمه پاملرنه وشي ښايي تر يوه حده د مريضيو مخه ونيول شي.

پاک خوراک، پاک څښاک، د بيده کېدو نظيف ځای، مينځلې جامې او پاک بدن، له دوړو او خځلو خالي محيط او چاپيريال مو د بدني روغتيا د ضمانت تر څنګ، خوشاله و سوکاله ژوند، اقتصادي پرمختګ، د يوه ښه فرهنګ رامنځته کول او... در کوي. نو هلئ! فُرصت له لاسه مه ور کوئ او دومره ګټور او نژدې چانس همدا نن په لاس درغلی او وړيا ګټه ځنې واخلئ.

۲۰۱۸/ ۳/ ۶

**سرچينې:**


(۱)مسلم کتاب الطهارة باب فضل الوضوء ح: ۲۲۳.

(۲)ترمذي ابواب الادب باب ماجاء في النظافة ح: ۲۷۹۹.

(۳)مسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة باب نهي من اکل ثوما او بصلا او کُرّاثا او نحوها ح: ۵۶۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړیتوبونه پېژندل

د بشر په ژوند کې هر وخت داسې چارې وي چې ځینې یې تر نورو اولویت لري. دا قاعده عمومي ده، کارونه که شرعي وي یا هم دنیوي، ارو مرو ځینې ډېر اهمیت لري او نور بیا د تاخیر وړ وي. د انسان له ژوند سره یوځای که وخت، مکان او غوښتنې یې ټولې په پام کې و نیولې شي، نو ځینې موخې او کارونه د تعجیل وړ وي او په بعضو کې که تاخیر راشي، هم پروا نه کوي.

د شریعت په نصوص کې موږ ته داسې بېلګې خورا زیاتې په نظر راځي چې زموږ پاسنۍ خبره تاییدوي. اصلن د انسان تر ژوند هیڅ شی هم ارزښتناک نه دی. ټولې ټولنیزې پدیدې د انسان د پرمختګ او سوکالۍ په پار باید وکارېږي البته هغه زیان رسونونکې یې نه ښیم، هغه مې هدف دي چې د انسان په ګټه ترې کار اخیستل کېږي.

شریعت هم یوه ټولنیزه پدیده ده، د ټولنې د سوکالۍ په موخه راغلی دی او هر زیان رسونکی تعبیر له دین څخه ناسم دی ځکه د دین اساس د بشر پر سوکالۍ ښودل شوی دی، قران ویلي دي: الر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ.

(ابراهیم: ۱)

ژباړه: الف لام راء، تاته مو داسې کتاب نازل کړی چې انسانان د دوی د رب په امر له تیارو سوکالۍ ته پرې وباسې.

همدې هدف ته د رسېدو لپاره انسانانو هر وخت د خپل وخت او مکان له غوښتنو سره سم له شرعي متنه تعبیر کړی دی او کله چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالاتو سره موافق نه دی راغلی نو بل څوك را مخکي شوی او بیا یې تعبیر کړی دی او دا لړۍ به د بشر تر ژونده ادامه مومي.

د قران په ۲۳ کاله نازلېدل همدا ټکی واضح کوي چې هر څه باید په تدریج وشي او لومړیتوبونو ته توجو مهمه ده. د هر حکم تر عملي کېدا او تر ایمان مخکي لا هم علم اړین دی، له دې امله قران امر وکړ چې (فَاعْلَمْ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ) که علم نه وي نو د یوه خدای په وجود هم نه پوهېږي له دې امله اړینه داده چې د اولویت چارې له دا نورو بېلي کړل شي.

د بخاري په یوه حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ص د مکې تر فتحې وروسته دا هیله ښکاره کړه چې مکه د ابراهیم علیه السلام پر بنیادونو ودانه کړي اما له دې امله یې ایله کړه چې قوم یې نوی مسلمان شوی وو او دې چارې ممکن د خلکو پر ایمانو منفي اثر کړی وای، نو دا چاره یې وځنډوله او لومړیتوب یې مرعات کړ. ځکه د کعبې ودانۍ د خلکو د عبادت او ایمان لپاره وه، خو که د خلکو ایمان نه وای؛ نو بیا د کعبې خونه څه معنا لري؟ له دې امله ایمان مهم دی او ودانول هر وخت کېدای شي، نو لومړیتوب دادی چې کعبه همداسې پرېښودله شي او د خلکو باور ته زیان ونه رسول شي.(۱)

قران کریم د سختۍ په حالت کې مسلمان ته د کفر ښکارولو اجازه هم ور کړې ده، دلته بیا د لومړیتوب مسله مطرح شوې ده، ځکه انسان مهم دی، کله چې انسان له منځه ځي نو بیا کفر او اسلام د بشر په نه وجود کې څه معنا لري؟ همدا وجه ده چې قران د ژوندي پاتېدا یا هم له خطره د ځان خوندیتوب لپاره مسلمان ته د خپل باور خلاف د څرګندونو اجازه ور کړې ده.(النحل: ۱۰۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا شان قران وايي د اضطرار په حال کې مسلمان کولای شي چې له ناپاکو توکيو ګټه پورته کړي، ځکه حرام او حلال هغه وخت معلومېږي او معنا لري چې انسان وجود ولري کله چې د انسان د وجود او عدم وجود خبره مطرح وي، نو بيا د وجود د بچ کېدا لپاره هر مناسب کار لازم دی چې تر سره شي که څه هم هغه د شريعت له احکامو سره سم په نارمل حالاتو کې حرام يا ممنوع وي. (البقره: ۱۷۳)

د شرعي متن له همدې مثالونو څخه فقهاؤ هم په خپل وخت کې داسې اصول رامنځته کړي وو چې د لومړيتوب او نالومړيتوب ټکي ته پکې توجو شوې وه. اوس هم اړتيا ده چې د شريعت تعبير کوونکي دې ټکې ته لازمه پاملرنه وکړي او د حالاتو، وخت و زمانې سره مناسب تغييرات په فقهي اصولو کې رامنځته کړي چې د خلکو ورځنی ژوند ور سره تريخ نه شي او خلکو ته د کارونو د ممانعت پر ځای سهولت را پيدا کړي.زموږ د وخت غوښتنې وپېژندل شي او بيا يې په اړه دريځ ونيول شي.

بدبختي داده کوم مرکزونه چې نن نوي عالمان د فقهي د تخصص لپاره نيسي، هغوی د دې پر ځای چې د اجتهاد او له نويو مسلو سره د برخورد شرعي و فقهي تعامل ور زدکړه کړي، خو دوی يې په هغو زړو اصولو پوه کړي او ور باندې د کلکې درېدا توصيه ورته وکړي، دې کار نه يوازې زموږ د تجارتي مسايلو کې خلکو ته خنډونه حوړ کړي دي ، بلکې د دولت چارې يې هم له سختۍ سره مخ کړې دي. نن اړتيا دې ته وه چې د هېواد په کچه د شرعي تعبير يو علمي او تحقيقي مرکز موجود وای چې د زمان و مکان قيدونو ته په کتو يې له شرعي متونو څخه د استنباط او اجتهاد پيتې ته اوږه ور کړې وای او نوي عالمان يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اجتهادي روحيه تربيه کولای؛ نه دا چې د تير وخت د يوه عالم پر اجتهاد د ټينګې درېدا توصيه ورته وشي.

پخوا د يوه عالم وينا تر ډېرو انسانانو ژر نه رسېده، له دې امله د اجتهاد لپاره خلکو اړينه نه بلله چې ځانګړي اجتهادي مرکزونه جوړ کړي چې له نويو پديدو سره د تعامل لپاره پر شرعي تعبيرونو نوی ريسرچ وکړي؛ که څه هم هغه مهال يې هم اړتيا وه؛ له دې امله به يو عالم هم په يوه درسته سيمه کې بس و او هغه به تر خپله وسه د خلکو مسلو ته رسېدګي کوله چې دا مسايل يې په کتابي بڼه ايينده نسلونو ته هم پاته شول. موږ د دې پر ځای چې د هغوی تګلاره وارزوو، د خپل وخت له غوښتنو سره يې مقايسه کړو، ګټور يې عملي او ناګټور يې ايله کړو، داسې تعامل وکړ چې نه هغوی په خپل وخت کې خلکو ته د دې توصيه کړې وه او نه موږ ته اوس په ګټه تماميږي، موږ د هغوی اجتهادات د هر وخت لپاره مناسب وبلل او د تجديد نظر پر ځای مو هغه د هر زمان لپاره شرعي الهي قواعد وګڼل چې نن يې له يو لړ جدي مشکلاتو سره ټولنه مخ کړې ده او په ځينوچارو کې د پرمختګ خنډ شوي دي.

د علماؤ اجتهاد د هر وخت لپاره نه وي او نه د يوه عالم شخصي-اجتهاد ته د الهي شرعي حکم ور کول کېدای شي، شرعي متن بېل شی دی او له دې متنه کېدونکي تعبيرون جلا دي. دا دوه سره ګډول هم له شريعت سره ظلم دی او هم له انسانانو سره. نه يوازې دا چې موږ په دې سره د شريعت نوم ور بدوو؛ بلکې انسانانو ته هم په روزمره کارونو کې ستونزې ايجادوو. له دې ځايه د لومړيتوب او نالومړيتوب مسله را مطرح کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پخوانو په اجتهاد پسې مبنلېدل موږ ته لومړیتوب لري او که د زمان و مکان له غوښتنو سره سم نوی اجتهاد زموږ لومړیتوب دی؟ له شریعته هغه تعبیر چې انساني ټولنې ته د ګټې پر ځای زیان لري په دې پسې د الهي شریعت تر نوم لاندې تلل زموږ لومړیتوب دی او که د بشر په ګټه تعبیر ترې اخیستل زموږ اولویت دی؟ دې ته ورته په سلهاو سوالونه چې که یو څوک د شریعت په اساسي پیغام پوه وي؛ نو ځوابونه یې بیخي ورته اسانه او له هر ډول تردد پرته ویلای شي چې زموږ لومړیتوبونه کوم دي او کوم کارونه اولویت لري چې نن یې دبشر د خوندیوب او سوکالۍ لپاره وکړو!!!

۸/۱۲/۲۰۱۸

**سرچینه:**

(۱)بخاري کتاب الحج باب فضل مکه و بنیانها ح: ۱۵۸۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له دیني لیدلوري د هدف او وسیلې اړیکه

**لیکنه**: نبي ساقي

**ژباړه او لنډون**: زبیر افغان

د هدف او وسیلې د اړیکې بحث پخوانی او اوږد دی، ځینې په دې اند دي چې هدف وسیله توجیه کوي، یعنې یوه ښه او سپېڅلي هدف ته د رسیدو لپاره له هرې وسیلې استفاده کېدای شي. البته په دې شرط چې نیت پاك وي او د ټولنې و انسان ښېګڼه په نظر کې نیول شوې وي.

بل لور ته له پخوا تر اوسه بیا داسې کسان هم شته چې وایي: هدف وسیله نه شي توجیه کولای؛ ځکه نو هر هدف ته د رسیدو لپاره اړینه ده چې له مشروعو وسیلو کار واخیستل شي. زه په دې دوو نظریو کې د کومې یوې پلوي وکړم؟ دا بحث د همدې پوښتنې د ځواب لپاره دی؛ له دې انکار نه شي کېدای چې انسانان په خپلو کارونو کې اهداف تعقیبوي او همدې اهدافو ته د رسیدو لپاره مختلف وسایل، روشونه او متنوعې تګلارې کاروي.

اسلام د یوه انسان دوسته دین په صفت چې په دنیا و اخرت کې د بشري ښیګڼې لپاره نازل شوی دی، د انساني بریا، ښېګڼې او د خدای د رضا په خاطر د اخلاقي، عبادتي، ټولنیز او... اهدافو یوه لړۍ لري. همدې اهدافو ته د رسیدو لپاره د زمان او مکان موافق ګڼې وسیلې او تګلارې په پام کې نیول شوې دي؛ خو تر ټولو مهم ټکی دادی چې اهداف باید غوره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان باید وسیله او هدف په ښه ډول سره تفکیک او وپېژني چې په اسلام کې کوم شی هدف دی او هدف ته د رسېدو وسیلې بیا کومې دي؟ که موږ د هدف او وسیلې ترمنځ توپیر ونه کړو نو شونې ده چې په ټولنیز ژوند کې به خپل ځان ته زیات مشکلات ایجاد کړو او په دې برخه کې به د ډېر سوء تفاهم ښکار شوي یو. اوس پوښتنه داده چې اهداف او وسایل کوم دي او ځانګړتیاوې یې څه دي؟ او موږ څنګه کولای شو چې یو له بله یې توپیر وکړو؟

د هدف لپاره کولای شو چې داسې یو ساده تعریف وکړو: اسلامي اهداف د ښېګڼو یا غوښتنو هغه لړۍ ده چې د انساني رفاه و معنویت، په ټولنه کې د خیر و ښېګنې او په دواړو جهانو کې د بشري نیکمرغۍ او خلاصون سبب کیږي.

که دا تعریف تر یوه حده د منلو وي؛ نو ددې په مرسته موږ کولای شو چې د اهدافو مهمې ځانګړنې، ښېګنې او دوامداره توب ترې استنباط کړو. په دې معنا چې که د انساني نیکمرغۍ او ښېګنې سبب کېدل نو غوره دي او هر هدف چې د انساني ټولنې د خیر او صلاح سبب کیږي تل باید تعقیب او د تل پاتي وجود لپاره یې کار وشي.

خو دا ټکی باید له پامه ونه غورزول شي چې ممکنه ده ځینې شیان موږ د اهدافو په نوم پېژنو، خو هغه په خپله لنډمهالي او واړه اهداف وي او اساسي اهدافو ته د رسیدو لپاره د دوی وجود په مابینځ کې اړین وي او په دې ډول نو احتمال لري چې خپله په وسیله واوړي او د وسیلې حکم ومني. نو اړینه ده چې د اهدافو د ښه پېژندنې لپاره یې پر دوه ډوله تقسیم کړو: یو اهداف اساسي او دوامداره دي او بل یې لنډمهالي او موضعي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو هدف و؛ راځئ وګورو چې وسیله څه شی ده؟ ممکنه ده چې ووایم: وسیلې یا روشونه، د تګلارو، فعالیتونو یا هم د عمل و عکس العمل هغه لړۍ ده چې په مرسته یې هدف ته رسېدای شو. وسیله هم د هدف په شان ځانګړنې لري چې مهمې یې ښایي همدا لاندې وي:

۱/ وسیله یوه بشري/طبیعي پدیده چې د ټولنې افراد یې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره تعقیبوي.

۲/ وسیله موقته وي او د هدف په شان دایمي نه وي.

۳/ وسیله د زمان، مکان، اوضاع او احوالو تابع وي.

۴/ وسیلې متنوعې، ډېرې او متفاوتې وي او یوه هدف ته د رسېدو لپاره شونې ده چې ګڼې او مختلفې وسیلې موجودې وي.

۵/ وسیله په خپل ذات کې سپېڅلې نه وي؛ اما احتمال لري چې په همدې وسیله یوه نیک او سپېڅلي هدف ته رسیدګي وشي.

اوس مهم بحث دادی چې د اهدافو او وسایلو پېژندنه ولې مهمه ده؟ دا مسله له دې امله ارزښت لري چې د هدف پېژندل او پرې پوهېدل مونږ ته په ګوته کوي چې کوم شی تعقیبوو او څه غواړو؟ که مونږ په خپل هدف نه پوهیږو؛ نو خپل کارونه پر یوه لوري متمرکزولای نه شو؛ ځکه نو اړینه ده چې تر هر کار مخکې خپل هدف وپېژنو او هغه ته د رسېدو په تلاش کې واوسو، دویم دا که هدف او وسیله نه سره پېژنو؛ نو شونې ده چې خپل اهداف د وسیلو قرباني کړو او په پایله کې به یې اهدافو ته لاس رسی پیدا نه کړو، نو د کعبې پر ځای به مو د ترکستان لار په مخه ور کړې وي.

د موضوع بل ارزښت له دې زاویې دی چې شریعت په ټولنه کې د اساسي او اصلي اهدافو پلي کول غواړي او دا امکان هم نه شي ردېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځینې کسان اهداف او وسایل سره ونه پېژني، د اهدافو پر ځای د وسایلو په تطبیق پسې شي چې (د زمان او مکان له تاثیره نه خوندي کېږي) او په ټولنه کې ددې ټولنیز اړخ ته هیڅ متوجې نه شي، له دې امله نوې ستونزې په زړو لارو چارو حلول غواړي چې په دې سره د ټولنې مشکلات نور هم زیات کړي.

د ښه وضاحت لپاره به دلته څو مثالونه ذکر کړم:

موږ ټول پوهېږو چې نظافت په اسلام کې یو هدف دی، یعنې مسلمان باید پاك او نظیف وي؛ خو د همدې هدف لپاره د زمان او مکان شرایطو ته په کتو وسایل او روشونه ګڼ او مختلف دي. یو وخت د جامې د پاکي لپاره له وښو کار اخیستل کېده، شونې ده په نورو سیمو کې به نورې وسیلې هم وې، اما نن ورځ صابون کارېږي. د کور او بدن پاکي هم په هر وخت او ځای کې بېل- بېل وسایل او روشونه لري چې هیڅ وسیله او روش یې تل پاتی نه وي. دلته هدف پاکي ده او دې هدف ته چې هره وسیله موږ رسوي نو له هغې باید کار واخیستل شي او هره وسیله چې د نورو ترمنځ ډېره موثره وي هغې ته باید ترجیح ور کوله شي.

په اسلام کې یو بل هدف تبلیغ او دعوت دی، انسانانو ته د دې پیغام رسول په هر وخت و ځای کې مختلفې بڼې لري، ښایي پخوا د دې کار لپاره استازی، لیک، کتاب او نور شیان کارېدل، اما نن له عصري وسیلو کار اخیستل کېږي لکه انټر نیټ، راډیو، تلویزیون، سي ډي او نور... دې ته ورته نور وسایل موږ خپل هدف ته ډېر ژر او په موثر ډول رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارنگه په ټولنه کې د عدالت تامین هم یو اصلي او اساسي هدف دی. هدف ته د رسېدو لپاره له زمان و مکان سره سم مختلفې تګلارې کارول شوې دي، مثلا: پخوا د جرمي اثبات لري د شهادت، اقرار او دې ته ورته نورو روشونو کار اخیستل کېده؛ خو نن ورځ د دې ترڅنګ د اثبات نورو روشونه هم شته لکه: انځور، بږغ، د ویني معاینه، د ګوتې نښه او د جرمي اثبات نورو ډولونه هم کشف شوي دي چې د عدالت تامین ته موږ په ډېر ښه ډول رسوي.

له دې امله نو موږ ته اړینه ده چې اهداف او وسایل سره بېل کړو، موخو ته د رسېدو لپاره، ګڼې، مختلفې او بېلابېلې وسیلې وکاروو، دا احتمال هم شته چې نور انسانان خپلو اسلامي اهدافو ته د رسېدو لپاره زموږ برعکس وسایل وکاروي چې دا له اسلام سره ټکر عمل نه دی، بلکې هغوی خپل نیک هدف ته د خپل زمان او مکان له شرایطو سره سم رسېدل غواړي او لازمي ده چې همداسې وسایل به استعمالوي چې د وی له شرایطو سره مناسب وي. د هدف او وسیلې په پېژندلو زموږ د جنجالي مسلو یوه یې حلیږي او ټول په دې هم پوهېږو چې وسیلې متفاوتې او متنوعې وې او د زماني و مکاني شرایطو حتمي تابع وي، نو له یوې وسیلې کار اخیستل او له بلې نه اخیستل په دې معنا نه دي چې هغه وسیله له هدف سره ټکر ده.

له دې ټول وضاحته وروسته یو شی باید ناویل شوی پرېښښودل شي چې هدف ته د رسېدو لپاره له هرې وسیلې ګټه نه شي اخیستل کېدای، یعني که یوڅوک له مشروع لارې حج ته نه شوای تللای نو په غلا تګ به ورته روا وي، یا هم د عدالت د تامین لپاره له یوچا په وهلو، کنځلو، کرنټ ور کولو، ویښښ ساتلو او... وسیلو اقرار واخیستل شي. وسیله هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال د منلو وړ او شرعي ده چې د بشري ښیګڼه او د خدای رضا په پام کې نیول شوې وي، د اسلامي ټولنې پوهانو په وسیله کې د خپلې ټولنې نیکمرغي لیدلې وي؛ همدې پاس بیان ته په کتو دا پایله اخلو چې له اسلامي لیدلوري سره سم هدف وسیله نه شي توجیه کولای، له دې امله نو د ښه هدف لپاره ښه او غوره وسیله و روش ته هم اړتیا ده.

۲۴/۱۲/۲۰۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له ګرو شوي شي ګټه اخیستل

ګروي ته په عربي کې رهن وايي چې په قران، احاديثو او فقه ټولو کې يې يادونه شوېده. د ګروي د جواز په اړه غالبن ټول علما سره يوه خوله دي، البته پر ګرو شوي شي ګټه اخيستل د پوهـانو تـر مـنځ د اخـتلاف ټکی دی. ګروي په لغت کې بندېدلو ته وايي، قران کريم کې دي: كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ (المدثر: ۳۸) يعنې هر نفس به په خپلو کړنو بنـد او ګرو وي. د اصطلاحي يا شرعي تعريف پـه اړه يـې د پوهـانو تـرمنځ ظاهرن څه اخـتلاف ليـدل کيـږي. د ابـو داؤد شـارح او د سـبل السـلام ليکوال يې په اړه وايي:وَفِي الشَّرْعِ جَعْلُ مَالٍ وَثِيقَـةً عَـلَى دَيْـنٍ وَيُطْلَـقُ عَلَى الْعَيْنِ الْمَرْهُونَةِ.(۱)

شرعن ګروي پر پور د باور لپاره د مال ور کول دي چې پر ګرو شوي جنس يې اطلاق کيږي. له دې څخه په لږ تغير د هدايې ليکوال تعريف کړی:جعل الشيء محبوسا بحق يمكن استيفاؤه من الرهن كالديون.

زما په اند ګروي له لومړي سره دوه صورته لري، يو هغه چې قران يـې يادونه کړې او بل هغه چې احاديثو کې يې ذکـر راغلـی. قـران د بقـرې سورت په ۲۸۳ ايت کې د ګروي په اړه وايي چې که تاسې سفر کې وئ او ليکوال مو ونه موند، نو د باور لپاره دي يو شی پـه ګـروي ور کـړي: وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ.

دا هغه صورت دی چې د باور رامنځ ته کولو لپاره يو شی په امانت ور کول کيږي، دلته که څوک استدلال وکړي چې له ګرو شـوي شي بايـد ګټه وانه خيستله شي تر يو حده سمه خبره ده ځکـه دا ګـروي د امانـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بڼه لري او په امانت کې لاس وهل د دین له مخې سم کار نه دی. خو بل لور ته هغه صورت چې احادیثو کې ذکر شوی او یا اوس زموږ په خلکو کې رواج دی. نه خو پر ګرو شوي شي له ګټې اخیستنې منعه راغلي او نه دا هغه صورت دی چې قران یې یادونه کړې، بلکې دا باید د معاملې یو صورت وبولو. زما په ګومان د ګروي په دې صورت کې هغه اقسام جوړول چې که حیوان وي هغه ساتل غواړي له دې امله یې شیدې، وړی او داسې نور شیان روا دي او که سرای یا دې ته ورته نور شیان وي بیا ګټه اخیستل حرام دي او داسې نور، د شریعت له مخې منصوصې بنسټ نه لري، بلکې د ځینو فقهاؤ اجتهاد دی. بخاري په دې اړه روایت نقل کړی:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرَى طَعَامًا مِنْ يَهُودِيٍّ إِلَى أَجَلٍ، وَرَهَنَهُ دِرْعًا مِنْ حَدِيدٍ».(۲)

عائشه رضی الله عنها وایي رسول الله ص له یوه یهودي په پور خوارکي توکي رانیول خپله د اوسپینې زغره یې په ګرو ور کړه.

د حاکم په یوه روایت کې دي: عن أبي هريرة، عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قال: "الرهن مركوب ومحلوب".(۳)

له ابو هریره رض روایت چې رسول الله ص وویل: د ګروي پر حیوان سپرلۍ رواده او لوشل کېدای شي.

د حاکم دا روایت د هغو روایاتو تایید دی چې وایي رسول الله ص وویل: د شیدو د خاوند حیوان شیدې روا دي، البته نفقه به یې ور کوي او د سپرلۍ پر حیوان سپرلۍ روا ده، چې واښه یې لازمي دي.(۴)

په دې روایاتو کې موږ د منعې په اړه کوم څه نه دي لیدلي، د حیوان په اړه راغلي لارښووني یو اتفاقي قید بللای شو، نه دا چې شرط یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګڼو. د ګروي جواز له قران او حدیث دواړو ثابت شو د ګټې په اړه یې د تایید روایت یو نه، دوه نه، بلکې زیات دي، له دې هر څه سره بیا د حدیث له یوه اتفاقي قید څخه د دې ټولې معاملې پر حرمت استدلال کول نه د دې مسلې سم حل دی او نه په جزي او اتفاقي قیدونو عمومي احکام او فارمولونه ماتېدای شي. حرمت یوه باوري فیصله ده چې باوري دلایل ورته په کار دي او دلته په دې تول پوره دلیل وجود نه لري.

د مسلمانانو مشهور فکري مکتبونه په دې اړه بېلا بېل دریځونه لري. د ظاهریانو مذهب دا دی چې ګروي یوازې په سفر کې روا ده. د دوئ په اند قران یوازې د سفر یادونه کړېده. د حنابله وو په اند ګروي روا ده او ګټه ترې اخیستل یوازې په هغو صورتونو کې روا ده چې احادیثو کې یې یادونه شوېده او د مالك اجازه نه غواړي. که له مالکه یې اجازه واخلي بیا په هغه صورت کې روا ده چې د ګروي سبب پور نه وي. د شوافعو تګلاره دا ده چې که ګرو شي ته زیان نه رسېده ګټه اخیستل ځنې روا ده. د مالکیه وو مذهب دا دی چې له ګرو شوي شي ګټه اخیستل روا دي مګر په دې شرط چې لامل به یې بیه وي، د تړون مهال به د ګټې یادونه کېږي او وخت به یې ټاکل کېږي. د احنافو او امام اسحاق تګلاره دا ده چې ګروي روا ده، اما ګټه ترې اخیستل نه ده روا. ځکه دا پر قرض ګټه اخیستل دي چې سود ګڼل کېږي. . مګر که له مالکه یې اجازه واخیستله شي بیا یې ګټه هم روا ده.(۵)

امام شامي په رد المحتار کې د یوه سمرقندي عالم دا فتوا نقل کړې:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ أَسْلَمَ السَّمَرْقَنْدِيِّ وكَانَ مِنْ كِبَارِ عُلَمَاءِ سَمَرْقَنْدَ أَنَّهُ لاَ يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِشَيْءٍ مِنْهُ بِوَجْهٍ مِنَ الْوُجُوهِ وَإِنْ أَذِنَ لَهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الرَّاهِنُ، لِأَنَّهُ أَذِنَ لَهُ فِي الرِّبَا لِأَنَّهُ يَسْتَوْفِي دَيْنَهُ كَامِلاً فَتَبْقَى لَهُ الْمَنْفَعَةُ فَضْلاً فَيَكُونُ رِبًا، وَهَذَا أَمْرٌ عَظِيمٌ.

ژباړه:له عبد الله بن محمده چې د سمرقند له سترو پوهانو ګڼل کېده روايت شوی چې پر ګرو شوي شي ګټه اخيستل په هيڅ وجه نه ده روا که څه هم مالک يې اجازه ور کړي. څکه ده د سود اجازه ور کړه.اما د ده پور بشپړ پاته دی ګټه يې اضافه شوه. نودا سود دی او دا ډېره لويه خبره.

تر دې وروسته د رد المحتار ليکوال ليکي:

قُلْتُ: وَهَذَا مُخَالِفٌ لِعَامَّةِ الْمُعْتَبَرَاتِ مِنْ أَنَّهُ يَحِلُّ بِالْإِذْنِ . ثُمَّ رَأَيْتُ فِي جَوَاهِرِ الْفَتَاوَى: إِذَا كَانَ مَشْرُوطًا صَارَ قَرْضًا فِيهِ مَنْفَعَةٌ وَهُوَ رِبًا وَإِلَّا فَلَا بَأْسَ اهـ.(٦)

ژباړه: زه وايم دا د عامو باوري ويناؤ مخالفه ده څکه چې په اجازه يې ګټه روا ده. بيا مې په جواهر الفتاوا کې وليدل چې که مشروطه وي، نو قرض دی او پر قرض ګټه سود ده او که داسې نه وي؛ نو روا ده.

**سرچينې:**

(۱)سبل السلام، کتاب البيوع، باب الرهن: ۷۱/۲.

(۲)بخاري کتاب البيوع باب شراء النبي ص بالنسيئة ح: 2068.

(۳)مسند البزار، مسند ابي حمزه انس بن مالک ح: ۹۲۲۳.

(۴) صحيح ابن حبان کتاب الرهن ذکر البيان بان المرتهن له رکوب الظهر اذا کان مرهونا... ح: ۵۹۳۵.

(۵)الفقه على مذاهب الاربعة، مبحث الانتفاع بالمرهون: ۲/ ۲۹۸.

(٦)رد المحتار کتاب الرهن: ٦/ ۴۸۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عادتي عبادت

عبادت او عادت فرق سره لري. عبادت د خدای په امر د ثواب، هغه د رضا او غوره اخروي ژوند په تمه کېږي. عبادت هغه دی چې د خدای خوښه پکې مطلوب وي،عابد هغه دی چې د خدای د رضا په خاطر عبادت کوي. عبادت مقدسه جنبه لري، انګېزه يې سپېڅلې وي، عبادت بد اړخ نه لري، ټول عبادات غوره، مقدس او سپېڅلي دي.

اما عادتونه بيا ښه او بد اړخونه دواړه لري. کله د يو چا ځينې ښه کارونه عادت شوي وي او داسې هم کېږي چې ناسم کارونه يې په عادت بدل شوي وي. لکه: سګرېټ څکول، نسوار کول، تماکو په چلم کې څکول، تارياک خوړل، غيبت کول، د يوه بل خبرې هلته دلته وړل، لټ ګرزېدل او داسې نور.

عادت که ښه وي هم خلکو ته زما په اند او زما د مشاهدې له مخې د بل ناسم کار د نه کولو يا يوه بل ښه کار ته د هڅولو انګېزه نه ور کوي. داسې کسان مې ليدلي چې د عادت له مخې يې شيطانت خوښ نه وي. اما د هغه دا کار د دې سبب نه کېږي(يا هم زموږ په ټولنه کې داسې ده) چې نور هم له دې ناولې کاره راوګرزوي. اما يو څوک که د خدای عبادت کوي، نيت يې هم عبادت او د خدای لويي ته د بنده عالمانه خشوع وي، د هغه لمانځه ته له تلو سره لومړی نور خلک هم لمونځ ته متوجې کېږي او هغه کس خپل د لمانځه له ادايني سره د بل حق نه خوري. ځکه عبادت يوازې لمونځ نه دی، د بل له حقه ځان ساتل هم عبادت دی او هم دا فکر عابد کوي چې که زه عبادت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرداره جامه او بدن وکړم نو عبادت مې نه د قبول وړ دی او نه خدای داسې عبادت ته اړتیا لري.

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې عبادت په عادت بدل شوی. یو کس پنځه وخته په جومات کې د ملا امام شاته لمونځ کوي خو په همدې جومات کې د ګاوندي غیبت کوي، بوهتان پسې وایي، شیطانت کوي، خلك په جنجال سره اخته کوي، د نوور حقونو خوړلو ته توطیې جوړوي.

یو څوك روژه نیسي اما دروغ ویل ورته له خپل عبادت سره ټکر نه معلومیږي. د بل حق خوړل ورته د خدای له امره مخالفت نه ښکاري. له حلالو خوړو یې ځانونه بند کړي وي، اما د حرامو خوراکونو، حقونو او بې عدالتیو په کیسه کې بیا نه وي. حلال د خدای په امر ایله کوي، خو د همدې خدای په نوم بیا شیطانت نه ایله کوي، غیبت بد نه ورته ښکاري، بهتان د شیطان عمل نه ایله کوي، د خدای د بنده حقونه د خدای په امر هغه ته نه رسوي. دا ځکه چې عبادت یې عادت دی. په ټولنه کې د یوه رواج رنګ یې اخیستی دی. زما یو نږدې خپل دی، لمونځ نه کوي، خو روژه نیسي. ځکه روژه خوړل په پښتنو کې ډېر بد کار دی، له دې امله روژه نیسي او په ټولنه کې ځان نه بدناموي، اما د ورځې پنځه وخت لمونځ بیا چندانې کیسه نه ورته معلومیږي.

حج ته زیاتره خلك ځي او ځینې یې په داسې حال کې ځي، چې د ژوند اړوند ټولې اړتیاوي یې هم لا پوره نه وي، ځکه دلته حج کول رواج دی. خلك بیا ورته حاجي صاحب وایي او په ټولنه کې د عزت په سترګه ورته ګوري. له حجه چې راشي بیا خلکو ته کیسې کوي. خلك یې پوښتنې ته ورځي او ښې ډېري ورځې یې مجلس ته تازه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیخي تر کلونو په هر مجلس کې یادونه کوي چې موږ په حج کې داسې او هغسې وکړو. له هر کار سره یوځل حج یادوي او هر نااشنا کس په ځان خبروي چې حج مې کړی دی. زما یوه ملګري راته د کلي کیسه کوله چې یوه کس ویل: څلور لکه کالدارې مې مصرف کړې، دوی مې اوس هم د حاجي صاحب پر ځای؛ پلانی بولي.

مګر همدا کس د خپل یوه ګاونډي په کور کې د مریض پوښتنې ته نه ورځي. د غریب کلیوال په کور کې به ماشوم وږی وي، ناروغ به وي، جامې به نه لري، پیسې به یې لځې وي، د مکتب د تلو هیڅ به نه لري، خو حاجي صاحب ته دا فکر نه ور پیدا کیږي چې که د څلور لکه کالدارو وس لرم؛ نو زر روپۍ دې مسکین ته هم ور کولای شم. د یوه ناروغ پوښتنه هم د خدای د رضایت سبب کیږي. یو ماشوم مکتب ته رسول د دې ملت او هیواد د بنسټونو رغول دي.

د واړه اختر سرسایه او د لوی اختر قرباني ته نږدې هر کس هڅه کوي چې دا عبادت ادا کړي اما پر دې فکر نه کوي چې سرسایه د څه لپاره ده او چا ته یې ور کول د شریعت امر دی؟ قرباني ولې ښه کار ګڼل شوی او له دې څخه د رسول الله ص هدف څه و؟

سرسایه د کلي ملا ته ور کوله کیږي چې په هر کلي کې تر هغه ډیر مسکینان نور هم وي او د قرباني غوښې او پوستونه هم د ملا حق دي چې له شرعي هدف څخه دې دواړو عادتي او رواجي عبادتونو خورا لویه فاصله نیولې ده.

په کلي کې که څوک مړ وي او جنازې یا تعزیت ته یې یو کلیوال او قریب ور نه شي نو دا لوی پیغور دی. خلک دې کار ته هم عبادت وایي او هم یې رواج بولي. خو بل لور ته د ترکي په ویش کې نه یتیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پام کېږي، نه مېرمنې ته، نه خوندې حصه ورځای شي او حتا تر اوسه د مړه مېرمن، یتیمان او مال ټول میراث بلل کېږي. زموږ عادتي عبادت کونکي که یو لور ته په جنازه کې ګډون د خدای د رسول سنت بولي، خو بل لور ته یې د خدای په ستر امر سترګې پټې کړې چې مېرمنو، یتیمانو ته خپل حق ور کړئ او ګونډې د ځان په اړه خپل واک لري چې څوک یې په میراث نه شي وړلای؟!

زموږ له عابد سره کله هم دا فکر پیدا نه شو چې عبادت ته روان وي، له لارې یو موذي شی لرې کړي. د ګاونډي د سرای تر حویلۍ نه، بلکې تر خونې هم سترګې ور تېري کړي، دا فکر نه کوي چې که عبادت د خدای امر دی دا هم د خدای او رسول امر دی چې ګاونډي ته اذیت مه ور کوه، د خلکو سرایو ته مه ور ګوره.

یو څوک که ښه پاک ګرزي ټول خلک خبرې کې کوي او په مختلفو نومونو یې یادوي. څوک یې کوني بولې، څوک وایي، نجونو ته یې ځان تیار کړی، څوک وایي، مرداره دنیا لري په څه چم یې خلاصه کړي. البته ځان ته نه ګوري چې یو لورته د بل په شخصي ـ کار کې ګوتې وهي او بل لورته خیرن ګرزېدل هم د انساني عقل خلاف کار دی او هم د شریعت. رسول الله ص نظافت نیم ایمان یا د ایمان یوه برخه بللې او طبېوهان د روغتیا یو شرط نظافت یادوي، مګر زموږ رواجي عابدان یې له کولو ځانونه ګوښه کوي.

د عادتي عبادت له له شعوري عبادت سره همدا توپیر وي چې شعوري عابد که روژه نیسي، د خدای په امر له حلال خوراک څخه ځان ساتي، نو فکر کوي چې د بل حق هم خدای راباندې حرام کړی؛ ځکه نو ځان ساتنه ترې هم د خدای امر او هم عبادت دی. له حج سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زکات هم غريب او مسکين ته ور کوي. له جنازې سره د يتيم پر سر لاس هم ورتېروي. د رواج پر ځای خدای په نظر کې نيسي او د خلکو د خندا يا خوشالي لپاره کار نه کوي. کوم کار چې له دين سره اړه لري هغه د خدای په غوښتنه کوي. رواجي عابد د خدای په امر عبادت کوي، له دې يې هم د خدای امر پر ځای کول هدف وي او هم په ټولنه کې له بدنامۍ ځان ساتنه. ملا هم د خدای لپاره تراويح ور کوي او هم د اختر د ورځې سرسايه په دې نوم وړي. نکاح يو لور ته د خدای د رسول سنت بولي او بل لور ته په کولو يې ځان ته له خلکو پيسې غواړي.

دا عبادتونه د الهي خشيت اړخ نه لري. دا يوازې په ټولنه کې د رواج برخه شوي دي له دې امله يې خلك تر سره کوي. زموږ زياتره خلك چې زه يې وينم، که اعتقادن بې دينه نه دي نو عملا بې دينه دي. مسجد د تربور د مقابلې لپاره جوړوي. جومات کې لمونځ د خلکو له وېرې کوي چې بيا د بې لمانځه يا بې جماعته ټاپه ونخوري. روژه د کورنيانو او کليوالو له ډاره نيسي. حج د نوم لپاره کوي. جنازې ته له دې امله ورځي چې خلك پېغور ور کوي او که سبا دده څوك مړه و بيا به نور هم نه ورته راځي. مگر بل لور ته د خدای په امر د مېرمنو حقوق نه ور کوي، د يتيم مال خوري، د کونډې د مېړه اختيار ترې اخلي، نجونې په روپو ښه په پيخر خرڅوي، ملا د زکات په مقابل کې د لمانځه لپاره راولي، غيبت ورته عامې خبرې دي، بهتان هيڅ گنا نه ده، شيطانت بيداري ورته ښکاري، په معامله کې چل، دوکه بې وعدگي د کاروبار جز بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې زموږ عبادت که وي هم، نو یوازې رواجي اړخ لري. له دې رواجي عبادت سره ترڅنګ موږ هره ورځ په خپله ټولنه کې شل و سل ناروا، غیر شرعي، له خدای او رسوله د مخالفت کړنې هم کوو او وینو؛ خو هغه راته د خدای د امر ماتول او بې انصافي نه ښکاري. ولې؟ ځکه چې یا رواج دي اوس چا ته تر پام بدې نه ورځي یا زموږ ګټې پکې نغښتې دي چې د خپلو ګټو په لغته وهونکی راته احمق ښکاري که څه هم د خدای او رسول امر تر پښو لاندې کیږي.

زموږ ټولنه د عبادت په نوم د ډېرې بدې بې دینۍ ښکار ده. عبادت راته د تظاهر یوه غوره وسیله جوړه شوې. په غشي ـ دوه نښانه ولو، عبادت هم د خدای د رضا لپاره کوو او هم په ټولنه کې ځان ته ښه مقام په ګورو، د بدنامۍ مخه په نیسو او د بل پر شخصي کړنو د نیوکې حق ځان ته په پیدا کوو. د عبادت په نوم د عبادت فلسفه وژنو، د خدای په نوم خلك بې دینه کوو، د نبوي سنتو په نامه خپل ناسم رواجونه ساتو. مېرمن د کور بولو، دا مو رواج دی، مګر دې نوم ته مو د شریعت د پردې نوم غوره کړی، په دې نوم هم له عبادته بې برخې کړې ده او هم مو نن د زدکړو، کار او دفتر حق ځنې اخیستی. لنګوټه مو رواج ده، خو موږ اوس د نبوي سنتو مقام ور کړی او په دې توګه مو د لنګوټې لمانځه ته لوړ مقام ور کړی او بې لنګوټې لمونځ راته بیخي لمونځ نه ښکاري. لټان یو، کار راته خوند نه راکوي، د دې لپاره چې یوازیتوب کې دیغت وي، نو جومات ته ځو، ګرمه ځمکه اشغال کړو او تر ماخستنه ښې ګپې، غیبتونه، درواغ او بهتانونه ووایو او ماښام کور کې وایو چې جومات کې وم؛ لمونځ مې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور بايد عبادت او رواجونه سره بېل شي. دې رواجو زموږ د ټولنې لوی قشر په محروميت کې ساتلی. که نيوکه پر وشي خلك ټول اعتراض کوي چې د خدای دين نه مني. په داسې حال کې چې زموږ زياتره کارونه رواجي او تاريخي ريښه لري چې د عبادت جنبه يوازې موږ پسې تړلې. که دا حالت اصلاح نه شي، دا مهال نورې بدۍ هم زېږوي. له دې حالت سره مو د خشونت، زدکړو، کار، اقتصاد، اخلاقو، مدينت، سمو اړيکو، کلتور او حتا د شريعت غښتلې اړيکې شته. اصلاح يې زموږ په ټولنه کې د ژور بدلون زېری دی او نه اصلاح يې موږ هره ورځ تر بدو هم بدې ورځې ته ورټېل وهي.

د تدين له دومره چيغو سره مو په بازار کې د ښځو د لمانځه لپاره ځايونه نه‌شته، که روغتون ته ولاړ شې نو ډاکټر هم د لمانځه مهال مريض ايله کړي جمعې ته ولاړ شي، اما هلته ناستې لسګونه ښځې لمونځ نه کوي، د مسافرت مهال يو يا څو کسان اواز وکړي موټروانه لمونځ چېرې کوو؟ کله چې موټر ودرېږي، نارينه کښته شي يوې او بلې خوا منډې وهي اودس وکړي، څوك بولو ته په تاخته وي څوك لمونځ کوي چې رکوع او سجده يې سم سهي کېږي هم نه؛ خو له دې ټول ټېل ماټېل سره تر ننه له چاسره دا فکر پيدا نه شو چې موږ ولې د پردې په نوم له ښځو د زدکړو، کار، تجارت، بازار ته تللو، بهر وتلو، مسجد ته تللو او حتا لمونځ کولو حق اخيستی دی؟! دا زموږ د هغه رواج پايله ده چې د ديني چارو په اړه يې لرو. که د فرض خبره وي نو پر نارينه او ښځينه دواړو فرض دی، که نارينه ته جومات جوړېږي نو يوه برخه دې د ښځو لپاره هم ځانګړې شي، که د اودس ځای جوړوي نو مېرمنو برخه دې هم پکې بېله شي، که تشناب جوړوي نو د ښځو حصه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پکې معلومه شي. په دې ډول به مورږ یو لور ته ښځو ته خپل حقونه ور کړي او بل خوا به مو هغوی ته د عبادت موکه برابره کړې وي. د حیا او شرم له دومره قوي رواج سره مورږ په بـازار کـې عـمـومي تشـنابونه نـه لرو؛ خلك چې مورږ په بازار کې په تکلیف شي، نـو پـر چـرئ مـخ ور واړوي او بیا د اودس وچولو لپاره یـې واګـه پـه لاس کـې نیـولې وي او خلك دورې دورې پر تېرېږي، دا حالـت ځینـو تـه ښـه نـه ده ښـکاره شوی، نو یـې عکسـونه اخیسـتي دي چـې وګـورئ دغـه کـس ښـاري فرهنګ نه مرعاتوي، په داسې حال کې چې ښاریان د ښاري فرهنګ نه مرعاتولو ته په خپله زمینه جوړوي، یو لور ته په دغسـې مـواردو کـې د سختې حیا رواج لرو، او بل خوا بیا تشناب په بازار کې وجود نه لري.

یو بل ناسم رواج د ماشومانو پر عباداتو امر کول دي؛ زمـا پـه انـد تـر هغو چې ماشوم په شعوري ډول د عبادت په مفهوم پوه نه شي تـر هغـو دې عبادت ته نه امر کېږي. ځکه له دې ځایه عبـادت پـه عـادت بـدل شي، بیا عبادت کوو، اما په هدف یې نه پوهېږو. قران کـریم هـم وایـي چې یو نفس تر خپل وس پوري مکلـف دی، د ماشـوم وس دا نـه دی چې د مکلفیت د دورې عبادت او کارونه په وشي؛ که څوك فکر کوي چې له دې ځای یې ورته چمتو کوو، نو بیا باید هغه خرابئ هم په نظـر کې ونیسي چې له دې امله را پېښې دي. رسول الله ص هغه چا ته چـې د خولې یې بوی ځي، یعنې وږه یا پیاز و بل شی یې خوړلي وي، امـر کړی دی چې تر هغه به لمانځه ته نه راځي چې د خولې بوی یې ورك شوی نه وي ځکه خلکو ته تکلیف ور کوي، اما زمورږ خلك داسې پـر لمانځه درېږي چې د خولو او د کار د خیرنو جـامو بـوی یـې پـر شـلـم سړي لا مبتلي، دا له دې امله چې عبادت مو عادت جوړ کړی، مـورږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودس فلسفه نه ده درک کړې، موږ د روژې ماهیت نه دی پېژندلی، موږ د حج په پیغام نه یو پوه شوي، موږ د قران کریم تلاوت کوو، اما په معنا یې نه پوهېږو؛ په شپېته کاله عمر کې یوه انسان ته دا فکر نه ور پیدا کېږي چې زه ولې د دې مقدس کتاب په معنا ځان پوه نه کړم؟ ان داسې ښځې شته چې قران یې په الفاظو هم نه وي زده؛ دا نو څه عبادت شو؟ څوک چې یو فکر خپلوي، خو د معلوماتو له مخې یې مني، که معلومات نه وي، بیا څنګه د یوه شي په اړه یو لید لوری غوره کړي؟د هرې ایډیالوژۍ هغه اصلي پیروان دي چې د هغې ایډیالوژۍ په مقصد او هدف یې ځان پوه کړی وي او هغه یې تر پوهاوي وروسته منلې وي.

د رواجي ذهنیت، عادتي عبادت، ریاکارانه تدین او له رواجه د شریعت د ازادونې او اصلاح په تمه!

۲۰۱۸/ ۲/ ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شرعي تعبير

د شريعت ټول اسماني متون لومړی خاصې ټولنې ته په ځانګړو شرايطو کې نازل شوي دي. له دې امله نو د هغې ټولنې د غوښتنو، هغه وخت د حالاتو، ژبني اصطلاحاتو او له ګرامر سره تړلي ټول مسايل د هغې يوې ټولنې په نظر کې نيول کېږي. شرعي متن د انساني ټولنې د رفاه لپاره نازلېږي، له دې امله نو د بشر- حالات، غوښتنې، د ژبې قواعد، د معاشرې تقاضاوي او د هغه وخت حالاتو ته په پام احکام نازلېږي.

د بشر ليکنيزه او ګړنيزه ژبه پر يوه وخت د څو تعبيرونو احتمال هر وخت لري. احتمالات اصلن د وخت له تېرېدا، معاشرې له بدلېدا او د نورو انسانانو له راتلو سره نوي کېږي او هم يې لمن پراخيږي. يو انسان له بل سره يو رنګه فکر نه لري. وختونه هم خپلې بېلې -بېلې غوښتنې لري او هره ټولنه هم له بلې څخه مختلفې تقاضاوې لري. د يوه لغت ډېري معناوې، په مختلفو لهجو کې يې جلا - جلا شکل، د جملو په ترکيب کې يې مختلف ځايونه استعمال؛ د دې سبب کېږي چې له يوې جملې، يوه توري، يوې اصطلاح، يوې تشبيې او... څخه مختلف تعبيرونه واخيستل شي.

اسماني شرايع چې د انسان لپاره راغلي دي، لازمن له دې ټولو عوارضو څخه منزه نه شي کېدای. هر څه چې د بشر ژبې ته ور پېښېږي هغه ټول له شرعي متن سره هم لازمي دي. همدغه لامل دی چې په هره زمانه کې د شريعت له متن څخه تعبيرونه بيخي زيات وي او هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې خپلو حالاتو ته په کتو ځنې هغه تعبیر اخیستی چې د دوی په گومان د متن سم تفسیر، د دوی شته مسایلو ته ښه ځواب او له حالاتو سره د شرعي متن سمه عیارېدنه ده.

دا هغه چاره ده چې انسان په هیڅ وخت کې ترې تېښته نه شي کولای. د اسلامي شریعت له راغلي متن سره همداسې معامله شوېده. دا نن موږ ته را پاته لسگونه فقهې، مختلف مذهبونه، بېلا بېل شرعي تعبیرونه، د علماؤ جلا – جلا اجتهادونه او د خپل علم و چاپېریال سره سم د اسلام تفسیر وړاندې کول، د دې ښکاره ثبوتونه دي. دا کار نن هم جاري دی او پرون هم کېده. هیڅکله داسې زمانه نه راځي چې له شرعي متن څخه د نوي تعبیر مخنیوی وکړي.

انساني ژوند تل نوي پړاونه وهي. هر نوی پړاو یې له ځان سره په هره برخه کې ډېر نوي مسایل لري چې دا بیا په خپل وار د شریعت د تجدید غوښتنه کوي او همدا نوې کېدنه شرعي تعبیر هم بللای شو.
همدې ټکي ته په یوه حدیث کې داسې اشاره شوې:
«إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا».(۱)

ژباړه: بېشکه الله د دې امت لپاره د هرو سلو کلونو په اوږدو کې یو مجدد را لېږي چې شرعي تعبیر یې ورته نوی کړي.

په دې روایت کې راغلی د تجدید لفظ په خپل وار نوي کېدا ته اشاره کوي. زموږ له همدې بحث سره ښه پوره سمون لري. اما ځینو له دې حدیث څخه دا فهم اخیستی چې مجدد به شریعت بیرته شا ته وړي او د پخوا په شان به یې راښکاره کوي چې نه د روایت الفاظ دا ایجابوي او نه د وخت د تقاضا. ځکه تجدید نوي کېدا ته وایي او نوي کېدا دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ده چې شاته یووړل شي او د وخت غوښتني هم نوې کېږي او تر پخوا ډېر پېچلی شکل اخلي چې دا هم د تجدید غوښتنه کوي. نو په داسې یوه حالت کې به د شریعت شا ته وړل ګټور وي که یې له نویو حالاتو سره سمون مناسب او پر عقل ولاړه چاره ده؟!

له قران کریم او نبوي احادیثو سره د مسلمانانو په تاریخ کې همداسې شوي او اوس هم ور سره کېږي. سعودیان د شریعت له متونو څخه سلفي وزمه تعبیر لري چې د دوی له ملي ګټو سره ټکر نه کوي او د دوی په اند هغه څه چې دوی یې فهموي د شرعي متن موخه هما غه ده. ځکه انساني علم هر وخت د حالاتو او چاپېریال له قیده نه شي وتلای. سعودیان چې خپل چاپېریال ته ګوري او حالات ور سره ارزوي، نو له شریعته همدا تعبیر ورته مناسب او د شریعت و ځان په ګټه ښکاري.

ایران له شرعي متونو څخه جلا تعبیر لري چې پخوا علماؤ د هغوی فکري مکتب پیروان روافض بلل او نن یې زیاتره د شیعه ګانو په نوم یادوي. دوی له شرعي متن څخه د استنباط خپل اصول لري. شرعي تعبیر یې له هغه تعبیر څخه ډېر جلا دی چې سعودیان یې تري کوي. دا شرعي تعبیر نه د ایران او نورو شیعه میشتو سیمو له هیوادنیو ګټو سره ټکر دی او نه یې هغوی انسان وژنې ته اړ کړل. هغوی له همدې تعبیر څخه په استفادې د هیواد ساتنه کوي، ملي ګټې خوندي کوي، له نظامه دفاع کوي او...

پاکستان او هند کې میشت علماء هم د شرعي مسلو په اړه یوه خاصه تګلاره لري. نه سلفي نه شیعي، بلکې ځانونه احناف بولي، خو د احنافو اصلي مذهب یې دومره سکښتي دی چې اوس نو څوک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي حنفي مذهب نوم نه شي ورته کارولای. بلکې ځانته تعبير دی چې د ديوبنديت نوم دوی هم ورته منلی. برصغير کې يوازې همدا يو تعبير نه دی. بلکې د بريلويت او پنجپيريت په نوم دوه نور تعبيرونه هم شته. هغوی که د خپل برداشت لپاره هره تګلاره کاروي، خو د پاکستان او هند له ملي ګټو سره ټکر نه کوي. نظام نه را پرزوي. نظامي اورګان د شريعت تر نوم لاندې له پښو نه غورزوي.

ترکان هم د حنفي مذهب تعبير له شريعت څخه لري. خو هغه حنفي مذهب د ترکيې له سيکولر نظام سره ټکر نه کوي. هغه تعبير ډېر سوله ييز، بشرپاله، د هېواد ملي ګټو ته ژمن، له نظامه مدافع او د ترکانو په ګټه دی.

مصريان هم احناف دي. له شريعت څخه خپل ځانګړی برداشت لري. الازهر يې د شرعي تعبير لويه سرچينه ده. خو له هغه ځايه د وطن او ملت ضد تعبير نه راوزي. د مصر نظام له پښو نه په اچوي. د خلکو د ستونزو زياتېدو سبب نه دی شوی. د مصر پر پوځ د قيام لپاره دا تعبير ونه کارېده.

زموږ په هېواد کې د شريعت له متن څخه د يوه داسې سوله ييز، بشرپاله، ملت پاله او په مجموع کې د ملت او هېواد ټولو منافعو ته ژمن تعبير اړتيا ده چې له بده مرغه تر ننه زموږ علماؤ او مذهبي روحانينو دې لور ته پام ونه کړ.

زموږ مذهبي زدکونکي که ايران ته ولاړل د شيعه مذهب تر اغېز لاندې وي، که پاکستان ته ولاړل، پاکستانی تعبير يې منلی وي، که سعودي ته ولاړل شي، سلفي را ستون شي، که مصر ـ ته ولاړ شي اخوانی راشي او که بل ځای ته ولاړ شي هغه تعبير يې منلی وي او زموږ په ټولنه کې يې د پلي کولو هڅه کوي چې په يوه ټولنه کې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت دا ټول تعبیرونه نه ممکن دي او نه یې ټولنه ور سره مني ،له دې امله نو ټکر رامنځته کېږي او شرعي تعبیرونه په خشونت پسې اوړي او ټولنه د رفاه پر ځای د جنګ لور ته وړي.

که موږ د دې تشې د ډکولو هڅه پر وخت کړې وای، نو نن به د مذهبي مافیا له ګوزارونو سره نه وای مخ. نن به هر هېواد خپل تعبیر دلته نه را لېږلای او زموږ په ټولنه کې به یې د خشونت خاشاک نه په چمتو کولای.

زموږ د هغو ستونزو چې د نورو له شرعي تعبیرونو را پیښې دي، یوازینی حل دا دی چې دلته نوي شرعي، سوله ییز، ملي ادبیات رامنځته شي. داسې ادبیات چې د هېواد او ملت خدمت پکې کفر نه وي. خپلې ملي ګټې ساتنه له شریعت سره ټکر ونه ګڼي. د جنګ پر ځای سولې ته پکې پام شوی وي. د کرکې پر ځای مینه پکې ځای پر ځای شوې وي. د انساني وژنې پر ځای یې ژوند ساتنې ته لارې جوړې شوې وي. له خدایه یوازې د ډار پر ځای د هغه د مینې څپرکی هم پرانیزي.

زموږ دولت، علماء، د نظر خاوندان، قلموال او د مدرسو و پوهنتونو استادان دا دنده لري چې لومړی دې خلا ته د ډکولو مناسب توکي پیدا کړي. له ستونزو د وتلو یوازنۍ لار همدا ده. هیله ده چې د دې تشې ډکولو ته پام وشي. د خپل دین او شریعت د بدنامۍ مخه ونیسي او دنیا کې له خشونته ځانونه خلاص کړي او په اخرت کې د خدای د رضا ځانونه مستحق ثابت کړي.

۱ /۱۲ /۲۰۱۷

**سرچینه:**

(۱)(سنن ابي داؤد کتاب الملاحم باب مایذکر في قرن المائه: ۴۲۹۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ټولنه کې د خپل شخصیت ځای ټاکنه

زموږ یو بل لوی مشکل نن دغه هم دی چې د چارو متخصصان مو نه دي معلوم. دا چاره نه یوازې دا چې زموږ په ولس کې له بې علمۍ را پیښه ده، بلکې د مسلمانانو په تاریخ کې منشأ هم لري. تاریخي منشأ ورته لاړ جوړه کړه او موږ د ناپوهي له امله دا چاره نه یوازې ومنله بلکې سپېڅلې مو هم وبلله. که دا نن یوه دیني عالم ته ووایې چې څه وروره د خپل تخصص په ساحه کې دې کار کوه. هغه ځواب له همدې تاریخه در کوي. د هدایې ملا صاحب چېرې سیاست وایه چې د حکومتولۍ او سیاست په اړه بږغېدلی؟ کله یې حقوق ویل چې د حقوقو په اړه یې لیکنې کړې؟ امام شامي کله هغه او دغه علوم لوستل چې له عبادته بیا تر سیاسته د ژوند د ټول شیانو په اړه خپل کتاب کې بږغېدلی.

دا خبره که یو څوک نن له ناپوهي کوي، نو یوازې لامل یې همدا ناپوهي نه ده؛ بلکې په تېر کې داسې څه شته چې دې ناپوهي ته یې نن تقدس ور کړی. زموږ خلکو تر اوسه دا نه ده په ټولیز ډول درک کړې چې له تېر څخه یوازې زدکړه مهمه ده؛ نه دا چې نن ته د تېر په عینکو کې وګورو.

نن عمومي معلومات پدرد نخوري. یو کس باید په ځانګړې ځانګه کې سپیشلیسټ وي. دا که دیني علوم وي یا سیاسي، تاریخ وي که ټولنپوهنه، حقوق وي که نړۍ والې اړیکې او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو څوک داسې وي چې په ټولو موضوګانو کې د تخصص تر بریده لاسوهنه کوي، نو د خلکو د خندا به شي. دا سمه ده چې په ځینو موضوګانو کې یو دینپوه، سیاستوال، په ټولنیزو چارو کې نظروال او ... خپل ځانګړی نظر د خپلو معلوماتو تر بریده لري؛ اما هغه څوک چې د موضوع متخصص وي له ډېرو هغو زاویو ورته کتلای شي چې د نامتخصص بیخي ورته پام هم نه وي.

یوبل ټکی دا هم دی چې زیاتره وخت د یوه نامتخصص کس نظر او رایه له متخصص څخه ژر اغېزمنېږي. یا دا چې دی د یوې موضوع په اړه نظر خپلوي هغه یې هم ښایي د همدې سپیشلیسټانو له لیکنو، خبرو او کتابونو اقتباس کړی وي. که څوک نیوکه کوي چې متخصص هم امکان لري له بله متاثر شي او یا د هغه په نظر کې هم د نورو لیکنې او ویناوې ممکن اغېز وکړي، نو بیا توپیر په څه کې دی؟

دا سمه خبره ده چې انسان ارو مرو په هر حال کې له یو چاماتاثره کېږي؛ خو اغېزمنتیا هم حدود لري. متخصص له هغه چا متاثره کېږي چې تر ده یې معلومات نوي، خبرې یې رغنده، لاسوندونه یې کره او نوي څه یې وړاندې کړي وي. اما نامتخصص انسان تر ډېره بریده د موضوع په کره و ناکره نه پوهېږي. د ژور لید او ناژور توپیر نه شي کولای. زیاتره وخت د نوي او زاړه، غوره او ناغوره نظریات نه شي سره تفکیک کولای.

د سبط حسن دا خبره مې خوښه سوه چې نن ته د پرون په نظر مه ګورئ او د پرون په اړه د نن له شرایطو سره سم فیصله مه کوئ. له دې امله باید د نن په اړه د پروني عالمانو له کړنو، عملونو او معلوماتو سره سمه فیصله ونه کړو. له دې خبرې هم انکار نه شي کېدای چې د یو چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تعبیر، تفسیر او تحلیل کې ټولنه، زمان او مکان، شته چاپېریال، کلتور او... ښه جوت اغېز لري.

نن باید یو دینپوه دا اړتیا درک کړي چې که غواړم ټولنې ته خدمت وکړم، خپلې خبرې، کړنې او لیکنې مې گټورې شي، نه ځان پر ټولنه تحمیل کړم او نه ټولنه دې ته اړه کړم چې له وجوده مې په زحمت شي او بالاخره خپل علم مې هم په دنیا او هم اخرت کې راته مفید ثابت شي؛ نو لازمه ده چې په همدې دینپوهنه کې د تخصص تر اندازې ځان مخکې کړي. له دیني علومو سره تړلي ټول علوم یا له استاده زدکړي یا هم یې خپله مطالعه وکړي. په دې ډول به یې د شرعي تعبیر او تفسیر په برخه کې تحلیل وسیع، منطقي، د زمان و مکان له شرایطو سره همږغی، له کلتور سره همرنگه او له قانع کوونکو دلایلو سره مل وي.

یوه ژورنالیست ته هم دا پکار ده، تاریخ پوه ته هم او د نورو څانگو متخصصینو ته هم دا لازمي ده. نن په نوره نړۍ کې معلومات خورا ژر-ژر اپډېټ کېږي او د علومو ساحې هم ډېرې پراخې شوې دي. له دې امله د یوه کس لپاره نن ممکنه نه ده چې پر مختلفو علومو برلاسي تر لاسه کړي.

زما په اند نن دا گټوره ده چې تر مخلتفو علومو یوه ځانگه د تخصص لپاره وټاکل شي. لکه مخکې چې مې وویل، علوم خورا پراخ دي او هره ورځ د اپډېټ په حال کې هم دي. حتا دیني او شرعي تعبیرونه هم نن ژر- ژر بدلېږي، له دې امله نو نن یو کس په مختلفو څانگو کې دومره خدمت نه شي کولای لکه په یوه ځانگه ځانگړې څانگه کې. خدمت په دې معنا چې که په یوه ساحه کې کار وکړي؛ نو ممکن دومره نوي افکار دولید کړي چې په مختلفو موضوعاتو کې یې امکان نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې امله نو اړینه ده چې په ټولنه کې نن یو کس هم د خپل ځان د ګټې لپاره او هم د معاشرې د استفادې په خاطر د تخصص لپاره یوه ځانګه معلومه کړي. شخص ته یې ګټه دا ده چې د هغې څانګې د یوه متخصص په مرجع بدلیږي، د خلکو توجو ورته اوړي، خبره یې په خپله ساحه کې اغېز لري او خدمت یې هم په وس پوره وي او هم ټولنه د قدر په سترګه ورته ګوري.

جامعې ته ځکه مفید او کار یې د استفادې وړ وي او دی چې نوي افکار تولیدوي، نوی ګټور لیدلوری خپلوي، د ستونزو حل ته له داسې زاوې ګوري چې عوام او نامتخصص له هغې زاوې نه شي ور کتلای.

زموږ په ټولنه کې یوه بدمرغي دا ده چې هر کاره یو. د هر کاره، نو کار دا دی چې په هره مسله کې خبرې وکړي او له دې امله چې ځان ورته هر کاره معلومیږي؛ نو خپل نظر هم ورته غوره بریښي. له دې وجې کوښښ کوي چې تحمیل یې کړي.

موږ که د تخصص اړتیا درک کړه، ټولنه مو په دې پوه کړه، د هرې موضوع پوښتنه مو د هغې موضوع له متخصصه وکړه؛ نو د ډېرو ستونزو مخنیوی کیږي. دلته لوی مشکل دا دی چې د سیاست پوښتنه له ملا کوو؟ په اقتصادي موضوع کې مو ملا ګډوي؟ د نظام په چارو تر ملا بل ښه متخصص او پوه نه راته معلومیږي؟ له دې وجې هم خراب یو، هم ګډوډ یو او هم مو هر څوک په خپلو پولو کې پښه نه ږدي. ځکه یو سیاستوال چې ملا ویني له خپلې کمبلې پښه غزوي، سیاستوال هم په دین کې بیا ګوتې وهي. دا نور هم دې ته ورته معامله کوي.

که پولې معلومې کړو، د هرې موضوع سپیشلیسټ د هغې موضوع په متخصص وپیژنو، یوازې د هغې موضوع په اړه ترې پوښتنه وکړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



متخصص مو هم خپل د کار، وینا او لیکنې ځای وپیژني، خلك به هم په دې پوه شي چې د هغه د کار ساحه کومه ده او یوازې دلته یې خبرې وزن پیدا کولای شي؛ ځکه د بلې هرې موضوع په تړاو به هغه ته اړتیا نه وي. د هرې موضوع خپل متخصص به معلوم وي او د هغه خپلې ساحې پر اړتیاو به کار و لیکنې کوي او تحقیق به کوي. دلته نو د ستونزو مخه نیول اسانېږي، د هر چا کار معلومېږي، نه څوك د چا په کار کې مداخله ورکوي او نه د علومو ترمنځ پولې ګډوډېږي.

په هیواد کې د بېکارۍ کچه ځکه هر وخت لوړه وي، چې زموږ خلك هرکاره وي، هغوی بیا څوك د کار لپاره نه غواړي، کله چې یو یوکار سم زده نه شي، هسې ابتدایي زدکړه یې د کار موندې په برخه کې پدرد نه خوري، زموږ خلکو ته بویه چې خپله پېشه و حرفه ځان ته معلومه کړي، په دې سره د فقر او بېکارۍ ګراف کمېږي.

هیله لرم چې نور موږ په دې اړتیا ځانونه پوه کړو او د عمل لپاره لاس په کار شو.

۱۲ /۲ /۲۰۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زندان؛ د اصلاح ځای که د عقدې؟

د زمانې له تېرېدا سره ډېر شیان بدلېږي. د اسلام په پیل کې مسلمانانو زندان نه در لود. قران کریم د جنګي اسیرانو په اړه وایي:

فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا.(محمد: ۴)

ژباړه: کله چې له منکرینو سره مخ شئ غاړې یې وهئ چې ښه یې وکوټئ بیا یې ټینګ وتړلئ تر دې وروسته یا د احسان له مخې ایله کول دي یا هم د فدیې، څو چې جنګ سړېږي.

له دې ایت څخه معلومه شوه چې د اسلام له مخې جنګي اسیر کلونه په زندان کې ساتل ناسم کار دی. ځکه پایلې یې ډېرې خطرناکې راوزي. البته د ایت په اخیر کې یو قید راغلی چې تر هغو دا کار کوئ څو جنګ سړېدا ته نژدې کېږي. یعنې په جنګي حالاتو کې ممکنه ده چې زنداني تر یوه وخته په زندان کې وساتل شي. دا هم د هغه د اصلاح په خاطر نه زنداني ته د سزا ور کولو له امله. ځکه رسول الله ص د بنوحنیفه قبیلې مشر ونیوی او درې ورځې یې په مسجد کې بندي کړ. هره ورځ یې پوښتنه پر کوله، اخیر چې یې په هغه کې د اصلاح څرک ولید، له هر ډول قید او شرط پرته یې خوشي کړ او هغه هممهاله اسلام ومانه.(۲)

خو د زندانیانو مسله ټولنیز اړخ لري چې حالاتو ته په پام تغییر کوي. د یوه انسان نیول او بیا یې په بند کې اچول تر هر څه له مخه ددې لپاره وي چې هغه ته نور په ځمکه کې د فساد او تخریب زمینه برابره نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په زندان کې هغه داسې اصلاح شي چې نور د بدو لور ته کوږ نه شي.

له زنداني سره ښه سلوك کول او انساني اړتیاوې یې پوره کول د هغه بشري، اخلاقي او قانوني حق دی چې هر دولت او هره حکومت یې باید پوره کړي. د دښمن له نیول شویو کسانو سره ښه چلند کول د هغوی پر روان مثبت تاثیر کوي او د خپل دښمن په اړه د خپل نظر بدلولو ته اړ کیږي.

مگر بد سلوك یې تر پخوا هم ډېرو بدو ته هڅوي او انسان له خپل مخالف لوري سره عقده نیسي او د هغه په لاشعور کې کرکه او بدبیني ځای پیدا کوي چې د اصلاح پر ځای یې بد لور ته رهبري کوي. همدارنگه یوه کس ته د لس، شل او عمري قید سزا ور کول هم له کرکې او عقدې پرته بل څه نه زیږوي. دا نه یوازې چې زنداني خپله د مخالف لوري په وړاندې عقده اخلي، بلکې د هغه کورنۍ، خپلوان او ملگري و شناخته ټول په دې بد او ناوړه برخلیك اخته کیږي.

د زندان غټه سزا یو لور ته د زندان له هدف سره ټکر ده او بل لور ته یو مجرم نور جرم کولو ته هڅوي. زندان باید د مجرمینو لپاره د اصلاح مرکز وي. دلته باید راغلي کسان له بدو اخلاقو تخلیه کړل شي، ناسمې ارادې یې په سمو بدلې شي، بد تصامیم یې په غوره تصمیمونو تبدیل شي. په اینده کې ټولنې ته د زیان پر ځای خدمت وکړي.

له بده مرغه چې زموږ په اوسنۍ نړۍ کې یو لور ته د مجرم لپاره بند سزا ټاکل شوې او بل دومره اوږده قیدونه ور کوي چې په انسانانو کې د اصلاح پر ځای عقدې زیږوي. د دریېم نړۍ په هېوادونو کې خو د قیدیانو حالت هم ډېر بد وي او د یوه بندي انسان په توگه یې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقونه نه ور کول کېږي. دا په خپل وار څو جنایتونه زېږوي. د انسان حقونه خوړل هم د انساني قانون له مخې جرم دی او هم د اسماني. زنداني سره بد سلوك هغه لا نور جنایت ته هڅوي چې دا هم د قانون له مخې جرم دی. د زنداني بد وضعیت ته په کتو یې ټول قریبان او ملگري دښمنۍ ته هڅول کېږي او د هغوی په جرم کولو کې د زندان خاوندان گواکي غیر مستقیم لاس ور سره لري. دا هم د جرم یو ډول دی.

زموږ د هېواد په زندانونو کې زرگونه کسان بندیان وي. دلته داسې پېښې هم کېږي چې له سیاسي بندیانو سره نور بندیان یو ځای اچوي. سیاسي بندیان خپلو منځو کې گپې سره کوي او دا نور هم خپل لوري ته را بولي چې اخیر هغوی ور سره یوځای کېږي. له زندانه تر خلاصون وروسته دا کسان د وسله والو سیاسي مخالفانو لیکو ته ورځي او د حکومت خلاف وسله واله مبارزه پیلوي. داسې هم کېږي چې له نشیانو سره نور کسان بندیان کړي او هغو هم د خپل بند په اوږدو کې په نشو اخته شي، د بندي کېدا مهال نشه نه کوي، خو د خلاصون مهال نشیي وي.

له دې ښکاري چې حکومت یوازې زندان جوړ کړی؛ نور اصلاحي پروگرامونه نه لري.. لږ ورځې مخکې بي بي سي د هېواد د زندانونو په اړه را پور در لود. هلته ادعا وشوه چې د زندانیانو حالت ډېر خراب دی. که حکومت غوښتلای چې سیاسي مخالفین اصلاح کړي، مجرم بیا خپل جرم ته ونه گرزي او د سیاسي مخالفانو په لیکو کې درز پیدا کړي او د بشري قوې له کمښت سره یې مخ کړي، نو نه یوازې چې د زندانیانو هر ډول حقونه یې ور کړي وای، بلکې دا هم د حکومت وظیفه وه چې هغوی ته یې په زندان کې اصلاحي پروگرامونه جوړ کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای او هغوی تر خلاصون وروسته په ځانو کې يو لوی تغيير احساس کړی وای، نه دا چې تر خلاصون وروسته هغوی نور هم په ډېر جوش او شوق د جنګ ميدان ته را ودانګي.

د زدکړې زمينه برابرول، د مطالعې وخت ور کول، په اوونۍ کې لږ تر لږ د يوساعت لپاره بهر ايستل، اخلاقي لارښوونې ورته کول، ماشومانو ته د مکتب زمينه مساعده ول، نشيانو ته د نشو بدوالی بيانول، مجرمين په دې پوه کول چې جرم بد کار دی او نه يوازې دا چې ټولنې ته يې زيان رسېږي؛ بلکې خپله يې دوی ته هم رسېږي ځکه په دنيا کې د نوم له بدوالي سره زندان ته لوېږي، مالي زيان ورته رسېږي او په اخرت کې خدای سزا ور کوي.

زندانی ته د ټولو حقونو له ور کولو سره که هره ورځ هغه ته د ښو تلقين وشي، نو اخير يې په روان او تحت العشور کې ځای نيسي- او د بدو پر ځای د ښو خوا ته ځي. لږ تر لږه که ټول متاثر نه شي او له بدو ځان ساتنه غوره نه کړي نيمايي يا هم درېيمه برخه خو به يې متاثر شي او اينده به د خپل عمل اصلاح ته متوجې شي.

هر انسان د اصلاح وړ دی، البته د هر انسان د اصلاح ډول او اصلاحي ميتود يو تر بله توپير لري. که په زندانو کې روانپوهان خلک پر کټګوريو سره ووېشي او بيا ورته مناسب استادان او غوره اصلاحي طريقه وړانديز کړي، نو په لنډ وخت کې به يې مثبته نتيجه وليدل شي.

۲۰۱۸/ ۵/ ۲۴

**سرچينه:**

(۲)صحيح البخاري، کتاب المغازي، باب وفد بني حنيفه و حديث ثمامة بن اثال: ۴۳۷۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ نومونه زموږ په ژبه

د اسلام له راتلو سره هممهاله، پر هغو قومونو فرهنګي یرغل هم وشو چې هېوادونه يې د مسلمانانو تر واک لاندې راغلل. مصر یو افریقایي هېواد دی، خو د مسلمانانو له ورتلو سره يې نه یوازې د هغوی دین او مذهب بدل کړل؛ بلکې د کلتور زیاتې برخې او ژبه يې هم ور بدل کړل. مصریان نن عربي ژبه وايي. همدا شان سوډان هم د مصر په ورته برخلیک اخته شوی دی.

ځینې هېوادونو که خپله ژبه ساتلې ده، لکه ایران، افغانستان، پاکستان، د منځنۍ اسیا هېوادونه او یا نور، خو بیا يې هم پر کلتور او ژبه ښکاره اغېز ور کړی دی. که نیمایي لغات يې عربي نه دي، نو په درې برخې کې یوه برخه خو يې ارو مرو عربي الفاظ تشکیلوي.

هغه مهال د عربي فرهنګ د خپرولو لپاره عربو شعوري کار کاوه او په لوی لاس يې د نورو قومونو فرهنګ، عنعنات، ژبه، له پخوا ور پاته تاریخي اثار او مذهبونه له منځه وړل. په دې ډول هغوی وکولای شول چې په لنډ وخت کې خپل دین د نړۍ په ډېرو شمېر قومونو ومني. دوی د پوځ په وسیله دا ټول کارونه سرته رسول. ځکه د هغه وخت له عربي مسلمانانو سره د نورو نامسلمانو لپاره یوازې درې اپشنه وو چې لومړی اسلام منل، دویم جزیه ور کول او درییم جنګ و.(۱)

طبیعي خبره ده چې هر قوم او د هر هېواد د وخت حکومتونو په پیل کې نه اسلام منلو ته تیار وو او نه هم جزیې ته، له دې امله نو سختې جګړې وشوې او کله چې به د یوه هېواد نظامي قوه له منځه ولاړه، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به عوامو بله لار نه در لوه چې یا اسلام ومني یا هم جزیه. ایران تر ټولـو لومړی د مسلمانانو تر برید لاندې راغـی. تـر شـدید مقاومـت وروسـته هغوی اسلام ومانه. افغانستان ته هم د دویم خلیفه عمر فـاروق رض پـه وخت کې مسلمانان داخل شول او د امویانو تـر وختـه وجنګېـدل چـې اخیر یې تر ښه ځېل کېدا وروسته د جزیې پر ځای اسلام ومانه.(۲)

له دې خبرو مې هدف دا دی چې دلته هـر څـه پـه زور وتپـل شـول. څنګه چې د دین او مذهب په معامله کې لـه زور څخـه کـار واخیسـتل شو، همدارنګه د فرهنګ په ورکولـو، ژبـې بـدلولو، تـاریخي اثـارو ور کولو چې دوی ورته د جاهلیت د وخت اثار ویل، د اخلاقو تغییر کولـو او نورو کې هم زور ته ځای ور کول شو. ځینـې کارونـه د جاهلیـت د وخت اعمال وبلل شول او د ورکېدا ټاپه یې وخوړه او نور بیـا د بـدعت په نوم د ورکې کندې ته ور ټېـل وهـل شـول. دا نـن هـم لـه دې دواړو نومونو څخه د ځینې پښتني رواجونو خلاف کار اخیستل کېږي او موږ یې په خپلو سیمو کې ژوندۍ بېلګې لرو.

زور یې په دې معنا وو چې تر عجمـي یـې پـه حکـومتي چـارو کـې عربي ته زیاته ترجیح ور کوله. عرب قوم غوره و، په عـربي ږغېـدا، پـه عربي لیک لوست کول او د عربي زدکړه د ثواب کـار ګڼـل کېـدل. پـه حکومتي کچه د دفتر او دولـت ژبـه عـربي وه، د مـذهب او علـم ژبـه عربي وه. عرب د یوه فاتح قوم په توګه د نورو قومونو لپاه ایډیال و. له دې امله ګڼشمېر قومونو د عربو په هڅونـه او یـا غیـر شـعوري توګـه یـا خپل فرهنګ، عنعنات، ژبه او تاریخي اثـار ایلـه کـړل چـې ځـای یـې عربي فرهنګ، ژبې او د مسلمانانو تاریخي اثارو ډک کـړ یـا خـو یـې خپل هر څه یو مخیز ایله نه کړل، بلکې په خپل هر څه کې یې د عربي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلتور، ژبې او تاريخ ډېر څه ته ځای ور کړ. سوډان و مصر- د لوړي کتار مثالونه دي او ايران و افغانستان يې د دويم.

د ژبې او کلتور له اغېز سره زموږ په نومونو کې هم ژور بدلون راغی. خلکو هڅه کوله چې پر خپلو اولادونو عربي نومونه کښېږدي. له دې سره زموږ د پښتني قبيلو شجرې هم بدلې شوې. اسحاق زی او دې ته ورته نور يې ښه مثالونه دي.

دې کار ځو لاملونه در لودل. يو خو عرب فاتح قوم و، نو د وخت خلکو ته همدوی ايډيال وو، له دې امله يې په ډېرى شيانو کې د هغوی پيښې کولې. حکومت د عربو په لاس کې و، هلته عربي مکتوب، عربي نوم، عربي ژبې اغېز در لود، دا بل لامل و چې خلکو عربي فرهنګ خپلاوه او نومونه يې هم هغوی ته ورته کول. د عربي نومونو په اړه عربو ځيني احاديث هم در لودل چې خلك يې د هغوی د نوم په ايښودلو د ثواب حقدار بلل. مثلن په يوه روايت کې دي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحَبُّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى عَبْدُ اللَّهِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ» (۳)

ژباړه: ابن عمر رض له رسول الله ص روايت کړی چې ويل يې: الله تعالی ته عبد الله او عبد الرحمن خوښ نومونه دي.

له دې څخه ښکاره شوه چې په خپله ژبه تر نوم ښودنې د عربي نوم ايښودلو ته شعوري کار هم شوی دی او د ثواب وعدې ور کول شوې. تر اوسه هم زموږ خلك فکر کوي چې دا حديث يوازې په عربي د همدې عبد الله او عبد الرحمن نومونه د خدای خوښ نومونه بولي په داسې حال کې چې داسې بيخي نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ژبه د خدای ژبه نه ده او نه هم یوه ژبه خدای پیدا کړې او دا نوري خلکو. کله چې نه د خدای ژبه شوه او نه هم یوازې هغه خدای پیدا کړې، نو بیا ولې په عربي د عبد الله نوم د خدای خوښ دی او که عیني همدا مفهوم د بلې ژبې په کلماتو ادا کړو هغه به د خدای خوښ نه وي؟!

بله نکته دا ده چې تر رسول الله ص مخکې انبیاء تېر شوي او د هغوی نوم په خپله ژبه همداسې ښودل شوی چې د عبد الله معنا یې ور کوله، لکه د اسرائیل. دا د یعقوب علیه السلام نوم دی او عیني د عبد الله معنا لري.(۴)

د حدیث په متن کې ماته لږ ستونزه معلومېږي. ځکه رسول الله ص د خپلو لمسیانو نومونه عبد الله او عبد الرحمن نه دي ایښي، په داسې حال کې چې روایت وایي، تر ټولو خوښ نومونه الله ته همدا دوه دي، نو بیا رسول الله ص ولې د خپل کور پر ماشومانو هغه نومونه نه دي ایښي چې الله تعالی ته تر حسن و حسین خوښ وو؟!

د حدیث متن هم په یوه ډول نه دی روایت شوی. د مسند احمد په یوه ورایت کې چې له همدې ابن عمر رض څخه دی،د (کان احب الاسماء الي رسول الله) توري راغلي؛ د مسند احمد په یوه بل حدیث کې بیا د (ان من احسن اسمائکم) الفاظ دي او د مسند احمد په درېیم روایت کې چې له خیثمه بن عبد الرحمن څخه شوی داسې راغلي( ان من خیر اسمائکم عبد الله و عبد الرحمن و الحارث).

د مسند احمد په (۱۷۶۰۷) نمبر حدیث کې له همدې خیثمه نقل شوي دي چې د ده د پلار نوم عبد العزی و، د ده نیکه رسول الله ص ته د هغه یادونه وکړه چې رسول الله ص ورته وویل، ستاسې ربښتني

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومونه عبد الله و عبد الرحمن دي او د هغه ماشوم نوم يې عبد الرحمن کېښود. له دې ثابتېږي چې يو لور ته د روايت متن يو رنګه نه دی، نومونه هم کله زيات او کله کم ښودل کېږي او په درېيم قدم کې دا نومونه يوازې د يوه کس د ناسم نوم په اورېدو وړانديز شوي دي چې د خدای خوښ يې نه دي بللي، بلکې وايي دا د معنا له پلوه تر دا بل رښتنی دی له دې امله د هغه هلك نوم عبد الرحمن ښودل شوی.

که ډېری خلك همدا نومونه پر اولادونو کښېږدي يا هم د دې مفهوم؛ يوه ستونزه د خلکو د نه پېژندلو هم ترې پيدا کېږي چې د نومونو ترمنځ التباس به خلکو ته په لوی سرخوږي بدل شي.

يوه مهمه تېروتنه چې دلته کېږي هغه دا ده چې فکر کېږي عبد الله او عبد الرحمن نومونه يوازې په عربي ژبه د خدای خوښ دي، که په بله ژبه دا مفهوم ادا شي؛ نو د خدای هغه رنګه نه دی خوښ لکه د عربي عبد الله. مګر دا فکر زما په اند ناسم دی. که دا روايت له دې ټولو مشکلاتو سره ومنو، بيا هم يوازې د همدې مفهوم خبره کوي نه د الفاظو. په هره ژبه کې چې يوه نوم د عبد الله(د خدای بنده) مانا ور کوله، هغه د خدای خوښ دی نه دا چې لازما بايد په عربي وي.

د نومونو مسله اوس خورا جدي ده. په اسنادو کې د نوم ډېره وړه تېروتنه يو کس له بلا ستونزو سره مخوي. زما يو خورېيی دی، په تذکره کې يې نوم د (سفر محمد) پر ځای (صفر محمد) ورته ليکلی دی. په داسې حال کې چې ياد نوم په سين ليکل کېږي. زموږ په ژبه کې زياتره ځايونه د (پېښ) پر ځای (و) کاروو، مګر عرب حرکت(پېښ) استعمالوي. له دې امله هغه کسان د نوم په ليکنه کې زياتره وخت خطا وزي چې له عربي ژبې سره سم شناخته نه وي. زما يو ملګری وو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټليفون کې يې د (عبد الله) نوم په (اودولا) ليکلی و. د يوه بـل مگـري تخلص مې (عظمي) و، ملگرو به (عزمي) ليکلی و.

بل لور ته يې د ويلو مشکل دی. پښتانه چې پـه خپلـو ژبـه کـې دغـو مخارجو ته (ص، ذ، ق، ح، ع، ض، ظ، ط او) ځای نـه لـري، لـه دې امله د هغه نوم په ويلو کې مشـکل لـري چې دا تـوري پکـې اسـتعمال شوي وي. مثلا: موږ عصمت اسمت وايو، عبـد الـرحمن، اودورالرمـان تلفظ کوو، عبد الحميد، اودولهميد وايو. که زموږ نومونه پـه پښـتو ژبـه شي، نو د ويلو او ناسمې املا له تېروتنو به تر ډېره حده خوندي شو.

پښتانه په مجموع کې غير عرب ټول د عربي نومونو په معنا يا بيخي نه پوهېږي، يا سم نه پرې پوهېږي. له دې امله يې هغه نومونه هم ځانو تـه خوښ کړي وي چې معنا يې ناسمه وي. لکه: عباس، د عباس معنـا ده تريو تندی. په قران کريم کې هم راغلي: عبس وتولّی. يعني تندی يـې تريو کړ او مخ يې وگرزاوه. موږ چې د عربي نوم په معنا نه پوهېږو، نـو ځکه زياتره وخت انتخاب هم ناسم کوو. زموږ په کلي کې درې کسه د عبد المحمداو عبد النبي په نومونو وو. د ايرانيانو په نومونـو کـې هـم د عبد الحسين او عبد العلي نومونه ډېر تر سترگو کېږي. عبد العلي کې که علي د خدای صفت ونيسو، بيا پروا نه لري اما که د علي رض نـوم يـې وگڼي بيا دا نوم هم د معنا له مخې ناسم دی.

دلته به د ځينو عربي نومونو معنـاوې ولـيکم: عائشـه: ژونـد، سـفيان: گړندی، فاطمه: له تي پرېکوونکې، معاويه: کونگری يا کـوچنی سـپی، عثمان: هوښيار/مکار، محمد: ستايل شوی، احمد: سـتايونکی، خالـد: تل پاته، ولیـد: هلـك، خـادم، مرېبـی، زبیـر: هوښـيار، د پخـې رايـې خاوند، پياوړی، منصور: بريالی، جنيد: عسکر/همکار، حميـد: سـتايل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، ښه اخلاق لرونکی، مصور: انځورگر، نقیب: مشر، عباس: تریـو مخـی، بریـدگر زمـری، حمـزه: تریـو، سـخت، پرېکنـده، مطلـب: غوښتونکی، عبید: غلام یا مرییی، زیـد: وده، زیـادت، سـلطان: غلبـه، قووت، عوض: بدل، مقابل، صادق: رښتنی، صـالح: نیـک، مسـتقیم، صدیق: ملگری، نجیب: اصیل، غوره، هوښیار، وکیل: ساتونکی، د بل چـا دوسـیې تـه ټاکـل شـوی کـس، اسـماعیل: د اللـه د امـر یـا کـلام اورېـدونکی، ابـراهیم: مهربانـه پـلار، د خلکـو پـلار، د ډېـرې ورور، ادریس: ښوونکی، داؤد: محبوب، رفیق: نرم، ملگـری، عزیـز: غالـب، عزتمن، لوړ مقـام لرونکـی، بشـیر: ښایسـته مخـی، زېـری راوړونکـی، شفیق: مهربان، ناصح، نرمي کوونکی، صفیه: غوره، له عیبه پاکه، ډېـره شیدې کوونکې اوښه، ډېره میوه کوونکې ونه، له غنیمته مشر ـ تـه غـوره شوې برخه، رابیه: غونډۍ، زینـب: ښـکلې او ښـه بـوی لرونکـې ونـه، زینت: ښایسـت، بکـر: د هـر شي اول، عمـر: ژونـد، عمـران: ودانـۍ، اسرار: پټ، انیس: نرم، مینه ناک، انس: هغه شی چې الفـت و مینـه پـه کېږي، یعقـوب: تعقیبـوونکی، اسـحاق: خندېـدونکی، مـریم: عابـده، عبادت کوونکې، یوسف: زیادت، چندونه، موسی: چاړه، ژغورونکی، مو: اوبه، شی: ونه، موسی علیه السلام ته ځکـه دا نـوم ور کـول شـوی چې همداسې ځای موندل شوی، عیسی: ژغورونکی.

نوټ: ځینې نومونه د اصل له مخې عـبراني دي، خـو پـه عـربي کـې استعمال لري.

یوه بله تېروتنه دا کوو چې عرب مرکب نومونه خوښـوي، مـوږ بیـا پـه تلفظ کې ساده و لنډ نوم خوښوو؛ زموږ خلکو ته هم دا فرهنگ را عـام شوی دی چې زیاتره ترکیبي نومونه ږدو، خو ډېری بې معنا وي. لکـه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سفر محمد نوم؛ معنا د محمد سفر. د نوم په معنا کې بايد جذابيت وي، سم د پوهېدلو وړ مفهوم ور کړي، نه دا چې زموږ د ترکيبي نومونو په شان يا بې معنا، يا د ناسمې معنا ور کونکي يا هم داسې ترکيب وي چې نيم عربي وي او نيم پښتو. لکه، اختر محمد؛ عرب په خپله ژبه کې اختر نه لري، محمد بيا عربي دی، نو اختر محمد، باز محمد، محمد رسول، دا ناسم ترکيبي نومونه دي. محمد غفور بيا د معنا له مخې ناسم دی.که موږ په خپله ژبه کې د نوم ښودنې فرهنګ عام کړو تر ډېره حده له دې ستونزو خلاصېږو.

بل مهم ټکی زموږ د خپلو نومونو او خپل فرهنګ وده ده. که موږ همداسې عربي نومونه استعمالوو او خپل پښتو نه کاروو، نو پښتني فرهنګ به ورو- ورو له ورکېدا سره مخ شي. د نومونو په مسله کې د پخوانيو اثارو په اړه پلټونکي علماء د ځينو کسانو په اړه بيخي د قومونونو او هويتونو پرېکړې کوي چې دغه نوم له پلاني قوم سره تړلی دی او هغه له پلاني سره، که څه هم دغه تګلاره علمي او منطقي تر ډېره نه بريښي خو بيا هم د دې ځينې پيروان شته چې که زموږ په اړه وورسته خبره کېږي نو ښايي نيم خلک مو له پښتنيته وايستل شي او عرب يې خلک وګڼي. لنډ مثال يې د سيد جمال الدين دی، چې زموږ او ايرانيانو دواړو پرې دعوه ده، که د هغه نوم پښتو وای، بيا يې چا د خپلولو دعوه نه شوای کولای.

ويعلق بعض العلماء أهمية كبيرة على أسماء الأشخاص في إثبات أصولهم.(۵)

ژباړه: ځينې علماء د اشخاصو د اصولو په اثبات کې نومونو ته زيات اهميت ور کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عربو نومونه زیاتره مرکب نومونه دي. دوی زیاتره د ابو پلان یا ابن پلان کنیه نومونه هم کاروي او زموږ په پښتنو کې دا شی نه شته. پښتانه د خپلې لهجې له مخې د عربو درانه او ثقیل توري و نومونه نه شي ویلای، له دې امله اړینه ده چې د عربي نومونو پر ځای پښتو نومونه انتخاب کړو چې هم یې لفظ ښکلی وي، هم په ویلو کې اسانه وي او هم یې معنا خوندوره وي. نن په نوم کې خلک دا درې واړه شیان په نظر کې نیسي او بیا یې غوره کوي. ما له نن څخه درې کاله مخکې د خور زوی ته (ایمل) نوم خوښ کړ. زما اخښي یوه ملا ته ددې نوم یادونه کړې وه. ملا ورته ویلي وو، سم کتابي نوم پر کښېږده دا نو اوس چیشي دی؟ ده ویل، ما پوښتنه وکړه چې کتابي څنګه؟ هغه د جمعه خان نوم ورته یاد کړی وو چې په جمعه پیدا شوی دی نو جمعه خان یې کتابي نوم دی!!!

زموږ د ملایانو یو مشکل دا هم دی چې خپله ژبه ورته پردۍ ده. دوی د خپلې ژبې په اړه یا بیخي مطالعه نه لري یا که یې لري، نو ابتدایي به وي. له دې امله تر خپلو نومونو او کلیماتو د بلې ژبې نوم او کلیمې خوند ور کوي. موږ ملایانو په ویناوو کې وینو چې زیاتره عربي کلیمې، اصطلاحات، جملې او متلونه کاروي. له دې امله د عوامو سم سر نه ور سره خلاصېږي او له دې امله یې ویناوي هم ښه اغېز نه لري.

د نوم، تخلص او لقب موضوع باید نن جدي ونیوله شي. د هر نوم په انتخاب کې باید موږ لومړی د هغه تلفظ، بیا یې لفظي و معنوي ښکلا ته پام وکړو. تر ډېره حده زما په اند باید پښتو نوم غوره شي. یو لور ته خو اسانه دي، بل لور ته یې خلک په معنا هم پوهېږي. د لفظ ښکلا هم مهمه ده او ډېر خلک یې د لفظي او معنوي ښکلا په اړه خپله هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېکړه کولای شي. له دې ټولو سره باید په انګلیسي ژبه لیکلو او ویلو ته یې هم پام وشي، ځکه ځینې پښتو نومونه و تخلصونه په انګلیسي- سم نه لیکل کېږي او چې درست ونه لیکل شي، ویل یې هم ستونزې پیښوي. پښتانه مفرد نوم خوښوي، مثلن: ایمل، که له دې سره اړتیا شوه چې اول نوم، دویم و اخیري ورسره پیدا کړي، نو کولای شي چې تخلص اضافه کړي، که ایمل نوم محمد ایمل هم شي، خلك یې ایمل وایي، که ایمل خان هم شي خلك یې یا خان وایي یا ایمل، زموږ ګړنۍ ژبه ترکیبي نومونو ته نه ده جوړه او هر مرکب نوم موږ پرېکوو. که په اسنادو کې د مرکب نومونه موضوع مهمه وي، نو ښه مرکب نوم ورته انتخابولای شي، خو په ویلو کې دې یوازې یو نوم ورته اخلي، مثلن: احمد ایمل خان، دې یوازې په ایمل یادېږي.

۲۰۱۸/ ۵/ ۲۴

**سرچینې:**

(۱)فتوح الشام، وصیة ابي بکر:۱/ ۱۰،دمحمد بن عمر الواقدي لیکنه.
(۲)فتوح البلدان، فتوح خراسان: ۱/ ۳۹۲، د احمد بن یحیی البلاذري لیکنه.
(۳)ابوداؤد، کتاب الادب، باب في تغییر اسماء: ۴۹۴۹)
(۴)تفسیر الطبري، تفسیري سورة البقره، ۴۰ باب: ۱/ ۵۵۳، د محمد بن جریر الطبري لیکنه.
(۵)المفصل فی تاریخ العرب قبل الإسلام (4/ 276)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ سنه

که دا نن هم زموږ حکومت اعلان وکړي چې له ننه وروسته به د هجري شمسي پر ځای؛ میلادي سنه کاريږي، نو شونې ده چې ځینې دین، شریعت او علم ته منسوب کسان به سمدستي د حکومت او نظام د تکفیر فتوا ور کوي.

دلیل به دا وړاندې کوي چې حکومت د اسلامي شعایرو د محوه کولو تکل کړی. جالبه دا ده چې نه به شعایر تعریفوي او نه به په خپل شخصي ژوند کې ورته اهمیت لري؛ خو که د نظام په برخه کې د ده په نظر یوه نیمګړتیا په نظر ور شي، نو هغه دم بیا دی د اسلام او اسلامي شعایر مدافع وي.

زموږ په سیمه کې شته فقر، رواني بې انصافي، د خلکو عقدیي کول، له اسلامه ناسم تعبیر، د استخباراتو لاسوهنه، بېکاري او ... ټول عوامل د دې سبب کيږي چې د اصلاح پر ځای خلکو ته سوتې اخیستل اسانه وي. د پوهاوي پر ځای په ناپوهاوي د ځینو شعارونو د نارې په پورته کولو د نظام خلاف جنګ ورته حلالر ښکاري. پر ځینو مفاهیمو د بحث پر ځای دا ورته ښه بریښي چې د ده نظر په ټوله معنا ومنل شي او د هغو مبهمو مفاهیمو لپاره دې ټول ژوند وقف کړي.

د سنې له موضوع خلکو همداسې یوه حساسه مسله جوړه کړې. په داسې حال کې چې له سنې څخه هدف حساب، د کارونو مهالویشت ټاکنه او تنظیم دی. د هدف په تر لاسه کولو کې که هره سنه استعمال شي، نو د شریعت له اړخه کومه ستونزه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو بل اړخ دا هم دی چې سنې تر اسلام مخکې هم موجودې وې او تر اسلام وروسته هم شته. عربو تر رسول الله ص مخکې هم د ځان لپاره سنه در لوده او د هغې له مخې يې حج، عمره او حرامې مياشتې پېژندلې. له دې امله چې کله مدينې ته تر هجرت وروسته په حرامه مياشت کې مسلمانانو په غلطي له مکيانو سره جنګ وکړ، نو هغوی تبليغات پيل کړل چې مسلمانانو د حرامو مياشتو احترام نه کوي.

يوه بله نکته دا هم ده چې دا اوس سنې هم د اسلام پيغمبر ص نه دې ټاکلې. مورخان وايي چې عمر فاروق د خپل خلافت مهال دا نوښت وکړ چې د مسلمانانو لپاره يوه ځانګړې سنه وټاکي. تر مشورې وروسته د رسول الله ص هجرت يوه داسې پېښه وګڼل شوه چې مسلمانان خپل تاريخ له هغې څخه را پيل کړي او همداسې يې وکړل.(1)

يعني رسول الله ص په خپل ژوند کې د اسلامي يا غير اسلامي سنې بنسټ نه دی ايښی. نه په اسلام کې د اسلامي يا نااسلامي سنې موضوع په نصوصو کې مطرح شوې ده. قران کريم د مياشتو ټاکنې ته په دې ټکو اشاره کړې ده:

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْراً فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ .(2)

ژباړه: بېشکه د الله په نزد الهي کتاب کې د مياشتو شمېر دوولس وو هغه مهال چې اسمانونه او ځمکې پيدا کړې چې څلور يې حرامې دي.

هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُوراً وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ .(3)

ژباړه: دی هغه دی چې لمر يې روښانه او سپوږمۍ يې رڼا کړې ده او دې ته يې منزلونه ټاکلي چې تاسې پرې کلونه او حساب معلوم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَسْأَلُونَكَ عَنِ الأَهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ .(4)

ژباړه: له تا د سپوږمۍ په اړه پوښتي، ووایه، دا د خلکو لپاره د وختونو او حج نښه ده.

له دې ټولو اياتونو په ډاګه شوه چې له لمر او سپوږمۍ څخه هدف حساب او کلونه دي. قمري مياشتې د عبادت ټاکنه کوي. له دې امله د مسلمانانو لپاره د هغې سنې ساتنه اړينه ده چې د خپلو عباداتو حساب په وکړي. اما په دولتي کچه خدای څوک نه دي امر کړي چې هغه سنه کار کړئ او دا بله بيا مه کاروئ. يوه الهي سنه ده او بله غير الهي. نه رسول الله ص په خپل ژوند کې داسې کړي دي.

دلته هر شی د يوه هدف لپاره پيدا شوي دي. که هدف تر لاسه شي، نو هم به انساني ټولنه خپلې موخې ته رسېدلې او هم د الهي تخليق په مقصد پوهېدلي يو. خدای د دې هدف د ترلاسه کولو تګلاره نه ده ټاکلې چې له دې طريقې يې تر لاسه کړئ او هغه طريقه بيا مه کاروئ.

له دې معلومه شوه چې د يوې خاصې سنې امر دين يا شريعت نه دی کړی. نه خدای ته يوه ځانګړې سنه خوښه ده او بله يې ناخوښه. هدف يوازې انساني ټولنې ته حساب او اساني په لاس ور کول دي چې دا هدف نن موږ په هر ډول لاس ته راوړو خدای پرې خوښېږي.

که په ټوله نړۍ کې په دولتي کچه يوه سنه د استعمال لپاره غوره شي، نو په هر لحاظ به د ټولو ټولنو لپاره ښې پايلې ولري. موږ بايد په دې پوه شو چې سنې زموږ د حساب او اساني په پار رامنځته شوې دي نو نن چې موږ ته په هره سنه کې اساني وي، له هغې څخه ګټه پورته کول هم د انساني اړتياو غوښتنه ده او هم د هغه هدف لاسته راوړل دي چې خدای د همدې موخې لپاره دهغه شي تخليق کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۸/ ۲/ ۲۵

**سرچينې:**

(1) (تاريخ الطبري سنة ثلاث و عشرين، وضعه التاريخ:۴/ ۲۰۹)

(2)(التوبه: ۳۶)

(3)(يونس: ۵)

(4)(البقره: ۱۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ د ټولنې نامنظم خیراتونه

د تېر کال راپوروونو کې ښوول شوي وو چې د افغان ولس تر (۵۴) سلنه وګړي د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. که زموږ په بازارونو کې څوك وګرزي نو په سلهاوو فقرکوونکي به ووینې. د دوی په منځ کې د بوډاګانو او مېرمنو ترڅنګ واړه ماشومان هم شته چې اصلن یې دا وخت د زدکړو و؛ ځکه د هغه لا هم اوږد سفر په مخکې دی چې د راتلونکي ژوند لپاره یې همدا وخت د بنیاد ښودلو دی نه د فقر.

زموږ په ټولنه کې که یو لور ته دومره لویه فیصدي خلك فقیر دي، نو بل لور ته بیا ځینې شمتن کسان هم شته چې په دې فقیر هېواد کې میلیونران دي. زموږ د هېواد میلیونران د بې وزلانو لپاره د ډېرو بدو رواجونو بنسټونه هم رغوي چې هغوی غریبان یې تر بوج لاندې پورته کېدای نه شي.

د واده او کوزدې د ډېرو مصارفو رواجونه همدې شتمنو ترویج کړي دي، د مړي پر سر لوی-لوی خیراتونه پاخه یا اومه د همدې شتمنو کار وو، له حج و عمرې څخه تر راتلو وروسته په شپو او ورځو له حده زیات مصارف کول د همدې شتمنو اعمال وو او داسې نور.

زما په یاد دې چې د کندهار د والي په دفتر کې تر چاودنې وروسته د کندهار شتمن تاجرحاجي صدیق د لسګونو غوایانو په ذبح کولو یو ستر خیرات وکړ چې د هغه ځای خبریالانو یې پر ټولنیزو رسنیو عکسونه کښته پورته کول او د حاجي صاحب د ژوند دعاوې یې کولې.

هغه ته دې خدای خیر ور کړي، خو کاش چا مشوره ور کړې وای چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دي غوایانو دې د ټولنې لپاره دا بل کار ډېر په ګټه دی اود شلو غوایانو د مصارفو پر ځای دې يوازې د لسو غوایانو مصارف وکړي خو ګټه به يې تر شلو غوايانو جامعې ته زياته وي.

زموږ په ټولنه کې يوځه شتمن د نوم وږي دي له دې امله هغه کار کوي چې ژر د هغه نوم پکې واخيستل شي او يوځه د مشاورينو کمی ور سره دی البته هغه مشاورين چې د ټولنې په ګټه مشوره ورکړي.

زموږ په ټولنه کې د علماؤ قِشر خورا زيات نفوذ لري، مګر هغوی تل وايي خيرات کوئ خدای صدقه خوښوي، اما هيڅکله مې دا نه دې ترې اورېدلي چې صدقه په څه ډول؟ پر چا؟ د کوم ميکانيزم له مخې؟

يو شي ته بلنه کول او خپله يې په ميکانيزم، د مصرف په ځای او له ټولنې و حالاتو سره پر مناسبه تګلاره فکر نه کول د ستونزو سبب کيږي. نن زموږ په ټولنه کې خورا زيات خلك فقر کوي، اما بل لور ته هره ورځ شتمن په يو نه يو ډول خيراتونه هم کوي، يا خيرات ته ورته د نوم لپاره مصارف دي، دا د ټولنې لپاره سرخوږی دی چې مصرف دې کيږه خو د مړه اروا دې مه په مړيږه، متل هم دلته صدق کوي.

زموږ ملت همدا اوس له سختو ستونزو سره لاس و ګريوان دی، ځوانان د واده پيسې نه لري، دا رواج هم د شتمنو دی او تاوان يې غريب ته رسي، د دې لپاره د حلالرې اړتيا ده.

ماشومانو ته مو د زدکړو اړتيا ده چې نه کتاب لري، نه قلم، نه کتابچه، نه ځای لري او نه معلم ته دومره معاش ور کول کيږي چې هغه ماشومانو ته د درس ور کولو لپاره زړه ښه کړي.

له پوهنتونه فارغ ځوانان مو مخ پر اروپا و امريکا تښتي او هره ورځ په لسګونه کسان همسايه هيوادونو ته اوړي او بيا نه راګرزي، چې دا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل وار دلته د فقر، بې ځایه مصارفو، غلطو رواجونو او نورو ټولنیزو بدیو نتیجه ده.

داسې که دا بدۍ شمار کړو نو لیست یې اوږد شي، اوس پوښتنه داده چې څه باید وکړو؟

زما په اند د خیراتونو په برخه کې څو کاره باید وشي:

لومړی: دولت دې د بې سرپرسته مېرمنو او ماشومانو، همداراز د نورو خیریه کارونو لپاره یوه مستقله اداره خلاصه کړي چې پر شفافیت یې ملت باوري وي او له ولس څخه دې غوښتنه وکړي چې خپل خیراتونه، زکاتونه، سرسایې او عشرونه دې همدې ادارې ته جمعه کړي چې دولت یې د یوه منظم پلان له مخې پر هغو کسانو مصرف کړي چې واقعن یې مستحق دي او هغه کارونه ورته په وکړي چې د ملت اساسي اړتیا ده، لکه د مکتبونه جوړول، د کتابونو چاپ، د لویو لارو رغول، پلان جوړول، شفاخانې، بې وزلو کسانو ته کارونه پیدا کول او د هغوی په هر حال کې لاسنیوی کول او د ملت هغه اړتیاوې په نظر کې ساتل چې زموږ اساسي ضرورت دی او لازمه پاملرنه ورته نه ده شوې.

دویم: مدني ټولنې، علماء، قومي مشران او پر ټولنه نور بانفوذه کسان دې خلک پوه کړي چې دلته هلته نامنظم خیراتونه نه د ټولنې په ګټه دي او نه د هغوی، له دې امله باید هغه کار وشي چې هم خدای په خوشاله شي او هم انسانانو ته ګټه ورسوي. د یوې منظمې ادارې له لارې دا نامنظم خیراتونه په منظم ډول سمبالول هم زموږ اړتیا رفع کوي او هم د خدای په دربار کې منل کېږي، ځکه له خیرات او زکاته هدف له خلکو سره کومک او هغوی ته لاس ور کول دي چې تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامنظمو خیراتونو د یوې ادارې منظم کاري ټیم یې په ښه ډول کولای شي.

دریم :رسنۍ دې هم په دې اړه پروګرامونه جوړ کړي چې عامه پوهاوی خلکو ته ور کړل شي او د دې کار ګټې دې په سم ډول بیان کړي، د نامننظمو خیراتونو زیانونه دې هم راوسپړي، د ټولنې له افرادو دې پوښتنه وکړي چې هغوی هم په دې اړه خپلونه نظرونه شریک کړي، دا برنامې به په لنډ وخت کې خلکو ته هم پیغام ورسوي او هم به یې سرخلاص شي.

څلورم: دولت هم باید په دې اړه جدي ګامونه واخلي، د عامه پوهاوي لپاره تر ټولو لومړی سترګې دولت ته ور اوړي، دولت دې ورکشاپونه جوړ کړي، د ټولنې ټولو افراد دې د ګډون لپاره ور وغواړي او په دې اړه دې ورځې-ورځې پرزنټیشنونه ورته وړاندې کړي چې د خلکو سرخلاص شي او هغه څه ته مخه کړي چې د هغوی ګټه پکې وي.

د هر پاشلي کار په نسبت منظم کار هم ګټور وي او هم یې په ټولنه کې اغېز ژر محسوسیږي، که په بازار کې یوه فقیر ته زه لس روپۍ ور کړم، نو دا به د هغه لپاره صرف یوه ډوډې وي، خو که په ټول هېواد کې سلګونه کسان یوه اونۍ کې ادارې ته لس-لس روپۍ ور کړي نو دا زرګونه کیږي چې د یوه فقیر درسته کورنۍ ته کار پیدا کوي، همدا شان موږ غواړو په خپله مور یا پلار پسې خیرات وکړو. زه یو غویی اخلم او ذبح کوم یې، د غرمې لپاره خلک راغواړم او ډوډۍ ور کړم. تر دې کار دا ښه ده چې زه د غوایي فرضا ۵۰۰۰۰ زره افغانۍ یوه فقیرې کورنۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور کړم چې هغوی له فقره خلاص شي او تـر خپلـه وسـه پـه دې پیسـو ځان ته یو کار پیدا کړي.

دا کار څو گټې لري: ۱/ هر انسان له ریا ساتل کېږي، ریا اصغر شرك بلل کېږي او هر ریاکار انسان ته اخـروي عـذاب دی، نـو کـه څـوك د سلگونو کسانو په مخ کې له ښکاره کېدا پرته اداري ته خیرات ور کړي، له ریا به خوندي وي او دین و دنیا به یې خوندي شي.

۲/ ټولنې ته زیات مثبت تامیږي ځکـه پـه دې توگـه هـر کـال خـورا زیات کسان له فقره خلاصیږي او په ټولنه کې ځان ته یو کار پیدا کـوي چې څو کاله وروسته به زموږ وطن کې هیڅ سوالگر نه وي.

۳/ که د یوې اداري له لـوري پـه مـنظم او شـفاف ډول دا کـار مختـه یووړل شي نو خلك به هم همکارۍ ته زړه ښه کړي او زموږ د خیرات لگېدونکې پیسې به داسې نه ضایع کېږي چې پـه ټولنـه کـې یـې هـیڅ مثبت رول نه ښکاري.

هیله ده په دې اړه دولت او د ملت ویښ کسان خپلې هڅې وکـړي او زموږ خیراتونه، زکاتونه، اسقاطونه، عشرونه او... په ټولنـه کـې د مثبـت بدلون لپاره وکارېږي.

۲۸/۱/۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مسجدونو ډېروالی؛ ګټې او زيانونه يې

مسجد د سجدې ځای ته وايي او دا ځای په ټوله معنا يوه ديني جنبه لري. سجده عبادت ده او ټول عبادات بندګان د خدايي رضا لپاره کوي. هر ځای چې مسلمانان وي، نو د مسجد وجود ور سره حتمي دی. زموږ په هېواد کې د مساجدو ډېروالی يو لور ته د خوښۍ سبب کېږي او بل لورته داسې څه هم تر سترګو کېږي چې زموږ د اذيت او خپګان لامل دي.

زياتوب يې دا ګټه لري چې د عبادت لپاره اساني وي. کله چې بازار ته ځو، سفر ته روانېږو او يوه کلي ته مسافر ورځي نو د جومات شتون هغه ته د عبادت په اړه ذهني ډاډ ور کوي. مسجد په کليوالو سيمو کې د مسافرو پناځای هم دی. له بارانه، يخه، ږلۍ او واوري هم خلک پنا پکې اخلي. په جومات کې د يوه ديني عالم شتون هم اړين وي. له دې امله خلک د شرعي پوښتنو او زدکړو لپاره هم جومات ته راځي. که د خلکو ترمنځ شخړه پېښه شي نو هم د جومات ملا يې د حل وروستی مرجع وي. که د نکاح او د ماشوم په غوږ کې د اذان مسله وي، خلک بيا هم د جومات ملا ته رجوع کوي. کله ناکله خو ملايان دمونه او تاويزونه هم کوي، له دې امله خلک د تاويز او دم لپاره هم ورته راځي. جومات کې فاتحه يا تعزيت هم اخيستل کېږي. د قران کريم د ختم لپاره تر ټولو ښه ځای هم جومات دی. اعتکاف په مسجد پوري ځانګړی عبادت دی. د امن، مينې، مساوات، سولې او وروروليې ځايونه همدا مسجدونه دي. دلته خلک په اول او دويم صف کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام او مرتبې له مخې نه درېږي، بلکې هر څوک چې لومړی راغی د لومړي صف مستحق دی او څوک چې وروسته راغی شاته به درېږي. کشران او مشران هم دلته مطرح نه دي. تور او سپین ته هم څوک نه ګوري. دولتي مامور او ملکي کس توپیر نه وي. بې وزلی او شتمن هم په یوه کتار کې درېږي. دلته د تبعیض او تعصب د ختمولو درس ور کول کېږي. دلته خلک یو له بل سره په یوه روحاني تار تړل کېږي. خلک په یوه ورځ کې د څو پلا راغونډېدو له امله یو د بل له حالته خبرېږي. جوړ و ناجوړ معلوم شي، مسافر او حاضر باندې خلک خبر شي. د مسافرو د خوراک او نورو اړتیاو په اړه خلک خبرېږي. دا ټولې د مسجد ګټې دي. ممکن نورې هم ډېرې فایدې ولري خو دلته د ټولو یادول نه ممکن دي او نه اړین. نو ډېروالی یې هم ښه دی او هم زیاتو خلکو ته فایدې رسوي.

اما له دې ټولو فایدو سره بیا زموږ په ټولنه کې د مساجدو زیاتوب ستونزې او سرخوږي هم ایجاد کړي دي. ریا ته د خلکو هڅولو او بې اخلاصه کولو کې د زیاتو مساجدو رول دی. زموږ ټولنه تر اوسه لا د قانون تر چتر لاندې نه ده راغلې. له دې امله خلک پر خپل سر هر ځای چې غواړي مسجدونه جوړوي. د چا اجازې ته اړتیا نه شته، بلکې مازې د یو چا اراده د یوه مسجد د جوړېدو لپاره بس ده.

یو کس د خپل شهرت، نوم او د خپل واک چلولو لپاره مسجد جوړوي. زه د داسې پېښو شاهد یم. زموږ په کلي کې د یوې قبیلې دوې پښې تر اوسه هم د مسجد پر سر لانجه کې دي. خلک پر مسجد خپل نوم ږدي او بیا هر وخت د هغه په نوم یادېږي. دې مسجد کې ملا راوله او ملا پسې واخله هم د بنسټګر واک دی. ملا ته تنخا ور کړئ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جومات داشی خراب دی، هغه شی مصارف غواړي او داسې نورو چارو کې هم د مسجد مشر پر نورو ږغ کوي. دلته هغه وړه پاچاهي جوړه کړې وي. له دې امله نو شتمن، د کلي ملك، حکومتي چارواکي، زورواکي او ان څو ځان غوښتونکي کسان چې بيخي چندې ورته کوي، د مسجد جوړول يې زړه غواړي او جوړ کړي يې هم دي.

د مسجدونو ډېروالي کرکې او بدبينۍ ته لار پرانيستې. يو کس چې پر مسجد باندې خپل نوم ږدي د بل يې دا کار نه خوښېږي، له دې امله له هغه سره ضد کوي او دا يوازې تر ذهنه محدود نه پاتېږي، ضرور يې تر يو حده د پلي کولو هڅه هم کوي. ما داسې مسجدونه ليدلي چې په دوو نومونو به يادېدل. داسې کسان مې ليدلي چې د يو چا د مشرتوب له امله به يې جومات ايله کړ. که هر چا ته هر ځای د مسجد جوړولو اجازه نه وای، نو د مسجد د نوم او نورو اړوندو چارو پر سره به خلك يو له بل سره نه خپه کېدل.

په کليو او ښارونو کې زياتې ځمکې د مساجدو لپاره وقف کېږي. نن چې ښارونه ډېر په چټکي پراخېږي، يوې لويشتي ځمکې ته هم بايد حساب وشي. د مساجدو بې پرسانه زياتوب زموږ د ښارونو او سترو کليو په وړاندې نن يا هم سبا په ستونزه بدلېږي. ځکه د جومات بيا نړول او هغه وقف ځمکه د سړك، پل، کلينك يا هم بل شي لپاره خلك يا نه ور کوي يا که يې ور هم کړي د خلکو په منځ کې هغه څوك زيات بدنامېږي چې جومات ونړوي.

مالي زيان يې هم جوت دی. يو کس مې ولېد چې له کور سره نژدې يې درې ستر مسجدونه وو. مگر د خپل نوم لپاره يې بيا ځان ته جومات جوړ کړ. کابو ميليون کالدارې يې ورته مصرف کړې او ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې یې له نورو کسانو د جومات په نوم واخیستې چې که دلته نه وای مصرف شوې نو دا به د مسکین خولې ته تلې خو د هغه یوه کور جومات د لسګونو کسانو له خولې د هغوی ګوله وکښه.

زیات مساجد د دې سبب شول چې نااهل ته امامت پیدا شي. ځکه د یوه کور امامت ته هر عالم زړه نه ښه کوي. مجبورن یو داسې څوک ورته راشي چې د لویو مساجدو امامت څوك نه ور کوي. په دې سره یو لورته نااهل کسان منبر او محراب ته ورسېدل چې ټولنې ته په ډېرو مواردو کې تاوان رسوي او بل یې خپله د دغو ملا امامانو ترمنځ د نفرت تخم وکاره. دلته نو هر ملك د خپل ملا صفت هم کوي او دا بیا په خپل وار د خلکو ترمنځ د کرکې او خپګان سبب شوي دي او کېږي.

زیات جوماتونه د دې سبب هم دي چې زموږ حکومتونه یې سمه څارنه ونه شي کړای او افراطیان یې د خپلو ګټو لپاره وکاروي. زموږ په مساجدو کې ډېری افراطي ملایانو محراب او منبر اشغال کړي دي او له دې لارې په ولس کې د افراطیت بځرکي تازه کوي او د خشونت پر اور د تیلو اچولو کار تر سره کوي.

مسجدونو کې له دینه ناسم تعبیر کېږي. زموږ خلکو ته فکر ور کول کېږي چې پر دنیا یوازې تاسې مسلمانان د ژوند حق لرئ او نور ټول باید له منځه ولاړ شي. دا که په زور نه کېږي نو ښراوې خو مو زده دي. د کلي او ښارونو ملایان مې لیدلي چې هر وخت په خطبو او دعاو کې نورو ملتونو ته ښراوې کوي. دې کار څو تاوانه پېښ کړي. یو مو د سولې دین خلکو ته د خشین دین په نوم ور معرفي کېږي چې په اوږده مهال کې موږ او نووري نړۍ ته خطر پېښوي. بل په خلکو کې کرکه او نفرت ځای نیسي. دلته یوازې د نامسلمان خبره هم مطرح نه وي. بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې مساجد مې په پاکستان کې لیدلي چې یوازې بریلوي مسلکه کسانو لمونځ پکې کولای شوای او نور مسلمانان هم نه شوای ورتلای. د مسجد پر دروازه یې لیکلي وو چې یوازې اهل سنت بریلي دلته لمونځ کولای شي. داسې جوماتونه مې هم لیدلي چې په لمانځه کې یې یو سلفي وهلی دی. داسې یوه امام په خپله خوله کیسه راته وکړه چې لمونځ مې کاوه تر شا مې یو چا په زوره امین ووایه. تر سلام وروسته مې سپک سپاند کړ او له جوماته مې پسې واخیست. دلته د عبادت ځایونه نااهلو ته په لاس ورغلي او د خپل شخصي- ملکیت غوندې کار ځنې اخلي. که مساجد دومره زیات نه شي، نو هم وړ کسان ورته موندل کېږي او هم یې دولت او څارګرې ادارې څار کولای شي.

په ښارونو کې دې د مسجد جوړولو اجازه شخصي خلکو ته نه ور کول کېږي؛ ځکه زیاتره یې د شخصي- کوټې په توګه کارېږي. زموږ په ښارونو کې چې زه کوم مساجد وینم، ډېری یې د مذهبي ډلو په ولکه کې دي چې د تفرقې او اختلافاتو لپاره مقدسې کوټې دي. د کوټې نوم ځکه ور کوم چې که مسجد د الله تعالی لپاره وقف وي، بیا یوه ډله ولې د خپل فکر ترویج پکې کوي او بلې ته اجازه نه شته؟ حتا یوه ډله بله ډله لمانځه ته پکې هم نه ایله کوي. په یوه کوڅه کې مې درې څلور مساجد لیدلي دي؛ که د الهي عبادت لپاره وي، نو په یوه کوڅه کې د یوه مسجد شتون کافي دی او که خبره زما د مسجد وي، بیا نو مسجد نه شو، کوټه شوه. زما په مسجد کې به نو زما خبره چلېږي، امام به یې زما په خوښه وي، لمونځ به زما په خوښه وي، خطبه به زما په خوښه وي، د لمانځه وخت به یې زما په خوښه وي او نور ډېر څه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښارونو کې باید حکومت مسجدونه جوړ کړي، یا د مسجد ځای مشخص کړي چې دلته به جومات جوړیږي؛ ځکه حکومت د ښار لپاره خپل ماسټر پلان لري، د هغه موافق به مسجد ته خپل ځای مشخص وي، همالته دې مسجد جوړ شي چې واک به یې ټول له حکومت سره وي. امام به حکومت ور کوي، تنخا به یې د حکومت پر غاړه وي، د مسجد چارې او مصارف به د حکومت په واک کې وي، ټول مسلمانان به اجازه لري چې خپل لمونځ پکې وکړي، هیڅ ډله به نه شي کولای چې د تفرقې او نفرت لپاره یې وکاروي. په دې سره به هغه مشکل چې پر مسجد کله ناکله د لویې لارې په راتلو هغه نړول کېدی یا د لارې د پراخولو مهال د جومات یوه برخه باید نړول شوې وای، اما خلکو به اجازه نه ور کوله، که حکومت له زوره کار اخیستی وای، خلك خپه کېدل او د لاریون او تاوتریخوالي وېره وه، که زور ونه کړي، خلك په وعظ او خبرو نه راضي کېږي، کله چې حکومت د خپلې نقشې موافق د مسجد جوړونې چارې مخته یوسي، دغه ستونزه به یې د تل لپاره حل کړې وي.

که یو چا د ثواب لپاره مسجد کې حصه غوښته اجازه لري چې د نغدو پیسو پر ځای یو شی ورته واخلي، لکه ګاډر، سیمټ، باجرې، رېګ، اوبه، د بریښنا او او اوبو سامانونه او داسې نور. په دې ډول به خلك له ثوابه هم نه بې برخې کېږي او مسجد به د خدای لپاره وي، هیڅوك حق نه لري چې قبضه پر وکړي، د خپلې ډلې او همفکره کسانو په ګټه یې وکاروي، د مینې او مساوات دغه مرکز دې په نفرت او بې عدالتي بدل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام ټاکلو لپاره دې حکومت د امتحان ور کولو تګلاره جوړه کړي؛ په دغه ډول دې هر امام ښه پلټر کوي بیا دې د امامت او خطابت دنده ور کوي، نه دا چې که د ملك صاحب خوښ وي هغه به خطیب او امام کوي، که د هغه نه وي خوښ، نو اورژبی خطیب به هم ایستل کیږي.

خطیب او امام چې د خلکو له خولو او چوپړه خلاص شي، خپله حقایق بیانوي، البته چې ښه لایق وي، په خطابت کې تجربه ولري، له عصري علومو سره اشنا وي، د ټولنې، وخت او زمان غوښتنې درك کولای شي، رسمي اسناد ولري او د زدکړو ټوله سلسله یې معلومه وي.

که ممکنه وي، د جمعې او اختر خطبې دې د حکومت له لوري لیکلې ور کولې کیږي چې د ناسمو خبرو، نفرت خپرولو، کمزورو احادیثو او د ټولنې د ضرورت برخلاف ویناوو او فتواوو مخه ونیسي.

۸/۱۲/۲۰۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زغم اړتیا او ارزښت

که څوک په ټولنه کې اوسي، له خلکو سره اړیکې ولري، په خوښي و ناخوښي کې هم له خلکو سره او هم خلک له ده سره شریک شي، نو اړینه ده چې زغم به کوي. ځکه د ټولنې ټول خلک د ده له طبیعت سره برابر نه وي. ټول شناخته کسان یو ډول فکر نه لري. ټولنیز احساس توپیرونه لري. په خوښي و ناخوښي کې د خلکو احساس یو له بل سره جوت فرقونه لري.

له دې امله نو اړینه ده چې باید زغم ولرو. که زغم نه وي نو ګوښی ژوند به تېروو. که زغم نه وي، نو ټولنه کې ژوند راته سختېږي. حتا کور کې ژوند سختېږي. له خپلې ښځې او اولادنو سره ژوند بیا نه کېږي. ځکه نو زغم اړین دی، په ژوند کې د یو داسې شي په سترګه باید ورته وګورو چې زموږ ژوند ور سره تړلی وي.

د کار ښه والی او کمزوري هم له زغم سره تړلی دی. که څوک د ګیراکانو تکلیفونه وزغمي او شور، بیر و بار او هله هولې ته یې حوصله وکړي، نو هغه کاروباري، دوکاندار، موټروان او... به بریالی وي.

د هغه ملا د اختر په مبارکي کې مې کتار او لین خلک لیدلي دي چې تر نورو یې زغم او حوصله زیاته وه.

هغه خطیب ته مې ډېر خلک په ناسته، راتګ او غوږ نیولو لیدلي چې د خپلې خطبې، وینا او بیان مهال یې د نورو په شان زغم له لاسه نه ور کاوه او له پوره حوصلې یې کار اخیستی او د هر ډول حساسې موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوند يې د ښه زغم ښکارندويي کوله او سپک لفظ يې له خولې نه وتی.

که د زغم اړتيا حس کړو، نو بيا به په هر شي کې د بل په عمل کار نه لرو. زموږ خلك چې د زغم اړتيا يې تر اوسه پوره نه ده احساس کړې، له دې امله په بازار، د سفر مهال، په وټل، مجلس، غونډه، دفتر او ... کې ستا په شخصي کړنه کار لري. ستا په افکارو کار لري، ستا په کاليو، تگ، عمل، خبرو او نورو کار لري.

په نوره دنيا کې يو انسان د بل په خپل شخصي کړنه کار نه لري. هغه کار د يو چا شخصي بلل کېږي چې ټولنې ته يې زيان نه رسېږي. د يو چا کالي، د هغه خبرې، تگ، فکر، ليکنې او هغه اعمال چې بل ته يې زيان نه رسېږي، شخصي دی او بل حق نه لري چې مداخله کې وکړي.

د بخاري په يوه حديث کې دي چې رسول الله ص وايي، هغه څوك پياوړی دی چې پر خپله غوسه قابو ومومي. له دې جوتېږي چې زغم لرونکی انسان اصلن غښتلی دی، ځکه ده پر ځان کنټرول پيدا کړی دی او خپل ځان کله هم نه ترې بې واکه کېږي.

زغم يوه ښه صفت دی. له دې امله نو زغم د خدای په صفاتو کې هم راځي. د خدای رسول د زغم يو مجسم سمبول و. زغم د انسان قدر په ټولنه کې زياتوي. زغم دې درنوي. زغم دې اجتماعي کوي. زغم دې خوښ ساتي. زغم غمونه کموي. زغم يو ښه ملگری دی او تل يې له ځان سره ساتئ. بې زغمه مه شئ چې خوښ او خوشاله ژوند هم تاسې وکړئ او هم نور خوشاله ژوند ته ايله کړئ.

۷/۳/۲۰۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تنګ نظري

آدمي فربه شود از راه ګوش
جانور فربه شود از حلق و نوش

زموږ د سيمې مسلمانان له ډېره وخته په دې خوی اخته دي او حتا اوس ښه پوره ورته تدريسېږي چې له خپل فکر هاخوا د بل فکر مه منئ. دا ډېر لوی مشکل دی. د انسانانو تر منځ د جنګ، د نفرت، بېلوالي، نه همکارۍ، پر ډلو وېشل کېدل او خپله انرژي پر بې ګټو لارو لګول د همدې تنګ نظرۍ پايلې دي.

زموږ يو شمېر علمي مرکزونه په دې وبا اخته دي. په دې تېره بيا مذهب ته په منسوبو کسانو کې دا تنګ نظري او نرګسيت(ځان خوښونه) تر حد زيات ده. د دوئ په فکر تر ټولو ښه مسلمانان دوی دي. الله او رسول ته نژدې کسان له دوی پرته بل څوک نه شي کېدای. له ځان او خپلو همفکرو پرته د بل هر فکري مکتب په وړاندې حساسيت در لودل، ګمراه او بې لارې بلل، په اړه يې د خلکو ترمنځ منفي تبليغات کول، زموږ د مذهبي کسانو يوه دنده ده. ان د دوی له خولې همدا خبرې اورو چې دا منفي تګلاره د ځان لپاره مسووليت بولي او که دا کار ونه کړي، د خدای په وړاندې ځان پړ ور ته معلومېږي. د همدې منفي دريځ له امله دوی هم غندل شوي. د پير محمد کاروان دا بيت يې يو مثال دی:

وخت به راځي، چې غاړ د زهرو به ښامار نه لري
منصور به ګرځي مستانه ملا به دار نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړۍ زیاتره مذهبیان ځانونه پر حق ګڼي. خو که له دې سره دا فکر د هر چا له لورې تدریس شي چې له تا پرته نور بد دي، د کرکې وړ دي، باطل دي، ګمراهان دي او داسې نورې ټاپې نو په نړۍ کې به د انسانانو خپل منځي ژوند ډېر تریخ شي.

که د مسلمانانو اولني پیر ته پام وکړو، نو رسول الله ص او اصحابو خپل هغه دښمنان په څنګ کې وزغمل چې له دوی سره یې جنګونه کړي وو. په مدینه او خیبر کې یهود، په مکه، طایف او نورو شیمو کې عرب، په نجران او ډېرو نورو علاقو کې عیسویان. دا ټول هغه فکري مکتبونه او په اصطلاح مذهبپاله ډلې وې، چې رسول الله ص په خپل څنګ کې ځای ور کړ. رسول الله ص پوهېده چې له زغم پرته بله چاره نه‌شته. له هر ځونه اختلاف سره پیغمبر علیه السلام له یهودو سره کارو بار کړی. د نجران له نصاراوو سره یې بحثونه کړي او مدینې ته د هغوی تګ راتګ پوره ثابت دی. د مکې له خلکو سره د رسول الله ص احسانونه، ورتګ، تړونونه، بخښنې او نور په حدیثو ثابت دي.

رسول الله ص له مسلمانانو پرته د نورو شریعتونو له پیروانو سره حوصله او تعامل کاوه، نو موږ به له خپلو مسلمانانو سره تعامل نه کوو؟ د هر دښمن په وړاندې موږ ته د قران کریم د حوصلې او ښه رویې امر (فصلت: ۳۴)، دا سبق را کوي چې مسلمان باید څومره زغم ولري؟ د رسول الله ص په ملګرو کې د ابن ابی ابن سلول په شان خلک وو؛ مګر رسول الله ص د هغه د ژوند تر پایه هغه له مدینې ونه شاړه. هغه یې له خپله مجلسه ونه ایستی. کار یې ور سره بند نه کړ. حتا د مرګ په ورځ یې جنازې ته هم ورغی. له دې موږ ته جوتېږي چې د خپل فکري مخالف په وړاندې به حوصله کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخاري کې حدیث دی چې رسول الله ص وایي، که مجتهد اجتهاد وکړي او حق ومومي نو دوه اجره لري او که خطا شو، نو یو اجر یې دی. یو بل حدیث کې وایي، د هرو سلو کلونو پر سر یو مجدد پیدا کېږي. دا دواړه حدیثونه موږ دا پیغام لري چې اختلاف حتمي دی پیدا کېږي به او دا یوه طبیعي خبره ده.

د هر قانون له متن څخه د خلکو براشتونه او تعبیرونه سره بېل وي. له قران او حدیث څخه هم مخالف تعبیرونه او تفسیرونه شوي دي. دا یو طبیعي بهیر دی چې د نړی له هر قانون او د هر مذهب له متونو سره همدا معامله شوېده. زموږ مذهبي متون هم له دې بهیر څخه مستثنا نه دي. څومره چې وخت تېرېږي، همدومره به نوي فکرونه رامنځته کېږي. د هر فکر په وړاندې تنگ نظري خپلول نه اسلامي تگلاره ده او نه دا حللار ده.

تر ټولو ښه لار د هر فکر زغمول دي. موږ باید دا ثابته کړو چې نه یوازې د هر فکر مسلمان په خپل څنگ کې منلای شو، بلکې له مسلمان پرته هر انسان هم منلای شو.

د تنگ نظري انسان ژوند له کړاونو ډک وي. د هر چا په بریا خپه وي. له خپل ځان پرته یې بل نه وي خوښ. کارو بار یې له تکلیفونو سره مخ وي. له چا سره دوستي ته زړه نه ښه کوي. د عباداتو په برخه کې ستونزې لري. لنډه دا چې تر خوشالي غمونه ډېر لري. د دې پر ځای چې ځان ته په لوی لاس غمونه وکړو، ولې خوشالي جوړه نه کړو؟

رسول الله ص یوه حدیث کې وایي چې څوک زموږ په شان لمونځ کوي، زموږ قبلې ته یې مخ وي او زموږ ذبیحه وخوري هغه مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او د الله او رسول ذمه له ځان سره لري نو د الله پر ځان منلې وعده تاسو مه ماتوئ. «مَنْ صَلَّى صَلاَتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا فَذَلِكَ المُسْلِمُ الَّذِي لَهُ ذِمَّةُ اللَّهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ، فَلاَ تُخْفِرُوا اللَّهَ فِي ذِمَّتِهِ».(۱)

له دې حديث څخه ښکاري چې د همدې ټکو لرونکی کس مسلمان دی. دا خو د شريعت متون دي، مگر بل لور ته بيا تنگ نظري مسلمانان خلک د نوروز پر ميله هم کافر کوي. له يوه فکري مکتب سره پر اختلاف يې گمراه بولي. حنفي مسلمان په سفلي مسلمان پسې لمونځ نه کوي، سلفي همداسې. حنفي مسلمان شافعي ته خپله لور نه ور کوي. شافعي به نو همداسې کوي. شيعه له سني سره دا معامله کوي او سني له شيعه سره. خوارج د شيعه او سني دواړو له لورې مردود دي او ناصبيان بيا د درې واړه ډلو له طرفه رټل شوي. انسان بايد دې نړۍ ته په کتو حقايق درک کړي. هر چا چې هر څه راته سم او بد وبريښول هغسې يې بايد ور سره ونه منو. ولې شعوري انسان ځان داسې کړي چې د دې بيت مصداق شي؟

په تندي مو هر څوک خپله ناره ليکي
مور د دې ښار ديوالونه بې‌شعور

قران کريم خپلو پيروانو ته د زغم لار ښوونه کوي. الله وايي صبر کوئ او الله د زغم لرونکو ملگری دی. زغم په هر حال گټور او نه زغم په هر وخت کې تاواني دی. انساني نړۍ کې چې څنگه رنگونه بېلا بېل دي همداسې فکرونه او علقونه سره مختلف دي. له دې امله نو زموږ له نظر څخه د نورو جلا نظر يوه طبيعي او حتمي خبره ده. نه بايد په غوسه شو او نه يې بايد پر ځان درنه تمامه کړو چې ولې زما ورور، پلار، اکا، ملگری، همسايه، کاريگر، د دفتر انډيوال، ټولگۍ وال او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ما سره په فکر او نظر کې اختلاف لري. اختلاف د پرمختګ پول دی. که اختلاف نه وي، تنوع به نه وي، نوي شیان به نه وي، د ستونزو حل به نه وي، ابتکارات به نه وي او لنډه دا چې ژوند به مو له سختو شیبو سره مخ شي.

ځکه نو باید د هر فکر په وړاندې زغم ولرو. قران کریم وایي، که په الهي ایاتونو یو چا پسخند په واهه، نو تاسې مجلس ور ایله کړئ. یا په ښه ډول الهي لارې ته بلنه ور کړئ. دواړه اپشنه د زغم دي او له دې پرته د بې حوصلګۍ او خشونت هیڅ مجال یې نه دی پرېښی. د دین او انسانیت دواړو له لورې موږ مکلف یو چې ټول افکار او انسانان په خپله خوا کې ومنو، تنګ نظري ایله کړو، ښه رویه د هر انسان خپل حق وګڼو، انسانیت ته احترام زدکړو، انساني کرامت ته درناوی کله هم له پامه ونه باسو او د قراني وینا له مخې ټولو انسانانو ته د ښې وینا تګلاره خپله او ټاپې لګول ایله کړو.

کندهار- عینو مېنه

۲۷/۳ /۲۰۱۷

**سرچینه:**

(۱)بخاري کتاب الصلاة باب فضل استقبال القبلة ح: ۳۹۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلام او سیاست اړیکه

په اسلام کې د سیاسي نظام بنسټ د رسول الله ص له زماني ښودل شوی دی چې د هغه د مرګ مهال په عربو کې د مسلمانانو یو پیاوړی نظام موجود و، نو د هغه تر مرګ وروسته د اصحابو په توسط همدې نظام دوام وموند چې په مسلمانانو کې د یوه سیاسي نظام وجود مختلف فکرونه را پیدا کړل.

دا یوه طبیعي خبره ده چې د مسلمانانو د نظام وجود به پر خلکو یو ډول تاثیر لري او کله چې دا نظام وجود ونه لري نو فکرونه هم ورسره تغییر کوي. د اصحابو له زمانې بیا تر ننه په مسلمانانو کې دا فکر شته او ښه وده یې هم کړې ده چې اسلام له سیاست سره ژورې اړیکې لري او د اسلام وجود و ژوند له سیاسي نظام و سیاست سره تړلی دی. د دوی په اند که له اسلامه سیاست ایسته کړل شي نو د اسلام نیمه برخه له عمله لوېږي او د نیمې برخې نه تعمیل د هغه د مرګ او د ژوند له ډګره د ایستلو په معنا دی.

زه د همدې موضوع په اړه یو څو مهم ټکي یادوم چې د همدې معما په اړه خپل دریځ روښانه کړم او تر وسه له خپلې پوهې سره سم خلکو ته د اسلام اساسي پیغام ورسوم.

د ادیانو (شریعتونو) تاریخ او لارښونو ته په کتو دا معلومېږي چې د لارښونو لویه برخه یې له فردي عملي ژوند سره تړلې ده، یوه برخه یې د ټولنیزو مسلو په اړه ده، اقتصاد چې د ټولنې د ملاتیر دی طبیعي خبره ده چې شریعت یې په اړه کمې لارښونې لري، خو سیاسي ایډیالوژي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې ادیان بیخي نه لري، هغو یوازې پر باور، عبادت، ښو خبرو او خیر و خیرات خلاصه کړې ده؛ په اسلامي شرایعو کې هم ډېر کم یې له سیاست سره اړیکه لري، د پیغمبرانو لویه برخه له هر ډول سیاسي نظام درلودلو پرته له دې نړۍ تللي دي، ځینې رأسن یې یوې وړې برخې او انساني کتلې ته لېږل شوي دي چې هغوی د یوه سیاسي نظام جوړولو جوګه هم نه وو.

د اسلام له اساسي متن قران کریم سره سم بیخي کم رسولان و نبیان دي چې له نبوت سره یوځای یې د نظام مشري هم کړې ده، خو ترڅنګ یې دا هم ویلي چې نبیانو د نورو سیاسي مشرانو تر څنګ هم ژوند کړی دی او سیاسي، نظامي، اقتصادي چارې یې د نظام د مشرانو له لورې رهبري کیدلې یوازې دیني و مذهبي برخه یې د نبي پر غاړه وې چې د طالوت په کیسه کې د دې خبرې ښه کره ثبوت موږ ته قران کریم بیان کړی دی.

د هغو نبیانو له ډلې چې له مذهبي مشرۍ سره یې نظامي و سیاسي چارې هم رهبري کړې دي یو هم د اسلام ستر پیغمبر محمد رسول الله ص دی چې په مدینه کې یې لس کاله سیاسي، نظامي، مذهبي، اقتصادي او ټولنیزې چارې په یوه وخت کې مدیریت کړې دي. د رسول الله ص له همدې عملي سنتو څخه په اسلام کې د سیاسي اسلامي نظام/اسلامي خلافت نومونه راپیدا شول چې د اسلام د ډېرو احکامو تړاو هم د دوی په اند له دې نظامي سره ور کول شوی دی.

د اسلامي نظام مدعیان نن هم د دې لپاره مبارزه کوي چې د رسول الله ص په شان اسلامي نظام جوړ کړي، که خبره د اسلام د لومړني نظام په شان د نظام جوړول وي نو بیا څو اساسي پوښتنې شته چې باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



په واضحو او څرګندو شرعي نصوصو ځواب ورتــه وموندل شي څــو د اسلامي خلافت مسله يوې خوا ته شي:

يوه: که اسلامي نظام د خدای امر او خپل رسول يې د همدې نظام په اقامه کولو مامور کړی وي، نو بيا ولې د اسلامي نظام پــه چــارو کــې لــه خلکو سره مشوره کوي؟ ايا رسول الله ص د لمانځه لپاره مشوره وکـړه؟ د روژې مشوره يې له خلکو سره وکړه؟ د حج په اړه ورته وايــې: ښــايي زه بل کال له تاسو سره حج ته رانه شم، نو له ما د حج مناسک زدکړئ، که په شرعي او ديني چارو کې مشورې ځای درلودای، نــو ولــې يــې د حج مناسک د اصحابو يا مسلمانانو مشورې ته نه ايله کول چې په خپله يې ټول مناسک وز زده کول؟ خو بل لور تــه د نظــام پــه چــارو کــې لــه اصحابو سره مشوره کوي، مثلا: د بدر جنګ کې اصحاب پوښتنه ځنې کوي چې دلته پړاو او مرکز نيول الهي امر دی کــه ســتا خپــل نظــر دی؟ رسول الله ص ورته وايي: زما خپله رايه ده. يو صحابي تر دې ځای بل ځای مناسب ورته ښيي او دليل يې هم ورتــه وايــي، عينــي دا چــاره پــه خيبر غزا کې هم وشوه، د خندق په غزا کــې د ســلمان فــارسي رض پــه مشوره عمل وشو، له غطفان قبيلې سره د مــدينې د خورمــا پــر ميــوه ور کولو سوله د سعد بن معاذ و سعد بن عباده رض په مشوره رد شوه که نه رسول الله ص پريکړه کړې وه چې له هغوی سره د خنــدق د غــزا مهــال سوله وکړي؛ مګر دوی ونه منله. د بني قينقاع يهود يــې د عبــد اللــه بــن ابی په خبره وبخښل او له مدينې يــې بهــر تللــو تــه ايلــه کــړل، دا ټــولې چارې موږ ته په ګوته کوي چې رســول اللــه ص نــه يــوازې د اصــحابو خبره منلې ده؛ بلکې د منافقانو مشوره يې هم منلې ده، نو که د ديــن او شريعت جز يې وګڼو، بيا څنګه الله ورته اجازه ور کــوي او رســول اللــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملن څنګه داسې یو کار کوي چې د شریعت په چارو کې د اصحابو پر مشوره عمل کوي؟

دا پوښتنه باید له شرعي نصوصو څخه حل کړل شي چې شریعت پر وحې ولاړ دی که پر مشوره؟ که وحې وي نو رسول الله ص ولې د نظام په چارو کې د اصحابو پر مشوره عمل کړی دی او که مشوره وي، نو د هغو نصوصو لارښوونې به څه کوو چې د وحې د پیروي امر ورته کوي؟

دوه: د نظام لپاره ولې شریعت یو چوکاټ نه دی بیان کړی؟ حتا رسول الله ص د مرګ مهال د غلامانو په اړه د نرمښت خبره کوله، د لمانځه خبره یې وکړه خو د نظام د مشرۍ، جوړښت او نورو چارو په اړه یې هیڅ هم نه دي ویلي. له دې امله د هغه تر مرګ وروسته اصحابو د مشر په انتخاب کې اختلاف وکړ، علي رض له لومړي خلیفه څخه د خپلې میرمنې تر مرګه خپه و، سعد بن عباده رض هم بیعت ورسره ونه کړ او ځینو نور اصحابو هم په لومړي وخت کې بیعت نه دی کړی، نو که هر څه د اسلام په متن او سنتو کې وای، اصحابو ولې هر یوه خپله رایه اخیسته او ولې یې مخالفت کاوه؟

درې: د اصحابو په زمانه کې د راشده خلفاؤ په ټاکنه کې ولې اختلاف تر سترګو کېږي؟ که مسله شریعت حل کړې وي، نو د هر راشد خلیفه تګلاره له یوه بل سره توپیر لري، مثلن: د ابوبکر و عمر رض په خلافت کې مروان بن حکم له مدینې شړل شوی و، خو د عثمان رض په خلافت کې دا تګلاره بدله شوه او په مدینه کې نه یوازې د اوسیدنې اجازه ور کړل شوه بلکې د عثمان بن عفان رض سکرتر وټاکل شو، نو که د رسول الله ص سیاسي شرعي تګلاره د هغه شړل وه، عثمان رض ولې اجازه ور کړه؟ د ارتدداد پر خلاف د اصحابو له جنګي تګلارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره لومړی اصحابو مخالفت کاوه او یوازې لومړي خلیفه حضرت ابوبکر رض پر خپل دریځ ټینګ ولاړ و، که خبره شریعت حل کړې وي، نو بیا مخالفت د څه لپاره و؟

څلور: سیاسي نظامونه د وخت او ځای له تغییر سره تغییر کوي، که اسلامي شریعت د خلافت یا اسلامي نظام لپاره یوه تګلاره ولري او یو چوکاټ یې ورته تعین کړی وي، نو یو لور ته خو دا د وخت و مکان له غوښتنو سره سر نه خوري، بلکې تصادم کوي او بل خوا کوم جوړښت له اسلام سره برابر دی؟ مثلن: د راشده خلافت زمانه کې یو خلیفه و، له اصحابو سره به یې مشوره کوله اخیر پریکړه به ده کوله، خو نن د طالبانو نظام کاملن له هغه نظام سره د جوړښت و ترکیب له مخې مخالف دی، که د اسلامي نظام احیاء د شریعت هدف وي، نو جوړښت، د واک تعین، تګلاره، د مشرانو او نورو چارواکو د واک موده او د ټاکنې ډول یې هم باید شریعت بیان کړی وي، که دا یو هم په شریعت کې نه وي، نو بیا څنګه د اسلامي نظام احیاء د دین و شریعت له اساساتو څخه بلل کیږي؟

پنځه: د رسول الله ص نظام یا د بل هر نبي نظام چې په خپل وخت کې یې مشر پاته شوی یا یې هم د مشورتي مجلس یو غړی، په کوم نوم یاد شوی دی؟ ما ته دې یوڅوک د قران او سنت په رڼا کې یو نوم د رسول الله ص یا بل هر نبي د نظام په اړه راوښیي چې له دې مروجو نومونو یو هم هغو نظامونو ته کار شوی وي؟ که داسې نه وي، نو څنګه د اسلام هدف د اسلامي نظام احیاء ده؛ خو د هغه شي لپاره یې حتا نوم هم نه دی انتخاب کړی چې دین اساسن د هغه شي د اقامې او جوړښت لپاره رالیږل شوی دی؟ دا به عقل ومني؟ قران ډیر واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادتونه په خپلو نومونو یاد کړي، اما هغه شي ته یې نوم نه دی ټاکلی چې پر ټوله اسلامي ټولنه به حاکم وي؟ د هر سړي بـه ورسره سروکـار وي؟

شپږ: دا به کوم عقل ومني چې د اسلام په متن کې دې د یو چا د کور د دروازې ټکولو په اړه لارښونې شوې وي، خو د یوه دَرَسْـت نظـام پـه اړه دې متن او شرحه همداسې ګونګ پاتـه وي؟ رسـول اللـه ص دې د دې نظام د مشر په صفت د مرګ مهال د لمانځه یادونه وکړي، د مزدور او تـر لاس لانـدې کسـانو یادونـه دې وکـړي خـو د نظـام پـه اړه دې همداسې خاموش پاته شي؟

زه د دې ټولو پوښتنو تر وړاندې کولو وروسته په خپلـه دې پـایلې تـه رسېږم چې که په بشري ټولنه کې هیڅ نظام وجود ونه لري، نو ګـډوډي جوړېږي، عربي ټولنه چې پر قبیلو او ډلوټپلو وېشلې وه نـو هـیڅ ځـای یې په امن نه و، رسول الله ص چې د بشریت د لارښـونې او نیکمرغـی لپاره رالېږل شـوی و، نـو حتمـي و طبیعـي خـبره ده چـې د بشریـت د نجات لپاره لازمه وه چې یونظام جوړ کړي، څو خلك د نظام تـر چـتر لاندې له خپل پخواني حالت څخه وژغورل شي او بیا د ډلو ټپلو وخت ته ونه ګـرزي چـې یـو بـل سره ووژني، نظـام مختـل شي او بشریـت د وېرې، ترهې او ډار په سیوري کې ژوند وکـړي. لـه دې املـه چـې کلـه حالات مساعد شوي، شرایطو د یوه نظام جـوړول مناسـب بلـلي، نـو د خدای پیغمبرانو همدا اقدام کړی دی که څه هم د دې نبیـانو شـمېر تـر څلورو کسانو نه زیاتېږي خو دوی هر یوه د حالاتو د غوښتنې په اساس دا کار کړی، نه دا چې دا یوه الهي غوښتنه وه. له دې املـه پـه شریعـت کې تر سیاسي نظام د باور، عبادت او ټولنیز ژوند په اړه ډېرې لارښـونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته خو د نظام په اړه د ګوتو په شمار خبرې راغلې او هغه هم د اړتیا و ضرورت له مخې نه د الهي دین د روح او تقاضا له امله. نو اسلامي نظام یا اسلامي خلافت یوه اجتهادي پدیده ده چې د خپل وخت د جبري شرایطو زیږنده ده، نه یوه منصوصي موضوع ده چې په انکار یې یو څوک کافر او په نه راوستلو یې امت ګنهګاریږي.

د همدې فکر لپاره یو ښه دلیل د حبشې د مسلمان پاچا دی چې پر رسول الله ص له ایمان سره یې نه مدینې ته هجرت وکړ، نه یې په خپل هیواد کې د اسلامي نظام په نوم نظام جوړ کړ او نه یې نور هغه کارونه وکړل چې اوسني د اسلامي نظام مدعیان یې د اسلام په نوم باندې کوي.

تر ډېره حده مذهبي ادعاوې د اقتصاد د پیاوړي کولو او واک ته د ځان رسولو لپاره کاریږي او کار به شي، د عثمان بن عفان رض خلاف باغي ډلې همدا د عدالت شعار پورته کړی و، د علي رض خلاف امیر معاویه رض د قدرت ساتنې لپاره همدا د قصاص شعار ټینګ کړی و، د امویانو خلاف عباسیانو ځانونو ته تور بیرغونه جوړ کړل او د مهدي د لښکر په نوم یې ځانونه واک ته ورسول او تر اوسه همدا لوبه په مختلفو نومونو روانه ده، که له اسلامي شریعت سره د سیاست اړیکې پیدا کولو ته همداسې باني لټول کیږي او هڅه کیږي چې تر دې نوم لاندې یوه ډله ځانونه واک ته ورسوي نو دا په ضمانت ورته وایم چې دین و شریعت تر خدمت به یې د دین اصلي روح ته زیان ډېر اړولی وي.

موږ باید ځمکني حقایق ومنو، خپلو شرایطو ته په کتو تعبیر وکړو او د هغه څه په اړه ځانونه ستړي نه کړو چې تحقق یې له ناممکناتو ګڼل کیږي. شریعت او دین نن په ډېری هیوادونو کې یوه فردي چاره ده، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



شريعت د اسلامي نظام په نه شتون کې له منځه تلای، نو اوس به په هند کې زموږ د ملت څو برابره مسلمانان موجود نه وای؟ د دين د بدنامۍ لپاره دا بس ده چې سياست د اسلامي دين برخه وبلل شي او په سايست کې چې هر څومره چمونه، دوکې، دورغ، بدنامي، کرغيړن اعمال، نادودې او هره بلا و بدتر کيږي، هغه به د اسلام د بدنامۍ لپاره بس وي او دا کار به خپله مسلمانانو کړی وي.

۲۰۲۰/مې/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په شرعي تعبیر کې د حقانیت معیار

د شریعت له متونو د ګڼو تعبیرونو احتمال که یوه خوا انسانانو ته اساني جوړه کړې ده بل لور ته یې ستونزې هم ورته را پیدا کړې دي. انساني ټولنه تل د بدلون په حال کې وي، نو که د ژوندیو انسانانو لپاره یو داسې متن چې پر یوه حال ولاړ یا په اصطلاح جامد وي، د شریعت متن وټاکل شي دا به د انسانانو ژوند له کړاو سره مخ کړي او چارې به یې په ټپه ودروي، په دې برخه کې زموږ د شریعت لار خلاصه ده او پیروان یې له مشکلاتو سره نه مخېږي.

اما له دې اسانۍ سره هممهاله ستونزې هم را ټوکېدلې دي، ګڼ تعبیرونه د انسانانو ترمنځ اختلاف ته زمینه برابروي او اختلاف د انسانانو پر ژوند منفي اغېز کوي. که موږ له دې تعبیره د راپېښ شوي اختلاف مخینه وګورو نو د اصحابو له زمانې بیا تر اوسه په دې اړه اختلافات پیدا شوي او دومره تشدید شوي چې د جنګونو او یو بل وژلو سبب شوي دي.

زما په اند د مذهبپالو خلکو له ګڼو مشکلاتو څخه یو مشکل دادی چې هره ډله یې ځان پر حق بولي او مخالف پر باطل. که پوښتنه وکړو چې د دې لپاره معیار څه شی دی چې د یو چا حقانیت او د بل بطلان په ثابت کړو نو هیڅ معین او ټاکلی معیار د دې ډلو او تعبیرونو ترمنځ وجود نه لري. کله چې معیار وجود ونه لري او بیا هم خلک په ټول باور ځان ته د حق پیروان او له خپلې تګلارې هاخوا نورو کسان بیا سل سلنه پر باطل بلل نه معقول کار دی او نه شرعي صبغه ورته موندلای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو؛ ځکه اسلامي شریعت کې موږ ته واضحه شوې ده چې انبیا د شریعت بیانولو په چارو کې معصوم دي خو له دوی پرته بل هیڅوک هم دا مرتبه نه لري حتا که د نبیانو ملګري هم وي. په یوه حدیث کې دا موضوع داسې یاده شوې ده:

«إِذَا حَكَمَ الحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ، وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ».(۱)

ژباړه: تر اجتهاد وروسته که حاکم سمه پرېکړه وکړه نو دوه اجره لري او که یې تر اجتهاد وروسته ناسمه پرېکړه وکړه یو اجر لري.

له دې حدیث څخه معلومېږي چې تر نبي هاخوا د نورو کسانو پرېکړې پر همدې معیار باید وتلل شي، دې حدیث موږ ته روښانه کړه چې هیڅوک هم سل سلنه د خپل حقانیت او د بل د بطلان دعوه نه شي کولای؛ که څوک مجتهد وي تر اجتهاد وروسته خطا یې هم اجر لري، ځکه خپل وس یې کړی دی او که څوک مجتهد نه وي، هغه تر خپله وسه حق ته په رسیدو مکلف دی که په ځینو مسایلو کې د هغه علم د یوه لورې په اړه پرېکړه نه شي کولای او یا یې وکړي خو له دلیل پرته دا کار وکړي، نو هغه په دې چارو کې معذور بلل کېږي ځکه نه پوهېږي.

خپل ځان حق بلل او د بل پر تګلاره د بطلان چلیپا کشولو یوه بله ستونزه په دې کې ده چې دغه کسان ځانونو ته په شعوري یا لا شعوري توګه د الهي پیغمبرانو واک ور کوي، دوی له همدې دریځ څخه په استفادې له حلالو تر حرامو او ان د انسانانو تر قتله داسې پرېکړې کوي چې پر حقانیت یې دوی پوره باوري وي او په دې کارونو که ټولنې ته هر څومره زیان هم رسېږي دوی یې پروا نه کوي ځکه فکر کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ که هر څه کوو حق یو او مقابل یې باطل دی، نو د حق په لار کې باید د چا د ملامتیا پروا ونه شي. که د همدغه فکر خلك واك واخلي نو دا ستونزه په یوه بحران بدلیږي چې مخنیوی یوه بل بحران ته لار پرانیزي.

تر دې وړاندې چې موږ دې بحران ته رسیدلای وای باید په دې اړه علماؤ خپل مسوولیت ادا کړی وای، یعنې دا د اوس وخت علماؤ ته راجع نه ده، بلکې له لومړیو پیړیو را په دې خوا باید دې ته توجو شوې وای، ان د اصحابو په اړه تاریخي روایاتو کې یادونه شوې ده چې د خوارجو په اړه یې هم د حق و باطل دریځ نه در لودی، یو مثال:

قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: إِخْوَانُنَا بَغَوْا عَلَيْنَا.(۲)

ژباړه: علي رض ویل: زموږ ورونه دي خو له موږ یې بغاوت کړی.

د دغه دریځ یو بل زیان دادی چې خلك به د خپلو سیاسي او په ژوند کې د نورو مخالفانو په اړه له همدغه دریځه کار اخلي او له شریعته به خلك شخصي استفاده شروع کړي، په دې ډول به نه یوازې د انسانانو ترمنځ شخړې زیاتې او خونړۍ شي، بلکې شرعي ارزښتونه به ورسره د یوې روپۍ شي، موږ ته که د شریعت احترام او درناوي یوه خاشه ارزښت هم ولري، نو باید نه خپله دغه دریځ ونیسو او هم نور د دې په خطرونو او زیانونو خبرو کړو.

په شریعت کې اصل دادی چې هر څوك باید د پوهاوي له مخې یو دریځ غوره کړي، نو که موږ یو څوك د ټاپو، تمسخر او جبر له لارې مجبور کړ دا خو د هغه انسان خپل فکر نه شو او دا په شرعي لحاظ هیڅ اعتبار نه لري. یو بل مهم ټکی دادی چې قران کریم موږ د سمې خبرو اوریدلو او منلو ته هڅولي یو، قران کریم وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



{فَبَشِّرْ عِبَادِ () الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ} [الزمر: 17، 18]

ژباړه: زما هغو بندګانو ته زيرى ور کړه چې خبره اوري، نو ښه يې مني، دوى هغه کسان دي چې الله هدايت کړي او همدوى د عقل خاوندان دي.

دلته موږ وينو چې الله هغه بندګان ستايلي چې خبره اوري او که د هر چا له لورې وي هغه ښه يې مني، نو دا هم يو اصل دى چې ښه خبره بايد ومنل شي او هم دا ترې ثابتيږي چې يو دريځ خپلول له شرعي اړخه چنداني اعتبار نه لري، ځکه دريځ انسان له بلې خبرې را ګرزوي او قران وايي چې سمه خبر بايد ومنل شي، نو د يوه ځانګړي دريځ خپلول په شرعي لحاظ د سمې خبرې په مقابل کې اعتبار نه لري. دلته مې له دريځه هغه جهتونه هدف دي چې که هر څونه يوه سمه خبره د خپل مخالف په خوله ورته واضحه هم شي دوى خپله لار نيولې وي او داسې پر دريږي لکه د هغه شخصي ملکيت چې وي خو عام کسان تر ډېره حده په دې برخه کې معذور دي ځکه هغوى يې د بېلولو پوهه نه لري.

له موږ که څه هم اوبه تر ورخ تېرې شوې دي، خو بيا هم سمه خبره که هر وخت وشي خپل تاثير حتمن لري، نو د مسلمانانو ترمنځ د حق دريځې او باطل موقف ټاپې معنا نه لري، ځکه د دين په برخه کې ټول مسلمانان سره يوه خوله دي اختلاف تل پر شرعي مسلو راځي او په هغو مسلو کې اختلاف د کفر(باطل) سر حد ته څوك نه رسوي. همدغه ټکى بايد د مسلمانانو ترمنځ له وخته واضح واى چې اختلافي مسايل کوم دي او د مقدس په متن په کومه برخه کې يې امکان شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موږ له وخته دین او شریعت سره بېل کړي وای او د هر یوه لپاره مو خپل چوکاټ تعین کړی وای، ممکن نن د اختلاف او وژنو پر دې سخت پېچومي نه وای ولاړ.

قران کریم حق و باطل یوازې د اسلام او کفر ترمنځ کارولي دي، په یوه قران ایت کې دي:

{وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا} [الإسراء: 81].

ژباړه: او ووایه: حق راغی باطل ولاړ، بېشکه باطل له منځه تلونکی دی.

دلته وینو چې حق اسلام دی او باطل یې مقابل کفر و شرک دی، رسول الله ص د مکې ته فتحې په ورځ د بتانو ماتولو مهال دغه ایت تلاوت کاوه، نو د مسلمانانو ترمنځ دغه کار باید ونه شي.

الله دې انسانانو ته د حق لار روښانه کړي او پر همدې لار د تلو توفیق دې ور په برخه کړي. امین!

۲۰۲۰/جون/۲۴

**سرچینې:**

(۱) صحیح البخاري کتاب الاعتصام بالکتاب والسنه، باب اجر الحاکم اذا اجتهد فاصاب او اخطأ ح: ۷۳۵۲.

(۲)بحر الفوائد المسمى بمعاني الأخبار للكلاباذي: 311.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په شرعي تعبيرونو کې د شريعت عمومي روح ته د نه پام تشه

په يوه نظريه کې ډېر افراط او تفريط په فاشيزم بدلېږي، متدين کسان د انسانانو په نسبت له شرايعو سره د همدې حالت ښکار شوي دي. شريعت انسان مهم بللی دی او د شريعت ټول راغلي متون دا په ګوته کوي چې هر رسول و نبي انساني ټولنې ته د هغوی د بريا لپاره الهي پيغام راوړی دی. دا هغه خبره ده چې ټول متدين کسان پر متفق دي، نو که د هر نبي راتګ د انسانانو لپاره وي، نه يوازې د خپل ځان لپاره، نو له دې عمومي الهي تګلارې دا ثابتېږي شريعت انسان ته د ګټې لپاره راغلی، د انسانانو ګټې خدای ته مهمې وې له دې وجې يې رسول ورته لېږلی او انسان د خپل ذات له مخې خدای ته مهم دی، ځکه يې هغه ته ارزښتونه ور کړي چې انسان په خوندي شي او ژوند يې له کړاو او ستونزو خلاص شي.

قران کريم په ګڼو ځايونو کې دا وضاحت کړی هم دی:

{مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ}.

[النحل: 106]

ژباړه: څوك چې تر ايمان وروسته انكار وكړي، مګر هغه څوك چې مجبور شي او زړه يې په ايمان ډاډه وي.

په دې ايت کريمه کې الله تعالی هغه چا ته د کفر او له الهي دين و خدايه د انکار اجازه ور کړې ده چې اړ وي، مرګ يې په مخکې وي، مال يې له منځه وړل کېږي او د بدن غړي يې پريکېږي، نو په دې مجبوريتونو کې هغه ته اجازه ور کړل شوې ده. يو بل ځای هم وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



{إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ} [البقرة: 173]

ژباړه: بېشکه پر تاسو مړزکه، وينې، د خنزير غوښه او هغه چې له الله پرته د بل چا په نوم ذبح شوي وي حرام دي، نو که څوک تېريګر او باغي نه وي خو مجبور شي پر هغه هيڅ ګنا نه شته، بېشکه الله ډېر بخښونکی مهربان دی.

په دې ايت کې موږ ته بيان شوې ده چې که اړتيا شوه له حرامو هم ګټه اخيستل کيدای شي، قران کريم اړتيا نه ده تعريف کړې چې تر کومه ځايه شرعي اړتيا ده او تر کومه نه ده؟ دا يې انساني عقل ته خوشي کړې ده چې هغه له خپل توان سره سمه اړتيا تعريف کړي، ځکه انسانان د بدني ځواک او زغم په لحاظ حتمن توپير سره لري، نو که يو حد وټاکل شي ممکن ځينې کسان تر هغه حده د رسېدو او صبر توان ونه لري چې پر خلکو به بوج رامنځته شي، له دې امله الله تعالی د اسانۍ لپاره حد نه دی ور ته ټاکلی.

په دغه يوه ايت کې موږ پوهېږو چې د انسان د ژوند او راحت څومره خيال ساتل شوی دی، که انسان د خپل ذات له مخې مهم نه وای، نو ارزښتونو به د هغه د حالاتو په تغيير دومره تغييرېدای. له مقدسو ارزښتونو راواخله بيا تر انساني هغو هر څه يې د انسان د خدمت لپاره دي، که انساني ټولنې ته له ارزښتونو مشکلات پيښېدل نو هغه ارزښت پر خپل هغه شکل نه دی پاته چې انساني ټولنه خير ترې ووينې، بايد هغه اړخ ته واړول شي چې د بدۍ پر ځای د نيکي تمه ترې وشي. دا تعريف عام دی، که عامې انساني ګټې په خطر کې وي، نو شرعي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشرعي ټول ارزښتونه باید هغه ډول تعبیر شي چې انساني عمومي ګټې خوندي کړي نه زيانمنې.

په یوه ایت کریمه کې الله تعالی وايي:

{الر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ} [إبراهيم: 1]

ژباړه: الف لام را، دا ستر کتاب موږ تاته د دې لپاره نازل کړی چې انسانان له تاريکيو د هغوی د رب په امر رڼا او د غالب ستايل شوي ذات لارې ته بوزې.

په دې ايت کې موږ ته روښانه شوه چې د خدای لار هغه ده چې انسان به پکې سوکاله وي او سخت ژوند د خدای له لارې په مخالفت کې دی، نو که له شريعته هر څوک په هره زمانه کې د هر چا لپاره داسې تعبير وړاندې کوي چې د انساني ټولنې د پر مختګ پر ځای يې شاتګ په برخه شي، د سوکالۍ پر ځای يې مشکلات په نصيب شي او بالاخره انسان د بالذات مهم مخلوق و موجود پر ځای د ارزښتونو لپاره وسيله شي، نو د کعبې پر ځای ترکستان ته تللی او دا تعبير يې له دې امله ستره نيمګړتيا لري چې د شريعت عمومي روح ته پکې پام نه دی شوی.

که انسان خدای ته دومره مهم وي چې د هغه د ژغورنې لپاره زرګونه يا لکونه نبيان و رسولان رالېږي نو بيا ولې دومره مهم مخلوق د هغه ارزښت قرباني شي چې د انسان د حفاظت لپاره رالېږلی شوی دی؟

زموږ د شرعي تعبيرونو يوه لويه نيمګړتيا همدغه ده چې د شريعت د عمومي روح پر ځای پکې هغه ضمني يا هغه جزي مسايلو ته ډېر پام کېږي چې د شريعت په عمومي روح کې د تغيير سبب نه شي کېدای او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې عموميت ور کړی وي. زموږ په تعبير کې دا مهمه ده چې د مذهب امام څه ويلي، خو دا نه ده مهمه چې د هغه خبره د شريعت له روح سره څومره سرخوري؟ کله چې د شريعت تعبير د هغه چا لاس ته ولوئد چې له پخوا يې يو فکر خپل کړی او د هغه پر هر تعبير و تفسير د هغه پخوانی دريځ په شعوري يا لا شعوري توګه اغېز کوي، نو دا تعبير به څنګه د شريعت عموميات په نظر کې ونيسي-؟ که يوه دريځ انسان د هغه دفاع ته اړ کړ، يا يې له عمومياتو جزياتو و ضمني مسايلو ته توجو جلب کړه، نو دا دريځ حتمن د سمې خبرې په مقابل کې خپل پيرو پر خپل دريځ پاته کيدلو ته هڅوي چې د شريعت عمومي موخه تر پښو لاندې کوي او هغه ارمان چې شريعت يې انسان ته د ورکولو لپاره رالېږل شوی انسان يې په لوی لاس له منځه وړي او په دې سره نه يوازې ځان او ټولنې ته زيان رسوي؛ بلکې شرعي ارزښتونه هم ورسره سپکېږي، قدر او احترام يې د خلکو په نظرونو کې راکمېږي چې پړه يې لومړی د متدينو کسانو پر غاړو ده.

۲۰۲۰/جون/۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مدرسو نصاب؛ نیمگړتیاوې او اړتیاوې

د مدرسې، مکتب او پوهنتون نصاب د هر وخت اړتیاو ته په کتو جوړېږي او تدرسیږي. زموږ په یادو علمي و تحصیلي مرکزونو کې اوس هم د خورا تېر وخت نصاب د تدریس لپاره چمتو شوی دی.

دین د ټولنې یوه اړتیا ده، همداشان یې ټول هنرونه او دنیوي کمالات د ژوند اړتیاوې دي چې باید د وخت له غوښتنو سره سم چمتو کړل شي. که دین په هغه ډول تفسیر نه شي چې وخت یې غوښتنه کوي، نو خلک یا مخ ترې اړوي یا له دین سره لاوباله کېږي، که دنیوي هر کمال، هنر او ظرفیت ته په کمه سترګه وکتل شي، هغه ډول چې لازمه وي، هغسې مواد یې په اړه چمتو نه شي، تر فراغت وروسته به خلک د خپلو اړتیاو لپاره هغه ډول کار نه شي ترې اخیستلای چې ځنې تمه یې وي، له دې امله به د خلکو لېوالتیا ورته کمه شي او ورو-ورو به همدا فیصدي د خلکو زیاته شي چې تعلیم یې کړی وي؛ خو د کار پر ځای د یوه بې تعلیمه غوندې شي.

که په مدرسه کې نصاب نیمګړی وي، له هغه ځایه وتونکي کسان به هم زیاتې نیمګړتیاوې ولري، علم به یې د وخت غوښتنو ته ځواب نه شي ور کولای، په خپل ژوند کې به له مختلفو ستونزو ځخه کړېږي. تعلیم به یې د اقتصاد په ښه کولو کې نقش نه شي ادا کولای، له ټولنې سره په تعامل کې به مشکلات ولري، د خپلو اړتیاو په رفعه کولو کې به له سختۍ سره مخ وي، د حال پر ځای به ماضي کې اوسي، د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



عیني شرایطو ته به له خیالي عینکو ور ګوري، په ټوله کې به واقعیت او عینیت د یوه واقعي وجود په ډول نه شي درک کولای.

زموږ د سیمې د مدرسو نصاب بیخي د سونو کلونو پخوانی نصاب دی چې د اوس وخت هیڅ غوښتنې او اړتیاوې نه شي پوره کولای، له لویه سره د نصاب پیل هم دومره پېچلی، ګران، مغلق او زوړ دی چې د نورې نړۍ اوسني پوهان ممکن دا خبرې بیخي تایید نه کړي چې په نړۍ کې اوس هم داسې نصاب وجود لري.

زموږ د نصاب په اړه څو مشخص موارد د پام وړ خراب دي چې زیات رغښت ته اړتیا لري او زه یې دلته معرفي کوم:

۱/ د مبتدئینو ستونزې

ابتدایي طالبان دلته د بغدادي قاعدې په نوم د عربي الفباء له یوې رساله وزمه ښوونیز کتاب څخه پیل کوي، چې یوازې د عربي حروف، کلمې، جملې او لوست ور ښودل کېږي. هغه قاعده ګرانه ده، د ابتدایي طالب لپاره ځینې ستونزې لري، د یوه ملا ټوکه ده، چې د بغدادي قاعدې مشکل اول له نومه را پیل دی چې موږ په سونو کلونو هغه افغاني قاعده نه کړه، بلکې لا هم د بغدادي په نوم تدریسېږي.

پاکستان کې د اوسېدا مهال مې د اتبدایي طالبانو لپاره بېلابېلو سیمو کې ګڼې قاعدې ولیدې چې د ماشومانو د انسانتیا په خاطر لیکل شوې وې. هغوی په اردو د استاد او طالب دواړو لپاره لارښود هم در لود چې د دې قاعدې د ویلو مهال باید پام ورته شوی وای. د اسانتیا لپاره یې ګڼ توري په مختلفو رنګونو هم وهلي وو چې طالبانو ته یې تفکیک اسانه شي، کله چې یې وپېژني لوست یې ورته اسانېږي او په اساني کولای شي چې پر خوله یې واوړي خو موږ په خپله ژبه داسې هیڅ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ورته ليکلي او هماغه د سل دوه سوه کاله پخوانۍ بغدادي قاعده ده او موږ يې د تدريس طريقه هم زده نه کړه، بلکې تر اوس هم په کليو کې ناسمه ويله کېږي.

ستونزه نه يوازې له پيله شته، بلکې وروسته نورې هم زياتې شي. د ليک لوست د زدکړې لپاره په طالب د فارسي ژبې يو ګران شعري کتاب لوستل کېږي، چې بيخي ګران او د زدکونکي ژوند له کړاوه ور ډک کړي. د فقهې په برخه کې شروط الصلاة، قدوري، منية المصلي او... يو په بل پسې ورته لوستل کېږي. دا کتاب که په خپل ذات کې سم دقيق وکتل شي او بيا د هغو طالبانو علمي کچه وارزول شي، نو ترمنځ به يې خورا زيات توپير ومونډل شي. دا کتابونه د لويانو لپاره دي، ماشوم په دې کتاب کې د زدکړې پر ځای متحير کېږي او لالهانده پاته شي دلته څه حال دی؟ ماشوم ته ځينې شيان لومړيتوبونه دي چې ژر يې بايد زدکړي، د لمانځه، اودس، غسل او دې ته ورته موضوعاتو مسايل بايد په ساده ژبه ورته بيان شي چې هغه يې زده او عملي کړي. نه دا چې په سخته ژبه د مذاهبو له اختلاف سره ورته بيان شي چې هغه د زدکړې پر ځای نور هم ګنګس شي.

لومړی که دا ابتدايي کتابونه د بلې ژبې پر ځای په خپله ژبه ورته وليکل شي، لا به ښه شي، ځکه ماشومان به ژر خپل ديني مسايل زدکړي، اما که په بله ژبه ورته ويل کېږي، نو بايد دومره ساده وي چې دوی ته په زدکړه کې ستونزې جوړې نه کړي، دويم شی بايد هغه څه په پام کې ونيول شي چې ټولنه کې موجود دي او د اوس وخت له اړتيا سره يو عام رواج هم دی. لکه: د خولې د پاکولو لپاره د برش او کريم مثال، د استنجاء لپاره اوبه او ترې وروسته د لاس مينځلو لپاره صابون يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شامپو راوړل، پخواني مثالونه له کتابونو باید وایستل شي، لکه د خاورو استنجاء، په خاورو لاس پاکولو، د لرګي مسواکونه او داسې نور شیان چې نن نه کارېږي او ځای یې نورو شیانو نیولی دی.

که د مدرسې پر ځای ماشوم لومړی زدکړې له ښوونځي پیل کړي، نو لا به ښه شي، د مدرسې او مکتب فاصله به هم ختمه شي او لومړی عمومي زدکړې به ټولو ماشومانو کړې وي چې په اینده تعلیمي ژوند کې دا بیناد ورته ډېر ګټور ثابتېدلای شي. که څه هم د مکتب په اوسني نصاب کې هم ستونزې شته اما د مدرسې په نسبت بیا هم ښه دی، ماشوم د مکتب په نصاب کې د مدرسې تر هغه ډېر څه زدکولای شي، که د ماشومانو په اړه دا تګلاره ومنل شي خورا ډېرې ګټې به ولري.

۲/ د ګرامر ستونزه

زموږ اوسني نصاب کې تر ژبې مخکې د ګرامر قواعد په زده کېږي، د صرف او نحوې کتابونه له پیله په قواعدو پیل کوي، استادان هڅه کوي چې په طالبانو د صرف او نحوې قواعد حفظ کړي. د دې نتیجه دا شي طالبان یوازې پر ژبه قواعد یاد کړي نور یې د اجراء لپاره عربي جملې، کلمې او له ځانه په هغه ژبه کې مثالونه نه شي جوړولای. اصلن قواعد تر هغو معنا نه لري چې یو څوک په ژبه خبرې ونه شي کړای، کله چې د یوې ژبې د لغاتو ذخیره له یو چا سره نه وي، خبرې نه شي په کولای، مفردات او جملې یې حفظ نه وي، نو یوازې د ګرامر اصول یادول یې هیڅ نه شي دوا کولای. د ژبې په زدکړه کې تر ګرامري قواعدو د کلیمو، جملو، ترکیبونو، مفرداتو او اصطلاحاتو یادول ډېر اړین دی، ګرامر باید تر دې وروسته ولوستل شي او ګرامر دومره ډېر مهم نه دی چې په اړه یې ګڼ کتابونه ولوستل شي، یو کتاب د ګرامر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره بیخي کافي دی چې د عربي ژبې د صرف او نحوې ټول مهم اصول پکې بیانېدلای شي، که په یوه کال کې نه ویل کېږي نو کولای شي چې په دوه کاله یې ولولي او تر څنګ یې د ژبې پر ویلو، لیکلو، اورېدلو او دې ټولو قواعدو ته له ځانه د تمریناتو جوړول به د طالبانو دنده وي چې په زدکړه کې به یې مهم نقش ولري.

زموږ د مدرسو په نصاب کې دلته ستونزه داده چې یوازې د ګرامر پر موضوع یې ټول فوکس دی، دا لار یې ترکستان ته تللې ده. له دې امله د مدرسې څخه فارغ کسان نه په عربي خبرې کولای شي، نه لیکل کولای شي، نه د عربو په خبرو پوهېږي او نه هم د اوس عصر ـ نوې عربي کتابونو باندې پوهېږي، ځکه دوی ژبه نه زده کوي، بلکې ګرامر وایي او خپل ځو کلونه یوازې د ګرامر یادولو تېر کړي چې د ژبې زکړې ته یوازې لس فیصده اړین بلل کېدای شي.

د ضعف یوه بله نکته داده چې کتابونه په دې برخه کې زیات لوستل کېږي، دا کتابونه هم زیات دي، حجم یې غټ دی، له دې ټولو سره پېچلي او د پخوانۍ زمانې پر میتود لیکل شوي دي چې تر وضاحت یې اغلاقیت ته زیاته توجو کړې ده. د اوس وخت تقاضا داده چې کتابونه یې راکم کړل شي، په روانه عربي ژبه ساده ولیکل شي او تر اغلاق پکې وضوح زیات وي. دا کتابونه دې یوازې یو یا دوه وي چې اوس وخت په عربي کې دا کتابونه پر نوي میتود لیکل شوي دي او د صرف و نحوې دواړو لپاره پوره بسنه کوي، زموږ د مدرسو استادان باید نور د زمانې غوښتنې ومني او د عربي ژبې په اړه تر پخوانیو کتابونو نوي هغه کتابونه ګټور و ګڼي چې عربو د اوس وخت لپاره د زمانې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنو په رڼا کې لیکلي دي او زه په دې باور یم چې دا کتابونه به زموږ د مدرسو طالبانو ته هم ډېر ګټور وي.

د اهمیت وړ یو ټکی دا هم دی چې د ګرامري کتابونو تر څنګ دې د محاورې او د لغاتو د ذخیرې زیاتولو کتابونه هم په نصاب کې شامل شي، چې طالبان نه یوازې له ګرامر سره بلد کړي، بلکې په دوه درې کاله کې عربي ژبه داسې زدکړي چې هم لیکل په وکړي، هم یې مطالعه کړای شي، هم په عربي خبرو وپوهېږي او هم ایینده د دې ژبې زدکړه، طالب ته د یوه هنر کار ور کړي.

۳/ په خپله ژبه د ځینو اړینو کتابونو نه شتون

له پښتو ژبې سره د مدرسې ملایانو تر یوه حده سمه دښمني پیل کړې وه. حتا ځینو به یې ویل چې پښتو د دوزخ ژبه ده. دا مشکل له دې امله را پیښ دی چې زموږ د نصاب په برخه کې موږ په خپله ژبه هیڅ کتابونه نه در لودل، دا تشه د دې سبب شوه چې د مدرسې طالبان له خپلې ژبې څخه لرې شي، د خپلې ژبه زدکړه خوند ور نه کړي، د خپلې ژبې مطالعه ونه کړي کتابونه کې ونه لولي او لیکل خو بیخي لرې خبره ده. ان تر دې حده چې اخیر یې دښمني ور سره واخیسته، ما د خپلې طالبي دورې مهال د پښتو کتابونه په مدرسه کې راسره در لودل، ما ته څو پلا نه یوازې استادانو له هغو کتابونو د ځان ساتنې وویل؛ بلکې طالبانو به هم هره ورځ راته ویل. دا یو مشهوره خبره او عمومي ذهنیت وو چې د پښتو کتابونه لوستل د عربي کتابونو مطالعې ته زیان رسوي، اما دا خبره ما کله هم له استادانو سره ونه منله، نه طالب دا خبره راسره پیچلای شوای، ځکه ما په عربي تر دوی ښه مطالعه کولای شوای، کتاب به مې هم زده کاوه، د استادانو سترګې هم زما لور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرېدلې، له دې امله يې په ټينګار کله هم نه راته ويل چې پښتو کتابونه به نه ګورې.

زما په اند د ځينو فنونو پيلني کتابونه که پـه عـربي او پښـتو دواړو ژبـو وي، ګټه به يې زياته وي، د فقهې لومړي کتابونه بايد په خپلـه ژبـه وي چې طالب سمه زدکړه ترې وکړي. همدا شان به خپله ژبه هـم زدکـړي، ما ته اوس دا معلومېږي چې څوک په خپله ژبه نه پوهېږي نو هغه د بـل په ژبه هم ځان نه شي پوه کولای يا به هم ډېره ورته سخته وي. لـه دې امله د ځينو پيلنيو کتابونو ژبه که پښتو شي څو ګټـې بـه وکـړو: اول، لـه خپلې ژبې سره به طالبان شناخته شي، دوه، مفاهيم بـه عـام فهمـه وي، درې، نسبت د بلې ژبې زدکړې ته په خپلـه ژبـه شـيان ژر زدکېـږي، نـو طالبان به پيلني کتابونه ښه زده هم کړي.

۴/ له وخت سره سم د ځينو اړينو کتابونو نه وجود

اوس د علومـو څـانګې پراخـې شـوې دي، لـه دې املـه د علومـو د زدکړې لپاره وخت کم دی، همدې نکتې ته په کتـو بايـد د مدرسـو پـه نصاب کې ځينې اړين شيان زيات او ځينې بې اړتيـا کتابونـه څنـې کـم شي. د ګرامر په برخه کې مې هم وويل چې نصـاب کـې ټـول کتابونـه يوازې د ګرامر په اړه دي، د ژبې د زکړې کتاب نـه شـته، دا اړتيـا پخـوا هم وه او اوس نوره هم زياته شوې ده. د عـربي ژبـې د زکـړې کتابونـه بايد زيات شي او د ګرامر کتابونه دې راکم کړل شي، د نحو مير، هداية النحوې، کافې، شرح ملا جامي او عبد الغفور پر ځای دې نن د ګرامـر يو ښه کتـاب لـه هغـو معـاصرو کتـابونو غـوره شي چـې عربـو د خپلـو مدارسـو لپـاره لـيکلي دي، خـو د دې نـورو بـديل دې د ژبـې کتابونـه وړاندې کړي. همدا شان په فقه کې خورا نوې زاويې پيدا شوې دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصاد له میدانه واخله بیا تر کورني ژونده په ټولو برخو کې نوي مسایل را پیدا شوي دي چې د مدرسو په نصاب کې باید دې ټولو برخو ته پام وشي. د مدرسې طالب العلمان چې د اوس وخت د دیني قشر ـ مسایل به ورته حل و فصل کوي نو ورته په کار ده چې مسایلو کې نوي بعدونه وپېژني او هغه زاویې په پام کې ولري چې ننني پرمختگونو ورته لار جوړه کړې ده. یوه نوې اړتیا د د انگریزي ژبې د زدکړې په اړه هم ده، دا یوه له مهمو اړتیاو څخه شوه، ځکه نه یوازې د ټیکنالوجي ژبه ده، بلکې د نړۍ د معرفت او علومو ژبه هم ده. د نړۍ د هر شي په اړه تحقیقات په همدې ژبه کېږي، له نړۍ سره د وصال ژبه ده، موږ په خپل جیب کې ټلیفون حتمن لرو، که دا ژبه مو زده نه وي، نو د هغه په سسټم پوهېدل به هم راته مشکل وي، ان زموږ په لاسي ساعت کې هم دا ژبه شته، که تاسو یې شاته وگورئ یا یې مخته دقیق متوجې شئ نو د انگریزي لارښونې به حتمن ورباندې ووینئ. بله مهمه اړتیا د کمپیوټر د زدکړې ده، نه یوازې دا چې په دنیوي کارونو کې مهم دی، بلکې د دیني طالبانو لپاره هم اوس مهم دی. انټرنیټ پکې کارول کېږي چې زموږ د ژوند یوه ډېره لازمي اړتیا ده، لیکل پکې کوو چې هیڅ چاره نه ترې لرو، همداشان د کتابونو لپاره اوس مهم ساپټویرونه جوړ شوي دي چې کمپیوټر کولای شي هغه خلاص کړي او موږ ور څخه استفاده وکړو؛ لکه: مکتبه شامله، موسوعه شامله، الباحث الحدیثي او داسې نور. له دې امله نو کمپیوټر زدکول د اوس وخت یوه سخته اړتیا ده چې باید مدرسو په نصاب کې ځای ورکول شي.

د منطق او فلسفې په اړه زیاته اړتیا نه شته، که وي نو دومره زیاتو کتابونو ته نه شته. هسې هم د دیني مدرسو طالبان له منطق او فلسفې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره زيات جوړ نه دي، له دې املـه بايـد لـه دې فنونـو سره د شـناخت لپاره دې څو بنيادي کتابونه په نصاب کې داخل شي او لوسـتل بـه يـې ورته بې گټې نه وي، نور دا يوه پيږه منطقـي کتابونـه دې لـه يـوه مخـه وايستل شي. جالبه داده چې د منطقو تر لس زيـات کتابونـه پـه داسـې ډول تدريسيږي چې ټول يې تقريبا څو خاص موضـوعات تـر تحقيـق لاندې نيسي، نو دومره پېچلي دي چې د ويلو مهال به په سل کـې شـل فيصده طالبان وي چې په دې کتابونو دې د استاد تر تشريح وروسته په متې پوه شي. ما په کراچي کې د درس ويلو مهـال ځينـې نـوي کتابونـه ليدلي وو چې پاکستانيو مدرسو کې ويل کېـدل، کـه مـوږ هـم دا لويـه برخه يې ايسته کړو او يوازې له دې فنونو سره د شناخت لپاره پـر ځينـو بنيادي کتابونو تمرکز وکړو نو زما په اند هم به وخت را بچت شي او هم به له دې فنونو سره شناخته شو.

د بلاغي علومو په اړه زموږ پوهـه ډېـره پـر کمـزوري بنسـټ ولاړه ده. لومړی موږ له دې علومو سره په خپله ژبه کې هيڅ ډول شناخت نه لرو. له بده مرغه چې زموږ د مدرسو طالبان فکر کوي بلاغي علوم يـوازې د عربي ژبې لپاره دي او نورې ژبې له دې څخه بې برخـې دي. دلتـه بيـا يادونه کوم چې که موږ په نصاب کې له پيله په خپله ژبه ځينـې کتابونـه لرلای نو داسې خلا به نه رامنځته کېده. د بلاغت په اړه موږ بيخي تـش لاسي يو، کتابونه يې د بلې ژبې په گرانه عربي ليکل شوي دي، ما چـې خپله دا کتابونه ويل نو هيڅ نه پرې پوهېدم، ما چې کله بيـا د تعلـيمات اسلامي لپاره تياري کوله او د بلاغت په نوم مـې يـو عـربي کتـاب چـې نوی د يوه عرب له لوري ليکل شوی دی وکتی پـوه شـوم چـې مـوږ د مدرسې کتابونه څومره پيچلي وو او موږ څومره بې ځايه وخت پر هغـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونو تېر کړی دی. د بلاغت په اړه کتابونه هم له سره لیکل غواړي، دا شته کتابونه له یوې خوا ډېر پخواني دي او بل ډېر مغلق دي، دا کتابونه د طالبانو تر سویه لوړ دي، اصلن د زدکړې مهال باید تمرکز یوازې د طالب پر زدکړه او اخذ وي، نه دا چې څومره پېچلي کتابونه لوستل کېدای شي، دلته هم د کتاب لیکوال ظلم کوي چې مغلق کتاب لیکي او هم استاد ظلم کوي چې یوازې د خپلې تبارې د تیزولو لپاره تدریس کوي د نورو غم ورسره نه وي. په عربي کې پر دې موضوعاتو مهم کتابونه اوس لیکل شوي دي چې هم اسانه دي، هم لنډ دي او هم د وخت غوښتنې په نظر کې نیول شوې دي، که د مختصر، مطول او د دې دوو کتابونو د متن پر ځای اوس نویو کتابونو ته ځای خالي شي د طالبانو لپاره به ډېر گټور وي.

زموږ د نصاب یوه بله خلا د تاریخ په برخه کې ده، تاریخ بیخي په مدرسو کې بې اهمیته شوی دی. ځکه د تاریخ په اړه هیڅ کتاب نه شته، د تاریخ ځینې مهم کتابونه باید په خپله ژبه او عربي دواړو وخت ناوخته تدریس شي چې طالبان د تاریخ له اهمیت سره بلد شي او هم له تاریخ څخه عبرتونه واخلي. د تاریخ په برخه کې په ځانگړي ډول د خپل وطن او سیمې په اړه هیڅ نه پوهېږي چې د دې سیمې تاریخ څه دی؟ دا یوه لویه خلا ده چې باید حتمن ورته جدي پاملرنه وشي.

د سیرت په اړه هم کتابونه د نصاب په کتابونو کې ځای نه لري، د پاکستان په مدرسو کې سیرت ته په څو درجو کې ځای ور کول شوی دی، د رسول الله ص سیرت باید پر څو برخو وویشل شي او بیا له ابتدایي مرحلې واخله تر اخیره په بېلابېلو درجو کې په اسانه او متوسطه او لوړه سویه ځای پر ځای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دعوت برخه بیخي د ارزښت وړ نه بلل کېږي، نه اصول ورته ټاکل شوي دي او د نصاب په برخه کې حتا یو مضمون لا نه لري، دا برخه خورا خواره ده او ډېر زیات کار ورته په کار دی. له پیله دې په خپله ژبه کتابونه ورته ولیکل شي او په اخیر کې دې په عربي ژبه هم ځینې کتابونه د نصاب برخه شي چې د دعوت په اړه یې مفصل او مجمل بحثونه کړي وي.

د فقهې کتابونه دې له یوې مخې نوي کړل شي، لومړی دې ساده کتابونه ولیکل شي چې که بیخي په خپله ژبه وي لا به ښه وي، تر دې وروسته دې په عربي شي او بیا چې د طالب سویه لوړېږي نو د کتاب علمي کچه دې هم وسره پورته کېږي چې اخیرو درجو کې دې د مذاهبو پرتلې ته ورسوي او د څلورو یا پنځو مذاهبو ترمنځ دې د پرتلې کتابونه هم ولیکل شي چې طالبان د نورو مذاهبو په اړه معلومات تر لاسه کړي او هم د مذاهبو ترمنځ د تعصب کچه ورسره را کمه کړل شي.

د اصولو فقهې په اړه هم شته کتابونه کافي نه دي، ما په دې اوس وخت کې ځینې مهم کتابونه ولیدل چې د اصولو په اړه لیکل شوي دي که دا کتابونه په نصاب کې ځای شي، ښه به وي، یو لور ته نوي دي او بل لور ته ساده او اسانه دي. د اصول الفقهې د قواعدو او فقهي اصولو په اړه هم باید داسې کتاب نصاب کې وي چې د دې دوو فنونو د تفریق پر مسایلو یې رڼا اچولې وي، طالب ته باید دا روښانه وي چې اصول الفقه او فقه تر خپل منځ څه ارتباط سره لري او کوم توپیرونه شته چې نه ځنې ګډ شي او نه هم بیخي دومره سره بیل شي چې د ګډوالي هیڅ مشترک ټکی ورته پیدا نه شي کړای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تفسیر په اړه خورا لویه خلا موجوده ده، همدا شان د حدیثو په اړه مورږ له وخته ډېر لوی ظلم کړی دی. د نصاب په مختلفو مرحلو کې دې د قران کریم ترجمې ته ځای ور کړل شي او هم دې د حدیثو ځینې کتابونه ولوستل شي چې د حدیثو دورې ته تر رسېدو مخکې باید د حدیثو او تفسیر له روح سره طالب اشنا وي، هسې خو دوره یوازې په یوه کاله ویله کېږي او هغه هم نیم کال استاد او طالب دواړه په تاخته وي، تفسیر او حدیث د تاختې کار نه دی، د نصاب له پیله بیا تر پایه باید په ټولو برخو کې قران او حدیث ځای ولري چې طالب یې هیڅ وخت هم له اهمیت څخه غافل پاتـه نـه شي. اصولو تـه یې هم توجو په کار ده، مورږ د حدیثو اصولو ته بیخي شا ور گرزولې ده او د تفسیر په اړه هم یوازې یو کتاب لوستل کېږي چې کفایت نـه کـوي. د نصاب په جلا جلا مرحلو کې دې د تفسیر او حدیثو اصول ور شامل کړل شي چې هم یې زدکړې ته پام وشي او هم طالبان تـرې غافل نـه شي.

له دې یادو نکتو سره دې د ځینو هنرونو لور تـه هـم پـام وشي لکـه، خوش خطي، لیکوالي، د ترجمې فن، د خطابت یا بیان فن، د حساب یا ریاضي فن، اوس خو خلاصة الحساب لوستل کېږي چې هیڅ نـه ترې زدکېږي، د هندسې په برخه کې پخوانی یو کتاب دی چې اوس باید وایستل شي او نویو کتابونو ته ځای ور کول شي، د شعر او ادب په برخه کې هم د عربي له پخوانیو معیارونو سره سم یو کتاب دی چې باید نویو کتابونو ته ځای ور کول شي ځکه هم نوي دي، هم ساده دي او هم یې نوې بعدونه پکې څېړلي دي. د هنر په برخه کې دې پر نورو هنرونو هم فکر وشي که گټور وگڼل شي نو باید نصاب ته په داخلولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې هيڅ تذبذب ونه شي. د ژبو په زدکړه دې هم فکر وشي، که په نصاب کې د عربي تر څنګ د ځينو سيمه ييزو ژبو کتابونو ته ځای ور کړل شي ګټه به يې حتمن زياته وي. د ژبې زدکړه کمال دی او دا کمال د ژوند په ټولو برخو کې انسان ته په کار ور ځي. هغه بې ګټې کتابونه چې اوس وخت يې فايده نه شته بايد وايستل شي او ځای دې همدې د ژبو کتابونو ته خالي شي چې له طالبانو سره په ډېرو برخو کې مرسته کولای شي، په ګڼو ژبو به مطالعه کوي، له هر ډول استادانو به درس ويلای شي، ممکن د ترجمې په برخه کې کار ترې واخلي او داسې نور کاري مجالونه هم ورته برابرېږي.

۵/ د ځينو فنونو کم لوست او د نورو بيا زيات

زموږ نصاب يو معتدل نصاب نه دی، دې لور ته يې اصلن هيڅ پام نه دی شوی. اوس چې وخت کم دی او د علومو څانګې پراخې شوې، نو نوره نړۍ کوښښ کوي چې اړين کتابونه په زدکونکو ووايي او مختنوي رادبره کېدونکې علمي څانګې په زدکړي. خو زموږ په نصاب کې ځينې کتابونه له هر ډول ګټې پرته يو درجن ويل کېږي او نور بيا له هر څومره اړتيا سره هيڅ نه ويل کېږي. مثالونه يې د منطقو او حديثو ور کولای شو. حديث يوازې د اخيرني کال په دوره کې ويل کېږي چې طالب هم پايڅې پورته کړې وي او استاد هم، منطق بيا له ايساغوجي واخله تر سلم و حمد الله پورې ويل کېږي چې تر يوه درجن هم زيات کتابونه دي او ګټه يې لکه دوی چې په ژوند کې نه ده ليدلې موږ هم نه ده ليدلې.

د ګرامر، فقهي، منطق، صرف، فارسي ادب، بلاغت، اصول الفقهي کتابونه دې يوه برخه ايسته کړل شي، يوه برخه دې په نورو بتديل کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او که ووایم یوازې یو فیصد کتابونه یې داسې دي چې پر ځای دې پاته شي دا نور ټول یا د ایسته کولو وړ دي یا یې د بدیل اړتیا ده. په مقابل کې دې د سیرت، دعوت، کمپیوټر، انګریزي ژبې، عربي ژبې، پښتو ژبې که اړتیا وه د فارسي او اردو ژبې د زکړې کتابونه، اصول الحدیث، اصول التفسیر، تاریخ، نوې فلسفې، نوي بلاغي علوم د پښتو او عربي دواړو، د حدیثو بېلابېل کتابونه د تعلیمي دورې په جلا جلا مرحلو کې باید ولوستل شي چې دا برخه زموږ په نصاب کې خواره ده، غني کېدا ته اړتیا لري او هغه اوله برخه یې تر اړتیا زیاده ده چې کافي کمېدا او بدلېدا ته ضرورت لري.

٦/ د ځینو نویو فنونو او وسایلو د معرفي کتابونه

په مدرسه کې نوی فکر او نوي وسایل لکه په دین کې بدعت داسې بد ګڼل شوي دي. هیڅ نوی فکر ورته لار نه کوي او هیڅ نوی کتاب ورته د پخواني غوندې ښه مقام نه لري. له دې امله نو له جدیدو وسایلو سره دومره نابلده دي لکه هغه چې له بلې نړۍ راغلي وي او دوی یې هیڅ اړیکه ورسره نه لري. که په نن پېر کې ژوند کوو، له دې خلکو سره مو سر و کار وي، همدې خلکو ته د دین تعبیر او تفسیر زموږ دنده وي، نو دا وسایل نه یوازې زموږ لپاره اړین دي، بلکې فرض کفایي دي. د ژوند په هره برخه کې ستا مخالف ځای نیسي، که ته هلته ور نه شې؛ نو نه یوازې هغه مقام درڅخه نیسي. بلکې نورو ځایونو ته هم سرایت کوي او بیا یې مخه نیول مشکلېږي. د جدیدو وسایلو په اړه همدا تګلاره اوس نورې نړۍ را خیستې ده، که مسلمانان په رښتیا د نورو له فکري یرغل څخه ځانونه ساتي؛ نو په جدیدو وسایلو او افکارو کولای شي چې د دې یرغل مخه بنده کړي، که نه د بل تر فکري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلتوري یرغل لاندې به دل کېږي. له نیت سره دښمني حللار نه ده؛ بلکې سالمه کارونه یې حل دی، کمپیوټر د دښمنۍ شی نه دی، بلکې زدکړه او د خپلو موخو لپاره استعمال یې مناسب حل دی، هر نوی فکر د رد وړ نه دی، بلکې هغه فکر باید رد شي چې معنوي او مادي ارزښتونو ته لغته ور کوي، دا نو گرانه ده چې په ژوند کې دې مادي وسایل ټول نوي شي؛ خو افکار دې همداسې زاړه پاته وي، د ژوند یوه برخه پر بله اغېز کوي، له دې امله نو که وسایل نوي کېږي، افکار ورسره اتومات بدلېږي؛ نو که موږ ورته له وخته تیاري ونه لرو بیا یو دم له جدیدو افکاروسره مخ شو، حتمن به یې د ځواب پر ځای په خاموشي د ځواب هڅه کوو چې ماته به زموږ حتمي تقدیر وي. له دې امله نو د نصاب په برخه کې نوي وسایل معرفي کول، زدکړه، پالل یې، افکار نوي کول، هنرونو ته ځای ور کول او طالبان ورته تشویقول د دې وخت تقاضا ده او که څوک یې درك نه کړي، حتمن به د ژوند له کاروانه شاته پاتېږي او یوه ورځ به د حسرت لاسونه بیا سره مښي.

۷/ د هنرونو کموالی

د مکتب او مدرسې په نوم د ماشومانو د تعلیم بېلولو دا زیان ورساوه چې د مدرسو طالبان له خورا ډېرو هنرونو بې برخې شول. هغه څه چې په مکتب کې ور زده کېږي، هغه په مدرسه کې نه شته، د مدرسې نصاب له لومړي سره تخصصي- دی او طالب العلم له پیله تر یوې کټګورۍ را محصور کړي. د دې تاوان دا شي چې هغه عمومي کمالات نه شي زدکولای، د مکتب یو اهمیت په دې کې دی چې مضامین یې عمومي وي او د زیاتو شیانو په اړه زدکونکي ابتدایي معلومات کولای شي یا هم له ګڼو فنونو سره یې اشنا کوي. ژبې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي وسايل دي، د ليکنې فن دی، د خط ښکلا ده، رسامي ده، له حساب و کتاب سره شناخت دی، سائنس سره بلدتيا نن اړينه ده او هغه د مکاتبو په نصاب ممکنه ده خو مدرسه کې له دې يادو شيان هيڅ هم نه شته. د مدرسې نصاب د جغرافيې په اړه هيڅ نه لري، ټولنيز نزاکتونه پکې نه زده کيږي، له خلکو سره د تعامل په اړه هيڅ نه شته، که د مکتب او مدرسې په نوم دوه بېل نصابونه ماشومانو ته بايد تعين نه شي، په ابتدا کې به ټولو ماشومانو هغه څه ويلي واي چې د يوه ماشوم لپاره يې ويل اړين وي او هغه ته به په خپل ايينده ژوند کې گټه رسوي. له مدارسو زياتره اوسني فارغين نه په عصري علومو پوهيږي او نه په ديني. زموږ ټولنه شاهده ده، لس يا شل سلنه يې داسې دي چې ويل شوي علوم بيرته تدريس کولای شي که نه اتيا سلنه يې د هغه وړتيا هم نه لري. نو هغه نصاب چې نه د عصري علومو سره شناخت په جوړېدای شي او نه د دين معرفت لپاره بسنه کوي، څنگه يې يو تعليمي نصاب وبولو؟ زموږ نصاب د ډېرو نور تشو ترڅنگ دا تشه هم لري چې طالبانو ته د دنيوي هنرونو او کمالاتو په اړه هيڅ هم په نظر کې نه دي نيول شوي. فارغ ملا وي په خپله ژبه ليکل نه شي کولای، په يوه شرکت کې د منشي يا ميرزا دنده نه شي مختله وړلای، په يوه مکتب کې د ساده رياضي، ساينس، تاريخ، حغرافيې او... استادي نه شي کولای حتمن به هغه ته ديني مضمون ور کول کيږي، په رسنيو کې يوازې د ديني بخش خپرونه مخته وړلای شي نور پروگرامونه ورته سخت وي، د کتاب ترجمه نه شي کولای، خپله ليکل نه شي کولای، د عربي ژبې د استاد دنده نه شي سرته رسولای، ښه ښکلی خط نه لري، رسام نه وي، له دې پرته هغه هنرونه چې يوازې په تمرين او

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملي کار زده کيږي لکه نجاري او داسې نور خو بيخي پر خوله هم نه راوړي. د نصاب په اصلاح کې همدې لوري ته ډېره توجو بايد وشي.

۸/ لومړيتوبونه په نښه کول

په ژوند کې چارې ډېرې دي، که ټولو ته په يوه پلا لاس ور واچول شي نو اخير به د ټولو پای ته رسول مشکل شي، له دې امله انسان تل هڅه کوي چې ځينې تر نورو مخکې کړي. دا ولې؟ ځکه هغه تر نورو اولويت لري، دا چارې له دينه بيا تر دنيا په ټولو برخو کې شته. د مدارسو په نصاب کې دې برخې ته توجو نه ده شوې، نه د هنرونو د زدکړې په برخه کې نه د فقهي مسايلو په ميدان کې.

د قران له متن څخه هم د اولويت په اړه مثالونه موندلای شو او له حديثو څخه هم. فقهاؤ هم په دې اړه بحثونه کړي دي، د اوس له وخت له غوښتنو سره سم بايد ځيني کتابونه په دې برخه کې وليکل شي او د مدرسو په نصاب کې ځای ور کړل شي.

هر انسان په ژوند کې لومړيتوبونه لري، د فرد او ټولنې لومړيتوب بيا توپير سره لري، د وخت او مکان لومړيتوبونه هم فرق لري، د يوې ټولنې د کلتور لومړيتوب هم له بلې سره ښايي فرق وکړي. د مدرسو طالبان په دې برخه کې خورا کم پوهېږي، په دې مسايلو که د لومړيو درجو طالبان پوه نه شي، پروا نه لري، اما لوړو درجو ته بيا دا مهمه ده ځکه له دې هر څه سره مسايل تعلق لري چې د يوه ديني عالم لپاره ورباندې پوهېدل اړين دي.

۹/ اخلاقياتو ته نه پام

د اخلاقياتو په برخه کې زموږ نصاب هيڅ کتاب نه لري. حتا طالبان په دې اړه دومره خالي ذهنه وي که د اخلاقياتو په اړه له يوه لوی طالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه پوښتنه وشي، ممکن د اخلاقو په اړه ابتدايي معلومات هم ور نه کړي.

دا چې د اخلاقياتو بحث دلته هيڅ نه کېږي، نو ځکه يې په اړه دا بحثونه هم نه دي شوي چې د ټولنې اخلاقي نظام د شريعت پر نصوصو څومره اغېز لري؟ دا او دې ته ورته مهمې پوښتنې د مدرسې نصاب نه شي ځوابولای او همداسې گونگه روږه يې په دې اړه نيولې ده. نن دا ډول کمزوری نصاب په هيڅ صورت د منلو وړ نه دی، له دې امله بايد ژر تر ژر د نصاب پر سمونه کار وشي او دې اړخونو ته جدي پاملرنه وشي.

۱۰/ تفسير، حديث او فقهې ته لازمه پاملرنه

له ديني علومو څخه وروستی هدف په تفسير، حديث او فقه کې تخصص وي، د همدې هدف لپاره له پيله په نصاب کې همدې درو فنونو ته اهميت بايد ور کول شي. نوي ابتدايي کتابونه دې ورته وليکل شي، لومړی بايد ساده او اسانه وي، د درجو له لوړېدا سره دې د کتابونو علمي کچه هم ور لوړه کړي او همداسې تر پايه.

زموږ په اوسني نصاب کې تر ټولو لويه تشه د حديث او تفسير په برخه کې ده. دې دوو فنونو ته بيخي کمه توجو کېږي او د فقهې په برخه کې که څه هم لازمه پاملرنه شوې ده خو هغه کتابونه يې زاړه دي، د نوي ميتود هيڅ کتاب نه شته، خصوصن د مقارنې په برخه کې بيخي يو کتاب هم نه شته.

د فقهې په برخه کې دې ځينې کتابونه نوي وليکل شي چې زموږ نصاب يې هيڅ نه لري، لکه جديد مسايل، نوي فقهي قواعد او د مقارنې برخه، ځينې دې په نورو تبديل شي، ځکه په هغو کتابونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاړه تر وخت تېر بحثونه دي چې اوس ورته اړتیا نه شته او د هغو مسایلو ځای دې نویو مسایلو ته ور کړل شي چې په ټولنه کې اوس بیخي مروج دي لکه نوي کاروبارونه، بانکي مسایل او د معاملاتو د برخې نور نوي موضوعات.

۱۱/ د هیوادنۍ مینې تشه

له هیواد سره د مینې په اړه نو د مدرسو نصاب نه یوازې دا چې تشه یې ډکه شوې نه ده بلکې پر ضد یې مواد موجود دي. د شرط لپاره له شلو ملایانو پوښتنه وکړئ چې د زیاترو ځوابونه له هیواد سره د مینې پر ضد وي.

نشنلیزم د مدرسې طالبانو د کفر معادل ورته معرفي شوی دی، دوی ته نه دې ویل شوي چې ټول نبیانو خپلو قومونو ته مبعوث شوي وو، دوی ته نه دې ویل شوي چې پیغمبر د هجرت مهال مکې ته ویل چې د ځمکې تر مخ راته ګرانه یې. دوی ته فکر ور کول کېږي چې د هیواد او قوم لمانځنه حرامه ده. دا خبره پر خپل ځای سمه ده، لمانځنه که د قوم وي یا هم وطن، حرامه ده، مګر لمانځنه او مینه توپیر سره لري. موږ که خپل وطن ونه لرو نو بل هیواد د سجدې ځای هم نه راکوي، خدای کور ته چې د حج لپاره ځې هم به د خپل هیواد په پاسپورټ ځې او د هغه هیواد ویزه به لګوې، مشخصې ورځې در کول کېږي او تر هغو ورځو وروسته که د خدای په کور کې هم ولیدل شې نو د قانون له مخې به هغه هیواد حتمن سخته سزا ور کوي، هغه هیواد ته په وړیا توګه تلای هم نه شې، بلکې ویزه به یې هم په پیسو اخلې، لنډ او مشخص وخت به هلته تېروې او بیا به د وخت تر پوره کېدا وروسته یو لمونځ هم هلته نه کوې سمدستي به ځان وباسې. له دې څخه موږ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید د خپل هیواد اهمیت معلوم شي، له خپل هیواد او ملت سره مینه که فطري نه ده نو داسې ګرزي لکه فطري. د دې لپاره اړینه ده چې په نصاب کې دې فطري مینې ته ځای ور کول شي او طالب له نعمت څخه بې برخې نه شي چې له خپل وطن او ملت سره بې کچې مینه ولري او دا هر څه د مدرسې د کتاب له مخې په شرعي دلایلو باندې زدکړي.

۱۲/ انتقادي فکر

د مدرسې د نصاب یوه بله نیمګړتیا د تدریس په برخه کې ده. دلته استاد هر څه وایي او شاګرد یې اوري، نور نه پر استاد نیوکه شته او نه استاد خلکو ته دا فکر ور کوي چې تاسو د تدریس او کتاب په اړه خپل فکر راسره شریکولای شئ. وچ کلک جمود حاکم دی، استاد د یوه مستبد حاکم په شان تعامل له شاګردانو سره کوي چې د هغوی پر ایینده ژوند حتمن دا منفي اغېزې لري.

په نصاب کې داسې هیڅ کتاب نه شته چې د تدریس او درس په اړه دې لارښوونې کړې وي، د همدې خلا نتیجه ده چې استادان یې د تدریس په طریقو نه دي خبر او یوازې له وچ زور او استبداد څخه کار اخلي او یوازې استاد محوره تدریس کېږي چې د شاګرد فکر، ذهن، وړتیا و اهلیت ته پکې هیڅ ځای نه شته.

استاد کتاب مخته بږدي او درس وایي، تخته نه شته چې لیکل پر وکړي، د تېرو درسونو په اړه بحث نه شته چې هر طالب له خپل فکر او معلوماتو سره سم برخه پکې واخلي، د ایینده درس پوښتنه نه کېږي چې د شاګرد ذهنیت یې په اړه څنګه دی؟ استاد راځي کېني او درس وایي، کتاب ته ګوري مثال او ممثل یې ټول له کتابه وي، که یو دم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاده کتاب یوې خواته شي نو استاد ښايي خاموش ودرېږي او هيڅ هم ونه وايي. دا نصاب دومره کمزوری دی چې د کلونو استاد هم په دې کې دومره پر مختگ نه شي کولای چې د تدریس مهال که کتاب نه وي نو ښايي هيڅ يې تر خوله ونه وزي.

ازادې مطالعې ته هيڅ وخت پکې نه شته، استاد طالب ته نه وايي چې کولای شي ازاده مطالعه وکړي او دا يې په فکري غوړېدا کې مهم نقش لري. د استاد د ادب په نوم د شاگرد خوله بندېږي چې سوال ونه کړي، نيوکه ونه کړي او که په يوه مسله کې له استاد سره موافق نه وي، نو د بې ادبه په نوم رټل کېږي.

د استاد احترام جلا شی دی او له استاد سره په يوه موضوع کې خپل نظر شريکول بېل شی دی. دلته بايد احترام او مناقشې پولې سره جوتې شي او طالب دې د بې احترامۍ په نوم له دې نه محرومېږي چې پوښتنه ونه کړي، له استاد سره خپل نظر شريک نه کړي، نيوکه او انتقاد ونه کړي. له همدې دورې بايد طالب داسې تربيه شي چې تحمل ولري، د بل مخالف نظر ته احترام زدکړي، دا ور وښودل شي چې ته له مخالف کس سره يو ځای اوسه، حتمي نه ده چې په ژوند کې دې هيڅ مشترک نکات نه وي او ټول دې پر مخالفت راچورلي، نو په وژند کې مخالف او موافقت دواړه حتمي دي او هيڅ وخت په خپل مجلس کې ناست مخالف کس مه تخريبوئ او مه يې شړلو ته مجبوروئ.

نوټ:

زما له نظره زموږ پر نصاب بايد له ابتدا تر انتها بيا کتنه وشي. اما زه داسې نه کوم چې يادو مواردو کې مشخص کتابونه ياد کړم چې دغه بايد د هغه ځای ونيسي؛ ځکه دا کار بايد يوه داسې کميټه وکړي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې کار لپاره تاکل شوې وي، هغوی نه یوازې د دې چارې پوهان او نظروال وي؛ بلکې تر ښې مطالعې او پرتلې وروسته باید همدا کار د هغوی د ټولو په توافق وشي. زما هدف له نیوکې یوازې د خلکو دې لورې ته ور پام کول دي چې ایینده کې ممکن پر دې موضوع نور کسان زیات کار هم وکړي.

۱۹/۱/۲۰۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موسيقي په رواياتو کې

**نوټ:** موسيقي که څه هم اصلن د يوه فن نوم دی چې يوازې سروز او سندرې نه پکې راځي، اما زموږ په وخت کې يې عام استعمال د يوه فن په بڼه نه دی، له دې امله مې په سرليک کې موسيقي ياده کړې ده.

د موسيقي په اړه د مسلمانو پوهانو ترمنځ دوه انده موجود دي. ډېری پوهان په دې نظر دي چې موسيقي د رواياتو له مخې حرامه ده. د پوهانو يوه بله وړه ډله په دې فکر دي چې د موسيقي حرمت ته په قران کې اشاره هم نه ده شوې او بل خوا د حرمت په اړه زياتره روايات يې موضوعي او يا سخت ضعيف دي. د حرمت ملاتړي پوهان په دې اړه يوازې اته روايات داسې بولي چې استدلال ترې وشي او تر ټولو باوري روايت دوی هغه بولي چې بخاري په خپل کتاب کې معلق راوړی او نورو محدثينو بيا متصل کړی دی. د دې روايت په اړه محدثين پر دوو ډلو وېشلي دي. ځينې يې د صحت لور ته ترجيح ور کوي او يو شمېر نور يې بيا ضعيف ګڼي. دا مقاله مې د همدې رواياتو د څېړنې لپاره ځانګړې کړېده چې په راتلونکو کرښو کې به يې په اړه تفصيلي بحث وکړو.

په دې مقاله کې د هغو اياتونو په اړه بحث نه کوم چې يو شمېر کسان يې د موسيقي له حرمت سره تړي. ځکه نه د اياتونو الفاظ دا توجيه کوي، نه يې سياق او سباق مني او نه د اصحابو هغه اقوال د سند له مخې کره او ثابت دي چې دا اياتونه د موسيقي په اړه بولي. دې ټکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتو نو بحث د هغو روایاتو په اړه کوم چې له دې موضوع سره تړلي دي، خو لومړی د قران د یوې اصطلاح (فحشا) په اړه وضاحت کوم.

په قران کې د فحشا الفاظ د حقیقت له مخې زنا(الاسراء: ۳۲) ته کار شوي، خو دا چې عربو د فحش توری یوازې زنا ته هم نه کاروه، بلکې زنا، له زنا سره اړوند فعلونه او اقوال، همجنس بازي، بخل، بې انصافي او ځینې نورې بدې کړنې، له دې امله نو قران هم له زنا سره یوځای همجنس بازي(العنکبوت:۲۸)، له میرې سره نکاح(النساء: ۲۲) او بدو کړنو(ال عمران: ۱۳۵) ته هم د فحشا اصطلاح کارولې. د (الکلیات) لیکوال وایي:

[الْفَحْشَاء] : كل فحشاء ذكر فِي الْقُرْآن فَالْمُرَاد الزِّنَا إِلَّا فِي قَوْله تَعَالَى: {الشَّيْطَان يَعدكُم الْفقر ويأمركم بالفحشاء} : فَإِن المُرَاد الْبُخْل فِي أَدَاء الزَّكَاة.(۱)

ژباړه: په قران کې هر ځای د فحشا توری زنا ته کار شوی مګر یوازې په ذکر شوي ایت کې فحشا د بخل لپاره استعمال شوې.

له دې وضاحت څخه مې هدف دا وو چې یو شمېر کسان د فحشا ایت پر موسیقي ور تړپي، په داسې حال کې چې موسیقي د فحشا تر ایت لاندې په هیڅ صورت نه شي راتلای. موسیقي د زنا ذریعه نه ده او نه هم وه. بلکې څېړنو ښودلې د موسیقي اوریدل د انسان پر روان مثبته اغېزه کوي. یو شمېر مریضانو ته ډاکټران د درملنې لپاره دا توصیه کوي چې موسیقي دې اوري څو له ناروغي ښه شي.

اوس د هغو روایاتو په اړه بحث ته راګرځم چې د موسیقي د حرمت په اړه د روایاتو په کتابونو کې راغلي.

لومړی روایت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ، يَسْتَحِلُّونَ الحِرَ وَالحَرِيرَ، وَالخَمْرَ وَالمعَازِفَ.(٢)

ژباړه: ارو مرو به زما په امت کې داسې ډلې پیدا شي چې زنا، وریښم، شراب او د سروز وسائل به حلال ګڼي.

په دې روایت کې د معازف الفاظ شاذ دي، ځکه عطیه بن قیس نومي راوي یوازې دا الفاظ راوړي په داسې حال کې چې د روایت په نورو طریقو کې دا الفاظ نه شته او روایت د معازف له توري پرته راغلی او عطیه هغه راوي نه دی چې تفرد یې حجت وګڼل شي. ځکه د ده په اړه محدثین ښه نظر نه لري. امام بزار په کشف الاستار (١/ ١٠٦) کې وایي: لا باس به. امام ابو حاتم په جرح و تعدیل کې وایي: صالح الحدیث. امام ابن سعد په الطبقات کې وایي: وکان معروفا و له احادیث. شیخ البانی په الضعیفة (٣/ ١١٢) کې د ابو حاتم د الفاظو په اړه تر یوې تشریح وروسته کاږي:فهذا نص منه علی ان کلمة صالح الحدیث مثل قولهم لین الحدیث یکتب حدیثه للاعتبار والشواهد، لا التعدیل عند ابي حاتم خلافا لما یدل علیه کلام السیوطي في التدریب.

ژباړه: نو ده دا څرګنده کړه چې د صالح الحدیث کلیمه د محدثینو د لین الحدیث له کلیمې سره برابره ده چې حدیث یې د شاهد او تابع په ډول لیکل کېدای شي، نو د ابوحاتم کلام تعدیل نه شو لکه چې سیوطي په تدریب کې همدا فهمولې.

د هیثم بن عمران په نوم یو کس له عبد الواحد بن قیس څخه روایت کړی چې د ده حافظه ښه وه ځکه نورو خلکو خپل قرأتونه د ده په قرأت سمول. خو دا روایت ځکه د اعتبار وړ نه دی چې راوي یې خپله تر شک لاندې دی. عبد الواحد محدثینو سخت غندلی او ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمزوری یې ګڼلی دی، له دې امله نو د ده روایت د بل په اړه نه شو منلای.

د محدثینو دوو سرلارو امام بخاري او امام مسلم په خپلو کتابونو کې د عطیه په روایت هیڅکله یوازې استدلال نه دی کړی بلکې صرف د شاهد او تابع په توګه یې راوړی. ځکه بخاري دا حدیث د شرابو په بحث کې راوړی او داسې باب یې ایښی دی: باب ما جاء فیمن یستحل الخمر و یسمیه بغیر اسمه. خو همدا روایت یې بیا د معازف په باب کې نه دی روړی ځکه د راویانو ترمنځ اتفاقي شی د خمر توری دی چې ټولو راویانو یاد کړی او د معازف یادونه یوازې عطیه کړې چې دا الفاظ شاذ دي او راوي یې د استدلال وړ نه دی.یو مهم ټکی دا هم دی چې د روایت الفاظ خوندي شوي نه دي کله یو ډول او کله بل ډول راغلي. د بخاري روایت مو لوړ ذکر کړ چې څلور شیان یې یاد کړي، د ابوداؤد په روایت کې د (الحر، زنا) پر ځای (الخز/ پریږ وریښم) توری راغلی، د بیقهي په السنن الصغیر کې بیا وریښم، شراب او معازف یاد شوي. له دې اختلافه ښکاري چې روایت خوندي نه دی او معامله له عطیه خرابه شویده. د ده له روایت سره راغلي شواهد هم ټول ضعیف دي چې یو ضعیف د بل ضعیف لپاره تکیه نه شي جوړېدای. امام الباني د خپل کتاب (صلاة التراویح) په هغه بحث کې چې پر شل رکعته تراویح یې اجماع رد کړېده، یو ځای داسي اصل بیانوي:

لأنه بني علی ضعیف وما بني علی ضعیف فهو ضعیف.

ژباړه: ځکه د دې بنیاد پر ضعیف ښودل شوی دی او کوم شی چې پر ضعیف بنا وي هغه خپله هم ضعیف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام بخاري په خپل تاريخ کې د مالك بن ابي مريم په نوم له يو بل کس د معازفو د حرمت په اړه روايت نقل کړی چې يو شمېر کسان دا روايت د عطيه متابع بولي. په داسي حال کې چې د مالك بن ابي مريم روايت خپله د مالك له وجي نه دی صحيح، ځکه مالك مجهول کس دی او هيچا يې تعديل نه دی کړی، نو څنګه د يو داسي کس روايت د تابع په توګه ومنو چې د هغه هيڅ نه وي معلوم. د ده په اړه محدثين وايي:

و قال ابن حزم : لا يدرى من هو .

و قال الذهبی : لا يعرف . اهـ .(٣)

ژباړه: ابن حجر ويلي: ابن حزم ويل، دی نه پوهېږي چې دا کس څوك دی او ذهبي ويل، مجهول کس دی.

د ميزان الاعتدال ليکوال تر (٧٠٢٩) شمېره لاندي مالك راوړی او زياتوي: (عن ابن غنم لا يعرف.) ابن غنم ويل: مجهول دی. د مالك او عطيه يو بل متابع بخاري په تاريخ کبير کې په (٩٦٧) شمېره راوړی لکن سند يې شکمن دی، د يوه راوي لپاره د (عمن اخبره) الفاظ کار شوي چې په سم ډول نه معلومېږي دا خبر څوك ور کوي، نو د دې شك له وجې هغه روايت بې اعتباره دی او د متابعت وړ نه دی. ځينې کسان پر دې ټينګار کوي چې په دې يادو الفاظو عبد الرحمن بن غنم راوي ته اشاره شوې، لکن دا خبره يې له څه دليل پرته کړې. بلکې ده هم شك کړی لومړی يې ويلي که په دې الفاظو ابن غنم ته اشاره وي نو هغه ثقه دی او که بل څوك هدف وي نو بيا تابعي مستور دی. له دې الفاظو خپله د شك بوی راځي، له دې امله نو په پوره ډاډ سره وايم چې د دې روايت تابعي راوي معلوم نه دی او د شك له امله موږ د يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي پر حرمت هیڅکله فیصله نه کوو، بلکې د دې حدیث (دع مایریبک الی ما لا یریبک) د اصل له مخې دا ضعیف او واهي روایات د دې وړ نه بولو چې د شیانو حرمت په ثابت کړو، ځکه حرمت یوه باوري پرېکړه ده چې باوري دلایل ورته لازمي دي نه د دې روایاتو په شان کمزوري او ضعیف روایات.

دویم روایت:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَوْتَانِ مَلْعُونَانِ صَوْتُ مِزْمَارٍ عِنْدَ نِعْمَةٍ وَصَوْتُ رَنَّةٍ عِنْدَ مُصِيبَةٍ.(۴)

ژباړه: انس رض ویل چې رسول الله ص وویل: پر دوو اوازو لعنت شوی، یو د نعمت پر وخت د نل(شپېلۍ) ږغ او بل د مصیبت پر وخت د غم اواز.

دا روایت د سند له مخې کره نه دی، د شبیب بن بشر په نوم راوي یې ضعیف دی. مزي په خپل کتاب(تهذیب الکمال) کې لیکلي:

قال أبو حاتم : لین الحدیث.

و ذکره ابن حبان فی کتاب " الثقات " ، و قال : یخطیء کثیرا.

ژباړه: ابو حاتم ویل، لین الحدیث دی، ابن حبان په ثقاتو کې راوړی او ویل یې: ډېر خطا کېده.

د میزان الاعتدال لیکوال وایي: قال أبو حاتم وغیره: لین الحدیث.

ابو حاتم او نورو ویلي چې د لین الحدیث مرتبه یې ده.

د ده په اړه یوازې امام ابن معین ویل چې ثقه دی، لکن د ابن معین وینا ځکه د اعتبار وړ نه ده چې هغه ډېر متساهل دی او تر تعدیل دلته جرحه له دې امله مخته ده چې مفسره ده یعنې دلیل ور سره راوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی چې زيات خطا کېده. په داسې حال کې چې ابن معين يې د باوريتوب کومه بېلګه نه ده وړاندې کړې.

امام الباني په خپل کتاب(تحريم الات الطرب) کې ليکلي چې د شبيب بن بشر متابعت عيسى بن طهمان هم کړی دی چې همدا روايت يې له انسه نقل کړی. ما چې څومره تحقيق وکړ د عيسى روايت مي ونه موند، البته د ده په اړه محدثينو بېلا بېل نظريات ور کړي چې تر ټولو منځلاری يې د ابن حبان رايه ده. ابن حجر په تهذيب التهذيب (٨/ ٢١٦)کې څو نظرونه نقل کړي:

قال ابن حبان : يتفرد بالمناكير عن أنس.

و يزيد الرقاشی عنه ; لا يجوز الاحتجاج بخبره .

و قال العقيلی : لا يتابع على حديثه.

ابن حبان ويل:له انسه په خاص ډول مناکير روايات نقلوي. يزيد الرقاشي ويل: په روايت يې دليل نه شي نيول کېدای، عقيلي ويل: د حديثو متابعت يې نه کېږي.

که د ده په اړه د هغو محدثينو نظريات هم ولولو چې ثقه يې ګڼلی، نو دې پايلې ته رسېږو چې باوري به وي البته د انس روايات يې د منلو نه دي. ځکه ابن حبان يې په اړه مفسره جرحه کړې چې د انس روايات يې منکر دی. نو دلته يې متابعت ځکه نه منل کېږي چې ده هم روايت له انسه کړی او د انس روايات يې تر شک لاندې دي، له دې امله يې متابعت مردود دی.

امام حاکم په مستدرک او بيهقي په شعب الايمان کې د انس رض د روايت يو شاهد له جابر رض يا عبد الرحمن بن عوف رض څخه نقل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی چې په سند کې يې ابن ابي ليلی کمزوری راوي شته. امام مزي په تهذيب الکمال کې وايي:

قال عبد الله بن أحمد بن حنبل ، عن أبيه : كان سىء الحفظ ، مضطرب الحديث ، كان فقه ابن أبى ليلى أحب إلينا من حديثه ، فى حديثه اضطراب.

عبد الله د خپل پلار په حواله ويل: دی سىء الحفظ او مضطرب الحديث و، تر حديثو يې ماته فقه ښه وه ځکه په حديثو کې يې اضطراب ليدل کېږي.

مزي دا هم ويلي چې امام احمد السعدي ويل: له عطاء څخه د ده زياتره روايات ناسم دي.

تر دې وضاحت وروسته ويلای شو چې د عبد الرحمن يا د جابر او عبد الرحمن دواړو دا روايت ځکه د انس د روايت شاهد نه شي کېدای چې د دې روايت سند کمزوری دی، ټول مدار يې پر ابن ابي ليلی دی او هغه خپله کمزوری دی او له عطاء څخه روايات يې په خاص ډول کمزوري دي چې دا روايت يې هم له عطاء څخه کړی او د هيڅ اعتبار وړ نه دی.

دريیم روايت:

"إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَيَّ، أَوْ حَرَّمَ الْخَمْرَ وَالْمَيْسِرَ وَالْكُوبَةَ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ.

ژباړه: بېشکه الله پر ما او يا الله شراب، قمار، کوبه او هر نشه کوونکی شی حرام کړی دی.

پاسنی روايت امام احمد په خپل مسند کې په (۲۴۷۶) شمېره راوړی. امام الباني هم  د دې روايت پر سند ږغېدلی او د مسند احمد محقق هم سند سم بللی، ما يې هم په اړه داسې څه نه دي موندلي چې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ذکر کړم. خو دلته خبره په سند کې نه، بلکې په متن کې ده. د الکوبة توری معلوم نه دی چې اصلي معنا یې څه ده؟ چا د «الطبل» (ډول/طبله)معنا ترې اخیستې، چا «نرد» بللی او نرد د چکې په شان د لوبي او ساتیري یوه اله ده چې اتلس گیټي غواړي یا خپله چگه ده. بل چا بیا بل تعریف ورته غوره کړی، لنډه دا چې د الکوبة سمه معنا نه ده فهمول شوې چې کوبه یعنې څه؟ نو په داسې یوه روایت د حراموالي فیصله نه شو کولای چې د متن سم لېدلوری یې نه معلومېږي.

د لسان العرب لیکوال کاږي:

والكُوبة: الشِّطْرَنْجَةُ. والكُوبَةُ: الطَّبْل والنَّرْدُ. قَالَ أَبو عُبَيْدٍ: أَما الكُوبة، فإِن مُحَمَّدَ بْنَ كَثِيرٍ أَخبرني أَن الكُوبةَ النَّرْدُ فِي كَلَامِ أَهل الْيَمَنِ؛ وَقَالَ غَيْرُهُ، الكُوبَةُ: الطَّبْلُ.(۵)

ژباړه: کوبه یعنې شطرنج، کوبه ډول/طبله او نرد ته هم وایي. ابو عبید ویل، محمد بن کثیر خبر را کړ چې کوبه د یمنیانو په ژبه نرد ته وایي او بل چا ویلي چې کوبه ډول/طبلې ته وایي.

بلکې د ډول/طبلې ترجمه د لغتو کتابونو په (قیل) لفظ راوړې چې یو ډول کمزوري او غیر حقیقیوالي ته یې اشاره کوي. د الفائق في لغت الحدیث مصنف وایي: الکوبة: النَّرد وَقیل الطبل.

کوبه نرد ته وایي، چا ویلي چې ډول/طبله ترې هدف ده.

د تاج العروس لیکوال وایي چې دا یو ډول کوپونه وو چې هغه مهال د شرابو او څښاك لپاره کارېدل چې سر یې گول او چوښکی یې نه و او چا ویلي چې لاستی یې نه در لود. ده ویلي چې امام فرّا همدا نظر لري. قران هم خو ځایه د کوبه جمعه اکواب یاده کړې(الزخرف: ۷۱، الغاشیة: ۱۴) خو هیڅ ځای هم د موسیقي الې نه دي هدف، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوپ او د ځنباک سامان یې هدف دی. له دې معلومېږي چې الکوبه ځخه د الطبل ترجمه ډېره کمزورې او له خپلې اصلي معنا ځخه د لفظ له څه دلیل پرته اړول دي. په کوم حدیث کې چې د الکوبه یادونه شوې هلته د شرابو د ځښلو لپاره د نورو سامانونو نومونه هم یاد شوي چې د یو څه وخت لپاره یې له هغو لوښو د دې لپاره منعه کړې وه چې د خلکو پخوانی عادت بیا را ژوندی نه شي، له هغو لوښو ځخه یو همدا کوبه هم ده چې کوپ ته وایي او په خاص ډول د شرابو لپاره کارېده. دا معنا ور سره لګېږي او د الطبل ترجمه یې په دې ځای کې نه خپله حقیقي معنا ده او نه له مخکې متن سره خوند کوي.(٦)

ځلورم روایت:

امام الباني په خپل کتاب (تحریم الات الطرب) کې ځلورم حدیث د ابوداؤد(٣٦٨٥) او نورو په حواله له عبد الله بن عمرو رض ځخه نقل کړی دی چې نه یې سند سم دی او نه یې له متنه داسې څه ښکاري چې د موسیقي حرمت ترې ثابت شي. ځکه یوه روایت کې د (الغبیراء) توری دی چې د شرابو نوم دی او ښکاره یې حدیث کې یادونه شوې، بل ځای د (القنین) لفظ دی چې دا د موسیقي یوې الې(رباب) ته وایي؛ مګر سند یې دومره ضعیف دی چې ګواکې بیخي نه شته او دا یادونه د مسند احمد محقق هم کړېده او په بل متن کې د الکوبه یادونه ده چې ما یې په اړه مخکې تشریح کړېده. د روایت په متن کې رسول الله ص ته داسې څه منسوب شوي چې د هغه له شان سره نه لګېږي. حدیث کې پوښتنه ترې شوې چې د (الغبیراء) په نوم مور شرابو جوړ وو، رسول الله ص ورته ویلي چې مه یې خورئ، درې ځله یې ورته ویلي او بیا وایي، که چا ایله نه کړل سر یې قلم کړئ. دا ځکه د رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ص له شان سره نه لګیږي چې د شرابو خوړل ګنا ده، مګر قتل یې په هیڅ صورت نه دی روا، نو رسول الله ص څنګه دا امر کاوه؟ نو له دې روایت څخه د موسیقي حرمت څنګه ثابتوي؟ زه دې ته ډېر حیران یم چې د الباني غوندې یوه عالم او متقي انسان هم خپل پخواني او په نورو کتابونو کې ذکر کړي اصول ټول دلته د موسیقي د حرمت ثابتولو لپاره له پامه اچولي دي.

پنځم روایت:

الباني په خپل کتاب(تحریم الات الطرب) کې له مصنف ابن ابي شیبه څخه په (۴۱۳۲) شمېره روایت نقل کړی دی چې الله پر ما شراب، کوبه، قنین او غبیراء حرام کړي دي.

"إن ربي تبارك وتعالی حرم علي الخمر والکوبة والقنین وإیاکم والغبیراء فإنها ثلث خمر العالم"

ژباړه: زما رب پر ما شراب، کوبه او قنین حرام کړي او تاسو له غبیراء ځان ساتئ، هغه د نړۍ د شرابو یو ثلث دی. یعنې ډېر دي.

الباني د دې روایت په تحقیق کې خپله دې نتیجې ته رسیږي چې سندونه یې ټول ضعیف دي، البته دا یو سند یې نسبتن نورو ته لږ د پام وړ دی؛ نو ده هم نقل کړی، لکن په هغه روایت کې د نورو کمزوریو تر څنګ د ابن لهیعه په نوم راوي شته چې هم یې حافظه خرابه وه او هم مدلس دی چې معنعن(هغه روایت چې په «عن» لفظ نقل شوی وي) روایت یې د منلو نه دی او دلته یې عنعنه کړې.

شپږم روایت:

ترمذي په خپل کتاب کې په دغه شمېره(۲۲۱۳) روایت نقلوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «فِي هَذِهِ الأُمَّةِ خَسْفٌ وَمَسْخٌ وَقَذْفٌ»، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ المُسْلِمِينَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَتَى ذَاكَ؟ قَالَ: «إِذَا ظَهَرَتِ القَيْنَاتُ وَالمَعَازِفُ وَشُرِبَتِ الخُمُورُ»: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَابِطٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلٌ وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ژباړه: عمران بن حصين روايت کړی چې رسول الله ص وويل: په دې امت کې به خسف(په ځمکه ننوتل)، مسخه(د څېرې بدلون) او قذف(له اسمانه د تيږو باران) وي. د مسلمانانو يوه کس ورته وويل: د الله رسوله! دا څه وخت؟ ده وويل: کله چې سندرغاړې، سروزونه او شراب څښل عام شي. دا حديث له اعمش، هغه له عبد الرحمن بن سابط هغه له رسول الله ص مرسل نقل کړی او دا حديث غريب دی.

د دې روايت په سند کې عبد الله بن عبد القدوس نومی راوي دی چې محدثينو سخت غندلی، يوه نمونه يې د مزي له تهذيب الکمال څخه دا ده:

قال عبد الله بن أحمد بن حنبل : سألت يحيى بن معين عنه ، فقال : ليس بشىء ، رافضى خبيث .

و قال أحمد بن على الأبار : سألت زنيجا عنه ، فقال : تركته ، لم أكتب عنه شيئا ، و لم يرضه.

ژباړه: عبد الله وايي د ده په اړه مې له ابن معينه پوښتنه وکړه، ده وويل: هيڅ شی نه دی، خبيث رافضي دی. احمد بن علي الابار وايي: له زنجي مې د ده په اړه پوښتنه وکړه، هغه ويل: ما ايله کړی دی، هيڅ نه ځني ليکم او نه ترې خوښ يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ښکاري چې دا راوي د باور وړ نه دی او روایت یې مردود دی. الباني یې د یو شمېر توابعو او شواهدو یادونه کړې، خو هر ځای دی هم وايي چې دا د سند له مخې سم دی البته مرسل دی چې تابعي یې له رسول الله ص نقلوي او سند یې موصول نه دی او دا بیا متصل دی خو ضعیف السنده دی. نو د دې اړتیا نه شته چې د هغو په اړه خبره اوږده کړم.

اووم روایت:

ترمذي په جامع الترمذي(۲۲۱۱) کې له علي رض څخه روایت کړی چې که په دې امت کې لس خویونه پیدا شي نو تکالیف پر نازلېږي. له هغو خویونو یې سندرغاړې ته غوږ ښودل او سرزونه ږغول هم یاد کړي.

دا روایت هم صحیح نه دی، امام ترمذي تر روایت وروسته کښلي چې دا روایت یوازې په همدې طریقه نقل شوی چې فرج بن فضاله نومی راوي یې محدثینو سئ الحفظ بللی، له دې امله د اعتبار وړ نه دی.

اتم روایت:

امام ترمذي په جامع الترمذي( ۱۲۸۲) کې له ابو امامه رض څخه روایت کړی چې رسول الله ص د سندر غاړو له رانیولو، پرې پیسې اخیستلو، تجارت کولو او نورو څخه منعه کړې او له دې لارې راغلې پیسې یې ټولې حرامې بللې.(۷)

تر دې روایت وروسته ترمذي لیکي:

حَدِيثُ أَبِي أُمَامَةَ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ فِي عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ وَضَعَّفَهُ وَهُوَ شَامِيٌّ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: د ابو امامه حديث غريب دی، دا روايت مورږ ته يوازې په دې طريقه راغلی، ځينو علماؤ په علي بن يزيد کې خبرې کړې او ضعيف يې بللی دی، دا راوي شامي دی.

له دې څخه معلومېږي چې روايت د سندله مخې سم نه دی او د حرمت په اړه هيڅ هم ترې نه ثابېږي.

د موسيقي د حرمت په اړه د حديثو په کتابونو کې دا هغه روايات دي چې د موسيقي حرام منونکي يې د استدلال وړ بولي او له دې پرته نور روايات دوی هم د دې وړ نه ګڼي چې د موسيقي پر حرمت ترې استدلال وکړي. هغه روايات چې يو شمېر اوسنيو او پخوانيو علماؤ د موسيقي د حرمت په اړه کره بللي، په کتابونو کې يې ځای ور کړی او د موسيقي حرمت يې په ثابت کړی دی، د هغو ټولو حقيقت هغه وو چې ما لوړ بيان کړ. د دې رواياتو په اړه که تفصيلي بحث وکړم او ټول هغه موارد تر څېړنې لاندې ونيسم چې تېرو پوهانو د پاس رواياتو په اړه را برسېره کړي، نو زه په بارو وايم چې بيا يوه کتاب ګوټي ته اړتيا ده په يوه مقاله کې دا بحث را غونډول د چا د وسه خبره نه ده، لکن ما د لوستونکو د اسانۍ لپاره هڅه وکړه چې دا اوږد بحث په لنډ ډول را خلاصه کړم او په اصلي حقيقت خلك خبر کړم. د موسيقي، سندرغاړو، دريوو او... په اړه د نفي او منعې د دلايلو تر څنګ د اثبات دلايل هم شته چې د حديثو په معتبرو کتابونو کې نقل شوي دي. راځئ يو څو يې تر نظر تېر کړو.

امام بخاري او امام مسلم له علي رض څخه روايت نقلوي چې يوه ورځ حمزه رض د علي د دوو اوښو بوك پرې کړ، دی وايي: ما پوښتنه وکړه، دا چا وکړل؟ دوی ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَعَلَهُ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَهُوَ فِي هَذَا الْبَيْتِ فِي شَرْبٍ مِنَ الأَنْصَارِ غَنَّتْهُ قَيْنَةٌ وَأَصْحَابَهُ.(٨)

ژباړه: حمزه دا کار وکړ، هغه د انصارو له يوې ډلې سره په دې کور کې دی، ده او ملګرو ته يې يوه سندر غاړې سندرې وايي.

په دې روايت کې د هغې يوه مصرعه هم نقل شوې چې حمزه يې د اوښ د بوك پرېکولو ته هڅولی دی. روايت په اخير کې دي چې دا مهال شراب حرام نه و او د حرمت په اړه ايت وروسته نازل شو. د شرابو په اړه وضاحت شوی دی، لکن د سندر غاړې سندرې اورېدل خو همداسې پر خپل حال پاته شو. نه کوم ايت کې د حرمت حکم نازل شوی او نه هم هيڅ کره او صحيح روايت کې دا خبره شوې چې له سندر غاړې سندري اورېدل حرام کار دی.

په بخاري کې له عائشې رض څخه روايت دی:

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ أَبَا بَكْرٍ، دَخَلَ عَلَيْهَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا يَوْمَ فِطْرٍ أَوْ أَضْحًى، وَعِنْدَهَا قَيْنَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاذَفَتْ الأَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثٍ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: مِزْمَارُ الشَّيْطَانِ؟ مَرَّتَيْنِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ، إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيداً، وَإِنَّ عِيدَنَا هَذَا الْيَوْمُ».(٩)

ژباړه: عائشې رض ويل چې ابو بکر رض د کوچني يا لوی اختر په ورځ داسې مهال دې ته ورغی چې رسول الله ص له دې سره و، هلته دوې سندر غاړې هم وې چې د بعاث(جنګ) په اړه يې هغه سندرې ويلې چې انصارو يو بل ته د پيغور په ډول تبادله کړې وې. ابو بکر رض وويل: شيطاني الې؟ دوه واره يې وويل. رسول الله ص ويل: ابو بکره! ايله يې کړه، هر قوم يوه د خوښۍ ورځ لري، همدا زموږ د خوښۍ ورځ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عائشه رض دې دوو نجونو ته د قينتان الفاظ کاروي چې زموږ په ژبه کې د دې متبادل لفظ سندرغاړې دی. په یوه بل روایت کې که څه هم د جاريتان لفظ راغلی، خو توافق یې داسي دی چې هم ځوانې نجونې وې او هم یې سندرې ویلې.

عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، قَالَ: مَا مِنْ شَيْءٍ كَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلاَّ وَقَدْ رَأَيْتُهُ، إِلاَّ شَيْئًا وَاحِدًا " أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُقَلَّسُ لَهُ يَوْمَ الْفِطْرِ ".(١١)

ژباړه: قيس ويل: د رسول الله ص په وخت کې چې هر څه وو ما خپله ليدلي؛ مګر يو شی مي نه دی ليدلی چې د واړه اختر په ورځ به رسو الله ص ته په سندرو او دريو هر کلی ويل کېده.

د دې روايت په اړه مو دوو خبرو ته پام غواړم:

يوه دا چې روايت د سند له مخې ستونزې لرې، لکن د توابعو او شواهدو په مټ هغې درجې ته رسېږي چې د موسيقي حرمت منونکي د موسيقي د حرمت په اړه د همدې مرتبې دلايل وړاندي کوي. د جابر په نوم يو راوي کمزوری دی، خو يو شمېر کسانو يې متابعت کړی چې ابو اسحاق، شريک او نور دي. نو که د موسيقي حرمت په داسې کمزورو رواياتو ثابتوي، بيا به د همدې درجې هغه روايات څه په کوي چې د موسيقي او الو حلت يې ترې ثابتېږي؟

دويمه دا چې تقليس څه ته وايي؟ د مسند احمد څېړونکي په دې اړه د سيوطي قول يې په تفسير کې رانقل کړی:

قال السيوطي: فَسَّره بعض الرواة بأن تقعد الجواري والصبيان على أفواه الطرق يلعبون بالطبل، وغير ذلك، وقيل: هو الضرب بالدف. انتهى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: سیوطي ویل: ځینو راویانو د تقلیس تفسیر داسې کړی چې نجونې او هلکان د لارې پر طرفونو کېني په ډول لوبې کوي او داسې نور. چا ویلي: تقلیس دریې وهل دي.

قال السندي: كان يُقَلَّس: على بناء المفعول، من التقليس، وهو الضرب بالدف والغناء.

سندي ویلي: په مجهوله صیغه دی چې د ده به تقلیس کېده. یعنې په دریو او سندرو یې هر کلی کېده.

عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ بُنِيَ عَلَيَّ، فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي كَمَجْلِسِكَ مِنِّي، وَجُوَيْرِيَاتٌ يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ، يَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِهِنَّ يَوْمَ بَدْرٍ، حَتَّى قَالَتْ جَارِيَةٌ: وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تَقُولِي هَكَذَا وَقُولِي مَا كُنْتِ تَقُولِينَ».(۱۲)

ژباړه: ربیع بنت معوذ رض ویل چې زما د واده په سهار ما ته رسول الله ص راغی او همدا ستا پر ځای راته کېناست او څو نجونو دریه وهله او په بدر کې د خپلو وژل شویو پلرونو په اړه یې سندرې ویلې، ان چې یوې نجلۍ وویل: زموږ نبي د سبا په شیانو پوهېږي. رسول الله ص ورته وویل: داسې مه وایه، خپلې پخوانۍ سندرې وایه.

د ښځو سندرې، دریې او ډلونه په کره روایاتو ثابت دي په داسې حال کې چې دا هر څه د نارینه وو په وړاندې کوي، مګر بل لور ته د موسیقي د حرمت دلایل دومره ضعیف دي چې د دې روایاتو په وړاندې هیڅ هم نه دي، خپله د دې روایاتو منونکي هم دا خبره مني، ځکه یې نو هر ځای د حرمت ثابتونکي روایات په ټوټو سره تړلي او هر ځای یې په یوه او بل نورو ته پینې ور کړې. له دې ښکاري چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره صحت په اړه یې هغوئ هم شکمن دي، نو په شکمن شي څنګه روا او داسې شیان حرام کړو چې جواز یې خپله په کره روایاتو ثابت دی؟.

ډول، دریه او د سُڅو سندرې د موسیقي مهم اجزا دي. نو کله چې د دې درو واړو جواز له روایاتو ثابت شو، ګواکې ټول جزونه یې ثابت او روا شول. ځکه موسیقي یو شی نه ده، بلکې همدا ډول، دریه، باجه، نل او داسې نور الات، که ډول روا وي، دریه روا وي، د سُڅو سندرې روا وي، نو دا نورو الاتو څه کړي دي چې د حرامو په کتار کې یې درولي؟

د میرمنو د اواز په اړه هم اختلاف شته، که زموږ په شان یوه ټولنه د میرمنو اواز د هغوی له امله منعه کړي او د سد ذرایع له بابه یې وګڼي؛ یوه خبره ده، که نه د سروز د الو په اړه هیڅ کره ثبوت نه لرو چې د حرمت ټاپې پر ولګوو.

یو مهم اصل دا هم دی چې د ټولو شیانو اصل اباحت دی(البقرة: ۲۹) او کله چې د دې خلاف فیصله کیږي، نو پوره باروي دلایل غواړي چې یو شی له خپل اصل(اباحت) څخه واړوي. د موسیقي اصل هم جواز دی، که څوک غواړي چې د موسیقي حراموالی ثابت کړي، نو ارو مرو باید د داسې مرتبې دلایل راوړي چې باوري او د شک هیڅ مجال پکې نه وي. خو د دې مرتبې روایات او دلایل یو هم نه شته، بلکې هر روایت چې راغلی یا په سند یا هم متن کې داسې خبرې شوې چې د هغه روایت اعتبار او صحت ته یې زیان اړولی.

پر همدې بنسټ ویلای شم چې موسیقي د خپل اصل له مخې روا ده، د حرمت په اړه راغلي دلایل یې ټول ضعیف دي او یو شمېر کره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلایل یې لا د حلالوالي په اړه هم راغلي دي چې دا ټول د موسیقي پر جواز او رواوالي دلالت کوي.

بده یې نه ګڼم چې د دې بحث په اخر کې د حرمت تعریف هم راوړم څو خلکو ته روښانه شي چې هر ډول دلایل د حرمت ثبوت نه شي کېدای:

طَلَبُ الْكَفِّ عَنِ الْفِعْلِ بِدَلِيلٍ قَطْعِيٍّ.

ژباړه: په باوري دلیل له کاره د بندیدلو غوښتنه ده.(۱۳)

حرام هغه څه دي چې په قطعي دلیل ثابت شي او په ځینو کتابونو کې د قطعي الدلالة ټکی هم شته چې مفهوم یې هم باید واضح وي، نو که د موسیقي په اړه راغلي دلایل په دې میزان کې وتلو نو ډېره بې وزنه وخېژي. خبره باید په ټول پوره او پر اصولو برابره وي چې د منلو معیار ته ورسېږي او که د هر څونه لوی انسان خبره وي خو چې پر معیاره برابره نه وي، د منلو وړ نه ده.

یوه خبره باید شعر په اړه وکړم، چې ښه خبرې یې د نثر په شان ښې دي او بدې یې بدې دي، لکه نثر کې چې کنځل بد دي، غیبت ناروا دی، د شعر په ژبه هم کنځل، غیبت، بهتان او... ناسم کارونه حرام دي چې هغه د موسیقي له حرمت سره کار نه لري، بلکې د خپل ذات له مخې حکم پر کېږي.

**سرچینې:**

(۱)الکلیات، فصل الفاء.

(۲)بخاري، کتاب الاشربه، باب ماجاء فیمن یستحل الخمر و یسمیه بغیر اسمه: ۵۵۹۰.

(۳)تهذیب التهذیب: 10 / 21.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)مسند البزار: ۷۵۱۳.

(۵) لسان العرب، د ب بحث، فصل اللام: ۷۲۹/۱.

(٦).تاج العروس، الحزء ۴ فصل الكاف، كوبه: ۱۸۱/۴.

(۷)سنن الترمذي، ابواب البيوع، باب ماجاء في كراهية بيع المغنيـات، ح: ۱۲۸۲.

(۸).بخاري: ۴۰۰۳، مسلم، كتاب المغازي: ۱۹۷۹.

(۱۰).بخاري، كتاب مناقب الانصار، باب مقـدم النبـي ص المدينـه و اصحابه، ح: ۳۹۳۱.

(۱۱).مسند احمد: ۱۵۴۷۹.

(۱۲) .بخاري، كتاب المغازي، باب، ح: ۴۰۰۱.

(۱۳).الموسوعه الفقهيه الكويتيه، حرف التاء، تحريـم: ۲۰٦/۱۰/.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نوروز په اړه يو وضاحت

په راتلو در سره ډېرې خوښۍ راوړه
په خوشحال باندې دې قدر دی نوروزه

زما د مشاهدې له مخې د نوروز په اړه زموږ خلك پر درو ډلو وېشلي دي. يوه ډله د نوروز لمانځل مطلق حرام گڼي او ځينې يې يو گام وړاندې ړدي او په دې ورځ ډالۍ ور کول، منل او تشويق يې كفر بولي. بله ډله يې لمانځل روا بولي او په دې ورځ كېدونكي ناسم اعمال بد گڼي، مگر د نوروز حرمت ته دا بېل اعمال نه بانه كوي. د عوامو يوه لويه ډله بيا د دواړو ډلو ترمنځ د شك پر ميدان هكه پكه ولاړه ده. كه د هري ډلې له ژبورو سره مخ شي نو د هغې ډلې/كس دريځ د نيمې ورځې لپاره ور سره مني او د ورځې په اخير كې بيا پر نوي دريځ ليدله كېږي.

په دې ليكنه كې به د لومړۍ ډلې هغه دلايل راوړم چې له هغو په استناد دوی هڅه كوي د نوروز لمانځل خلكو ته د شريعت له مخې حرام ثابت كړي. په دې ميدان كې يو روايت چې ډېر لاس پر لاس كېږي او د نورو موضوعاتو په اړه هم له هغه څخه استناد كېږي؛ دا دی.

من تشبه بقوم فهو منهم.(۱)

كه څوك يو قوم سره تشبيه غوره كړي، نو دی هم د هغه قوم حكم لري.

دا حديث په اصحابو كې يوازې عبد الله بن عمر رض روايت كړی، نو پوښتنه كېږي چې د داسي عمومي قانون په اړه يوازې ابن عمر رض

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې دا روايت اورېدلی او په اصحابو کې بل چا دا قانون نه دی نقل کړی؟ که څه هم حذيفه رض ته هم يو روايت منسوب دی، مگر د هغه سند دومره ضعيف دی چې گواکي روايت بيخي نه شته.

دويم دا چې د دې روايت سند تر ابن عمره هم کره نه دی. محدث صنعاني په سبل السلام(۴/ ۲۶۷) کې وايي: د دې روايت په سند کې ضعف دی او شواهد يې هم ټول ضعيف دي. دارنگه امام عجلوني په کشف الخفاء (۲/ ۳۱۴) کې وايي: په سند کې يې کمزوري ده. امام زرقاني پسي وايي: د شاهد په مټ د حسن درجه لري. يعنې حسن لغيره دی. (مختصر المقاصد: ۱۰۱۲) د همدې درجې په رواياتو هيڅ ځای دليل نه نيول کېږي البته د بل صحيح روايت په څنگ کې راوړل کېدای شي. مگر دلته د حرمت په اړه ترې استدلال کېږي چې په هيڅ توگه د منلو نه دی. امام هيثمي وايي چې په يوه بله کمزورې طريقه دا روايت له حذيفه بن يمان رض څخه هم شوی مگر د علي بن غراب په نوم راوي کمزوری دی.(مجمع الزوائد: ۱۰/ ۲۷۴) زرکشي يې په اړه وايي: سند يې کمزوری دی. (اللآلي المنثورة: ۱۰۱) وتلی مشهور حنفي مذهبه محدث امام زيلعي وايي: فيه ابن ثوبان ضعيف. ابن ثوبان راوي کمزوری دی. (نصب الرايه: ۴/ ۳۴۷) همدا شان دوو وروستيو پوهانو حسان عبد المنان او شعيب الارنووط هم د دې روايت سندونه کمزوري گڼلي.

دريم دا چې که دا يو عام قانون وبولو نو بيا زموږ په هر شي کې له نورو سره مشابهت راځي. په تگ، جامو، خوراک، څښاک، پر کټ ناسته او داسې بيخي ډېر شيان. همدې ته په کتو ځينو کسانو هڅه کړې چې مشابهت دوه ډوله کړي. يو يې حرام او بل يې مباح بللی. مباح يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه بللي چې له ورځني ژوند سره تړلي وي. لکه همدا یاد شیان او حرام یې هغه ګڼلي چې په دین او شریعت کې مشابهت وي. د دې روایت په اړه که تر دوو اولو ټکو را تېر شو، بیا هم د نوروز په اړه د حرمت استناد نه شي ځني کېدای. ځکه نوروز له فرهنګ سره اړه لري چې شریعت یې په اړه د حرمت فیصله نه کوي. یعنې نوروز دین نه دی، بلکې له پخوا څخه را پاته کلتوري خوشالي ده چې شریعت یې په اړه ساکت دی او د هر ساکت شي په اړه د مباح پرېکړه د ټولو اصولینو متفقه فیصله ده.

په دویم قدم کې د مسند احمد او ابوداؤد هغه روایت وړاندې کېږي چې انس رض وایي، رسول الله ص د مدینې له خلکو د هغو دوو ورځو په اړه پوښتنه وکړه چې دوی پکې خوشالی کولې. (ما هذان الیومان؟) دوی ورته وویل چې زموږ د جاهلیت د وخت هغه ورځې دي چې موږ په کې خوشالي کوله. رسول الله ص ورته وویل: ان الله قد ابدلکم بهما خیرا منهما: یوم الاضحی ویوم الفطر. یعنې الله هغه دوې ورځې په غوره دوو در بدلې کړې چې لوی او کوچنی اخترونه دي.(۲)

که د روایت دې متن ته ځېر شو نو د نورزو یا بلې خوشالۍ حرمت په کوم ځای کې دی؟ دلته ویل شوي چې هغه د خوشالۍ ورځې تر دې ځکه ښې دي چې یو خو خوشالي پکې شته او بل د الله له لورې ټاکل شوې دي چې عبادت هم پکې کېږي. له دې متن څخه دا ثابتول چې د نورو لمانځل نور حرام دي، بیخي بې انصافي ده. یو به عبادت او رواج نه سره ګډوو او بل به د غوره او ناغوره له تورو د حرمت او نارواوالي مفهوم نه اخلو. که دې ټکو ته متوجې شو نو بیا په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث کې هیڅ د حرمت مفهوم نـه شـته او د نـوروز پـه اړه یـې راوړل لویه بې انصافي ده.

یو مهم ټکی دا هم دی چې کـه لـه اخترونـو پرتـه د خوشـالۍ نـورې ورځې د شرعي حکم پر اساس ونه لمانځلې شي، نـو د ټـولي اسـلامي نړۍ په کچه چې د خپلواکۍ کومې ورځې لمانځل کېږي، ایا هغه هم له نامسلمانو سره د تشابه له کبله ناروا دي؟ په داسې حال کې چې دا دود هم موږ له نورو اخیستی او د اسلام په پیل کې یې هـیڅ راز شـواهد نـه شته؟ ان دغه ډول ورځ د ملایانو او طالبانو په واکمنۍ کې هـم لمانځـل کېده، خو د هغه ګډه علت پر بنا یې هیڅا مخالفت ونه کړ چـې د ازادۍ د ورځې او نوروز تر منځ موجود دی او په مصر کـې اوس هـم د (شـم النسیم) په نوم د خوشالۍ یوه ورځ شته چې د الازهر د مفتیانو په شمول ډېری نورو علماؤ هم اجازه ور کړېده. که د ازادۍ د ورځـي جشـن روا وي، نو نوروز څه ګناکړېده؟ که هدف دلته د عربي او ایـراني کلتورنـو ټکر وي، نو چې عربي کلتور ته د پاتېـدا او لمـانځنې اجـازه شـته(لکه: لنګوټه، اوږده کالي، پر سرونو یو ډول دسـملونه اچـول او)، ایـراني یـا زموږ خپل رواج ته د بقا اجازه ولې نه ور کوو؟

استاد محمد محق په سترګې به پرانیزو کتاب کې وایي چـې د ملګـرو ملتونو په یو را پور کې د هغو کسانو شمېر درې سوه میلونه ښودل شوی چې نوروز لمانځي.. دا په داسې حال کې چې دا ټول کسان له یوه دین یا مفکورې سره تړاو نه لري. له دې ښه ثابتېږي چې نـوروز لـه دیـن یـا شریعتونو سره تړلی عمل نه دی او دا د ډېری خلکو لپاره نن هـم او پـه تیر کې هم د کال لومړۍ ورځ وه او په دې سره د کـال یـو نـوی فصـل پیلېږي. نو انسانانو دا دخپلي خوښۍ ورځ نومولې. دا یـو ګـډه فرهنـګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې له ادیانو سره یې هیڅ سر و کار نه شته او نـه هـم ادیـان د دې ډول مېلو د حرمت ټاپې له ځان سره لري. له دې امله نو عـلي کـرم اللـه وجهه ته د نوروز په ورځ راغلې تحفې هغه منلې دي. ابن تیمیـه وایـي: واما قبول الهدیة منهم یوم عیدهم فقد قـدمنا عـن عـلي بـن ابي طالـب رضی الله عنه أتي بهدیة النیروز فقبلها. یعنې د دوی د اختر په ورځ یې ډالۍ منل کېدای شي، ځکه علي رض ته یې ډالۍ راوړې او هغـه تـرې منلې. له عائشې رض څخه هم په مصنف ابن ابي شیبه کې روایـت دی چې د ډالۍ منلو توصیه یې کړې. ابو برزة رض هم روایت شـته چـې د مجوسیانو د اختر په ورځ یې ډالۍ ترې منلې.

د حراموالي لپاره یو بل مهم ټکی هغه ناسم اعـمال دي چـې پـه دې ورځ تر سره کېږي. خو د دې ناسمو کړنو له امله یو بېل شی له څه دلیل پرته نه شو حراملولای. دا منو چې پر زیارتونو شرکـي اعـمال د منلـو نـه دي، مگر دا هم باید ومنو چې د دې اعمالو یـوازیني سـبب نـوروز نـه دی، ځکه اخترونو کې هم خلك قبرونو ته ځـي، هلتـه زارۍ کـوي او میخونه لرگیو کې ټکوهي او غوښتنې ترې کوي. نو ایا له دې وجـې بـه سبا د اختر د نه لمانځلو فتوا ور کوو؟ په اختر کې هم خلـك مصـارف کوي، مېلو ته ځي، کارونه ټول رخصـت وي او پـه دې خوښـي کـې د افراط تر حده خوښیاني کېږي چې له دې امله تـر ننـه هـم چـا د اخـتر لمانځل ناروا نه دي بللي.

د قران کریم او نبوي احادیثو لارښوونه دا ده چې که پـه کـوم څـه نـه پوهېږئ او یا پکې شکمن یاست، هغه مه کـوئ. لـه دې را تـه ثـابتېږي چې په ډېرو ضعیفو، واهي، کمزورو او هغو روایاتو چـې مفهـوم یـې د خپل چوکاټ لپاره بدل کړل شي، باوري شیان نه شي حرامېدای. قـران

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم امر کوي چې له علم پرته په څه مه پسې کېږئ او حدیث هم وایي چې باوري ومنه او شکمن ایله کړه. نو دې اصولو ته په کتو ویلای شم چې د نوروز حرمت د شرعي نصوصو غوښتنه نه ده. زما په ګومان دا یوه کلتوري مسله ده چې ځیني ملتونه د نورو ملتونو کلتور د پراخېدا په حال کې نه شي لیدلای. له دې امله نو د هغه د ورکولو لپاره له ټولو ور سره وسیلو په ګټې اخیستنې هڅه کوي چې دا رواج ورک کړي. د ډېر افسوس ځای دا دی چې ګڼ شمېر حکومتونه او ملتونه دیني متون خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره کاروي. له نوروز سره هم دا ډېر وخت همدا معامله روانه ده چې کله یې د هغه عالم په خوله ناروا کوي او کله د دغه. د نوروز په شمول موږ نورې خوښۍ هم لرو چې دیني یا شرعي جنبه نه لري، البته لمانځل یې له شریعت سره ټکر هم نه دی. بلکې خوښي په اسلامي شریعت کې ډېره مطلوبه ده. په یوه نبوي حدیث کې دي: ما رأیت احدا اکثر تبسما من رسول الله. (الترمذي) تر رسول الله ډېر خندېونکی کس مي بل هیڅ نه دی لیدلی. جریر بن عبد الله رض هم وایي: ما حجبني رسول الله منذ اسلمتُ ولا رأني الا تبسم في وجهي. (مسلم) کله چې زه مسلمان شوی یم نو رسول الله له ما ځان نه دی ګوښه کړی او هر وخت یې زما تر مخ تبسم کاوه. بل حدیث دی: تبسمک في وجه اخیک لک صدقة. (ترمذي) رسول الله وایي: د خپل ورور په مخکي خندا دې هم صدقه ده.

له دې ټولو روایاتو ښکاري چې خندا، خوشالي او خوښۍ په اسلامي شریعت کې مطلوب دي. انسانانو ته خوشالي ورکول ډېره اساسي مسله ده چې شریعتونو هیڅکله هم د خدای او رسول په نوم له انسانانو د خوښۍ وړلو هڅه نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۷/ ۳/ ۱۲

**سرچينې:**

(1) ابوداؤد، کتاب اللباس، باب لبس الشهره، ح: ۴۰۳۱.

(۲)مسند احمد، مسند انس بن مالك رض، ح: ۱۳۶۲۲، ابوداؤد: ۱۱۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلامي مقدساتو ته د سپکاوي کوونکي سزا

په مسلمانانو کې د هغه کس په اړه اختلافات او بېل نظرونه له ډېره وخته شتون لري چې په ارادي توګه یې اسلامي مقدساتو ته سپکاوی کړی وي. یو شمېر عالمانو په دې اړه خاصې لیکنې کړې. لکه ابن تیمیه چې د الصارم المسلول علی شاتم الرسول په نوم یې یو کتاب لیکلی او دا دریځ یې غوره کړی، چې رسول ته ښکنځل کوونکی مسلمان وي که کافر؛ وژل کیږي.

دا یوازې ابن تیمیه نه دی چې د استهزا کوونکي سزا یې مرګ ټاکلي؛ بلکې تر ده مخکې او وروسته نور کسان هم شته چې د مقدساتو سپکاوی یې د کفر او قتل موجب ګڼلی.

له اسلام څخه د همدې علماؤ دې تعبیر پر اسلام باندې منتقدینو ته د نیوکو یو بل اپشن هم په لاس ور کړ. له همدې امله به چا اسلام د بې انصافۍ دین باله، چا د قراني ایاتونو او هغو احادیثو ترمنځ ټکر ته اشاره کوله چې د استهزا کوونکي د قتل خبر کې شوې او ځینو له بلې زاویې ورته کتل.

البته له دې هر څه سره د تاریخ په هر دور کې داسې پوهان هم وو چې دا کار یې نه یوازې د اسلام برخه نه دی بللی. بلکې د اسلامي متونو په استناد یې سخت انتقادونه هم پر کړې.

که د دې مسلې د وضاحت لپاره موږ قران کریم ته پام وکړو او د انبیاؤ سنت تر نظر تېر کړو نو راته ثابتېږي چې په اسلامي مقدساتو د استهزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي نه يوازې مرګ نه دی روا، بلکې تر دې هم کمه سزا يې اسلام نه ده ټاکلې.

په قران کريم کې يو ځای لولو:

{وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ () لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ إِنْ نَعْفُ عَنْ طَائِفَةٍ مِنْكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ} [التوبة: 65، 66]

که له دوي وپوښتې نو ارو مرو به درته ووايي چې موږ ګپې او ساتېرې کاوه. ووايه چې په الله، اياتونو او رسولانو يې پسخند وهئ؟ عذرونه مه بيانوئ تر ايمان وروسته مو کفر کړی که موږ ستاسو يوه ډله وبخښو نو بلې ته به مو عذاب ځکه ور کړو چې جرمونه يې کړي.

دا د توبې سورې اياتونه دي چې تر ټولو وروستی نازل شوی سورت دی. دلته وينو چې يو شمېر کسانو په ديني مقدساتو پسخند وهلی او بيا يې عذر دا بيان کړی چې ګپه وه. قران کريم يې ځواب ويلی چې په ديني مقدساتو د استهزا لامل مو هغه پټ کفر دی چې تر ايمان وورسته مو غوره کړی او له دې سره يې د اخروي عذاب ګوتڅنډنه ورته کړې او پيغمبر عليه السلام ته يې امر نه دی کړی چې عذاب ور کړي.

له دې ايته په ډاګه شوه چې په اسلامي ټولنه کې دين ته سپکاوی يو جرم دی البته د سزا په اړه يې څه نه دي ويلي او يوازې اخروي عذاب يې ياد کړی دی.

په يوه بل ايت کې هم دي:

{وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ}.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[النساء: 140]

ژباړه: یقینن تاسو ته په کتاب کې نازل شوي چې کـه مـو د الله لـه ایاتونو انکار او پسخند واورېد نو تاسو له هغوئ سره مه کېنئ څو دوی په نورو خبرو بوخت شي که نه تاسو به هم دغه وخت د دوی په شان یاست.

یو مهم ټکی دا هم دی چې دا سورتونه په مدینه کې نازل شوي او دا مهال رسول الله ص د مسلمانانو مشري کوله او د ده په مشري له نامسلمانو سره یو شمېر جنګونه هم شوي دي. لنډه دا چې دا د وروستي وخت ایاتونه او حکم دی نه دا چې دا په صدر اسلام کې و او بیا منسوخ شو.

له دې ایاتونو ثابته شوه چې که څوك له ایاتونو انکار کوي او په ځنګ کې ګپې هم ور باندې کوي، نو الهي امر دا دی چې دا مجلس همدې کسانو ته ور پرېښودل شي. کله چې دوی د ایاتونو موضوع بدله کړه او بل بحث یې شروع کړ نو مسلمان ته اجازه شته چې له نامسلمانو کسانو سره د هغوی په مجالسو کې ګډون وکړي. قران کریم نه دلته امر کړی چې پسخندیان ووژنئ نه یې د بند امر کړی او نه هم بله دنیاوي سزا. د دوی د همدې عمل حساب پر خدای دی او هغه پوه شو خپله یې بنده. په دې موضوع کې بنده ته اختیار نه دی ور کول شوی چې کومه سزا ورته ځانګړې کړي.

په یوه حدیث کې راځي چې نبي علیه السلام ته یو ځارایي کس د اسلام منلو لپاره راغی. دې کس له رسول الله ص سره پر اسلام بیعت وکړ او ولاړ. خو بله ورځ راغی او له تبې یې شکایت وکړ او د بیعت ماتولو خبره یې هم ذکر کړه. رسول الله ص انکار وکړ او هغه کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام پرېښود او له مديني ووتی. رسول الله ص وويل چې مدينه د بنی په شان ده چې خیره وړي او اوسپينه پرېږدي.(۱)

د بخاري له دې حديث څخه هم ثابته شوه چې که څوك لـه اسلام څخه وګرزي نو داګرزېدا يا انکار يې د دې سبب نه شي کېدای چې په دنیا کې سزا ور کـړل شي، بلکـې رسـول اللـه ص يـوازې همـدا لـوړې جملې ويلې او هغه کس چې خپله تبه يې د اسلام په بيعت پورې تړلـې وه او بیرته يې بيعت هم مات کړ، هيڅ ونه ويـل يـوازې د بيعـت لـه ور کولو يې انکار وکړ.

په سورت المنافقون کې هم د رسول اللـه ص او اصـحابو پـه اړه ويـل شـوي چـې دوی ذلیـل خلـك دي او وايـي: لـئن رجعنـا الـی المدينـة ليخرجن الاعز منها الاذل. که مدينې ته ولاړو نو عزتمن به يې بې عزته پسې اخلي.

قران کريم دا وينا را اخيستې چې د رسول په شان کې ويل شوې، خو نه يې دنياوي سزا ورته ټاکلې او نه هم پيغمبر عليه السلام هغه کـس تـه چې دا وينا يې کړې او اصحابو شاهدي هم پر ادا کـړه، کومـه دنيـاوي سزا ور کړه.

د قران کريم په وينا چې هر نبي ته د خپلو امتيانو له لورې ويل شـوي چې ليونی يې، د بل په اشاره کار کوې، شاعر يې، درواغ وايې، ګوډګر يې، سحر په در شوی او داسې نور سخت الفاظ، خو هيڅ نبي ته الله د همدې سپکاوي په خاطر امر نه دی کړی چې دا کسان يا ووژني يا هم بله دنياوي سزا ور کړي.

له دې ټولو دلايلو څخه ثابته شوه چې مقدساتو ته سپکاوی يو دينـي جرم دی چې سزا يې خدای خپله ور کوي. بنده حق نـه لـري چـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مسله کې له ځانه حدود وټاکي او د خدای بندګانو ته په خپله خوښه تعزیرات ور کړي. د دیني مسلو په تشریح او وضاحت کې قران کریم لومړی مقام لري او تر یوه داسې حدیث چې خبر واحد وي د انبیاؤ سنت په دین کې ډېر معتبر دي چې عمل په وشي. بیا په یوه داسې موضوع کې خو خبر واحد مطلق د عمل وړ نه دی چې هم د قران کریم خلاف وي، هم د ټولو پیغمبرانو د سنت خلاف وي او هم یې عقل ردوي. هغه روایات چې په اسلامي مقدساتو د پسخندیانو قتل یې روا کړی، پر خدای، ایاتونو، نبوي سنتو او هغو احادیثو زیاتوب دی چې دلته مي وړاندې له لاسوندونو سره ذکر کړل. خدای چې دا دین د انسانیت د سوکالۍ لپاره رالېږلی هیڅکله داسې امر نه ور کوي چې د بنده قتل یوازې د هغه په یو داسې عمل روا کړي چې سزا یې یوازې خدای ور کوي، خو له دې سره یې یوځل د بنده په لاس هم وکړوي. قران کریم وایي: وانزلناه الیک الکتاب لتخرج الناس من الظلمات الی النور. کتاب د همدې لپاره راغلی چې انسانانو له کړاونو رڼا ته راولي. نه دا چې پر خلکو بوج او پېټی شي. قران کې اساني ده سختي نه کوي، بل ځای وایي: یرید الله بکم الیسرـ و لا یرید بکم العسر. الله د اساني اراده لري نه د سختي.

د اسلام همدې اساسي روح ته په کتو ویلای شو چې اسلامي مقدساتو ته سپکاوی یو دیني جرم دی چې سزا یې خدای پر خپله ذمه اخیستې مګر په دنیا کې یې خپل رسول ته هم د دې اختیار نه دی ور کړی، نو له رسول پرته نور عام انسانان به د دې څه اختیار ولري؟

۲۰۱۷/ اپریل/ ۲۰

**سرچینه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱)(بخاري باب المدينة تنفي الخبث حديث نمبر: ۱۸۸۳)

## بیعت که انتخابات؟

په دې مقاله کې غواړم د بیعت، انتخاباتو او حل و عقد په اړه ځینې ناروښانه ګوښې راوسپړم. تر اسلام مخکې عربو د سودا مهال رواج درلود چې د فاینل سودا لپاره یې یوبل ته لاسونه سره ور کول چې بیعت صفقه ورته ویل کیدل. همدارنګه یې له خپلو مشرانو سره د وفادارۍ په پار هغه ته لاس ور کاوه، د اسلام تر راتلو وروسته همدا طریقه په مسلمانانو کې هم رواج شوه او له خپلو مشرانو سره به عوامو بیعت کاوه چې هغه ته د وفاداري ژمنه ور کړي او هم له هغه ځخه وعده واخلي څو زموږ له حقونو به دفاع کوي او هر مسوول کس د خپل ولس په وړاندې مسوول دی چې دا لاس ور کول یې د دواړو خبرو ثبوت و.(۱)

د حل و عقد په اړه لغتپوهان وایي چې حل خلاصولو او د یوه جامد شي ویلېدو ته هم ویل کیږي، عقد بیا غوټې ته وایي، نو خلاصول او غوټه کول یې لنډه معنا ده چې دلته د مسلمانانو د عامه چارو د سمبالښت په خاطر د نظام ایجادول هدف دي، اصلن باید عقد و حل لیکل شوی وای، ځکه تر عقد وروسته حل موجودیږي خو ممکن ځینو د سهولت په خاطر همداسې لیکلی وي. پر دې موضوع ځینو څېړونکو نوشته کړي چې د حل و عقد اصطلاح لومړی ابو بکر باقلاني په خپل کتاب کې کارولې ده چې وروسته بیا پسې عامه شوه. نوموړی عالم په ۴۰۳ کې مړ دی نو معلومه شوه چې په څلورمه هجري پیړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هغه دا اصطلاح رامنځته کړې ده او لـه دې هـر څـه سره دوی ادعـا کړې ده چې دا يوه اسلامي او شرعي صبغه لري!(۲)

انتخاب هم د دې دوو الفاظو په شان عـربي لفـظ دی چې معنا يـې ټاکنه ده، د انتخاباتو اصطلاح بيا نوې ده چې پخوا نه وه کار شوې او د ټاکنې په معنـا ده. لـه دې اصـطلاح هـدف دادی چـې ولـس د خپلـې مشرۍ او شورا لپاره ځينې کسان په خپلو رايو ټاکي(انتخابوي).

ځينې کسان فکر کوي چې بيعت په اسلام کې ريښه لري، همدا شـان د حل و عقد له لارې رامنځته شوی حکومت اسـلامي صـبغه لـري امـا انتخابات بيا په اسلام کې ناروا دي. زما په انـد دوی پـه دينـي مفـاهيمو کې تر ماهيت شکل ته ډېره توجو کـوي، کـه پـه دې پـوه شي چـې لـه هرې زمانې سره د شرعي احکامو د تطبيق اړتيا ده، نو بيا اړينـه ده چـې تر شکل ماهيت ته ډېره پاملرنه وشي او انتخابات د بيعت يو نـوی ورژن وبلل شي همدا شان د حل و عقد ځای بايد لويې جرگـې تـه پرېښـودل شي او د شورا د پخواني نوم پر ځای نوی نـوم پارلمـان غـوره شي او د غوراوي طريقې ته يې هم حتمن فرق سره کوي که څـه هـم پخـواني د شورا او حل و عقد د انتخاب پر يوه طريقه جوړ نـه دي سره راغـلي او گڼې طريقې يې بيان شوې دي، نو نن هم شونې ده چې يوه بله طريقـه د اوس وخت غوښتنو او حالاتو ته په کتو پر اضافه کړو. ځکه د وخـت له تېرېدو سره نوي مفاهيم رامنځته کېـږي، غوښـتنې نـوې او زيـاتيږي، کلتور او فرهنگ ته نوي شيان لار پيدا کوي، له يوه ځايه بل ځـای، لـه يوه وخته بل وخت، له يوه قومه بل قـوم او لـه يـوه ملتـه بـل ولـس تـه غوښتنې او تقاضاوې بدليږي، د دې لپاره اړينه ده چې تر شکل ماهيت مهم وگڼو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې مقدماتي خبرو وروسته زه اصلي خبرې ته راځم. زما په اند بیعت د انتخاباتو یو پخوانی شکل دی، اصلن مهمه دلته داده چې د ټولنې لپاره یو مسوول وټاکل شي چې د هغه په مشرۍ کې د خلکو چارې مخته یووړل شي، په دې ځای کې هدف بیعت نه دی، نه انتخابات دي، بلکې دلته هدف د یوه زعیم انتخاب دی، چې د هغه تر مشرۍ لاندې چارې سمې پر مخ ولاړې شي، که د انتخاباتو پر حراموالی او د بیعت پر شرعي والي خبرې ګرمي کړو نو له موږ به اصل مقصد ورك وي او په وسیله غوندې شیانو کې به مو بحث پیل کړی وي. زه د ځینو کسانو په شان اصلن له لویه سره دا نه منم چې نظام هم اسلامي و نااسلامي کېدای شي، اسلام او کفر د انسان کړنې دي، که اطاعت وکړي او پر خپل رب و رسول یې ایمان راوړي نو مسلمان دی او کنه منکر (کافر) دی. نظام د عامه چارو د سمې سمبالونې یو چوکاټ دی او چوکاټ ته د کفر یا اسلام نسبت کول زما په اند سهي نه دي. په اسلامي نصوصو کې هم د نظام په اړه د اسلامي یا شرعي نظام یا هم د کفر نظام هیڅ هم نه شته نه دا راغلي چې دغه شرعي امیر دی او هغه بیا کفري امیر دی. همدا شان شریعت کوم چوکاټ هم نه دی مقرر کړی چې په دې چوکاټ کې دننه دې نظام جوړ شي څو اسلام یا شریعت ته منسوب شي او که دا نه وي بیا کفر یا نااسلامي ته منسوبېږي.

د شرعي لومړیتوبونو په پېژندلو موږ کولای شو چې د داسې بې فایدې کشالو او شخړو مخه ونیسو. لومړی باید هغه اولویتونه په ګوته شي چې د شریعت هدف دي او د هغو لپاره جدي مبارزه وشي نه دا چې له شریعته سیاسي قدرت ته د رسیدو وسیله جوړه شي او د انسانیت لپاره راغلی رحمت دین د ځینو خاصو کړیو د انحصاري قدرت په وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیاست غوندي بدنام شي، هغه دین چې هدف یې انساني و بشري اصلاح وه ولې باید په لوی لاس د انساني خرابونې او وژنې کار ترې واخیستل شي؟!

مهمه دا ده چې پر بشر۔ د ظلم مخه ونیول شي، انسان د انسان له مریيتوبه ازاد شي، خلك د باورونو په انتخاب کې ازاد پرېښودل شي، کوم څه چې په دین و شریعت کې راغلي هغو باندې باور وساتل شي او د څه په اړه چې یې سکوت کړی، هغه دنیوي چارې وګڼل شي او په هغه ډول مخته یووړل شي چې د بشر په ګټه وي، زمان او مکان یې تقاضا کوي. له وخت سره ټکر یوازې د بشر په تاوان تمامېږي او که د ټکر لامل هر ډول عقیده یا باور وي، نو هغه باور و عقیده به هم ډېره بدنامه شي.

پاته شوه د حل وعقد موضوع؛ دا اصطلاح لومړی د یوه عالم له لورې په څلورمه هجري پېړۍ کې استعمال شوه چې وروسته د نورو عالمانو له لوري تر کارونې وروسته پسې عامه شوه. یعنې د خیر القرون د زمانې اصطلاح هم نه ده چې ځینې خلك یې د حکومت لپاره د یوه اسلامي موډل په توګه وړاندې کوي، ممکن د هغه وخت غوښتنه به وه چې هغوی ایجاد کړې ده اما نن اړینه نه ده چې موږ دې دا موډل نظام جوړ کړو او د خپل وخت عیني شرایط له پامه وغورځوو. د عبد الله بن ابراهیم په پاس یاد شوي کتاب کې یادونه شوې ده چې اهل حل و عقد او اهل شورا هم تر خپل منځ توپیر سره لري، ده ویلي چې اهل حل و العقد دوامداره دنده نه لري، بلکې موقته چاره ده، له دوی مشوره نه غوښته کیږي بلکې د یوې ستونزې د حل په موخه راغونډېږي او حل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندي کوي، مګر اهل شورا بیا دوامداره خپل کارونه مخته وړي، د مشورې تر طلب وروسته هغوی مشوره ور کوي او داسې نور ټکي.

ما چې په هغو توپیري ټکو کې فکر وکړ نو عینن زموږ د زمانې لویه جرګه او ملي شورا غوندې یو شی ترې راوتی. اهل حل و العقد لویه جرګه ده او ملي شورا بیا د هغې زمانې اهل الشورا دي. انتخابات عینن د بیعت نوی شکل دی چې له نن زمانې سره سمون هم خوري او د حالاتو غوښتنه هم ده.

زما په اند پر دې موضوعاتو شخړه یوازې لفظي ده، حقیقت کې دا یو شان دي، دوی هغه زمانه کې یو نوم ور کاوه او نن خلك بل، هغه زمانه کې به یې ممکن شکل یو ډول و او نن به یې لږ تغییر کړی وي، دا تغییر یوازې په دې چارو کې نه راځي، بلکې په نورو شیانو کې هم راغلی دی، مثلن: حج ته تلل، اذان کول، د شاهدئ په اړه له نویو وسایلو کار اخیستل، د جنس یا سره و سپینو پر ځای د کرنسۍ کارول او داسې نور، لکه دا یاد شیان چې د وخت غوښتنه وه او ده، همدارنګه انتخابات، لویه جرګه او ملي شورا هم د وخت غوښتنې دي چې د شکل په لږ تغییر د هماغه اهدافو لپاره کارېږي لکه دوی چې بیعت، اهل حل و العقد او اهل شورا په خپله زمانه کې کارول.

د یو شي هدف مهم وي، هغه ته وسیلې که هره یوه وي توپیر نه لري چې اصل هدف ته لاس رسی په پیدا کېږي نور وسایل ممکن مختلف وي، د زمانې په تېرېدا سره توپیر هم وکړي او د کلتورونو ادلون بدلون هم تغییر ور کړي، خو هدف به له لاسه نه وزي، کله چې هدف په هره جایزه وسیله تر لاسه کېږي هماغه وسیله سمه ده او د الفاظو پر سر یې شخړه د هوښیارانو کار نه دی؛ خو د وسیلې بدلون هم په هره موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې او هر ځای کې شونی نـه وي، د دې لپـاره هـم خپـل مـوارد شـته، ځینې وختونه ممکن یوه نیک کار ته خلك له بدو وسیلو ځـان رسـول غواړي، خو دا کار یې شرعي مجوز نه لري.

۲۰۱۸/ ۱۰/ ۳۱

**سرچینې:**

(۱).د ابن منظور لسان العرب، د سید محمد حسین طباطبایي المیزان: ۴۷۲/۱۸، ، د ابن اثیر نهایه: ۴۷۱/۱.

(۲).القاموس المحیط باب اللام فصل الحاء ماده حل مخ: ۱۲۷۵، اهل الحل والعقد، صفاتهم و وظائفهم، مخ: ۱۸، او ۲۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر شرعي نصوصو د زمان، مکان او کلتور اغېز

د اسماني شرايعو متون انسان ته د انسان په ژبه راغلي دي. هغه ژبه چې انسان رامنځته کړې، د خپل پنځونکي په شان ده، بدلېږي، تغيير کوي، نوي الفاظ ورته رادننه کېږي، د څو تعبيرونو احتمال لري، يو لفظ يې گڼې معناوې ور کوي، له يوې جملې يې د انسانانو برداشتونه مختلف وي، لهجوي توپيرونه پکې ځای مومي، د يوې سيمې کلتور يو ډول اغېز پر کوي او د بلې سيمې فرهنگ نور څه پکې ننباسي، يوه زمانه کې يو ډول اصطلاح عامه وي او بيا بل وخت راشي چې هغه زړه اصطلاح په کلېشه بدله شي، نوې يې ځای ونيسي- او نور ټول هغه عوارض چې انساني ژبو ته ور پېښېږي.

دا هر څه له دې امله ژبې ته ور پېښ دي چې خپله انسان هم پر يوه حال نه دی، د انساني تغيير او تبديل له امله ژبه هم د بدلېدا په حال کې وي او دا لړۍ له لومړۍ ورځې پيل او تر ننه يې دوام کړی. دا خبره ډېرې تشريح ته اړتيا نه لري چې د زمان و مکان په لحاظ د انسانانو غوښتنې مختلفې وي. يوه زمانه کې انسان يو ډول غوښتنې کوي او بله زمانه کې تر پخوا ډېر څه غواړي. ځکه څومره چې انساني پوهه ډېرېږي همدومره ور سره د انسان ذهن پراخېږي او د غوښتنو نوملړ يې هم ډېرېږي.

انسان د خپل کمزوري علم له امله له نن څخه پخوا د نېټ غوښتنه او د همدې لارې د کاروبارو غوښتنه نه د رلوده، ځکه په خبر نه و. اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا شی موجود دی نو هر انسان يې د استعمال غوښتنه کوي او په انساني ټولنه کې چې هر شی د انسان تر استعمال لاندې راځي ښه او بد عواقب دواړه لري چې نوې پديده ورته ويلای شو او نوی فکر غواړي.

د انسانانو مختلف فرهنگونه د دې ثبوت دی چې غوښتنې او خواهشات بېل دي. هم د مکان له مخې او هم د زمان. دا دوه داسې قيدونه دي چې همنوعه انسانان پر مختلفو کلتورونو او ټبرونو وېشي. په انساني نړۍ کې تقريبا هره اختراع د اړتيا له امله شوې ده. هر اختلاف د بشري اړتيا له مخې رامنځته شوی او د هرې پديدې تر شا د همدې بشري غوښتنې ريښه ليدله کېږي.

کله چې د انساني ټولنې هيڅ شی هم د ثبات په حال کې نه دی او د يوه فيلسوف په خبره چې دلته يوازې تغيير د ثبات په حال کې دی، نو بيا هر هغه قانون چې تغيير ممنوعه کوي انساني ټولنه له بدمرغيو سره مخوي. انسان بايد د تغيير په حال کې واوسي او په همدې انسان خوشاله وي. کله چې جمود رامنځته شي ژوند ور سره ودرېږي، ښکلا له لاسه ور کړي، رنگيني ختمه شي، د ځلا پر ځای تيارې د ژوند هره برخه تر سيورې لاندې راولي، د خوښي پر ځای غمونه وي او د مستي پر ځای مړتتوالی وي، د حرکت پر ځای سکون وي. له دې امله بايد ټول اسماني شرايع د تغيير دروازه خلاصه پرېږدي او د انساني فطرت خيال وساتي.

زما د معلوماتو سره سم په شرايعو کې همدې اصل ته پام شوی دی. شريعت خپله د هغو احکامو نوم دی چې تل د تغيير په حال کې وي. قران کريم همدې ټکي ته په دې الفاظو (لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا) اشاره کړې.(۱) دلته راغلي چې شريعت د هر امت له بل څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېل وي. ولې؟ ځکه ځای او وخت يې مختلف وي، کله چې يوه قوم ته رسول راځي نو په هغه قوم کې عيني همدا مهال د بل اړتيا نه شته، له دې امله بايد بل رسول نورو قومونوته ولاړ شي چې ځای يې تغيير وکړي او همدا شی د شريعت تغيير ته لار جوړوي.

له انبياؤ سره په خپل وخت کې کتابونه نازلول هم د دې تغيير او تبديلۍ شاهدي ور کوي. که داسې نه وای، نو يو کتاب به يې نازل کړی وای او نبيانو به هر مهال له هغه کتاب څخه خلکو ته احکام بيانولای، مگر داسې نه دي شوي. لامل يې دا دی چې که له يوه کتاب څخه احکام اخيست کېدای، نو هغه د ژوند ټولو رنگينيو ته يې ځواب نه شوای ور کولای. هر قانون چې د انسان لپاره وي، نو بايد هغه خصوصيت قبول کړي چې خپله انسان يې په خپل ذات او فطرت کې لري. انسان په هر حال کې متغير دی او قانون يې بايد تغيير حتمن ومني. د شريعت په نصوصو کې دا شی ډېر واضح دی چې لاندي يې څو مثالونه ذکر کوم:

١ــ د مکې مکرمې بنسټ ابراهيم او اسماعيل عليمها السلام ايښی دی. مگر مکيانو د خپل مالي کمزورۍ له امله د مکې له خونې يوه برخه بېله کړه. کله چې رسول الله ص مکه فتحه کړه، هيله يې در لوده چې مکه د خپل جد ابراهيم پر بنسټونو ودانه کړي او همدا يې خپل بنياد هم و، خو له دې ډاره يې دا کار ونه کړ چې خلك نوي مسلمانان شوي، ممکنه ده د مکې وراني او نوې جوړېدا بد اثر پر وکړي، په انسانانو کې د فتنې له امله يې مکه د مکيانو پر نيمگړي جوړښت ايله کړه .(٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـــ رسول الله ص چې کله مدینې ته هجرت وکړ، مسلمانان مسکینان وو. له دې امله رسول الله ص خلکو ته امر وکړ چې د قربانۍ خوښه به تر درې ورځو وروسته په کور کې نه ساتئ. له دې څخه یې هدف دا وو چې خلک غوښه وویشي او مسکینانو ته په ټولنه کې خپله برخه ورسیږي. اما کله چې بې وزلي کمه شوه، رسول الله ص خلکو ته اجازه ور کړه چې د غوښې ساتل نور ستاسو کار دی زما له لورې پابندي نه شته. (۳)

۳ـــ په مدینه کې رسول الله ص لومړی خلکو ته اجازه نه ور کوله چې هدیرې ته ولاړ شي او زیارت وکړي. په روایاتو کې د دې هدف دا بیان شوی چې لومړي سر کې مسلمانان د زیارت په اسلامي ادابو نه پوهېدل، رسول الله ص پرې ډارېده چې بیرته د جاهلیت د وخت باورونه پکې ځای ونه نیسي، له دې امله یې منعه کړې وو، کله چې دا ډار ختم شو نو اجازه یې ور کړه چې د اخرت او مرگ د یاد لپاره هدیرو ته ولاړ شي.(۴)

۴ـــ رسول الله ص مکیانو ته تر ۱۳ کاله دعوت وروسته مدینې ته هجرت وکړ. دا کار یې د ځان ساتنې په موخه و، له همدې امله هغه مهال یوازې د مکې له ښارگوټي هجرت فرض و او هر مسلمان باید له مکې هجرت کړی وای. مگر کله چې مسلمانان مکه ونیوله، رسول الله ص اعلان وکړ چې د مکې تر فتحې وروسته هجرت ختم شو.(۵) دا یوه اړتیا وه، مکیانو ته د شریعت د سزا یوه برخه وه. کله چې هغوی خپل حالت بدل کړ، د اختلاف زمانه یې متغیره شوه، نو حکم هم تغییر وکړ. هجرت هم یوازې له مکې لازمي و، ځکه نو بحرین، یمن، د بنو حنیفه سیمه او شاوخوا بدویې عربو کې مسلمانان اوسېدل او رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ص د هجرت امر هم نه دی ور ته کړی. ان د هغوی د تعلیم لپاره رسول الله ص د خلکو په غوښتنه یوځل د شپږو یا لسو او بل ځل د اویا اصحالو ډله ولېږله چې مسلمانو قبیلو ته اسلام وښیي یا یې په خپله سیمه کې اسلام ته دعوت کړي؛ خو له بده مرغه له دواړو ګروپونو سره چل وشو.(٦)

له دې پاس مثالونو ښکاره شوه چې مکان، زمان او کلتور پر شرعي متن څومره اغېز لري. مګر پوښتنه دا ده چې ایا له همدې اصل څخه تر رسول الله ص وروسته امت هم ګټه پورته کولای شي او که دا واک یوازې د رسول تر ذات او وخته محدود دی؟ اصلن په دې بحث کې دا ټکی مهم دی، که نه پاس ذکر سوي مثالونه ټول مني.

زه دې بحث ته له دې زاویې ورځم چې د شریعت زیاتره احکام موقتي وي او دین د ابدي مقدسو احکامو نوم دی. مخکې مې د شریعت په اړه د قران کریم ایت ذکر کړی او د دین په اړه الله تعالی وایي: وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ (٧)

ژباړه: او بېشکه دغه ستاسو یو امت دی او زه مو رب یم، له ما وډار شئ.

په دې ایت کې د ګڼو انبیاو دین ته په مفرد اسم اشاره(هذه) ګوته نیول دا ښیي چې دین د ټولو نبیانو ترمنځ مشترک دی او شریعتونه یې توپیر لري. له همدې امله وایي چې ستاسو هرې ډلې ته ځانګړی شریعت دی خو دین ته په مفرد اشاره کوي چې د ادیانو اتحاد ښیي.

که بحث ته تر ننوتو مخکې یو حدیث هم ذکر کړم نو له موږ سره به ان شاء الله د موضوع په روښانولو کې مرسته وکړي. حدیث دادی:

«إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا» (٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: بېشکه الله دې امت ته د هرو سلو کلونو په پیل کې یوڅوک راپاڅوي چې دین(شریعت) یې ورته نوی کړي.

عربي ژبه کې د الفاظو یو د بل پر ځای استعمال خورا زیات دی، دلته هم د (دین) لفظ د شریعت لپاره کارول شوی، دلیل یې دادی چې تجدید یوازې په شرعي احکامو کې راځي او دیني احکامو لکه قران کریم چې صراحت په کړی، د ټولو نبیانو ترمنځ مشترك وي، نو بناءً دلته له راغلي لفظه شریعت هدف دی. ځکه قران کریم کې د دین لپاره د ملت توری هم کارېږي، قران کریم کې د شریعت پر ځای د دین یادونه نور ځایونه هم راغلې ده او حدیثو کې یې هم مثالونه شته.

اوس د موضوع سپړل هم اسانه کېږي او هم د لوستونکو فهم ژر ورته رسېږي. موږ پوهېږو چې په حدیث کې رغلی د (یجدد) لفظ د تجدید(تفعیل) د باب مضارع ده چې د نوي کولو معنا ور کوي. یعنې په شرعي تعبیر کې د هر زمان، مکان او کلتور غوښتنو ته که پام وشي او له خپل وخت سره داسې تعبیر شي چې د حساسیتونو پارولو پر ځای د بشري جامعې ګټو ته پکې نظر وشي، نو دا شرعي تجدد دی او موږ ته یې د قران و حدیثو له مخې اجازه راکړل شوې.

هغه څوك چې تجدد د نبي علیه السلام زمانې ته د شریعت کشول بولي او دې ته د تجدد نوم ور کوي، زما په اند ناسم فکر یې اخیستی. ځکه یو خو له عملي ژوند سره شرعي مسلو ته ربط نه شي ور کولای چې دا له ځمکنیو حقایقو سره ټکر کوي او بل د تجدد له توري یې هم سم برداشت نه دی کړی ځکه تجدید، نوي کېدل دي نه شاته وړل. که دلته د تجدید پر ځای د ارتجاع د باب لفظ راغلی وای، نو بیا ددوی فهم سم و، مګر د لته خبره برعکس ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریعت ته که کلتوري بڼه ور نه کړل شي د انسانانو تر فهم او وس لوړېږي. مثلن: عربي کې هغه ذات چې خلك يې عبادت کوي، د الله په نوم يادېږي، که د معبود همدا اسم ذات يوه پښتون ته په داسې حال کې ذکر کړې چې هغه له دې ناخبره وي، نو څه پرې پوهېږي چې زما متکلم ماته څه وايي؟ کله چې موږ هغه ته د ده د خپل کلتور، ژبې او عرف سره سم دخدای نوم یاد کړو او دا لفظ په هغه ورته ترجمه کړو، نو هغه پوهېږي چې له الله څخه زما د متکلم مراد څه شی دی.

يو بل مهم ټکی په شرعي مسلو کې زياتره وخت ماهيت وي، نه شکل. له دې امله نو چې کله هدف په يوه بڼه تر لاسه کېږي شارع يې پر خاص شکل ټينګار نه کوي. مثلن: د بني قريظه په غزا کې رسول الله ص خلکو ته امر وکړ چې ولاړ شئ لمونځ مو د بني قريظه سيمې ته ورسوئ. خلکو فکر وکړ چې د رسول الله ص هدف هلته تلل دي، نه ارو مرو لمونځ په هغه ځمکه کې ادا کول، له دې امله يې لمونځ پر لار وکړ، اما ځينو کسانو په ظاهري الفاظو تمسک وکړ او لمونځ يې هلته ورساوه. رسول الله ص ته قيضه وړاندي شوه نو هغه د يوې ډلې فهم هم ناسم ونه بالی.(۹)

له دې ښکاري چې مهم په شريعت کې اهداف وي، کله چې هدف تر لاسه کېږي، نو پر يوه خاص شکل يې ټينګار کول د شريعت له مقاصدو څخه نه وي؛ البته ځينو استثنائاتو ته په پام! بيا زموږ په زمانه کې چې رسول الله ص نه شته او شرعي متون زموږ تعبير ته اړتيا لري، نو بايد پر يوه خاص شکل تر ټينګار بايد پر ماهيت تاکيد وشي چې هم اختلاف ختم شي او هم هدف تر لاسه کړو.دا کار نه يوازې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وخت کې مهم دی، بلکې د هرې زمانې لويو علماؤ همدا کار کړی دی. څو مثالونه:

۱ـــ د حديثو په معتبرو کتابونو کې روايت دی چې د رسول الله ص او ابو بکر رض په زمانه کې د يوه مجلس درې طلاقه يو طلاق بلل کېدو، خو عمر فاروق رض په خپله زمانه کې د خلکو د ناسم عمل او ځينو زورونو له امله اعلان وکړ چې د يوه مجلس درې طلاقه به تر دې وروسته درې شمارل کيږي.(۱۰)

۲ـــ د رسول الله ص په زمانه کې زاني ته د سلو درو تر سزا وروسته دا هم د سزا برخه ګڼل کېده چې زاني يې له سيمې د يوه کال لپاره شړی، مګر عمر فاروق رض د يوې بدې پيښې تر واقع کېدا وروسته دا سزا لغوه کړه.(۱۱)

۳ـــ د رسول الله ص په زمانه کې د واړه اختر سرسايه خلکو په اجناسو ور کوله چې مشهور يې کورت، اوربشې او خورما وه(۱۲) دا ځکه هغه مهال کرنسۍ نه کارېده، خلکو به جنس په جنس سودا کوله، اما د امام ابوحنيفه رحمه الله په مذهب کې وروسته د دې اجناسو پر ځای کرنسۍ ته جواز ور کړل شو.(۱۳)

دا هغه مثالونه دي چې د اړتيا له مخې د شرعي مسلو په شکل کې بدلون راغلی؛ بلکې که ووايو چې دلته يې تعبير له زمان و مکان سره برابر کړی دی، نو ښه نظر به وي. شريعت کې يو اصل دا هم دی چې نه ځان ته ضرر رسول جواز لري او نه بل ته، له دې امله چې کله د يوې زمانې تعبير د بلې زمانې يا د يو ځای تعبير د بل ځای د خلکو له ګټو سره ټکر وکړي، نو کولای شي چې شرعي تعبير ته تغيير ور کړي ځکه اسلام کې همدا اصل دی چې (لاضرر و لاضرار في الاسلام)(۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا چې بشري جامعې ته تکلیف پېښوي لازمي خبره ده چې انساني تعبیرونه دي، له دې امله نوی تعبیر اړین دی او زوړ ته شاکول مجبوري ده.

لنډه دا چې په بشري نړۍ کې د زمان، مکان او کلتور له قید څخه هیڅ شی وتلای نه شي. شرعي نصوص چې د انسان لپاره راغلي، نو حتمي خبره ده چې ټول هغه عوارض به ورته پېښېږي لکه انسان او د هغه ژبې ته چې ور پېښ دي. انسان په یوه حالت کې ثبات نه لري، کله یې یو حکم په ګټه وي او کله بل، کله یو ډول حالات وي او کله بل ډول. له متن څخه اخیست شوي تعبیرونه هر وخت د انساني جامعې په ګټه نه وي، له دې امله اړتیا ده چې هر وخت نوي کړل شي او د بشري ټولنې ټولې اړتیاوې په نظر کې ونیول شي. شریعت د انساني سهولت لپاره راغلی نه د سختۍ لپاره(۱۵) له دې امله هر هغه سخت تعبیر د دین له اساس سره متصادم دی چې پر بشري جامعه سختي ته پکې تمایل شوی وي.

د پخواني تعبیر یو لوی مشکل دا هم و چې د اوس په نسبت انساني لید ډېر کم و، معلوماتو ته لاس رسی د اوس په شان پراخ نه و، تر ډېره حده د یوه فرد لخوا شوي تعبیرونه دي چې د خپل کوچني چاپېریال اغېز ور باندې پروت و او د اوس وخت نوې غوښتنو ته پکې هیڅ پام نه دی شوی. بل پلو هغه مهال مسلمانان د یوه بریالي قوم په توګه مطرح وو، هلته یوه لویه پاچاهي یا خلافت د مسلمانانو موجود و، پر شرعي تعبیر دې هم لوی اغېز کړی او داسې تعبیر ورته لار پیدا کړې چې اوس زموږ له زمان و مکان سره اړخ نه لګوي. که د فقهي کتابونو ته سر ور ښکاره شي، نو داسې ډېر مسایل به ووینې چې نن ورته اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شته. مګر په خپل وخت کې به همدې مسلو ته ضرورت و او د همدې اړتیا له مخې لیکل شوي دي. له دې ښکاري چې پر شرعي نصوصو او تعبیر یې زماني، مکاني او فرهنګي قیدونه ژور اثر لري او د هر وخت په تعبیر و تفسیر کې د دې ټولو اثار بیخي جوت دي.

۲۰۱۸/ سپټمبر/ ۱۷

**سرچینې:**

۱)المائده: ۴۸، یعني ستاسو د هر امت لپاره موږ شریعت و تګلاره ټاکلې.

۲)صحیح مسلم کتاب الحج باب نقض الکعبه و بنائها ح: ۱۳۳۳.

۳)مسلم کتاب الاضاحی باب بیان ماکان من النهی اکل لحوم الاضاحي بعد ثلاث...ح: ۱۹۷۱.

۴)سنن ابي داؤد کتاب الجنائز باب زیارة القبور ح: ۳۲۳۵.

۵)صحیح البخاري کتاب الجهاد والسیر باب لاهجرة بعد الفتح ح: ۳۰۷۷.

۶)الرحیق المختوم السرایا والبعوث بین احد والاحزاب، بعث الرجیع و مأساة بئرمعونه: ۲۶۷.

۷)المومنون: ۵۲.

۸)سنن ابي داؤد کتاب الملاحم باب مایذکر في قرن المائه ح: ۴۲۹۱.

۹)صحصح البخاري کتاب المغازي باب مرجع النبي ص من الاحزاب...ح: ۴۱۱۹.

۱۰)صحیح مسلم کتاب الطلاق باب طلاق الثلاث ح: ۱۴۷۲.

۱۱)بدائع الصنائع کتاب الحدود فصل في شرائط وجوب حد الشرب: ۷/ ۳۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲)مسلم کتاب الزکاة باب زکاة الفطر علی المسلمین من التمر والشعیر ح: ۹۸۵.

۱۳)بدائع الصنائع کتاب الزکاة باب الزکاة الواجبه فصل بیان جنس الواجب وقدره وصفة في صدقة الفطر: ۲/ ۶۹.

۱۴)شرح التلویح علی التوضیح فصل في کیفیة السماع والضبط والتبلیغ: ۲/ ۲۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اسلام کې د مرتد سزا

عمومي فکر او مشهوره فقهي تګلاره دا ده چې که څوک له مسلمانۍ وګرزي، نو شرعي حکم يې لومړی ترې توبه غوښتنه او د انکار په صورت کې د هغه وژنه ده. که څه هم فقهاؤ دا کار د برحاله حکومتي محکمې چاره بللې، خو اوس له دې اصل څخه ياغي باغي ډلو هم د ځان او شريعت په ساتنه کې ګټه اخيستې او حتا افرادو هم دې ته لاس ور اچولی دی. مشال خان او فرخنده يې غوره مثالونه دي.

دا ادعا په داسې دلايلو ثابته شوې چې يو لورته د قران کريم له اياتونو سره اړخ نه لګوي او بل لورته د داسې درجې دي چې دومره ستره پرېکړه په هغو دلايلو نه شي ثابتېدای؛ دارنګه د دين له اساساتو او د رسول الله ص له عملي سنتو سره هيڅ سمون نه لري. قران کريم په ښکاره الفاظو انسانانو ته د دين د منلو او نه منلو واک ور کوي، لکه چې وايي:

لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ .(۱)

ژباړه: په دين کې هيڅ زياتی نه شته يقينن هدايت له بې لارۍ بېل شوی دی.

وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ.(۲)

ژباړه: او ووايه حق ستاسو د رب له خوا دی، نو که د چا خوښه وي ايمان دې راوړي او که يې خوښه وي، کافر دې شي.

له دې دوو اياتونو جوتېږي چې د ايمان اوکفر په اړه الله انسان ته پوره اختيار ور کړی دی، له همدې امله بيا د ثواب يا عذاب وړ دی، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل اختیار یې ښه یا بد عمل کړی دی. د لومړي ایت په اړه د ځینو علماؤ د نسخې رایه ځکه د اعتبار وړ نه ده چې نسخه په امر او نهې کې راځي، اخباریه جملې نسخه نه لري، نو دلته د هغوی نظر د اصول الفقهې پر معیار برابر نه دی له دې امله د التفات وړ نه دی. نورو بیا ویلي چې اسلام ته په دخول کې اکراه نه ده په کار، اما د وتلو مهال بیا په حدیث باندې عمل کېږي. دا هم سم دریځ نه دی، ځکه د عربي ګرامر له مخې کله چې نکره لفظ د نفي په څنګ کې واقع سي، نو عمومیت فایده کوي چې دلته تر (لا) وروسته د (اکراه) نکره لفظ راغلی او خپل عمومیت یې پر ځای ساتلی. له دې معلومېږي چې نه په لومړي سر کې شریعت اجازه ور کوي چې څوک په جبر مسلمان کړل شي او نه وروسته اجازه شته چې له وتلو یې په جبر را وګرزوي. ځکه دین منل د یوه انسان اختیاري چاره ده، انسان ته پکې د مداخلې چانس نه دی ور کول شوی. د خدای دین دی او د خدای مخلوق که یې مني د خدای اجر به تر لاسه کړي او که یې نه مني، د خدای له لوري به سزا ویني؛ مخلوق پکې ځای نه لري.

مګر که څوک له اسلامه وګرزي او بیا په زور ورته را وګرزول شي؛ نو دا دین، الله ترې نه مني؛ ځکه قران وایي:

وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا .(۳)

ژباړه: که چا دا کار (ایمان راوړل) د الهي رضا لپاره وکړ، نو ژر به یې موږ ستر اجر ورکړو.

همدې اصل ته قران په ګڼ شمېر ایاتونو کې اشاره کړې ده، رسول الله ص هم یو حدیث کې وایي:

إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى.(۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: یقینن د اعمالو دار و مدار پر نیتو دی او هر شخص ته هغه دي چې نیت یې کړی وي.

ښه! که څوك په زور دین ته راوستل شي نو ایا دا به دالله لپاره وي او که صرف له ډاره؟ نیت به یې د الله رضا وي او که هر څه له نیت پرته؟

بله پوښتنه، که څوك په زور کافر شي نو کفر یې منل کېږي؟ قران وایي نه منل کېږي: إلا من أکره و قلبه مطمئنٌ بالإیمان .

ایمان د انساني خوښې کار دی، لکه چې رسول الله ص به ویل: رضیتُ بالله ربا وبالإسلام دینا، وبمحمد نبیا ورسولا .

ان د اسلامي قانون له مخې د زور بیه نه ده روا، د زور نکاح ناروا ده، د زور طلاق نه سهي کېږي او داسې نور، نو د اسلام په منلو کې به څنگه ومنل شي؟

تر انسانانو الله ښه قدرت پر لري، خو الله داسې نه کوي، وایي:

{ وَلَوْ شَاء رَبُّكَ لآمَنَ مَن فِي الأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُواْ مُؤْمِنِينَ }(٥)

که ستا د رب خوښه وای، نو په ځمکه کې به ټولو خلکو ایمان راوړی وای، ایا ته خلك اړ کوې چې دوی مومنان شي؟

{ قُلْ فَلِلّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ فَلَوْ شَاء لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ }(٦)

ووایه! له الله سره پوره حجت دی، که یې خوښه وای تاسو ټول به یې هدایت کړي وای.

{ وَلَوْ شَاء اللّهُ مَا أَشْرَكُواْ وَمَا جَعَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ } .(٧)

که د الله خوښه وای نو دوی به شرك نه وای کړی او موږ ته پر دوی محافظ نه یې ټاکلی او نه پرې نگران یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاسني ایاتونه په وضاحت وایي که د الله خوښه وای نو په زور یې په ټولو انسانانو دین منلای شوای، خو الله داسې نه کوي، دین منل اونه منل یې د انسانانو خوښې ته ایله کړې دی کفر کوي که اسلام، د انسان خپله خوښه ده، د دې خوښې له امله یې الله دوزخ یا جنت ور کوي.

البته په دې موضوع کې ټولې ستونزې له هغه روایته را پیښې دي چې بخاري او نورو کتابونو راوړی دی:

«مَنْ بَدَّلَ دِینَهُ فَاقْتُلُوهُ».(۸)

ژباړه: که چا خپل دین بدل کړ نو وې وژنئ!

خو که دې کسانو د دې موضوع اړوند ټول ایاتونه او حدیثونه تر نظر تېر کړي وای، نو داسې سرسري حکم به یې نه ترې اخیست.

الهي وینا ده:

وَمَنْ یَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِینِهِ فَیَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْیَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِیهَا خَالِدُونَ .(۹)

ژباړه: که له تاسو څوک له خپله دینه وګرزېد، بیا د کفر په حال کې ومړ؛ نو اعمال یې په دنیا او اخرت کې ختم شول، همدوی د اور خاوندان دي، دوی به پکې همېشه وي.

ایت کې الله د مرتد حکم یاد کړی دی خو یوازې د اخرت ګوتڅنډنه یې ور ته کړې ده، په دنیا کې یې د هیڅ عذاب یادونه نه ده کړې، ځکه بیا د دین په اړه هغه عمومي اصل ختمېدی چې په دین کې زور زیاتی نه شته.

که د وژنې روایت عام اصل وګڼو؛ نو هم له ایت او هم له دې نورو حدیثونو سره ټکر کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعَهُ عَلَى الْإِسْلَامِ، فَوُعِكَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَقِلْنِي، فَأَبَى، ثُمَّ أَتَاهُ، فَقَالَ: أَقِلْنِي، فَأَبَى، فَسَأَلَ عَنْهُ، فَقَالُوا: خَرَجَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمَدِينَةَ كَالْكِيرِ، تَنْفِي خَبَثَهَا، وَتَنْصَعُ طَيِّبَهَا "

ژباړه: یو څارایي رسول الله ص ته راغی پر اسلام یې بیعت ور سره وکړ، نو تبه یې شوه، بیا رسول الله ص ته راغی، وې ویل: زما بیعت بېرته راکړه، ده انکار وکړ، بیا راغی، وې ویل: بیعت مي راکړه، ده انکار وکړ، د ده په اړه یې پوښتنه وکړه، دوی وویل: ولاړ، نو رسول الله ص وویل: مدینه د بټۍ په شان ده، کمزوری یې ختموي او ښه یې ایله کوي.(۱۰)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ يَكْتُبُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَزَلَّهُ الشَّيْطَانُ، فَلَحِقَ بِالْكُفَّارِ، فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقْتَلَ يَوْمَ الْفَتْحِ، فَاسْتَجَارَ لَهُ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ، فَأَجَارَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "(۱۱)

ژباړه: ابن عباس ویل: عبد الله بن سعد بن ابی سرح د رسول الله ص کاتب و، بیا شیطان وښویاوی له کفارو سره ملګری شو، د فتحې په ورځ یې رسول الله ص د وژلو امر وکړ، نو عثمان پنا ورته وغوښته رسول الله ص ورته پنا ور کړه.

البته د وژلو امر یې لومړی ځکه ور کړ چې له محاربو(جګړه مارو) کافرانو سره یو ځای و، له ده سره یو ځای یې د صفوان، عکرمه او نورو کافرانو د وژلو امر هم کړی چې عکرمه او صفوان یې هم بیا په شفاعت وبخښل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه مشهوره پېښه د رسول الله ص د حدیبیې سوله هم ده چې له کافرانو سره یې پر دې شرط سوله وکړه که له موږ څوك مرتد شو تاسو ته درغی موږ یې نه غواړو اوکه ستاسو څوك موږ ته راغی، موږ به یې در کوو.

له دې معلومېږي چې که د مرتد وژل دیني حکم وای، رسول الله ص به یې نه په اړه د چا شفاعت منلی وای اونه به یې له کافرانو سره په دې شرط سوله کړې وای، ځکه عائشه رض وایي چې کله به د الهي حدودو خبره راغله؛ نو رسول الله یې په عملي کولو کې تر ټولو جدي و. (۱۲)

بله خبره دا هم ده چې رسول الله ص په خپل ژوند کې یوځل هم دا حکم نه دی عملي کړی، په داسې حال کې چې زرگونه منافقین له دینه مرتد شول او پر کفر یې د قران سوره منافقون، سوره توبه اونور شاهدان هم دي، رسول الله ص ونه وژل، بلکې د ابن ابی منافق د جنازې لمانځه ته هم ورغی او اصحاب یې هم د دوی هر یوه له وژلومنعه کړل؛ځکه چې وایي بیا به کافران ووایي: محمد اوس خپل ملگري وژني. (۱۳)

له دې څېړنې جوته شوه چې د مرتد وژل یو سیاسي حکم دی، د یو مصلحت پر بنسټ رسول الله ص د خاصو خلکو په اړه همدا حکم کړی دی، لکه د ابن ابی سرح چې له محاربو کافرانو سره ملگری و، یا هغه کس چې له جماعته بېل شي او د مسلمانانو ترمنځ تفرقه راولي، دا کس له دې امله وژل کېږي چې اختلاف ته لمن وهي نه له دې وجې چې مرتد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه خبره د دې روایت په اړه دا هم ده چې متن یې ښې ډېرې ستونزې لري.

په یوه روایت کې راغلي چې علي رض هغه کسان ووژل چې مرتد شوي وو، په بل کې دي چې د بت عبادت یې کاوه او په بل کې دي چې زنادقه(دهریان/مجوسیان) وو، ان په یوه روایت کې لا دا هم دي چې د مرتد توبه نه منل کېږي، دا په ښکاره د قران مخالف دی، قران وایي چې که توبه وکړي، عمل اصلاح کړي؛ نو مومن دی او روایت وایي چې توبه یې هم نه منله کېږي.

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ، لاَ يَقْبَلُ اللهُ تَوْبَةَ عَبْدِ كَفَرَ بَعْدَ إِسْلاَمِهِ» .(۱۴)

د عکرمه په نوم یو کس د دې روایت په سند کې راغلی، د هغه په اړه به لاندې د ځینو محدثینو رایه راواخلو.

د عکرمه په اړه د پوهانو نظرونه:

وقالوا: كان عكرمة كثير الحديث والعلم بحراً من البحور؟ وليس يُحتج بحديثه؟ ويتكلم الناس فيه (الطبقات الكبرى، ابن سعد 2:386،5:293) . وكان من المعارضين لعلي وكان يميل لرأي الخوارج (ميزان الاعتدال، الذهبي / تذكرة الحفاظ، الذهبي، ترجمة عكرمة). ويقول عنه الذهبي كان خارجياً، وروايته مريبة لايعتد بها وكان مالك ابن أنس يصنف الأحاديث المروية عنه في بند الضعيفة الواهية.(۱۵)

حدیث پوهانو ویل: عکرمه زیات روایات نقلول د علم سمندر و، خو حدیث یې دلیل نه دي او خلکو پکې خبرې کړې دي.

ده له علي سره تضاد درلود او د خوارجو نظریات یې خوښ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهبي د ده په اړه ويلي: خارجي و، روايات يې شكمن دي باور پرې نه شي كېداى. مالك بن انس له ده روايت شوي احاديث د ضعيفو واهي رواياتو په كتار كې راوستل.

د مرتد په اړه دا مطلق روايت دى، بايد په هغه الفاظو مقيد كړل شي چې بل روايت كې راغلي او هغه د (مفارق لجماعته) دي. د مطلق الفاظ پر مقيد حمل كول په قران كريم كې هم شاهد لري چې د (الدم) مطلق لفظ يې په (دم مسفوح) مقيد كړى دى. يو مهم ټكى دا هم دى چې روايت په تابعينو كې عكرمه نقل كړى دى. د يو داسې چا روايت په څنګه د قران په مقابل كې ومنل شي چې خپله يې محدثين د نورو عامو رواياتو په اړه سره مختلف دي، يو شمېر يې مني او نور يې بيا رواياتو ته د شك په نظر ګوري؟!

**په دې اړه د پوهانو نظرونه:**

د احنافو علماء په دې اند دي چې ښځه له دې امره بېله ده، او د نورو مذهبونو پوهان په دې كې هم ور سره اختلاف لري. احناف د خپلې مدعى لپاره يو كمزورى حديث وړاندې كوي او په مقابل كې يې نور پوهان بل كمزورى حديث را مخ ته كوي.

مسألة قتل المرتدة: اختلف الفقهاء في حكم قتل الْمُرْتَدَّةُ على قولين:

القول الأول: أنها كَالْمُرْتَدِّ تقتل، وهو قول جُمْهُورِ الْفُقَهَاءِ من المالكية،والشافعية، والحنابلة، لِعُمُوم قَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ بَدَّل دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ، ولِمَا رَوَى جَابِرٌ أَنَّ امْرَأَةً يُقَال لَهَا أُمُّ رُومَانَ ارْتَدَّتْ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعْرَضَ عَلَيْهَا الإْسْلاَمُ فَإِنْ تَابَتْ وَإِلاَّ قُتِلَتْ.

القول الثاني: أَنَّ الْمُرْتَدَّةَ لاَ تُقْتَل بَل تُحْبَسُ حَتَّى تَتُوبَ أَوْ تَمُوتَ، وَهو قول الْحَنَفِيَّةُ، وذلك لِنَهْيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْل

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْكَافِرَةِ الَّتِي لاَ تُقَاتِل أَوْ تُحَرِّضُ عَلَى الْقِتَال، فَتُقَاسُ الْمُرْتَـدَّةُ عَلَيْهَا.قـال الزيلعي: (وَلاَ تُقْتَلُ الْمُرْتَدَّةُ بَلْ تُحْبَسُ حَتَّى تُسْلِمَ).(١٦)

د مرتدې ښځې په وژلو کې د فقهاؤ دوه قوله دي:

لومړی: دا، لکه مرتـد وژلـه کېـږي، د مالکیـانو، شـوافعو، حنابلـه وو زیاتره فقها همدا وایي. رسول الله ص عام ویلي چې څوك دیـن بـدل کړي قتل یې کړئ او جابر روایت نقل کړی ام رومان نومې ښځه مرتده شوه رسول الله ص امـر وکـړ چـې اسـلام ورتـه وړانـدې کـړي کـه یـې ومني(خوښه) که نه قتل دې شي.

دویم: مرتده نه وژله کیږي، بندي به وي چې توبه وکاږي یا مړه شي؛ همدا د احنافو مذهب دی؛ ځکه رسول الله ص د هغې کافرې له وژلـو منعه کړې ده چې جنگ نه کوي، نو مرتده پـر همـدې قیـاس ده. امـام زیلعي ویلي: مرتده به نه وژله کیږي، بندي به وي چې مسلمانه شي.

ابن تیمیه په الصارم المسلول کې وایي: ومع أن السنة في المرتد أنـه لا یقتل حتی یستتاب إما وجوبا أو استحبابا.

وسنذكر إن شاء الله أن جماعة ارتدوا على عهد النبي صـلى اللـه عليـه وسلم ثم دعوا إلى التوبة وعرضت عليهم حتى تابوا وقبلت توبتهم.(١٧)

د مرتد په اړه اصل دا دی چې وژل کېـږي بـه نـه، بلکـې توبـه تـرې غوښته کیږي، یا خو لازمي ده او یا ښه کار دی. دا به هم بیان کړم چې د رسول الله ص په زمانه کې زیـات خلـك مرتـد شـول بیـا توبـه تـرې وغوښتل شوه، دین ورته وړاندې شو، ان چې توبه یې وکړه او توبه یـې ترې ومنله شوه.

د ازهر پوهنتون استاد علامه شلتوت وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقد يتغير وجه النظر فى المساله. اذ لوحظ ان كثير من العلماء يرى ان الحدود لا يثبت بحديث الآحاد، وان الكفر بنفسه ليس مبيحا للدم، وانما المبيح هو محاربه المسلمين والعدوان عليهم ومحاوله فتنتهم عن دينهم وان ظواهر القران الكريم فى كثير من الايات تابى الاكراه فى الدين.(١٨)

او رښتيا له دې امله هم په دې مسله کې رايه تغيير کوي چې زياتره پوهان وايي په احاد حديثو حدود نه ثابتېږي او خپله کفر د دې سبب نه دی چې وينه يې روا کړي، له مسلمانانو سره د جګړې، پر دوی د تېري او له دينه د را ايسارولو (پر مهال وينه تويول) روا دي. ډېر ځايونه د قران ښکاره اياتونه په دين کې له زور زياتي منعه کوي.

د احمديه ډلې مشر په القتل باسم الدين نومي کتاب کې کاږي:

إن حرية التحول من دين وإليه هي المحك الحقيقي لمبدأ لا إكراه في الدين، إذ لايمكن أن تكون الحرية في اتجاه واحد، هو اتجاه دخول الإسلام، ثم لا مخرج منه.(١٩)

دين ته د تګ او ترې د تلو ازادي( بېشکه په دين کې زور زياتی نه شته) د پيل يو غوره معيار دئ، ځکه دا هيڅ امکان نه لري چې ازادي دې يوازې له يوه لوري وي، هغه اسلام ته د تلو لوری او بيا ترې وتل نه شته.

د هغه روايت په اړه دا وضاحت هم نه شته چې هغه د يوه بل اوږده حديث ټوټه ده چې هغه د يوه خاص کس په اړه ور کول شوی دی او که عام دی؟ عام يې ځکه نه شو بللای چې د قران کريم له مهمو اصولو سره نه لګيږي او نه د رسول الله ص له عملي سنتو سره سمون لري، نو لازمي خبره ده چې هغه د يوه خاصې پېښې يا د يوه خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس په اړه د رسول الله ص تر وینا یا حکم وروسته د یوه راوي بالمعنا روایت دی چې الفاظ یې د هغه خپل دي او د رسول الله ص له خاص حکم څخه یې استنباط کړی دی. بالمعنا روایات په حدیثي کتابونو کې بیخي زیات دي، چې ځینې همدغسې خطاوې لري، لکه پر مړي د ژړا له امله مړي ته سزا ورکولو حدیث چې عمر رض مطلق بیاناوه او عائشې رض تر یوه خاص کس پورې تعلق ورکاوه؛ دا ځکه چې عائشه رض د حدیث په شان ورود خبره وه، خو عمر رض یې علم نه در لود، یوازې نبوي وینا ورته رسېدلې وه او هغه هم عمومي بلله.

**سرچینې:**

(۱)(بقره: 256)

(۲)(کهف:29)

(۳)(نساء: ۱۱۴)

(۴)(بخاري،کتاب الایمان، باب کیف کان بدء الوحي الی رسول الله، شمېره:۱)

(۵)[یونس:۹۹]

(٦)[الأنعام۱۴۹]

(۷)[الأنعام)

(۸)(بخاری : ۳۰۱۷)

(۹)(بقره: ۲۱۷)

(۱۰)بخاري )

(۱۱)ابوداؤد )

(۱۲)بخاري)

(۱۳)مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۴)مجعم کبیر : ۱۰۱۳)

(۱۵)(میزان الإعتدال)

(۱٦)تبیین الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (3 / 285).

(۱۷)(الصارم: 117/1، المسئلة الاولى)

(۱۸)الاسلام عقیده و شریعه : ۱۰۳)

(۱۹)(القتل باسم الدين ،مرزا طاهر أحمد ،لندن ،ص ٦٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په شرعي نصوصو کې د جبر او اختیار مسله

د جبر او اختیار په اړه یوازې شرعي نصوص بحث نه کوي، بلکې د مذهب له دایرې دباندې فلاسفه وو هم بحث پر کړی دی. مسله له پخوا څخه ډېره جنجالي ده، خو کله چې د مذهب په نصوصو کې په دې اړه ظاهرن متفاوت نصوص راځي او له دې څخه بیا ځینې داسې کسان د خپل لید له مخې تعبیر وکړي، چې یوازې او یوازې په الفاظو پسې مبتلي نور نه معقولیت ته ګوري او نه منطقیت ته، نو خبره نوره هم جنجالي او ډېره پسې ورانه شي.

دا مسله باید په پوره دقت روښانه شي او ټول هغه شرعي نصوص یې په اړه وپلټل شي چې له دې موضوع سره اړه لري او داسې یو تعبیر یې وړاندې شي چې خلک پکې ورک نه شي، دنیوي ژوند کې د ستونزو سبب نه شي، نصوص تر خپل منځ سره ټکر نه شي او د خلکو د لا بې لارۍ سبب ونه ګرزي.

دې مسلې له ډېری کسانو سخت لټان جوړ کړي دي، دوی ته چې کله د انساني هڅو خبره ور یاده کړې، نو وایي؛ خدای چې څه لیکلي وي هغه کیږي! په داسې حال کې چې نه یې د خدای مطلب درک کړی دی او نه د دنیاوي ژوند په اصولو پوه شوي دي. څوک چې نه دین فهمولای شي او نه د ژوند اصول، نو په دې خدای ملامت دی؟ زموږ مشکل دا دی چې د خدای مسوولیتونه خلکو په خپل لاس کې اخیستي دي او خپله وظیفه یې خدای ته ایله کړې ده. موږ ته باید زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنياوي کارونه خدای را جوړ کړي او موږ به د خدای دين ورتـه سـاتو! دلته مو ټول کارونه د خدای د ارادې برخلاف کړي دي.

انسان ته په ژوند کې دا مهمه ده چې خپل مسـوولیتونه معلـوم کـړي، هغه څه چې د بشر په وس کې وي د هغو په اړه خپلې هڅـې دوامـداره کړي، په دې هم بايد پوه شي چې دلته هيڅ شی هم په معجزانه توګه نه بدلیږي، بلکې د هر بدلون او تغيير تـر شـا ځينـې لاملونـه دي چـې لـه انساني اعمالـو سره رابطـه لـري. مـوږ بايـد پـه هـيڅ صـورت لـه خپلـه مسووليته تېښته ونه کړو، دا بې همتي ده چې انسان تر وس لاندې کار د خدای پر تقدير ور اړوي او بس ټوله مسله پـه دې خلاصـه کـړي چـې همدا مو نصيب و. دلته نصيب څه معنا لري؟ همدا مو د خپلو کمـزورو او نه هڅو نتيجه وه. ولې د خپلو کړنو پـه اړه خـدای تـر سـوال لانـدې راولو او ولې د خپل عمل ملامتيا پر بل مخلـوق ور اړوو؟ دلتـه مـوږ نـه يوازې دا چې له خدای سره ظلم کوو، بلکې له خپل ځان سره هم ظلم کوو او تر دې بله بدتره يې دا هم ده چې ټول ځمکني واقعيتونه پټوو او هر وخت هم خپل ځان او هـم مـو اينـده نسـلونه پـه خيـالي دنيـا کـې پرېږدو چې دا موږ ته د بدې ايينـده او تـر دې لا هـم د خـراب اخـرت زيری را کوي، ځکه څوک چې په خپل لاس د دنيـا پـه شـته امکانـاتو دنيا نه شي رغولای، نو هغـه بـه د اخـرت د سـترو نعمتونـو تمـه څنګـه وکړي او هغه شرايط به يې څنګه پوره کړي؟

زه دلته د قران او حديثو له ذخيرې په دې پوري مربوط ټول اياتونه او احاديث نه را اخلم؛ ځکه دا ټول مقاله نه شي ځايولای؛ يوازې بـه څـو ظاهرن متعارض نصوص را نقل کړم او تر هغه وروسته به د هغو د تطبيق

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په دې مسله پورې اړوند هغه دريغ روښانه کړم چې په دې اړه د نصوصو، مطالعې او مشاهدې له مخې ما خپل کړی دی.

د اختيار په اړه قراني اياتونه:

وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ (الکهف: ۲۹)

ژباړه: او ووايه چې حق ستا د رب له خوا دی، نو که د چا خوښه وي ايمان دې راوړي او که يې خوښه وي، انکار دې وکړي.

ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَى قَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ وَأَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (الانفال: ۵۳)

ژباړه: دا له دې امله چې الله پر يوه قوم خپله کړې، پيرزوينه نه ترې اخلي ان چې هغوی په خپل لاس تغيير ور نه کړي؛ او بېشکه الله اورېدونکی پوه دی.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ (الرعد: ۱۱)

ژباړه: بېشکه الله د يوه قوم حالت نه تغييروي، ان چې هغوی يې په خپله تغيير نه کړي.

وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى () وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى () ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَى () وَأَنَّ إِلَى رَبِّكَ الْمُنْتَهَى (النجم: ۳۹- ۴۲)

ژباړه: او انسان ته يوازې هغه څه دي چې ده يې کوښښ کړی وي او د خپلې هڅې پايله به ژر وګوري، بيا به ده ته پوره جزا ور کړل شي او د هر څه په اړه وروستی پرېکړه ستا د رب له لورې کېږي.

دا او دې ته ورته اياتونه په قران کريم کې نور هم شته. اما د نجم سورت کې دا تګلاره روښانه شوې ده چې انسان ته د هغه د هڅو پايله ور کول کېږي او د خپلو کړو اعمالو بدله به يې تل په برخه وي. تر انساني هڅو او پلانو وروسته فيصله د هغو اصولو ده چې د خدای له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـورې ټاکـل شـوي دي او هغـوی د انسـاني هڅـو پـر بنسـټ منصـفانه پرېکړې کوي. موږ ګورو چې وینښ او خواریکښ ملتونه نـه یـوازې دا چې خپل ژوند جوړ کړي، بلکې لـه نـورو ملتونـو سره هـم د ژونـد پـه سمون کې کومک کوي، اما لټ او بیده ملتونه نه ځان تـه ښـه سـوکاله ژوند برابرولای شي او نه یې نورو ته خیر رسېږي. یو لور ته انسان هڅې وکړې او د ټاکلو اصولو له مخې یـې پایلـه بریـالۍ وه او بـل طـرف تـه انسان لټي وکړه او نتیجه یـې هـم د هغـه پـه زیـان وه. ځکـه دا نـړۍ د داسبابو کور دی، کله چې څوک له اسبابو پورته کارونه غواړي، نو لکه څوک چې د ابو پر ځـای سراب پسـې روان وي او هیڅکلـه هدفتـه نـه رسېږي، دوی به هم سرګردانه خو تر اخیره بـه موخـه ترلاسـه نـه کـړي؛ څوک چې دلته هر څه په خپل لاس او امکاناتو غواړي وکړي او د دې لپاره تل هڅاند هم وي، نو موږ او دوی په ګـډو هغـه نـړۍ وینـو چـې زموږ لپاره یې تصور هم ګران و.

یو بل لنډ او ساده مثال به یې بیان کړم: یو څوک که له غره ځـان ایلـه کړي، نو پایله یې حتمي مرګ دی، ځکه دلتـه الهـي اصـول همـداسي تعین شوي دي او که څوک له غره پر یـوه لار کښـته شي؛ نـو سـالم او روغ به ځمکې ته ولاړ شي. یو کس د ښیښې کوپ یا ګیلاس را اخـلي له ډبرې یې وهي، نتیجه ښکاره ده چې مـاتېږي او کـه یـې پـه کـراره را واخلي په پتنوس کې یې کښېږدي، جوړ روغ ګیلاس یـا کـوپ بـه وي چې د چای یا اوبو لپاره به کار ځنې اخلي.

یعنې زموږ پر بشري اراده پورته بله هیڅه اراده داسې حاکمه نه ده چې موږ یې وچ یو کار ته مجبور کړي یو. که داسې وي نو بیا د جزا او سـزا پرېکړې بې عدالتي ده. که یو انسـان پـه ماشـوم یـو ناسـم کـار پـه زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي او بیا ماشوم ته سزا ور کوي نو ایا دا عدالت او انصاف دی؟ که انسان د الهي مقرراتو له مخې پر هر ښه او بد عمل مجبور وي، نو بیا د جزا او سزا ور کول څکه بې ګټې دي چې په دې یوه کار کې هم د انسان لاس په خپله اراده نه و، بلکې ورته اړ ایستل شوی، نو سزا یا جزا ولې باید ور کول شي؟

دلته خدای ځینې اصول ټاکلي دي، د انسان د اعمالو نتیجه د هغو اصولو په رڼا کې ټاکله کېږي. مثلن: دوه کسه پر بام ولاړ دي، یو کس د ځینې (زینې) په وسیله ځمکې ته کښته کېږي او بل بیا ټوپ اخلي. ماشوم هم په دې پوهېږي چې لومړی به روغ کښته شي او دویم که مړ نه شي نو د بدن کوم غړی خو به یې حتمي ماتېږي. دا د هغو مقرراتو پرېکړه ده چې په دې نړۍ کې خدای تعین کړي دي. له دې امله خدای ویلي دي چې هیڅ پاڼه د هغه له ارادې پرته نه رژېږي، یعنې د رژېدا لپاره لاملونه شته، کله چې هغه عامل رامنځته شي، نو پاڼه په خپله لوېږي، دلته خدای پر هره پاڼه د لوېدو امر نه کوي، بلکې اصول دي چې خدای ټاکلي دي، نو ځکه یې خدای ځان ته نسبت هم کوي.

د جبر په اړه ځینې ایاتونه:

قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ.

(التوبه: ۵۱)

ژباړه: ووایه موږ ته یوازې هغه څه رسېږي چې الله راته لیکلي وي، هغه زموږ مرسته کوونکی دی او مومنان دې یوازې پر الله توکل وکړي.

{وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ} [التكوير: 29]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: تاسو يوازې د هغه څه اراده کولای شئ چې د عالميانو رب يې وغواړي.

په دې ايت کې له ليکلي څخه هماغه مقرارت هدف دي چې الله په دې دنيا کې وضع کړي دي او دا نظام د هغو اصولو له مخې روان دی. انسان ته په کار دي چې له دې اصولو سره ځان برابر کړي، هغه څه وکړي چې په ګټه يې وي نه داسې کړنې چې زيان ورته لري، او نه دي هم د تقدير و قضا له امله لاس تر زنې کينې.

د قضا او قدر په اړه له ايمان سره پر دې حقيقت هم سترګې نه شو پټولای چې شريعت انساني واک يا اختيار محدود کړی نه دی او نه يې انسان مجبور کړی دی. قران کې د قدر په اړه راغلي:

وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَعْلُومٍ.

(الحجرات: ۲۱)

ژباړه: او له موږ سره د هر شي پريمانه خزانې دي او موږ هر شی په معلومه اندازه نازلوو.

پر هر شي تر پيدايښت يا وجود مخکې الهي علم له اختيار سره ټکر نه دی، قران وايي:

وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُبِينٍ (الانعام: ۵۹)

ژباړه: او له ده سره د پټو کيلي دي چې يوازې دی علم پر لري، دی د وچې او سمندر په شيانو هم علم لري او هيڅ پاڼه نه لوېږي، مګر دی پرې علم لري، نه د ځمکې په تاريکيو کې يوه دانه شته او نه لوند يا وچ مګر په مبين کتاب کې (ليکلي) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله د یوه شي تر وجود مخکې پر هغه علم لري، د هر کار لپاره یې اندازه کړې ده او د دې اندازې لپاره یې خپل مقرارت ټاکلي دي، الله یو چا ته هر څه د هغه د هڅو او بریالیو پلانونو په مټ ور کوي چې همدا یې تقدیر دی. د تاریخ په کتابونو کې راغلي چې عمر فاروق رض شام ته روان و چې د وبا خبر ورته راغی. هغه تر مشورې وروسته پرېکړه وکړه چې شام ته به نه ځي او بېرته به ګرزي. یو چا پوښتنه ترې وکړه چې ته د الله له قضا تښتې؟ ده ورته وویل: موږ د الله له تقدیره د الله تقدیر ته تښتو. هدف یې دا و چې د الهي مقراراتو له مخې که هر څوك د مرض په ځای کې پاته شي، نو هغوی ته میکروب سرایت کوي او ناروغ به شي او که څوك له دې ځایه ځان وساتي، نو خوندي به شي، دواړه د الله اصول دي، نو موږ یې له یوه اصله بل ته پنا وړو.(۱)

د قدر، تقدیر او قضا په اړه هم ځینې بحثونه شوي دي چې ایا دا درې الفاظ توپیر سره لري که نه؟ څوك منفي نظر لري او څوك مثبت، اما زه دلته دې لفظي شخړو ته نه ځم. په دې مسله کې هدف باید روښانه شي چې خلك یې له ستونزو سره مخ کړي او ډېر لوی ابهام پکې پروت دی.

زما په اند قدر و قضا له انساني اختیار سره تضاد نه لري. انسان په خپلو هڅو کې تل ازاد دی، مګر د هغه پر کړنو باندي راتلونکې نتیجې قدر او قضا ده چې انسان یې مخه نه شي ډب کولای. لکه چې وړاندي یې ما مثالونه بیان کړل. یو څوك د خپل تجارت لپاره ښه محاسبه کوي، هر څه په یوه نرخ اخلي او په لوړ یې پلوري، د هرې ورځې تغییر ته یې متوجې وي او پر خپل مال پام کوي، نو حتمي خبره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ګټه به يې تر لاسه کړي، بل هم عيني تجارت کوي مګر د لومړي په شان يې چارو ته لازمه پاملرنه نه کوي، پايله به يې يوازې خساره وي. دا د هغه پر عمل مرتبه نتيجه ده چې په کتاب الله کې ورته تقدير ويل شوي دي. دا نتيجې دلته د شته اصولو په مټ رامنځته کېږي او هيڅ چاره ترې نه شته. دلته يوه پوښتنه بله هم پيدا کېږي چې ايا الله د خپلو ټاکلو اصولو پابند دی او که يې مخالفت کوي؟

زه چې څومره په شرعي نصوصو کې معلومات لرم نو په دې اند يم چې الله د خپلو اصولو پابند دی. الله تعالی له خپلو ټاکلو اصولو مخالفت نه کوي اما د دې دا مطلب نه دی چې الله يې وس نه لري، بلکې وس يې لري اما هغه هم الهي اصول دي، اصل د وعدې يا ژمنې په شان دی چې هغه له خپلو وعدو نه پر شا کېږي.(فاطر: ۴۳)

الله تعالی څو واره يادونه کړې چې پخوانو قومونو ته د بد اعمالو سزا ور کول د هغه سنت دي او دا سنت هغه هيڅکله نه بدلوي، له دې په ډاګه معلومېږي چې د قران په اصطلاح کې تقدير همدغه شی دی چې الله بل ځای په سنت ترې يادونه کړې ده. سنت پر ټاکلو اصولو باندې ولاړې تګلارې ته ويل کېږي چې الله تعالی يې د دې نظام د برحاله ساتلو لپاره کار ترې اخلي.

زما په اند خو د تقدير او قضا او د اختيار و ازادي ترمنځ منافات وجود نه لري او د جبر و اختيار په اړه ټول هغه معلومات چې ما تر لاسه کړي وو همدغه دي. يعنې انسان په خپلو ټولو کړنو کې واک لري او د هغه پر عمل مرتبه نتيجه د هغه د عمل پايله ده چې د الهي مقرراتو له مخې حتمن راتلونکې ده.

۲۰۱۸/ ۱۰/ ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سرچینه:**

۱)تاريخ طبری، 57/4).

## د انبياؤ د معصوميت مسله

نبيان او رسولان هم د عامو انسانانو غوندې ټولې هغه ځانګړنې لري چې عام انسان ترې برخمن دی او له دې امله قران د انبياؤ د ځينو خطاو يادونه هم کړې ده. ځکه دوی هم انسانان دي او له انسان هر وخت خطا شوني ده. له دې امله رسول الله ص ويلي دي چې هر انسان خطا کوي خو غوره يې هغه دي چې بيرته رجوع وکړي.(کل بني ادم خطأ و خير الخطائين التوابون).(۱)

نبيان او رسولان له عامو انسانانو دا ځانګړی امتيازي صفت لري چې هغوی ته د خدای له لورې وحې راځي او عام انسانان دا امتياز نه لري. نور د عام بشر غوندې نبي او رسول هم خوراک، څښاک، جامې، ميرمنې، دنيا، مال، کور، خپلوانو او د ژوند مخته وړلو لپاره ټولو اړينو وسايل ته اړتيا لري، خپه کيږي، مريضيږي، خوشاليږي، له دې ټولو سره اخير مړ کيږي هم.

د نبيانو او رسولانو د معصوميت مسله هم د نظروالو ترمنځ خورا اختلافي شوې ده، په دې اړه ګڼ نظرونه شته، چا پکې افراط کړی او ځوک تفريط ته کاږه دي. ځينو د يوه ايت مقابله په بل ايت کړې ده او په دې ډول يې ګواکې يو ايت له بل سره ټکر کړی دی، نورو بيا د ايت مقابل ته حديث راوړی چا بيا حديث په حديث رد کړی يا يې هم ايت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حدیث له امله تاویل کړی او کله یې بیا حدیث د حدیث لـه وجـې تاویل کړی وي.

زما په ګومان نه باید ایت په ایت رد کړل شي او نه حدیث په حدیث، نه حدیث د ایت مقابلې ته ودرول شي او نه قران د حدیث. څومره چې ممکنه وي هر یو پر خپل ځای داسې تفسیر و تعبیر شي چې نـه یـې خپل مفهوم له لاسه ور کړی وي او نه هم له بل سره تصادم وکړي او نه د دین عمومي پیغام ته صدمه ورسوي.

په قران یا حدیث کې چې د نبیانو و رسولانو د خطا یادونه شـوې ده، نو دا به پر خپل اصلي مفهوم حمل کـړو؛ ځکـه د نبیـانو او رسـولانو غوراوی، درناوی او پرې ایمان خو د الله د قول له وجـې وي، نـو کلـه چې بېرته د الله د خپل نبي یا رسول په اړه د خطا یادونه کوي، موږ باید د رسول په درناوي کې دومره ډوب نه شو چې د الله د قول احـترام مـو ورته هېر شي، د الله قول هم د احترام وړ دی او پر خپله اصلي معنا یې حملول اړین دي تر هغو چې مانع یې وجود ونه لري، د نبـي او رسـول احترام و درناوی تر موږ الله ته زیات ارزښت لري؛ مګر له دې هر څـه سره الله تعالی د هغوی په اړه د خطا یادونه کـړې ده، لـه دې املـه مـوږ باید موږ د الهي قـول د احـترام لـه املـه د هغـوی خطـا هـم ومنـو. دا د هغوی له فضیلت او رسالت سره ټکر نه دي، که وای نو خـدای یـې پـه خپل کتاب کې یادونه ولې کوله؟

نبي او رسول هم زموږ په شان انسان دی او دا خطا یې د دې هـر څـه ثبوت دی، له دې امله باید انسان د خدای مرتبې ته لـوړ نـه کـړل شي، ښه داده چې موږ د هغوی نبوت و رسالت هـم ومنـو او د اللـه پـر قـول باندې هم پوره باور وکړو. موږ که پر رسـول او نبـي لـه دې املـه ایـمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړو چې خدای امر کړي یو، نو دا هم لازمه ده چې د الهي قول له امله یې ومنو چې رسول او نبي خطا هم کولای شي.

قران کریم کې د رسول الله ص د خطا یادونه شوې ده، لکه سوره تحریم او سوره فتح کې، همداشان قران د ادم علیه السلام د خطا یادونه کړې ده، بل لور ته د نوح خطا ته هم اشاره سوې ده، د یونس علیه السلام خطا هم نه ده له پامه نه ده اچول شوې، همدا شان په حدیثو کې هم د ابراهیم د خطا یادونه شوې ده او داسې نور مثالونه یې هم نصوصو کې شته.

البته خلک په دې وارخطا کېږي چې که نبي یا رسول گنا کوي، نو بیا خو لکه د نورو انسانانو سزا به هم په اخرت کې ور کول کېږي، مگر دا خبره ناسمه ده. نبي یا رسول خطا کړې ده، خو سزا یا هم له سزا پرته یې معافي په دنیا کې ورته کړې ده، نو اخرت کې یې بیا سزا یا حساب ور کول نه شته.

قران کریم یادونه کړې ده چې ټول شوي گناهونو رسول الله ص ته معاف دي، همداشان یې د یونس، ابراهیم، ادم او بل هر رسول یا نبي یادونه کړې ده چې تر خطا وروسته یې معافي ورته کړې ده. هغوی په دنیا کې د خپلې گنا سزا لیدلې ده لکه یونس، یا ادم یا هم له سزا پرته معافي ورته شوې ده لکه رسول الله ص ته چې د فتحې په سورت کې یادونه شوې ده چې مخکني او وروستني گناهونو مي درته معاف کړي دي.

نو زما په اند چې له رسول او نبي لوی گناهونه کېږي او شوي دي، یعنې د گنا د صدور په اعتبار هغوی معصوم نه دي، قران کریم چې د هغوی د ذنب یا گنا یادونه کړې ده همدا خپله اصلي معناوې یې سهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي؛ ځکه د الله الفاظ دي او د خدای چې څومره درناوی پر موږ لازم دی همدومره یې د الفاظو احترام هم لازم دی، له دې امله زه همدا ذکر شوي الفاظ پر خپله اصلي معنا اخلم او هیڅ ډول تاویل ته پکې ځای نه ور کوم. خو بل لور ته بیا زه د نصوصو په استناد دا خبره هم کوم چې تر شوې ګنا وروسته هغوی ته یا سزا ور کول شوې یا هم معاف شوي دي له دې امله یې اخرت کې نه سزا شته نه بیا حساب و کتاب ور سره کیږي.

لنډه دا چې رسول او نبي په دې لحاظ معصوم نه دي چې ګنا نه کوي، مګر په دې اعتبار معصوم دي چې اخرت کې یې سزا نه ور کول کیږي. زه په دې باور نه یم چې د نبي او رسول معصومیت د ګنا د نه صدور په اعتبار وبولم مګر اخرت کې یې سزا نه شته نو به دې لحاظ بیا معصوم دي.

زما په اند په دې تعبیر او تفسیر موږ کولای شو چې د ایاتونو و حدیثونو ترمنځ توافق هم رامنځته کړو او هم یې له اصلي معنا څخه منحرف نه کړو. له دې سره جوخت موږ د الهي الفاظو احترام هم ساتلی دی او هم د نبیانو و رسولانو پر فضیلت و نبوت یا رسالت باور هم لرو. هغوی د دنیوي صفاتو په اعتبار انسانان دي او هر څه چې له نورو انسانانو پېښېدای شي له دوی هم تر سره کیږي خو توپیر یې دادی چې الله یې په اخرت کې نه سزا ور کوي او نه یې هم حساب و کتاب ور سره کوي.

د معصومیت یو بل اړخ یې دادی چې رسول او نبي او د دین په چارو کې معصوم دي، دوی چې د الهي دین په نوم کوم کارونه کوي په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له ځانه هيڅ هم نه ورګډوي، بلکې د خدای له لورې وحې ورته کېږي، قران کريم وايي:

{وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ () لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ () ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ} [الحاقة: 44 - 46]

ژباړه: او که ده پر موږ ځينې ويناوې له ځانه وتړلې، موږ به يې جدي ترې ونيسو، بيا به يې ښارګ ور غوڅ کړو.

له دې ايته ښکاري چې د دين او شريعت د بيان په اړه هم دوی معصوم دي، ځکه که يوه خبره هم وکړي، نو الله به يې د نړۍ په وړاندې سزا ور کړي.

۲۰۱۸/ ۱۱/ ۱۸

**سرچينه:**

(۱)(ابن ماجه کتاب الزهد، باب ذکر التوبه ح: ۴۲۵۱)

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مراجع


۱ـ قران کریم

۲)بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، دار طوق النجاة، کال: ۱۴۲۲هق.

۳)قشيري، ابو الحسن مسلم بن الحجاج، صحيح مسلم، دار احياء التراث العربي، بيروت.

۴)سجستاني، ابوداؤد سليمان بن الاشعث، سنن ابي داؤد، المكتبة العصرية، صيدا-بيروت.

۵) ابو عیسی، محمد بن عيس بن سورة، الجامع الكبير سنن الترمذي، دار الغرب الاسلامي-بيروت.

۶) ابو عبد الله، احمد بن محمد بن حنبل، مسند امام احمد بن حنبل، موسسة الرسالة، ۱۴۲۱- ۲۰۰۱.

۷) ابن ماجه، ابو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، سنن ابن ماجه، دار احياء الكتب العربية.

۱۰) عسقلاني، احمد بن علي بن حجر، فتح الباري شرح صحيح البخاري، دار المعرفة- بيروت، ۱۳۷۹هـ.

۱۱) معجم اللغة العربية المعاصره، د احمد مختار عبد الحميد عمر او يوې ډلې تاليف، د عالم الكتب چاپ، لومړی چاپ: ۱۴۲۹هـ ۲۰۰۸م، څلور ټوکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲) مبارکپوري، الرحيق المختوم، د صفي الـرحمن، د دار الهـلال بيروت چاپ، له تاريخ پرته.
۱۳)طبري، تاريخ الطـبري= تـاريخ الرسـل والملـوك، وصـلة تـاريخ الطبري، د ابو جعفر محمد بن جرير بن يزيـد، صـلة تـاريخ الطـبري د عريب بن سعد الطبري تاليف، د دار التراث بيروت چاپ، دوم چاپ: ۱۳۸۷هـ، يولس ټوکه.
۱۴) عتکي، مسند البزار، د ابو بکر احمـد بـن عمـرو البـزار، د مکتبـة العلوم والحکم مديني چاپ، د چاپ چارې يې له ۱۹۸۸م څخه پيل تر ۲۰۰۹م پای ته رسېدلې چې ټول ۱۸ ټوکه دی)
۱۵) ابن قيم، اعـلام المـوقعين، د محمـد بـن ابي بکـر الجوزيـه، د دار الکتب العلميه بيروت چاپ، د محمد عبد السلام ابراهيم تحقيق، ۱۹۹۱ کال، څلور ټوکه)
۱۶)( زرکشي،البرهان في علوم القران، د أبو عبد الله بدر الـدين محمـد بن عبد الله بن بهادر، دار احياء الکتب العربية، کال: ۱۹۵۷)
۱۷) ابن کثير، الفصول في السيرة، د ابو الفداء اسماعيل بـن عمـر بـن کثير ليکنه، د محمد العيد الخطراوي تحقيق او تعليق او د علـوم القـران اداري چاپ)
۱۸) شنقيطي، مذکرة في اصول الفقـه، د شـيخ محمـد امـين شـنقيطي، مکتبة العلوم والحکم، مدينه منوره، پنځم چاپ، ۲۰۰۱م)
۱۹) دمشقي، التحبير شرح التحرير، د علاء الدين ابو الحسـن علـي بـن سليمان الدمشقي، مکتبة الرشد رياض، لومړی چاپ ۲۰۰۰م)
۲۰) واقدي، فتـوح الشـام، د محمـد بـن عمـر الواقـدي ليکنـه او د دار الکتب العليمة لومړی چاپ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱) شیخي زاده ،مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر ، د عبد الرحمن بن محمد لیکنه د دار احیاء التراث العربي اداري چاپ ، دوه ټوکه)
۲۲) بلاذري ، فتوح البلدان ، د احمد بن یحیی البلاذري لیکنه ، دار و مکتبة الهلاب بیروت چاپ)
۲۳) طبري ، تفسیر الطبري ، د محمد بن جریر لیکنه ، د احمد شاکر په تحقیق او د الرساله موسسې چاپ)
۲۴) زحیلي ،القواعد الفقهیه وتطبیقاتها فی المذاهب الاربعه ، د محمد مصطفی ، دار الفکر دمشق ،لومړی چاپ ۲۰۰۶م ، دوه ټوکه)
۲۵) حنفي ، الکلیات معجم في المصطلحات والفروق اللغویة ، ابو البقاء ایوب بن موسی الحسیني ، د عدنان درویش او محمد مصري په تحقیق ، د الرساله موسسې چاپ ، له تاریخ پرته ، یو ټوک)
۲۶) عسقلاني ، تهذیب التهذیب ، ابو الفضل احمد بن علي بن حجر ، د دائرة المعارف النظامیه هند چاپ ، لومړی چاپ کال ۱۳۲۶ ، ۱۲ ټوکه)
۲۷) الباني ، تحریم الات الطرب ، د ابو عبد الرحمن محمد ناصر الدین ، د الریان موسسې بیروت او دار الصدیق الجبیل سعودي چاپ ، دریم چاپ : ۲۰۰۵م ، یو ټوک)
۲۸) مزي ، تهذیب الکمال في اسماء الرجال ، د ابو الحجاج یوسف بن عبد الرحمن بن یوسف الزکي ، د دوکتور بشار عواد معروف په تحقیق ، د الرساله موسسې بیروت چاپ ، اول چاپ : ۱۹۸۰ ، ۳۵ ټوکه)
۲۹) ذهبي ، میزان الاعتدال في نقد الرجال ، شمس الدین ابو عبد الله محمد بن احمد بن عثمان بن قایماز ، د علي محمد البجاوي په تحقیق ، د دار المعرفه للطباعة والنشر بیروت چاپ ، لومړی چاپ : ۱۹۶۳ ، څلور ټوکه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰) نیشاپوري، المستدرک علی الصحیحین، د ابو عبد الله الحاکم محمد بن عبد الله بن محمد په ابن الربیع مشهور، د مصطفی عبد القادر عطا په تحقیق، د دار الکتب العلمیه بیروت چاپ، لومړی چاپ: ۱۹۹۰، څلور ټوکه)

۳۱) بیهقي، شعب الایمان، د ابو بکر احمد بن حسین بن علي الخراساني، د دوکتور عبد العلي عبد الحمید حامد او مختار احمد ندوي په تحقیق او تخریج، د مکتة الرشد للنشر والتوزیع چاپ، اول چاپ: ۲۰۰۳، ۱۴ ټوکه)

۳۲) زبیدي، تاج العروس، د ابو الفیض محمد بن محمد بن عبد الرزاق الحسیني، د دار الهدایه چاپ، له تاریخ پرته)

۳۳) عبسي، المصنف في الاحدیث و الاثار، د ابو بکر بن ابي شیبه، عبد الله بن محمد بن ابراهیم بن عثمان بن خواستي، د کمال یوسف الحوت په تحقیق، د مکتبة الرشد ریاض چاپ، لومړی چاپ: ۱۴۰۹، ۷ ټوکه)

۳۴) الموسوعه الفقهیه الکویتیه، د کویټ د وزارة الاوقاف والشئون الاسلامیه، له ۱۴۰۴ تر ۱۴۲۷ پورې چاپ شوې ده، له ۱تر ۲۳ ټوکه یې دویم چاپ د کویټ دار السلاسل اداري کړی، له ۲۴ تر ۳۸ د مصر مطابع دار الصفوة اداري کړی، له ۳۹ تر ۴۵ د وزارت له خوا چاپ شوی)

۳۵) صنعاني، سبل السلام، ابو ابراهیم، عزالدین، محمد بن اسماعیل بن صلاح، د دار الحدیث چاپ، له تاریخ پرته، دوه ټوکه)

۳۶) جراحي، کشف الخفاء، د اسماعیل محمد العجلوني، د مکتبه القدسي چاپ، د چاپ کال: ۱۳۵۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۷) مغربي، مجمع الزوائد، د محمد بن محمد بن سليمان الفاسي، د ابو علي سليمان بن دريع په تحقيق او تخريج، د ابن كثير كويټ او دار ابن حزم بيروت چاپ، لومړی چاپ: ۱۹۹۸، ۴ ټوكه)

۳۸) زركشي ـ، اللآلي المنثوره في الاحاديث المشهور المعروف په التذكرة في الاحاديث المشتهرة، د ابو عبد الله، بدر الدين، محمد بن عبد الله بن بهادر، د مصطفى عبد القادر عطا په تحقيق، د دار الكتب العليمه چاپ، لومړی چاپ: ۱۹۸۶، يو ټوك)

۳۹) زيلعي، نصب الرايه لاحاديث الهدايه، د جمالد الدين، ابو محمد، عبد الله بن يوسف بن محمد، د محمد عوامه په تحقيق، د موسسه الريان للطباعة والنشر لبنان- بيروت او دار القبلة الثقافة الاسلاميه سعودي -جده چاپ، لومړی چاپ: ۱۹۹۷، څلور ټوكه)

۴۰) محق، سترګې به پرانيزو، د دوكتور محمد محق ليكنه، دولي الله ازاد پښتو ژباړه، د چاپ كال: ۲۰۱۳.

۴۱) حراني، الصارم السلول على شاتم الرسول، د ابو العباس، تقي الدين احمد بن عبد الحليم بن تيميه، د محمد محي الدين عبد الحميد په تحقيق، د الحرس الوطني السعودي چاپ، له تاريخ پرته، يو ټوك)

۴۲) افريقي، لسان العرب، د محمد بن مكرم بن علي ابو الفضل جمال الدين بن منظور، د دار الصادر بيروت چاپ، ۱۴۱۴ كال، ۱۵ ټوكه)

۴۳) شيباني، النهايه في غريب الحديث والاثر، د ابو السعادات، مجد الدين، مبارك بن محمد بن اثير، د طاهر احمد زاوي او محمود محمد طناحي په تحقيق، د المكتبة العلمية چاپ، د چاپ كال: ۱۹۷۹، ۵ ټوكه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۴) فیروزابادي، القاموس المحیط، د ابو طاهر محمد بن یعقوب، د محمد نعیم العرقسوسي تر مشري لاندي د الرساله موسسې د تحقیق څانګې په تحقیق، د الرساله اداري چاپ بیروت، اتم چاپ: ۲۰۰۵، ۱ ټوک)

۴۵) کاساني، بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، د علاء الدین، ابو بکر بن مسعود بن احمد الحنفي، د دار الکتب العلمیه چاپ، دوم چاپ: ۱۹۸۶، ۷ ټوکه)

۴۶) تفتازاني، شرح التلویح علی التوضیح، د سعد الدین مسعود بن عمر، د صبیح اداري چاپ، مصر، له تاریخ پرته، دوه ټوکه)

۴۷) طبراني، معجم الکبیر، د ابو القاسم، سلیمان بن احمد بن ایوب بن مطیر اللخمي الشامي، د حمدي بن عبد المجید السلفي په تحقیق، د قاهرې د ابن تیمیه مکتبې چاپ، دویم چاپ له تاریخ پرته، ۲۵ ټوکه)

۴۸) زیلعي، تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق وحاشیة الشبلي، د فخر الدین، عثمان بن علي بن محجن البارعي، حاشیه د شهاب الدین احمد بن محمد ده، د مطبعة الکبری الامیریة قاهرې چاپ، لومړی چاپ: ۱۳۱۳)

۴۹) شلتوت، السلام عقیدة و شریعة، محمود، په عربي ژبه دغه لیکل شوی کتاب، ما انلاین موندلی، نور جزئیات یې نه شته، په همدې نوم پر نیټ پیي ډي ایف موندل کیږي.

۵۰)القتل باسم الدین، دا کتاب هم په دې نوم پر نیټ انلاین شته.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**